MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (القرآن)

جلد اوّل

# خُطباتُ الباجوری



فضیلۃ الشیخ عنایت اللہ الباجوری مہتمم جامعۃ الثانویۃ پھاٹک باجوڑ

الناشر: ترابی پرنٹنگ پریس خار باجوڑ
0304-9075268, 0315-9142207

Scanned by CamScanner

# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

Whataspp:03201914145

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً بوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**اعلان بَرَاْت :** ہماری ویب سائٹ سے شائع شدہ کسی بھی کی کتاب کی مضامین سے ہمارا متفق ہونا ضروری نہیں ہم اسی کتب کے مضامین کے ذمہ دار نہیں کیوں کہ کتاب کا مصنف / مؤلف اس کا جواب دہ ہوتا ہے ہم مکمل طور پر ان سے دست بردار ہیں۔ ہم نے پہلے سے اسکین شدہ کتب / مضامین کو صرف بطور معلومات شئیر کئے ہیں جو ان کے کتب یا انٹرنیٹ سے لیے گئے ہیں جن کے ضروری حوالے بھی دیے گئے ہیں ان کو صرف بطور معلومات ہی پڑھا جائے یا ڈاون لوڈ کیا جائے باقی اختلافات / تشریحات کے لیے آپ کتاب کے مصنف / مؤلف سے رابطہ کریں۔

ویب سائیٹ maktabatulishaat.com ( مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام )

روزانہ کی بنیاد پر ہم ویب سائیٹ اور پلے سٹور میں مزید تصانیف شامل کر رہے ہیں اور ان میں مزید بہتری لا رہے ہیں۔ نئے شامل شدہ تصانیف کے لئے آپ وقتاً فوقتاً ویب سائیٹ اور پلے سٹور کو چیک کیا کریں مزید بہتری کے لیے اپنے قیمتی تجاویز سے ہمیں ضرور آگاہ کریں۔

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

جلد اول

# خطباتُ الباجوری



فضیلۃ الشیخ عنایت اللہ الباجوری مہتمم جامعہ الثانویہ چانک باجوڑ

الناشر: ترابی پرنٹنگ پریس خار باجوڑ
0304-9075268, 0315-9142207

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ټول حقوق په حق د مصنف محفوظ دي.


د کتاب نوم ............ خطبات الباجوری

تاليف ............... فضيلة الشيخ عنايت الله الباجوری
مهتمم جامعة الثانويه پهاټك باجوړ

تخريج و اضافه عنوانات: ... ابولبابه نواګی ضلع باجوړ

کتابت: ............... مولانا محمد الياس بن
مولانا محمد دين ګل مرحوم

کمپوزنګ: ............ اسماعيل ترابي

ناشر: ............... ترابي پريس خار باجوړ

اشاعت: ............ ۲۰۱۹ء

جلد: .............. اول

د ميلاويدو پتې

- مکتبه محمديه بالمقابل پاکستان بک سنټر خار
- مکتبة الدعوة الي القرآن والسنه سلفيانو صديق آباد
- امن سټوډيو ګول مارکيټ عنايت کلې ماموند
- سيماب پريس نزد جيز ټاور پشت سلارزو
- نوستار پرنټنګ پريس صديق آباد پهاټک


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# فهرست مضامين


| نمبر شمار | موضوعات | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | اطاعت الرسول | 17 |
| | د ايمان د صحت د پاره دوه خبري ډيري ضروري دي | 18 |
| | د اسلام مضبوطه كړى | 19 |
| | د رسول الله سره د صحابه كرامو د محبت مثالونه | 20 |
| | د خبيب ﷺ واقعه | 20 |
| | ابوبكر ﷺ او عبدالرحمن بن ابوبكر ﷺ واقعه | 20 |
| | ابوبكر ﷺ او ابى قحافه واقعه | 21 |
| | د الله تعالى سره د محبت ننبه | 22 |
| | د عبدالله بن ابي ابن سلول واقعه | 23 |
| | د ابراهيم عليه السلام د خپل قوم او پلار نه د براءت اعلان | 25 |
| | د ابن عمر رضى الله عنه د خپل څوي نه بائيكاټ | 26 |
| | د يوي صحابيي واقعه | 27 |
| 2 | اطاعت الرسول | 30 |
| | جنت ته د تللو سبب | 31 |
| | جنت كښي د انبياء كرامو عليه السلام رفاقت | 33 |
| | ابوسعيد بن المعلى واقعه | 35 |
| | د رسول الله نه منل تباهي ده | 36 |
| | خلاف دوه قسمه دے | 38 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| 3 | امتحانات | 42 |
| | په نبي عليه السلام باندې تکليف | 42 |
| | ابتلاء سره د مؤمن او منافق پته لګي | 43 |
| | په مؤمن به امتحان خامخا راځي | 44 |
| | عبرتناکه واقعه | 48 |
| | قبر يو کس قبول نهٔ کړو | 48 |
| | زلزلې او عذابونه ولې راځي | 50 |
| | د اصحاب السبت واقعه | 51 |
| | د زلزلې فوائد | 52 |
| | د مصيبت په وخت کښې سوچ پکار دے | 53 |
| | عروه بن زبير رحمه الله پښه کټ کيدل | 54 |
| 4 | ستره | 56 |
| | د سترې فوائد از نووی رحمه الله | 58 |
| | د مونځ ګزار مخې ته د تيريدلو ګناه | 59 |
| | د نبي عليه السلام مخې ته ماشومان تيريدل | 60 |
| | د ابو سعيد رضي الله عنه او مروان واقعه | 62 |
| | ستره کښې به څۀ شے کيښودل پکار وي | 65 |
| | سترې ته به څومره نزدې ودريږي | 66 |
| 5 | مرګ به خامخا راځي | 68 |
| | د ملک الموت او ابراهيم عليه السلام خبرې اترې | 68 |
| | داود عليه السلام او ملک الموت خبرې اترې | 69 |
| | د يو متکبر بادشاه واقعه | 70 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | مؤمن به د الله سره د ملاقات شوق لري | 71 |
| | د مري ارمان کول | 73 |
| | د قبر هيبت | 73 |
| | د قبر آوازونه | 74 |
| | د عمربن عبدالعزيز رحمه الله واقعه | 75 |
| | د علي رضي الله عنه د قبرستان والا سره مکالمه | 77 |
| | قبر کښې د نېک اعمالو فوائد | 77 |
| | د يو عالم واقعه | 78 |
| | دفاطمه بنت الحسين دخپل خاوند په قبر خيمه لګول | 80 |
| | سفيان ثوري رحمه الله قول | 81 |
| | قبر کښې د مؤمن حالت | 81 |
| | قبر کښې د منافق حالت | 82 |
| 6 | حياء او ستر | 83 |
| | کامله حياء څۀ شے دے | 83 |
| | علي رضي الله عنه قول | 85 |
| | عثمان رضي الله عنه د شهادت پۀ وخت کښې هم د پردے لحاظ ساتلو | 85 |
| | هاجره رضي الله عنها او ظالم بادشاه واقعه | 85 |
| | د يو نوجوان واقعه | 88 |
| | د فاطمي رضي الله عنها د وفات واقعه | 91 |
| | دري قسم کسان د الله تعالے بدي شي | 93 |
| | د زنانو د لباس شرطونه | 94 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| 7 | عيد الاضحى | 96 |
| | ابراهيم عليه السلام د نمرود مقابلي ته ودريدلو | 97 |
| | د ابراهيم عليه السلام هجرت | 98 |
| | د اسماعيل عليه السلام وصيتونه | 101 |
| 8 | توبه | 105 |
| | حديث قدسي | 105 |
| | دالله تعالى د رحمت نه نااميده كيدل نۀ دي پكار | 106 |
| | د مسلمان حرص | 107 |
| | وحشي رضي الله عنه واقعه | 107 |
| | د يو كم سل كسانو د قاتل مغفرت | 109 |
| | دنياوي عذاب نه د امن دوه اسباب | 110 |
| | واقعه كعب بن مالك رضي الله عنه | 111 |
| | د توبي شرائط | 113 |
| 9 | صفونه برابرول | 116 |
| | علامه عيني رحمه الله قول | 117 |
| | سلف وائي بعضي صف سمول سنت دي | 118 |
| | د صف نه روسته يواځې مونځ كول | 127 |
| 10 | الولاء والبراء | 129 |
| | د ايمان كړى | 130 |
| | د ايمان حلاوة | 131 |
| | د ابراهيم عليه السلام امتحان | 131 |
| | ابراهيم عليه السلام ولي خليل الرحمن شو؟ | 132 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د مور واقعه | 133 |
| | ابو بكر رضي الله عنه شجاعت | 134 |
| | د عرش د سیوري لاندې اوه کسان | 136 |
| | عبد الله بن عبد الله بن ابي بن سلول | 136 |
| | د صحابه کرامو ديني غيرت | 138 |
| | عبد الله بن مغفل د خوي سره خبرې بندول | 140 |
| | د شيخ الاسلام رحمه الله قول | 142 |
| 11 | مصارف الزكواة | 144 |
| | اسلام بنيادي اركان | 144 |
| | مرثدٌ بن عبد الله رضي الله عنه صدقه كول | 145 |
| | مال كښې زكواة نه علاوه هم حق شته دے | 146 |
| | د باغ والا واقعه | 147 |
| | د اوبو د وركولو ثواب | 149 |
| | سپي ته اوبو وركولو باندې جنت ته تلل | 149 |
| | د بدكارې زنانه مغفرت | 150 |
| | بهترينه صدقه | 150 |
| | مؤلفة القلوب حكم | 154 |
| 12 | فضائل قرآن | 158 |
| | قرآني مجلس فضيلت | 158 |
| | ختم القرآن په موقع دعاء قبليږي | 159 |
| | د قرآن د لوستلونكي مقام | 160 |
| | د وحي بوج | 162 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | قاري قرآن مقام | 163 |
| | د قرآن د معلم او متعلم مرتبه | 164 |
| | د قرآن مطالبات | 166 |
| | د تورات په تلاوت د نبي عليه السلام خفګان | 167 |
| | قرآن اختلافات ختموي | 170 |
| | د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د بي بي واقعه | 171 |
| | د علماء كرامو مقام او مرتبه | 175 |
| 13 | د قرآن آثر | 176 |
| | د قرآن اولنے اثر | 176 |
| | د قرآن دويم اثر | 176 |
| | د قرآن دريم اثر | 177 |
| | د عبدالاعلي رحمه الله قول | 178 |
| | په عمر رضي الله عنه باندې د قرآن اثر | 178 |
| | د نبي عليه السلام قرآن اوريدل | 181 |
| | په جبير بن مطعم د قرآن اثر | 182 |
| | د نبي عليه السلام ټوله شپه يو ايت لوستل | 183 |
| | د رسول الله صلى الله عليه وسلم زړه | 184 |
| | ابوبكر رضي الله عنه او ابن الدغنه واقعه | 185 |
| | د عمر رضي الله عنه زړه | 187 |
| | د يو راهب واقعه | 187 |
| | په صحابو كرامو د قرآن اثر | 189 |
| | فضيل بن عياض رحمه الله قول | 192 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| 14 | تقوى | 196 |
| | خير صرف په متقي كښې دے | 196 |
| | تقوى صرف د ير عبادت نه دے | 198 |
| | د تقوى تعريف د كعب الاحبار رحمه الله نه | 199 |
| | حديث الغار | 200 |
| | عبادت كښې اتباع د رسول ضروري ده | 202 |
| | د نعمان بن بشير رضي الله عنه واقعه | 203 |
| 15 | د تقوى اسباب، فوائد او مراتب | 205 |
| | امام غزالي رحمه الله قول | 205 |
| | دتقوي تولو امتونو باندي وصيت وو | 206 |
| | د رسول الله بليغ وعظ | 206 |
| | د نبي عليه السلام ابوهريره رضي الله عنه ته پنځه خبري ښودل | 207 |
| | عمر رضي الله عنه ته د ابوبكر رضي الله عنه وصيت | 208 |
| | ابن زيد رحمه الله قول | 210 |
| | دوه قسمه شرك | 213 |
| | مشتبهاتو نه ځان ساتل | 214 |
| 16 | عدل وانصاف | 221 |
| | د عرش د سيوري لاندي اوه كسان | 222 |
| | فاطمه باندي حد نافذ كول | 223 |
| | د نبي عليه السلام زهد | 224 |
| | د عمر رضي الله عنه د شهادت په وخت كښې انصاف | 225 |
| | نعمان بن بشير رضي الله عنه واقعه | 227 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | وي | |
| | پهٔ منافقانو دوه مونځونه ګران وي | 247 |
| | د امام بخاري رحمه الله قول | 248 |
| | يوه عجيبه واقعه | 248 |
| | د يو صحابي واقعه | 249 |
| | د رسول الله د مشرک نه پهٔ جنګ کښې مدد نه اخستل | 251 |
| 20 | هغه دوه کسان چې د الله دپاره د يو بل سره مينه کوي | 252 |
| | د اسلام مضبوطه کړۍ | 252 |
| | مصعب بن عمير رضي الله عنه د مؤمن سره مينه | 254 |
| | د محبت پيدا کولو نسخه | 254 |
| | د ابو طلحه رضي الله عنه د ميلمستيا طريقه | 255 |
| | انس بن نضر رضي الله عنه واقعه | 256 |
| | د ايمان حلاوة پهٔ دري شيانو مېلاويږي | 256 |
| | د مؤمن سره محبت | 257 |
| | ابي بن سلول واقعه | 259 |
| 21 | د ګناهونو نقصانات | 261 |
| | د بدو اعمالو نتائج | 261 |
| | د ګناهونو دنياوي اثرونه | 261 |
| | قيامت به کله راځي | 263 |
| | د ګناه اثر پهٔ ځارؤو | 265 |
| | د معمولي غلطۍ اثر | 267 |
| | د قبرص د فتح په موقع د ابودرداء رضي الله عنه ژړا | 268 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| 270 | معاويه ﷺ ته د عائشي رضي الله عنها وصيت | |
| 271 | د ارتداد سزا په دنيا کښې | |
| 275 | تراويح او تعجيل الافطار | 22 |
| 275 | آيت کښې درې اهمې خبرې | |
| 276 | دروژې مختلف حالات | |
| 276 | د يو غريب صحابي واقعه | |
| 277 | د عوامو روژه | |
| 277 | د متوسط خلکو روژه | |
| 277 | د خواصو روژه | |
| 278 | دروغ او روژه نۀ شي جمع کيدلے | |
| 279 | روژه د جهنم نه ډهال دے | |
| 280 | د روژې مقام | |
| 280 | د هر عمل خپل معيار وي | |
| 281 | اته رکعته تراويح هم شته او شل هم شته | |
| 282 | شاه انور شاه کشميري رحمه الله قول | |
| 283 | د ابن الهمام رحمه الله قول | |
| 283 | د ملا علي قاري رحمه الله قول | |
| 284 | د علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله قول | |
| 284 | د علامه محمد يوسف رحمه الله بنوري قول | |
| 285 | د ابوهريره رضي الله عنه قول | |
| 287 | تعجيل الافطار باره کښې د امام بخاري قول | |
| 291 | د دوه صحابه کرامو د افطار متعلق معمول | |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| 23 | الاعتكاف و صدقة الفطر | 294 |
| | د رسول الله ﷺ شوال كښې اعتكاف كول | 294 |
| | د الله تعالى سره د تعلق نه درې شيان مانع دي | 295 |
| | د اعتكاف اصل مقصد | 297 |
| | د دوارو احاديثو تطبيق | 297 |
| | د رسول الله ﷺ احتياط | 299 |
| | اعتكاف كښې سنت طريقه | 300 |
| | د امهات المؤمنين د اعتكاف ذوق | 301 |
| | د عبدالله بن عباس رضي الله عنه اثر | 301 |
| | د عائشې رضي الله عنها واقعه | 302 |
| | فرض اعتكاف | 304 |
| | د اعتكاف نه د وتلو وخت | 304 |
| | صدقة الفطر فرضيت | 305 |
| | صدقة الفطر كښې به څۀ شے ادا كوي | 306 |
| | د امام احمدبن حنبل رحمه الله واقعه | 307 |
| | د صدقة الفطر خومره مقدار دے | 308 |
| | صدقة الفطر كله وركول پكار دي | 309 |
| 24 | د احاديثو او علماء احناف نه د آتۀ ركعته تراويحو ثبوت | 311 |
| | د عائشې رضي الله عنها روايت | 311 |
| | د جابر بن عبدالله رضي الله عنه روايت | 312 |
| | د عمر رضي الله عنه نه د اته ركعتو ثبوت | 312 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | د علماء احناف حوالجات | 313 |
| 25 | الاخلاص | 318 |
| | د دري روبرو واقعه | 318 |
| | د شيخ الاسلام نكته | 319 |
| | د بدكاري زنانه د مغفرت سبب | 320 |
| | حديث الغار | 320 |
| | فضيل بن عياض رحمه الله قول | 321 |
| | جهاد كښي اخلاص | 322 |
| | د اعمالو دارومدار په نيت دے | 323 |
| | عالم.شهيد او سخي جهنم ته تلل | 324 |
| | امام غزالي رحمه الله قول | 325 |
| | د نيت اثر | 327 |
| 26 | دعوت الى الله | 330 |
| | د مونځ پريښودلو گناه | 330 |
| | د ارتداد سزا | 331 |
| | د دعوت شرائط | 331 |
| | د قيامت په ورځ د نبي عليه السلام مقام اومرتبه | 334 |
| | امام الدعاة | 335 |
| | د مؤمنانو حالت | 337 |
| | د منافقانو حالت | 337 |
| | هر انسان ذمه وار دے | 341 |
| | د لقمان حكيم نصيحت | 342 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | علي ﷺ يو واعظ د جمات نه وشړلو | 344 |
| 27 | د دعوت د پاره شرائط او آداب | 346 |
| | اداب دعوت | 346 |
| | دعوت کښي اخلاص ضروري دے | 347 |
| | بشر رحمه الله واقعه | 348 |
| | حسان رحمه الله واقعه | 349 |
| | شاه اسماعيل شهيد رحمه الله واقعه | 351 |
| | سهل بن عبدالله رحمه الله واقعه | 352 |
| | د يو عالم واقعه | 352 |
| | امام رازي رحمه الله قول | 354 |
| | عبرتناکه واقعه | 355 |
| | بهترينه او بدترينه زمکه | 357 |
| | د عتبه واقعه | 359 |
| | د ضماد رضي الله عنه واقعه | 360 |
| 28 | د مصيبت په وخت کښي صبر او رجوع الی الله | 363 |
| | د انسان مختلف حالات | 363 |
| | د مصيبت په وخت کښي دعاء | 364 |
| | نبی عليه السلام د ابراهيم په فراق عمژن کيدل | 366 |
| | دري خبري د ژړا او دري خبري د خندا | 366 |
| | په مصيبت باندي اجر عظيم | 369 |
| | د مؤمن هر کار د فائدے دے | 371 |
| | د ملک الموت بار بار راتلل | 371 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام




| | | |
|---|---|---|
| | لوح محفوظ کښې ليکل شوي خبره | 372 |
| | د سليمان عليه السلام واقعه | 373 |
| | د علي ﷛ پنځه قيمتي خبرې | 374 |
| 29 | وفات النبی ﷺ | 376 |
| | د نبي عليه السلام په فراق د کهجوري ژړا | 377 |
| | د عبدالله بن عباس ﷛ علمي مقام | 378 |
| | د انصارو شان | 385 |
| | د ابوبکر صديق ﷛ علمي مقام | 385 |
| | درې وصيتونه | 387 |
| | د فاطمي رضي الله عنها ژړا او خندا | 391 |
| | فاطمي رضي الله عنها ته تسلي | 393 |


Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الداعين.

وبعد: د الله تعالى شكر دے چې محترم رور ترابى د جمعې خطبې كوم چې په مسجد د ثانويه كښې وركړے شويدي د كتاب په شكل كښې د عوامو مسلمانانو د فائدې د پاره راجمع كړيدي.

زما د الله تعالى نه اميد دے چې ددې فائده به هر مسلمان ورور او خور ته اورسيږي. او زۀ د الله تعالى نه سوال كوم چې دا عمل زما او د ترابى او د نورو ملګرو چې ددې د تصحيح كوشش نې كړے د اجر غيرممنون ذريعه وګرځوي.

مع انى قائل بتقصير علمى و عملى والمرجو من الاخوان عفو التقصير و قبول المعذرة.

وانا العبد عنايت الله بن الشيخ محب الله

مدير الجامعة الثانويه باجور پاكستان

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# اطاعت الرسول

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ أَصْدَقَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلَّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ.

أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۞ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۞[1]

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ[2]

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ مَنْ كَانَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُّحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهٗ إِلَّا لِلّٰهِ وَأَنْ يَّكْرَهَ أَنْ يَّعُوْدَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُّلْقٰى فِي النَّارِ.[3]

د ایمان د صحت د پاره دوه خبرې ډیرې ضروري دي

---

[1] سورة المجادلة
[2] صحيح البخاري رقم الحديث ، باب حب الرسول ﷺ من الإيمان
[3] صحيح البخاري رقم الحديث ، باب حلاوة الإيمان

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بو دا چي د چا سره مينه او محبت كول پكار دي.
: وسمه اهمه خبره داده چې د چا سره دشمني،حسداوبغض پكار دے.
پوحديث كښې محمدرسول الله ﷺ ديته د ايمان مضبوطه كړى وسيلي ده.

د اسلام مظبوطه كړى

رسول الله ﷺ فرمائي أَوْثَقُ عُرَى الْإِيْمَانِ اَلْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ[1] د ايمان مضبوطه كړى دا ده چې دا دوه خبري پيژندل پكار دي. چې د چا سره مينه وكړو او د چا سره بغض او حسد وكړو. دد نن ورځې د بيان حاصل دادے چې ترڅو پورے چې درته محمدرسول الله ﷺ د هر چانه محبوب شوے نه وي،او د محمدرسول الله ﷺ مخالف درته د هر چا نه مبغوض شوے نه وي،دا انسان تر هغه وخت پورے مؤمن كيدې نه شي. ما او تا به د محمدرسول الله ﷺ سره محبت كؤو كه د خلقو د لاس نه ضرر هم رارسيږي هغه به هم برداشت كوو. ډيرې خبرې به داسې وي چې ما او تاته به د خلقو خفګانونه هم راوړي. خو ديته به سوچ وكړو چې د رسول الله ﷺ په محبت كښې زمونږ څومره خير دے. او دې د پاره د محمدرسول الله ﷺ د صحابؤو ښائسته مثالونه زمونږ او ستاسو مخې ته دي. او د ترلونه زياته مينه دمحمدرسول الله ﷺ سره د صحابؤو وه. هرقسم مصيبت او مشكل چې به راتللو هغوي به د رسول الله ﷺ مينې له

---

[1] مصنف ابن ابي شيبه رقم الحديث ٣٠ وكذا في ٣٠٤٢٣ وفي بعض الروايات ان تحب في الله وتبغض في الله
شعب الايمان رقم ١٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ترجيح ورکوله. د رسول الله تابعداري له به ني ترجيح ورکوله.

د رسول الله ﷺ سره د صحابه کرامو د محبت مثالونه

واقعه خبيب رضي الله عنه

حديث کښې راځي لس صحابه کرام د کافرو په ګېره کښې راغلل. آته(۸) ني شهيدان کړل. خبيب رضي الله عنه او يو بل صحابي دے خبيب ني چې کله پهانسي کولو نو يو کافر ورته وائي. دا ستا زړه غواړي چې ستا په ځائ دي رسول الله پهانسي ته خيژولے وي او ته په خپل کور کښې په اطمينان ناست ئې. خبيب رضي الله عنه ورته وائي چې زما زړه دا هم نه غواړي چې د محمد رسول الله ﷺ په خپه کښې دی ازغے هم لاړ شي. او زه دي بچ شم، زه دي قتل شم خو د محمد رسول الله ﷺ په خپه کښې يو ازغے هم نشم برداشت کولے[5].

حديث کښې راځي

ابوبکر او عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنهما واقعه

کله چې د بدر جنګ شو. عبدالرحمن ابن ابی بکر د کفر په صف کښې ولاړ وو او ميدان ته راوتلو او اعلان ني وکړو چې څوک به زما مقابله وکړي. ابوبکر رضی الله عنه ووئيل يارسول الله ماته اجازت وکړه چې زه دي خپل ځوي سر پخپله کټ کړم. رسول الله ﷺ ورته اجازت ورنکړو که د الله او د رسول مينه پري غالبه نه وي پداسې وخت کښې يو انسان نشته چې د خپل ځوي قتل ته تيار شي. اصل مقصد زما دا دے چې څو پورې د رسول الله ﷺ او د الله مينه

---

5 حد الغابه ص۲۱۱ ج۱ زاد المعاد ص۲۴۹ ج۲ حلية الاولياء لابي نعيم ص۱۲۰ ج۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د دغه انسـان په زړۀ کښې زياته شوي نۀ وي.نو رسول الله ﷺ فرمائي دا انسـان دې دعوىٰ د ايمان نۀ كوي[6].

د ابوبکر او د ابى قحافه واقعه

حديث کښې راځي د ابوبکر صديق پلار ډېر بوډا شـوے وو خو پلار ني د رسول الله ﷺ په باره کښې غلطې خبرې وکړې.نو ابوبکر رضي الله عنه د خپل پلار د مخ نه پرق ويستلو او رسول الله ﷺ خواله راغلے.او وې فرمائيل د پلار سره مې داسې كار وكړو.رسول الله ﷺ ورته ووئيل د خپل پلار د مخ نه دې پرق ويستلو.وئيل يا رسول الله ﷺ ستا په باره کښې ئې غلطه خبره وكړه ما برداشت ونكړو.ما ستا د مينې د وجې نه د هغه د مخ نه پرق ويستلو[7].

څو پورې دا محبت د الله او د رسول په هر چا باندې غالبه شـوے نۀ وي.نو هغه سړے دې دعوىٰ د ايمان نۀ كوي.او مونږ داسې دين كړو چې نۀ پلار خفه شي او نۀ قام قبيله خفه شي.

او حالانکه الله يو ناشنا خبره كوي لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ الله وائي كه دعوىٰ د ايمان رشتيا كوې چې الله منم او آخرت هم منم.الله وائي دا چرته هم نشي كيدے چې ستا دې د هغه چا سره مينه او محبت وي چې هغه دې د الله او د رسول دشمن وي.چې د الله او د رسول د ايمان دعوىٰ كوې نو د الله او د رسول چې كوم دشمن وي د هغه سره به بيا د بغض سوچ كوې.

---

[6] المستدرک علی الصحیحین ص ۲۲ج۴

[7] ذکر القرطبي هذه الواقعه تحت ايت سورة المجادلة ۲۲ ص۲۲۹ج۲۰ طبع بيروت

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کله چې ابوهریره رضی الله عنه په کور کښې ناست وو. د مور د خلې نه نې رسول الله ﷺ ته غلطې خبرې وختلې. هغه وخت کښې ئې مور مسلمانه نه وه. ابوهریره رضی الله عنه راغلے او رسول الله ﷺ ته ئې زړل. وئیل یارسول الله ﷺ دعا وکړه زما مور ته چې الله ورته هدایت وکړی. ستا په باره کښې مې ترې غلطې خبرې واوریدلې او برداشت مې ونکړو او تاله سوال له راغلم چې دعا وکړه چې الله ورله توفیق د ایمان ورکړي. دا د ایمان بالرسول نښه ده چې یو سړے د رسول الله ﷺ په سنتو پورې توقې کوي. یا په رسول الله پورې توقې کوی یا د هغه په دین پورې توقې کوي او ته په دې خفه شولې. نه داسې دعوی مه کوه چې زه کورے مؤمن یم.

د الله تعالی سره د محبت نښه

حدیث کښې راخي د الله سره د مینې نښه څۀ ده؟ د رسول الله ﷺ سره مینه. او د رسول الله ﷺ سره د مینې نښه څۀ ده؟ د رسول الله ﷺ د سنتو سره مینه. او د رسول الله ﷺ د سنتو سره مینه څۀ ده؟ د قرآن سره مینه کول. دا په یو بل پسې کړې ده او په یو بل پسې متصله ده. یو سړے وائي چې زما د قرآن سره مینه ده او دا د رسول الله ﷺ سنتو ته سپک کوري فَهُوَ كَذَّابٌ وَكِتَابُ اللهِ يُكَذِّبُهُ[1] [تفسیر مدارک] دا دروغژن دے خکه چې د یو سړي د قرآن سره مینه وي نو د رسول الله ﷺ د سنتو سره به ئې هم مینه وي.

الله جلاجلاله سورة التوبه کښې داسې فرمائي.

---

[1] مدارک التنزیل للنسفي ص ۲۲۹ ج۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَ اَبْنَآؤُكُمْ وَ اِخْوَانُكُمْ وَ اَزْوَاجُكُمْ وَ عَشِيْرَتُكُمْ وَ اَمْوَالُ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَ تِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَ مَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ جِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ وَ اللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ[1]

الله فرماني چې زما او د نبي د دين په مقابله کښې دې د پلار لحاظ وکړو. يا دې د رور لحاظ وکړو. يا دې د ښځې لحاظ وکړو. يا دې د قام قبيلې لحاظ وکړو، الله فرماني چې زما د عذاب انتظار ته کينه.

عبدالله بن أبي بن سلول واقعه

عبدالله بن عبدالله بن أبي راغلے او رسول الله ﷺ ته ني ووئيل چې زما پلار ستا په باره کښې غلطې خبرې کوي. يو ځل دې ظالم دا خبره کړې وه چې رسول الله ﷺ د ټولو نه لوې ذليله دے او زۀ لوې عزتمند يم. زيدبن ارقم رضی الله عنه دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسوله. رسول الله ﷺ ابي راوغښتو وئيل تا رشتيا دا خبره کړې ده؟ هغه قسم وکړو وئيل ما دا خبره نۀ ده کړې. زيدبن ارقم رضی الله عنه په ما دروغ وئيلي دي. زيدبن ارقم رضی الله عنه کشر صحابي وو. نو منافقانو په دروغو قسم وکړو نو رسول الله ﷺ وئيل چې زيدبن ارقم رضی الله عنه خطا شو. قرآن کښې سورة المنافقون نازل شو. او په دې سورة کښې الله وائي. هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا[2] دې دا خبره کړې وه چې د رسول الله په

[1] [سورة توبة]

[2] [سورة المنافقون]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ملګرو سوره جرحه مه کوئ چې خو بوري ددې خائ نه خواره شوی نه وی. او دا ئې هم وئیلي وو يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ (سورة المنافقون ۸) وئیل ئې چې مدینې ته کله لاړو په مدینه کښې به عزتمند راولکي او د مدینې نه به د ټولو نه لوې ذلیله نعوذ بالله رسول الله ﷺ به وباسي. خوي ئې وئیل یارسول الله ﷺ ماته اجازت وکړه چې ددې خپل پلار دا خټ پخپله کټ کړم بل څوک به ئې مړ کړي ماله به چرته غیرت راشي. بنځ به دا وي چې زه ئې پخپله قتل کړم[11].

مقصد دا دے د خپل پلار قتل ته ددې وجې نه نه وو تیار کښي چې د هغه سره ئې بغض وو خو چې کله پلار د قرآن خلاف شي، د رسول الله ﷺ خلاف شي. د رسول الله ﷺ د سنتو خلاف شي تو بیا پلار ته نه کوري د رسول الله ﷺ مینې ته کوري.

کله چې د بدر په جنګ کښې اویا (۷۰) کسان کافران مسلمانانو ونیول. ابوبکر رضی الله عنه دا مشوره ورکړه چې پیسې به ترې واخلو او دا خلق به پریدو. پیسې به د مسلمانانو په کار راشي. عمر فاروق رضی الله عنه وئیل زما دا مشوره نه ده، زما مشوره دا ده زما چې کوم خپلوان دي هغه ماته حواله کړئ. ابوبکر رضی الله عنه ته خپل خپلوان حواله کړئ. چې هر سړے دا خپل خپلوان د الله د دین د مقابلې د پاره ختم کړي[12]. نو هله به زمونږ په زړه کښې ایمان راشي. دیته ئې ونه کتل چې دا خو زما قام قبیله ده. الله وائي ستا به قام

---

[11] تفصیل الواقعه في ابن کثیر ص ۳۸ ج ۸ تحت ایت سورة المنافقون ، طبع بیروت

[12] مسند احمد رقم ۲۲۵۵

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



ټیله وی خو دا باد ساته چې څوک د الله او د رسول مخالف دي د هغه سره به بغض خامخا کوي.

ابراهیم علیه السلام د خپل پلار او قوم نه د براءت اعلان الله یو ناشنا خبره کوي یو لوي سړے په دنیا کښې ابراهیم علیه السلام تیر شوے. ابراهیم علیه السلام ته خپل ځان د الله نه نهٔ وو ګران. خپل بچے ورته د الله نه نهٔ وو ګران.چې کله ابراهیم علیه السلام ته الله وفرمائیل چې خپل بچے دې حلال کړه.او خپل بچي ته وواېه يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى [13] اے بچیه زهٔ دې به خوب کښې وینم چې تا حلالوم وګوره ستا څه رائے ده ؟ او بچي ته خپل ځان د الله نه نهٔ وو ګران بچے وائي قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ [13] اے پلاره زما چې الله درته د څهٔ حکم کوي هغه وکړه مابه ان شاءالله په دې خپله خبره باندې د صابرانو نه بیاموملي.زما د خبرو مقصد دادے چې ذهن کښې داسې خبره راوله چې د الله د دین او د الله د رسول ﷺ د سنتو په خلاف څوک راځي هر څوک به خفه کوي.

حدیث کښې راځي لَاتَمْنَعُوْااِمَآءَاللّٰهِ عَنِ الْمَسٰجِدِ [14] دا ستاسو ښځې دا د الله وینځې دي دا به د جوماتونو نه نهٔ منعه کوي. د عمر رضی الله عنه ښځه به جومات ته تلله. څوي ورته یو خل ووئیل چې عمر رضي الله عنه ستا په دې تلو جومات ته نهٔ خوشحالیږي. مور ئې

[13] سورة الصافات

[14] سنن ابي داود باب ماجاء في خروج النساء الى المساجد رقم الحديث ٥٦٦

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورته وویل چې ستا دې عمر مانه اووائي چې جومات ته مه ځه. چې کله عمر رضي الله عنه شهید کیدو به جومات کښې او بخه يې شپه به صف کښې ولاړه وه. برمرګه بورې عمر رضي الله عنه دې ښځې ته داسې ونه ویل چې اے ښځې جومات ته مه ځه. نه ئې شو ویلے ولې؟ ځکه د رسول الله ﷺ د وینا مقابله راتلله.

## د ابن عمر رضی الله عنه د خپل ځوی نه بائیکاټ

دې ځوی ئې یو ځل دا حدیث بیان کړو لَاتَمْنَعُوْااِمَاءَاللهِ عَنِ الْمَسْجِدِ نو د عمر رضي الله عنه نوسے وو، بلال نوم ئې وو، هغه ونیل زما دې په الله قسم وي مونږ دا خپلې ښځې جوماتونو ته نۀ پریږدو. ونیل ولې هلکه؟ نو هغه ځوي ئې ورته وئیل چې ددې نه فساد جوړیږي. لکه ددې زمانې منافقان وائي د رسول الله د سنتو نه فساد جوړیږي. پلار ئې ورته وائي ما درته د رسول الله ﷺ حدیث اووایه او ته دومره زړه ور يې[15] -زما دې په الله قسم وي چې بچیه زۀ به درسره تر مرګه پورې خبرې ونکړم. او هم دغه شان وشوه چې کله ئې ځوی وفات شو. نو عبدالله بن عمر رضی الله عنه ئې په جنازه ونۀ دریدو. ستا به ډېر خپلوان وي خو دا یادساته چې د رسول الله ﷺ د سنتو په مقابله کښې هر څوک راغلے ددې لحاظ به بیا نۀ کوې.

ابراهیم علیه السلام خپل پلار وو خو چې کله د الله د دین خلاف وو نو پلار ته وائي. اے پلاره زما ستا نه نور بائیکاټ دے او الله په

---

[1] صحیح مسلم باب خروج النساء الی المساجد اذا لم یترتبه علیه فتنة رقم الحدیث ۱۰۲۲



Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قرآن کښې فرمائي قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ "يقينا شته دے تاسو د پاره نمونه د تابعدارۍ ښائسته په ابراهيم عليه السلام کښې او په هغه کسانو کښې چې د ابراهيم عليه السلام سره ملګري وو په ايمان کښې. يعني د ابراهيم په سنتو روان شه.

إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ. کله چې دې وئيل قوم خپل ته يقينًا مونږه بيزاره يو ستاسو نه. او د هغه څانه چې تاسو ئې بندګي کوئ سوا د الله تعالىٰ نه. تاسو د الله دشمنان ئې. او مونږ د الله دوستان يو. وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ زمونږ او ستاسو به هميشه بانيکات وي چې څو پورې ايمان مو نه وي راوړے. د الله د دين په مقابله کښې د رسول د سنتو په مقابله کښې د رسول الله ﷺ مينه دې د هر څانه زياته شوې نه ئې. د هغه د سنتو سره دې مينه د هر چا نه زياته شوې نه وي هسې دعوى د ايمان مه کوه.

کله حديث کښې داسې راغلې زما مينه داده حَتَّىٰ يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ"[17] رسول الله ﷺ وائي ما يو دين دنيا ته راوړے دا خپل خواهشات دې زما د دين تابع کړه هله بيا خانته مسلمان وايه.

د يوې صحابيې واقعه:

يو صحابيه ده د احد په جنګ کښې په لاره روانه وه. د چا نه يې

---

[16] سورة الممتحنه ٤

[17] مشكاة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة رقم الحديث ١٦٧ قال النووي في اربعينه هذا حديث صحيح لكن قال الناجي هذا ... فالسند ضعيف مشكاة المصابيح بتحقيق محمد ناصر الدين الالباني ص ٥٩ ج ١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تپوس وکړو چې محمدرسول اللهﷺ څنګ دے؟ چا ووئیل چې ستا خاوند وفات شوے. مخکښې ئې د بل چانه هم دغه تپوس وکړو چا ورته ووئیل ستا خو خوي شهید شوے دے. نو بیا ئې د رسول اللهﷺ تپوس وکړو نو هغه ورته ووئیل چې ماته د رسول اللهﷺ پته نشته مخکښې تلو سره ورته د پلار د شهادت خبر وشو نو بیا ئې هم د محمدرسول اللهﷺ د خبر تپوس وکړو. نو مخکښې ورته د محمدرسول الله ﷺ خبر وشو چې ژوندے دے. نو زنانه ووئیل. كُلُّ مُصِيبَةٍ بَعْدَكَ جَلَلٌ هر یو مصیبت او غم د رسول اللهﷺ د مرګ نه روسته هغه ټول واړه دي. ګورئ دا زنانه چې د خاندان د دریو شهیدانو خبر ورلره راغلے خو چې د رسول اللهﷺ سره ئې مینه وه نو خپل خاندان ته ئې ونهٔ کتل. چې څو پورې ورته د رسول اللهﷺ خبر نهٔ وو شوے. نو په هر څه کښې د رسول اللهﷺ سنت وګورئ.

حدیث کښې راځي رسول الله ما او تاته کله داسې وائي لقد ترکتکم علی الْبَیْضَاءِ لَیْلُهَا کَنَهَارِهَا[18] ما درته صفا دین راوړے دے ما درته د هر شي وضاحت کړے دے. رسول اللهﷺ الله د دنیا نه تر هغه وخت پورې نهٔ وفات کولو چې حَتّٰی یُقِیْمَ بِهِ الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ. چې څو پورې په دنیا کښې دا کوږ دین او دا کفري قانونونه نهٔ وو ختم کړي، د هغې پورې الله خپل رسول نهٔ وفات کولو. او کله چې الله دا ټول دین

[18] سنن ابن ماجه رقم الحدیث ۴۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



صحیح کړو نو وحی راغله اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا۔[19]

نو عرض مې ددې خبرې کولو چې د رسول الله ﷺ مینه به د هر چا نه زیاتول غواړي۔

روح المعاني والا یوه ناشنا خبره کوي ډیر خلق داسې وائي چې زما د الله او د رسول سره مینه ده۔ د الله د احکامو دې خلاف کوم یو طرف ته دې قرباني کوم۔ ولې دا د الله حکم دے۔ ولې دا بل طرف ته د هزارو، ۱۰۰۰، سنتو مخالف ئې.دا بل طرف د هزارو احکامو مخالف ئې که داسې نه وي نو ته ولې د رسول الله ﷺ په نورو سنتو خپې پړدې۔

ددې وجې نه حافظ ابن کثیر وائي قال الامام النسفی فی مدارک التنزیل فَمَنِ ادَّعٰی محبة الله څوک چې د الله د محبت دعوې کوي او د رسول الله د سنتو خلاف کوي ذا سړے لوي دروغژن دے[20]۔

نو مقصد زما د خبرو دا دے چې مونږ او تاسو د الله او د رسول ﷺ مینې له په خپل زړهٔ کښې ځائ ورکړو۔ الله دې زمونږ او ستاسو د رسول الله ﷺ سره مینه پیدا کړي۔آمین

اقول قولی هذا استغفر الله

---

[19] سورة المائدة۳

[20] مدارک التنزیل للنسفی ص ۲۲۹ ج ۱ طبع بیروت

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# اطاعت الرسول

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ أَمْرًا أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ [1]

## دوه مسئلې

دوه قسمه مسئلې دي يو داسې مسئلې دي چې کله سړے نوے مسلمان شي خلق هغه مسئلې يادوي . يو داسې مسئلې وي چې د انسان عمر زيات شي او يا خه پوخ مسلماني ته ورسيږي نو خلق واني اوس دا مسئلې ايزده کول غواړي . ددې علماء داسې مثال بيانوي لکه يو ماشوم چې اول مدرسې ته بوځي نو خلق ورته اول د قاعده سبق واني نو بيا ورته روسته غټ کتابونه ايزده کوي. د الله او د رسول اطاعت مسئله چې دا داسې کڅرانو او داسې خلقو ته ايزده کول غواړي چې بيخي نوے مسلمان شوے وي.او چې د يو چا عمر ټول په مسلماني کښې تير شوے وي او هميشه د پاره دعوې د اسلام کوي نو داسې انسان ته ددې خبرې بيانول داسې دي لکه سړے چې ماشومانو ته بيرته قاعده شروع کړي . چې هلکه دا خبرې ايزده کول غواړي.خو مونږ په داسې دور کښې يو چې يو انسان دعوې د اسلام کوي هغه تراوسه پورې دا خبره نۀ ده پيژندلې چې د الله او د رسول د خبرې په مقابله کښې د بل چا خبره منل جائز دي او کۀ نه.او يا د الله او د رسول اطاعت په مونږه فرض دے او کۀ نۀ دے . مونږ له پکار

---

[1] سورة الاحزاب

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



داسې وه چې موږ ه لا اله الا الله محمد رسول الله ونیلي ده چې د اول نه په زړه کښې زموږ دا خبره وي چې څنګه د عبادت حقدار د الله نه سوا بل څوک نشته. نو اطاعت حقدار سوا د محمد رسول الله ﷺ نه بل څوک نشته. دا څو د کلمې د وېلو سره دا خبره لازم وه بیا به دی باندې هره ورځ بیان اطاعت رسول دا ولې "اصل مسئله داسې ده چې خلق داسې دي چې د ډېرو خلقو زړونو ته خبره نه ده کوزه شوې چې لائق د تابعدارۍ څوک دے.

دري خبري مختصر بيانوو.

يو خو قرآن كتل پكار دي قرآن كريم كښې الله تعالى د محمد رسول الله ﷺ اطاعت په باره كښې څه ونيلي دي.

او دويم قرآن كتل غواړي چې څوک د محمد رسول الله ﷺ خلاف كوي د هغه په باره كښې څه ونيلي دي.

او دريم د صحابوو لپاره مثال كتل غواړي چې صحابوو د محمد رسول الله ﷺ څنګه تابعداري كړي ده.

دا اولنۍ خبره چې د محمد رسول الله ﷺ اطاعت په باره كښې الله تعالى مونږ لره څومره ترغيب راكړے دے. قرآن چې څوک ګوري قرآن كويا كښې دغه خبرې ته راګرځي چې الله تعالى ما او تاته بيا بيا ترغيب راكوي چې ګورے د رسول الله د اطاعت نه بل طرف ته مخ وانهړوي.

جنت ته د تللو سبب

كله الله داسې فرمائي جنت ته كڅوک تلل غواړي جنت ته تلل بغير د

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اطاعت د رسول الله نه نهٔ کيږي وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ.[22]

الله فرمائي چا چې د الله اومنله او د هغه د رسول الله ﷺ نې اومنله الله به ئې جنتونو ته داخل کړي که د رسول الله ﷺ اطاعت درېکښې نهٔ وی د جنت طمع بيا مهٔ کوه.

او کهٔ کاميابي غواړې دا هم په اطاعت د رسول الله ﷺ کښې ده.

الله فرمائي وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا[23] لوې کاميابي د محمد رسول الله ﷺ په اطاعت حاصليږي.

او په بل آيت کښې داسې فرمائي وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ[24] څوک چې اطاعت د الله او د رسول ﷺ کوي او ويريږي د الله نه او تقوى کوي په راتلونکو عملونو کښې نو دغه کسان دوي کامياب دي. کامله کاميابي بغير د محمد رسول الله ﷺ د اطاعت نه نهٔ حاصليږي أُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ[25]. او تابعداري کوي د الله تعالى او د رسول ﷺ دغه کسان خامخا رحم کوي په دوي الله يقيناً الله زوراور دے حکمتونو والا دے.

---

[22] سورة النساء ١٣

[23] احزاب ٧١

[24] [سورة النور ٥٢]

[25] توبه ٧١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



جنت کښې د انبياؤ رفاقت

او کله داسې فرمائي که زړه دي دا غواړي چې الله تعالى مې په جنت کښې د محمد رسول الله ﷺ ملګرے کړي او صحابو رضى الله عنهم او صديقينو او د شهيدانو ملګرے مې کړي او په جنت کښې مونږ هول سيکان خلق چې خومره دي دا مونږ او تاسو به جنت کښې ناست يو. او د يو بل سره ګف شف لګوو او ددې خلقو ملګرتيا چې غواړې دا به څه حاصليږي. الله فرمائي وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَ الشُّهَدَآءِ وَ الصّٰلِحِيْنَ ۚ وَ حَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ؀[1] د الله او د رسول الله ﷺ اومنه د انبياؤو ملګرے به شې.

حديث کښې راځي صحابى د رسول الله ﷺ خواله راغلے او په ژړا شو رسول الله ﷺ ورته اوئيل ولې ژاړې؟ وئيل د الله رسوله دنيا کښې چې په خپل کور کښې ناست يو نو زمونږ زړه لږ تنګ شي نو ستا خواله راشو نو زړه زمونږ خوشحاله شي. نن يو سوچ په زړه کښې راغلے چې جنت ته مونږ لاړ شو نو ستا مقام خو به ډير اوچت وى او مونږ خو به ډير په ښکته مقام کښې يو ستا سره به زمونږ ملاقات کيږي او که نه کيږي؟ دا آيت الله راوليږو وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَ الشُّهَدَآءِ وَ الصّٰلِحِيْنَ ۚ وَ حَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ؀[27] که تا د رسول الله ﷺ اطاعت وکړو ته د هغه ملګرے ئې په جنت کښې. ګوره نن صبا د مسلمانانو دا

---

[1] [سورة النسآء]

[2] [سورة النسآء]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خومره د زړه ارمان وي چې کوم سړے په خوب کښې رسول الله ﷺ وینی هغه پرې خومره فخر کوی. او څومره پرې خوشحاله وي چې ما رسول الله ﷺ په خوب کښې لیدلے او چې یو څوک دا غواړي چې زه رسول الله ﷺ په ویخه وینم او دې سره زما ژوند وي او د هغه سره زما ملګرتیا نصیب شي.نه د رسول الله ﷺ اطاعت نن وکړه چې هغه څه کړی وی هغه په خپل ژوند کښې راوله.

د منافقانو په باره کښې الله تعالی داسې وائي منافقان خلق داسې وائي وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ۝[28]

منافق سړے وائي زه خو رسول الله ﷺ منم زما په رسول الله ﷺ ایمان دے خو چې د تابعدارۍ او د عمل مقام راشي منافق سړے بیا مخ واړه وي وائي یاره زمونږ په دې علاقه کښې خو رواج داسې دے.زمونږ د امام مذهب دا دے ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ۝ الله وائي چې داسې خلقو ته بیا مؤمنین ونه وائي قرآن د اطاعت الرسول مسئلې نه بول ډک دے.

الله فرمائي يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝[29]

---

[28] [سورة النور]
[29] [سورة الانفال]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مؤمنه چې الله او رسول الله ﷺ درله د خه خبرې دعوت درکړي چې هغه ستا د ژوند ذريعه وي د هغه خبره أومنه د الله او د رسول اکر که نه به مانځه ولاړ نې.

## ابو سعيدبن المعلى رضى الله عنه واقعه

ابو سعيدبن المعلى رضى الله عنه چې کوم حديث دے په بخارى کښې. وائي په مانځه ولاړ ووم او رسول الله ﷺ راته غږ وکړو. ما اونيل چې دا مونځ به سر ته ورسوم بيا به د رسول الله ﷺ خواله ورشم. چې راغلم ماته رسول الله ﷺ اونيل تا د قرآن دا آيت نه دے اوريدلے دے چې الله تعالى فرمائي يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ د الله رسوله ما خو اوريدلے وو خو زما ذهن کښې داسي وه چې نيک کار اول سر ته اورسوم بيا به د رسول الله ﷺ اجابت وکړم وئيل نا[30]. که ته په هر نيک کار کښې مشغول ئې خو هغه پريږده.

قرآن کريم کښې کله الله دامي فرمائى يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۝[31]

کله پکښې د رسول الله سره اطيعوا لفظ نه وائى اطيعوا الله والرسول روح المعانى يو ناشتا نکته ذکر کوي چې کله پکښې اطيعوا خانله رانه وړي نو ديته اشاره ده چې د رسول الله ﷺ اطاعت په خان

---

[30] صحيح البخاري تفسير سوره الانفال رقم الحديث ۴۲۰۰

[31] [سورة النسآء]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



داسې فرض وګڼو لکه څرنګه چې د الله اطاعت په خان فرض ګڼړې
په دې کسې به فرق نه کوي. د هغه کافرانو پشان به نه کیږي چې
يُرِيدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللهِ وَرُسُلِهٖ. چې د الله او د رسول الله ﷺ په
حکم کسې فرق کوي او چې کله پکښې اطيعوا مستقل راوړي چې
واطيعوا الرسول ديته اشاره ده چې اطاعت د رسول الله يو مستقل
مسئله ده لکه څنګه چې اطاعت د الله مستقله مسئله ده که د خپل
مشر مني او که د خپل امام مني او که د خپل بادشاه مني که مني خو
د دې اَطِيْعُوا اللهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ دلاندې به ئې مني څه
پسې روستو داسې وائي فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ که ستا یو اختلا
راغلې مثلا امام داسې وائي او الله او رسول ﷺ داسې وائي فَرُ
اِلَى اللهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَ
تَاْوِيْلًا ۞ الله او رسول الله ﷺ ته ئې واپس کړئ که ایمان په الله او په
ورځ د آخرت لرئ. نو یو خو داسې آیاتونه دي چې الله ما او تاته
داسې ترغیب راکوي.

د رسول الله نه منل تباهي ده:

دویم خیره داسې آیاتونه دي چې په هغه کښې داسې وائي چې که د
رسول الله ﷺ نه منئ نو تباه به شئ هلاک به شئ، ګمراه به شئ.
کله داسې وائي اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِي الْاَذَلِّيْنَ ۞[32] که د
الله او رسول ﷺ خوک خلاف کوي دغه کسان د ذلیلانو نه دي.

[32] سورة المجادلة

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او كله الله داسي فرمائي إِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَ قَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ؕ وَ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝[11]
چاچي مخالفت وكړو د الله او د رسول نو داسي به ذليله شي لكه مخكښي يهود او نصارى چي څنګه ذليله شوي وو.

كله داسي فرمائي ياد ساته د رسول الله ﷺ خلاف مه كوه وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ[14] يو مؤمن سړي او ښځي لره نه دي جائز چي الله او رسول الله ﷺ يو فيصله وكړي او دا دې پكښي خپله خوښه چلوي.

يا واني دا په حديث كښي راغلي دي خو زما طبيعت ئي نه مني، يا زمونږ په علاقه كښي دا مسئله نشته۔ او روستو فرمائي دا هم ياد ساته كه ته وائي زه پكښي خپله خوښه چلوم وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝ چا چي نافرماني د الله او د رسول ﷺ وكړه نو يقيناً ګمراه شو دا په ګمراهۍ ښكاره سره۔ ستا په ګمراهۍ كښي به شك نه وي اګر كه ته ځان ته مسلمان وائي۔

كله وائي د رسول الله خلاف مه كوه او كه خلاف ئي كوي نو فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖۤ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝[15] ودې يريږي هغه كسان چي مخالفت كوي د حكم د هغه يا به ورته فتنه ورسيږي.او يا به ورته ورسيږي عذاب دردناك.د رسول الله

---

[11] [سورة المجادله]
[14] [سورة الاحزاب]
[15] [سورة النور]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



ﷺ خلاف مه کوه داسې آیاتونه چې په قرآن کریم کښې دي خلقو ته
زور ورکوی د رسول الله ﷺ په خلاف باندې.
کله الله داسې فرمائي یوه ناشناه خبره کوي یادساته زما پیغمبره دا
کوم خلق چې ستا خلاف کوي نو داسې مه وائي چې دا ستا خلاف
کوي دا اصل کښې د الله د آیاتونو خلاف کوي څوک چې د رسول
الله ﷺ خلاف کوی نو الله فرمائي قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِىْ يَقُوْلُوْنَ
فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ۝[34]
یقینًا پوهیږو مونږ چې خامخا خفه کوي تاله هغه خبرې چې دوي ئې
وائي پس یقینًا دوي دروغژن نه ګڼري تا او لیکن ظالمان د آیاتونو د
الله تعالی نه انکار کوي. ستا خبره چې څوک نه مني دا اصل کښې د
الله خبره نه مني.
خلاف دوه قسم دے:
زۀ ذهن کښې یو خبره تاسو ته مخکښې نه ږدم هغه داده خلاف کول
دوه قسمه دي،یو داسې خلاف دے مثلاً چې وایمه خپل عمل ته چې
زۀ ګنهګار یم او عمل وکرم او بیا روستو وایمه چې یاالله مامعاف
کړه زما نه د محمدرسول الله ﷺ د سنتو خلاف وشو او کني جهنم
ته به ځي دا مجرم دے ګنهګار دے. بیا چې صرف دومره توبه
اوباسي چې یاالله مامعاف کړه زما نه د محمدرسول الله ﷺ د سنتو
خلاف وشو.الله ورته غلطي معاف کوي.
هغه خلق مجرمان او ګنهګاران دي چې په صحیح حدیث کښې مثلاً

[34] [سورة الانعام]

Scanned by CamScanner

يو خبره راشي او دا واني چې هر څومره دا حديث صحيح دے خبره صحيح ده خو زۀ ئې څکه نۀ کوم د اوسه پورې ژوند مې په څۀ کښې تير کړے دے.يا ددې د پاره تاويلات کوري.لوي نقصان د داسې خلقو دے چې دا خلق به د قيامت په ورځ الله لره څۀ جواب ورکوي.

هغه دريمه خبره لړ مختصر غونډې کومه چې صحابو پکښې قيل او قال کړے دے او کۀ نۀ ئې دے کړے.صحابو د رسول الله ﷺ د هر يو عمل تابعداري کړې ده او که نۀ ئې ده کړې؟

بخاری کښې راځي رسول الله ﷺ يو ځل د سرو زرو ګوته جوړه کړه نو خلقو د سرو زرو ګوتې جوړې کړې د څه د وجې نه دلته رسول الله ﷺ جوړه کړې وه نبي ﷺ د سرو زرو ګوته ګوزار کړه خلقو چې رسول الله ﷺ وليدلو نو هغوي هم د سرو زرو ګوتې ګوزار کړې.[37]

دې رسول الله ﷺ ته چا داسې اونۀ وئيل چې د الله رسوله تا د اوسه پورې د سرو زرو ګوته په لاس کړې وه.د اوسه پورې جائز وه او اوس ولې ناروا ده.بس صرف رسول الله ﷺ داسې وکړل.رسول الله ﷺ چې څۀ کول هغه دوي وکړه چې ددې زمانې سړے دے څۀ وجه وه چې د اوسه پورې داسې خبرې وې او اوس داسې خبره شوله.صحابو صرف رسول الله ﷺ ته کتل چې رسول الله ﷺ څۀ کول هغه به صحابو هم کول.

يو حديث کښې راځي چې رسول الله ﷺ د پيزار سره مونځ کولو نو ټولو صحابؤو د پيزار سره شريک مونځ کولو نو رسول الله ﷺ په

---

[37] صحيح البخاري ص [illegible] جلد ٢ طبع قديمي

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مانخه کښې خپل پېزار ويستلو. صحابوو هم په مانخه کښې پېزار ويستلو چې سلام کله نبي ﷺ وګرځولو نو رسول الله ﷺ د صحابوو نه تپوس وکړو چې تاسو دا پېزار ولې ويستلو؟ صحابوو ونيل د الله رسوله مونږ نه وليدلي تا پېزار ويستلو نو مونږ هم ويستلو. نو رسول الله ﷺ ورته بيان وکړو چې زما د ويستلو وجه دا وه جبرائيل عليه السلام راغلے چې ستا د پېزار د لاندې ګندګي ده[38] نو ما خو ويستلي ستاسو د پېزار د لاندې خو ګندګي نه وه. هسې سوچ وکړئ يو خو دا مسئله ده چې ډير خلق داسې وائي چې د پېزار سره مونځ نه کېږي دا خو د يهوديانو خوي دے چې هغوي په پېزار کښې مونځ بد ګڼړي يو دا چې ناپوهه او جاهل سړے وي هغه نه وي خبر. او اوس دا چې يو حديث وي چې محمد رسول الله ﷺ هم مونځ د پېزار سره جائز ګڼړلي وي. او داسې ئې مونږ ته ونيلي وي چې د يهوديانو خلاف وکړئ په پېزار کښې مونځ وکړئ هغه د پېزار سره مونځ څه نه کړي.

شيخ عبدالسلام رحمه الله وائي يو ځل جنازه وه. هلته په جنازه ګاه کښې يو مولا صاحب بهر پېزار ويستلو. نو شيخ عبدالسلام رحمه الله اونيل چې مولیان داسې کار کوي نو مونږ به د اميانو نه څۀ ګيله وکړو چې مولوي صاحب تا دا حديث په بخاري کښې بيا بيا ونيلے دے. چې نبي ﷺ د پېزار سره مونځ کړے دے او کنه. هغه ونيل صَلِّ حَافِيًا وَمُتَنَعِّلًا دواړه طريقې ئې کړي هسې ئې مونځ کړے او د

[38] سنن ابي داود للسجستاني باب الصلاة في النعل باب ١٩ رقم الحديث ٥٥٠

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



پيزار سره هم کړے.

ابن حجر رحمه الله وائي د پيزار سره مونځ کول جائز دي ثواب پکښې نشته.

علامه عيني حنفي رحمه الله وائي ته څنګه وائي چې ثواب پکښې نشته نبي ﷺ امر کړے دے چې خلاف وکړئ د يهودو. د نبي ﷺ دا امر کم ازکم د استحباب د پاره نشي کيدے[39]. ګوره نبي ﷺ په مانځه کښې پيزار ويستلو نو صحابوو هم ويستلو د رسول الله ﷺ تابعداري کوله. او که ددې زمانې لړ غوندې علم نې کړے وې نو وائي دا څۀ کوي په مانځه کښې دې پيزار ويستلو تا خو عمل کثير وکړو مونځ درنه فاسد شو د رسول الله ﷺ او د صحابو مونځ نۀ فاسدوي او د دوئ دا فاسد شو دا کومه خبره ده.زما د خبرې مقصد دا دے د صحابؤو دې عمل ته کتل غواړي چې رسول الله ﷺ کوم عمل کړے دے صحابؤو هم هغه عمل کړے دے.

مونږ له پکار دي چې د رسول الله ﷺ تابعداري په هر صورت کښې کول غواړي.

اقول قولي هذا استغفر الله

---

[39] عمدة القاري ص ٢٢٠ ج ٣ باب الصلوٰة في النعال

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# امتحانات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ لَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَ الْجُوْعِ وَ نَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَ الْاَنْفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ۙ"[1]

په دنيا كښې مصيبتونه او تكليفونه راتلل په هر چاباندې كيږي خو فرق دادے كوم خلق چې دعوي د ايمان كوي د هغوي د پاره دا مصيبت د خير ذريعه جوړه شي. او كوم خلق چې كافر وي د هغې د پاره دا يو عذاب جوړ شي. كه يو انسان هر څومره اوچت شي نو بيا هم د مصيبتونو نه نشي بچ كيدلے. بيا به پرې هم مصيبتونه راځي.

## پهٔ نبي عليه السلام باندې تكليف

د ابو سعيد الخدري رضى الله عنه روايت دے هغه وائي زهٔ د محمد رسول الله ﷺ خواله ورغلم په هغه باندې تبه وه او دومره سخته تبه ني وه چې د برستن نه اخوا د هغه د بدن د تودوالي اثر ما محسوس كړو وئيل ماورته ووئيل يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّكَ لَتُوْعَكُ وَعْكًا شَدِيْدًا په تا خو ډيره سخته تبه ده. رسول الله ﷺ وفرمائيل آو. اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ. الله ته چې څومره نزدې خلق دي انبياء په هغې باندې د هرچا نه زيات مصيبت راځي. وائي ما ورته اوئيل چې په انبياؤو پسې روستو په چا مصيبتو نه راځي نو رسول الله ﷺ وفرمائيل ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ بيا په نيكانو ډير مصيبتونه راځي او بيا رسول

[1] [سورة البقرة]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام -



الله ﷺ وفرمائيل إِنْ كَانُوْا لَيَفْرَحُوْنَ ددي أمت نه مخکښي خلق به په مصيبت داسې خوشحاليدل لکه څومره چې تاسو په خوشحالۍ باندې خوشحاليږئ. ونيل هغوئ ته پته وه چې په مصيبتونو کښې څومره خير او فائده ده نو ځکه به خوشحاليدل[41].

: تولو ته اول دا خبره ياد ساتل غواړي چې امتحان به په دنيا کښې خامخا راځي. زما او ستا د حقيقت د معلومولو ميدان دے چې ما او تا به کومه درجه کښې مسلمانان يو.

ابتلاء سره د مؤمن او منافق پته لګي

فضيل بن عياض رحمه الله وائي اَلنَّاسُ مَادَامُوْ فِيْ عَافِيَةٍ مَسْتُوْرُوْنَ چې مصيبت دربانديې الله نه يې راوستے نو ته په دې حال کښې په عافيت کښې پټ ئي. پته نۀ لګي چې ته مسلمان ئي او که کافر يې فَإِذَا نَزَلَ بِهِمْ بَلَاءٌ صَارُوْا إِلٰى حَقَائِقِهِمْ فَصَارَ الْمُؤْمِنُ إِلٰى إِيْمَانِهِ وَصَارَ الْمُنَافِقُ إِلٰى نِفَاقِهِ. چې کله په انسان امتحان راشي نو بيا پته ولګي چې ستا اصلي حقيقت څه دے؟ نو د څنو خلقو حقيقت إِلٰى إِيْمَانِهِمْ د هغوئ د ايمان پته ولګي چې دا سړے مسلمان وو وَمِنْهُمْ مَنْ يَصَارُوْا إِلٰى نِفَاقِهِمْ[42] او څنې خلق منافقان وګرځي. ددۀ د خُلې نه داسې خبرې وځي چې هغه د دۀ په کفر دلالت وکړي. او دا خبره د قرآن نه هم ثابته ده.

---

[41] سنن ابن ماجه رقم الحديث ۴۰۲۴ صححه الالباني باب الصبر على البلاء

[42] البيان والتبيين للجاحظ ص ۲۳۹. البيان الزاهر الي فرسان المنابر ص ۱۳۶

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سورة الحج کښي الله فرمائي وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ [43]
او بعضي خلقو نه د الله عبادت کوي خو داسې به غاړه غاړه
باندې روان وي په صحيح طريقه باندې د الله عبادت نه کوي فَاِنْ
اَصَابَهٗ خَيْرُ اطْمَاَنَّ بِهٖ که چرته ورته خير ورسي نو وائي چې دا ښه دين
دے وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ او که د الله په دين کښې ورته
څه مصيبت ورسي نو بيا په خپل مخ واپس شي. نو وائي نور دا کار
زما د وسې نه دے. د هغه پورې ستا د مسلمانۍ پته نه لګي چې څو
پورې به تا مصيبت نه وي راغلے.

## په مؤمن به امتحانات خامخا راځي

قرآن کښې الله سورة العنکبوت کښې ناشناخبره کوي
اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝ [44] تاسو دا ګومان
کوئ چې زۀ به کلمه د لااله الا الله ووايم او په ما باندې به تکليفونه
او مصيبتونه نه راځي. ددې کلمے د وئيلو سره به د تکليفونو او د
مصيبتونو هغه کړۍ تاته راستنې شي.

او الله فرمائي
وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝ [45]
الله په مخکنو خلقو امتحانات راوستي وو خو الله وائي په هغې
کښې مې رښتوني مسلمانان ښکاره کړي وو. او په هغې کښې مې
دروغژن خلق هم ښکاره کړي وو. چې دا د دروغو مسلمانان دي چې

[43] [سورة الحج ۱۱]
[44] [سورة العنکبوت]
[45] [سورة العنکبوت]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



په هغوي امتحان او تکليف راغلے نو ماوو تا خو په ميدان د امتحان کښې برانه يو.

کله الله قرآن کښې داسې الفاظ وائي اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَ لَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَ يَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ [46]

الله وائي تاسو گومان کوئ چې داخل به شو مونږ جنت ته خو الله وائي بغير د امتحان نه دې نه پرېږدم خامخا دربانديې امتحان کوم.

کله قرآن کښې داسې فرمائي وَ زُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ [47]

په هغوې باندې زلزلې او مصيبتونه راغلي وو نو آخر به د هغوي د خلې نه دا چغه ووتله چې يالله ستا مدد به مونږ ته کله راځي. او دا خبره يادساته چې ته د امتحان په ميدان کښې پروت يې او امتحان دربانديې راشي چې څومره تيارے دې هغې له کړے دے.

کله الله داسې وائي وَ لَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَ الْجُوْعِ وَ نَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَ الْاَنْفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ [48]

دلته لام اونون دتاکيد د پاره دي، وائي خامخادربانديې امتحان کوم.

او کله الله داسې فرمائي لَتُبْلَوُنَّ فِيْۤ اَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ.

ستا په مال او په نفس کښې په تا امتحان کوم. عرض دادے چې امتحان په دنيا کښې په هر چا راځي.

---

[46] [سورة العمران]
[47] [سورة البقرة]
[48] [سورة البقرة]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



حدیث کښې راځي مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ[1]
الله چې چا ته د خیر اراده وکړی نو الله ورته مصیبت ورکړی.

بل حدیث کښې فرمائي د مومن مثال مِثْلُ الْخَامَةِ مِنَ الزَّرْعِ[2] د مؤمن مثال د بو کچه فصل دے. لَاتَزَالُ الرِّيْحُ تُمِيْلُهٗ همیشه د پاره هوا کله بو طرف ته واړي او کله بل طرف ته. نو په مؤمن باندې به امتحان خامخا راځي.

د دے خبره چې کله په انسان باندې مصیبت راشي نو د انسان نه مستي او تکبر د زړۀ نه وځي ځکه هر سړے د زلزلې په وخت کښې د الله الله الفاظ د خلې نه وباسي.

لوے کافر په دنیا کښې فرعون وو هغه وئیل فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ۝ ولې تکبر او مستي راغلے وو. ددې وجې نه ئې د الله دین ته غاړه نه ایښوده.

او په هغه پسې لوے کافر نمرود وو هغه هم ددې پشان وو. الله فرمائي اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ[3] د لوې حکومت د وجې نه د ابراهیم علیه السلام مقابلې ته تیار شوے وو. اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ نو ابراهیم علیه السلام ورته ووئیل چې زما رب مړه کول او ژوندي کول کوي. مقصد زما دادے لویه فائده د مصیبت دا وي چې د انسان نه تکبر او مستي وباسي.

---

[1] صحیح البخاري باب ماجاء في كفارة المرضى رقم الحديث ٥٣٢١

[2] صحیح البخاري باب ماجاء في كفارة المرضى رقم الحديث ٥٣٢٠

[3] [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



ابوجهل هم د تکبر او مستۍ له وجې نه د رسول الله ﷺ خلاف کولو . د موسی او شعیب علیهماالسلام قومونه وګورئ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖ اوئیل هغه مالدارانو د قوم بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهُمْ الله وائي د هغوی به ژوند کښې مستي راغلي وه. کله چې هغوئ د حد نه زیاته مستي شروع کړه نو الله وائي اَخَذْنٰهُمْ بِعَذَابٍۭ بَئِيْسٍ- الله وائي ما په دردناک عذاب راونیول وَاَخَذَالَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ هغه خلق چې د الله دحکم خلاف کړے وو او مستي راختي وو.الله وائي چغې راونیوو الله وائي نن یې څه حال دے؟ او لویه فائده د مصیبتونو. امتحاناتو داوي چې لږ عبرت ترېنه واخله.

الله د فرعون باره کښې فرمائی چې کله ما په دریاب هلاک کړو نو د خلې نه ئې یوه چغه اووتله اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ[52] چې ما هم د بنی اسرائیلو په رب ایمان راوړے. خو د الله قانون دادے چې د عذاب په وخت کښې د چا ایمان نه قبلوي. الله وئیل آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ اوس توبې وباسې تاخو اوسه پورې زما نافرماني کوله. خوالله وائي فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً الله وائي ستا خلاصول نن یو عبرت ګرځوم د خلقو د پاره او په احادیثو کښې ددې ډیر مثالونه دي. چې الله کله کله دا عذاب ددې د پاره راولي چې د خلقو د پاره ئې عبرت وګرځي.

---

[52] {سورة يونس}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## عبرتناکه واقعه

د شهربن حوشب رضی الله عنه روایت دے دا وائي چې کله په میدان د جنګ کښې په یو کس بسې وربسې شوے وو۔ دې چې پرې کله توره وخوزوله نو هغه کلمه وئیله نو دې ترې د کلمے وئیلو سره سر کټ کړو۔ رسول الله ﷺ ترې تپوس وکړو چې ولې دې مړ کړو؟ دۀ ووئیل د الله رسوله د یرې د وجې نه ئې کلمه وئیلې وه۔ رسول الله ﷺ ورته ووئیل چې دا زړۀ به دې ورله شلولے وے چې د یرې نه یې دا کلمه وئیلے ده او که د زړۀ نه ئې۔ کله چې دا مړ شو نو خلقو خخ کړو نو زمکې بیرته راګوزار کړو۔ نو خلق رسول الله ﷺ له راغلے چې هغه سړے بیرته زمکې راواچولو۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمائیل دا الله ستاسو د پاره عبرت ګرزولے دے[53]۔ په چا باندې چې مصیبت راشي نو دا زما او ستا د پاره یو عبرت دے۔ کیدے شي چې دا مصیبت صبا له په تا راشي۔

## قبر یو کس قبول نۀ کړو

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت دے عبدالحمید بن محمود وائي زۀ د عبدالله بن عباس رضی الله عنه خواته ناست وم۔ یو سړے راغلے ورته ئې ووئیل زمونږ سره یو سړے حج ته روان وو هغه سړے وفات شو۔ مونږ هغه خخ کړو هغه زمکې بیرته راواچولو۔ په دویم ځل مو چې خخ کړو بیازمکې راواچولو۔ په دریم ځل بیازمکې راواچولو۔ په دغه روایت کښې داسې راځي مونږ چې ورله قبر وکنستو نو په

---

[53] اتحاف الخیرة المهرة بزوائد المسانید العشرة رقم الحدیث ۲۳۰۶

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قبر کښې سوه اژدها پرانه وه. چې کله مو قبر ته وركوزاولو نو هغه اژدها ورته خله واژه كړه نو مونږ وېرېدو د هغه دفن كولو نه. دويم قبر مو ورله وكنستو په هغه كښې هم. په دريم كښې هم اژدهاوه. د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه ئې تپوس وكړو چې دا څه وجه ده چې د هغه په هر قبر كښې اژدها پيدا كيږي؟ عبدالله بن عباس رضي الله عنه ناشنا خبره وكړه. لِعِلَّةِ دِيْنِهٖ ددې سړي په دين كښې به څه نقصان وو[51]. الله دے ددې خلقو د پاره يو عبرت كرځوي. زلزله خو د الله د طرف نه په مونږ امتحان دے خو د زلزله زپلو د پاره چې كوم چيزونه راخي هغه د بل سړي د پاره راغستل به كار نه دے. تاچې به دې كښې كوم چيز په دهوكه واخستو هغه به د قيامت په ورځ ستا په ذې څپ پروت وي.

رسول الله ﷺ صحابؤ ته وئيل چې زۀ د قيامت په ورځ تاسو دا سې ونه وينم چې ستاسو په څټونو اوښان نعري وهي يا بل څے. چې رسول الله ﷺ زما مدد وكړه زۀ به درته وايم چې ما درته په دنيا كښې وئيلي وو نن ستا د مدد ورځ نۀ ده.

بخاري او ترمذي كښې راخي رسول الله ﷺ د اوښ د ملا نه يو وېښته رالري كړو او بيا ئې صحابؤ ته ووئيل چې زۀ دا وېښته ستاسو د اجازت نه بغير نه شم اخستلے. اول خو دا چې مصيبت راشي نو مخلوق ته خله نه دي واخول پكار. الله ته فرياد كول پكار دے چې يا الله زما د ګناهونو په وجه دا مصيبت راغلے زما ګناهونه معاف كړه. خو هميشه د پاره چې په مونږ مصيبت راشي نو د خلقو

[51] العقوبات الالهية للافراد والجماعات والامم ص ۲۰۳ تا ۲۰۴

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دنيا طرف ته توجه پيدا کيږي.

## زلزلي او عذابونه ولې راځي

ابو العلاء رحمه الله وائي د انس بن مالک روايت دے.انس بن مالک رضي الله عنه وائي زۀ او يو سړے د عائشي رضي الله عنها خواله ورغلو مونږ ترې تپوس وکړو چې اے مورې مونږ ته دا خبر راکړه چې دا زلزله په خلقو ولې راځي؟ هغې راته حديث بيان کړو. اِذَا سْتَبَاحُوالزِّنَا. خلق چې کله زنا ته حلال اووائي. وَشَرِبُو الْخَمْرَ او شراب کله خلق سکي. وَضَرَبُوْابِالْمَغَانِيْ.او دا خلق ډمچوروياني شروع کړي الله له غيرت او غصه ورشي نو زمکي ته حکم وکړي. تَزَلْزِلِيْ بِهِمْ جي په دي خلقو باندې وخوزه چې دا خلق ماته رجوع وکړي.نن چې سوچ وکړي د بې حيائے آډې په هرځائ کښې کولاؤ شوي دي.او هيچا دا سوچ ونکړو چې د بې حيائے دا آډې بندي کړو.

په حديث کښې داسې راځي چې کله الله دا زمکه په خلقو وجړقوي فَاِنْ تَابُوْا وَنَزَّعُوْا.که دا خلق توبه وباسي او دا کارونه پريږدي نو الله ئې واپس کړي او که نه وي وَاِلَّاهَدَمَهَا عَلَيْهِمْ الله وائي او س ئي پرې سمه هواره کړئ.په دې زۀ امتحان راولم په دي زۀ تکليف راولم خو دوئ ماته رجوع نۀ کوي[56].

---

[56] ابن ابي الدنيا ص ۴۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اللہ فرمائي ﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾

الله وائي خامخا به دې خلقو باندې د هغه لوے عذاب نه مخکښې بو وړوکے عذاب هم ورکوم. دا د څه د پاره ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ چې دا خلق مانه راوګرځي.

د عمر رضي الله عنه په زمانه کښې يو ځل زلزله راغله عمر رضي الله عنه وښيل که بل ځل دا زلزله راغله نو زۀ به د دې ځائ نه وځم[57].

مقصد زما دا دے چې کله ګناهونه زيات شي نو د الله د طرف نه بيا قسما قسم عذابونه راځي په مختلفو شکلونو کښې.

د اصحاب السبت واقعه

الله پاک د اصحاب السبت په باره کښې فرمائي چې درې ډلې شو.

يو هغه وو چې د خالق په ورځ به ئې مهبان نيول او الله ددې نه منع کړي وو.

دويمه هغه ډله چې هغوي ددغې ورځې د ښکار نه منعه کوله.

دريمه ډله داسې وه چې وئيل ئې ﴿لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ﴾ دې خلقو ته ولې نصيحت کوئ يا به ئې الله هلاک کړي او يا به ورله الله عذاب ورکړي.

خو چې د الله عذاب راتلو نو الله فرمائي ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ﴾

---

[56] سورة السجدة ۲۱

[57] المصنف لابن ابي شيبه ص ۲ ج ۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



[1] سره سوچ وکړه چې د هر ماشوم سره د ډنګ ټکور آلات موجود دي. او موږ کورونه هم ډېر دي. نو دا زلزلې خکه راځي نو هر سړے دې دا سوچ وکړي چې زه د الله څومره نافرماني کومه زما اهل او عيال د الله څومره نافرماني کوي.

و الله به ورته فرمايي قُوٓا اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا. خان هم د اور نه بچ کړئ او خپل اهل هم د اور نه بچ کړئ.

د زلزلې فائده

او لويه فائده په کښې دا وي چې د الله زور درته معلوم شي چې الله دا زمکه څنګه خوځوي چې ګناهونه مه کوه ګورے الله به دې په زمکه کښې ښخ کړي. خوځېږي کله په مؤمن باندې دامصيبت راشي نو هغه دا الفاظ وائي. اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ او دا دعا هم ورسره وائي. اَللّٰهُمَّ اْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَاخْلُفْ لِيْ خَيْرًا مِنْهَا[2] نو که تاته هرڅومره تکليف رسيدلے وي نو ددې به تا ته ښائسته بدلې ملاؤ شي.

ام سلمه رضي الله عنها فرمائي چې دا حديث ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلے وو چې کله زما خاوند ابو سلمه وفات شو نو ما دا دعا وئيله او سره زړه کښې مې دا سوچ وکړو چې کوم يو سړے به ماله دا ابو سلمه نه غوره راکړي. خو بهرحال ما دا دعا وئيله ما ته د ابو سلمه نه روسته محمد رسول الله ﷺ د نکاح پيغام راوليږو.

مصيبت د مسلمان د پاره د ګناهونو د معاف کيدو ذريعه ده او د

---

[1] سورة الاعراف

[2] صحيح المسلم باب مايقال عند المصيبة رقم الحديث ٢١٦٥

Scanned by CamScanner

ثوابونو د زياتيدو ذريعه دي. په مصيبت باندي صبر کونکو ته الله فرماني إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ.

حديث کښي راخي

کله چي الله دوه ملائکي راوليږي د مسلمان د بچي د وفات کولو د پاره نو الله تري سره د علمه تپوس کوي چي زما ملائکو تاسو د بنده د زړه ميوه مو واخسته. هغه واني او نو الله ورته وائي اے ملائکو هغه زما بنده د مصيبت په وخت کښي څه ونيل نو ملائک وائي. إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ الله دي ملائکو ته واني اِبْنُوا لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ د ده له يو کور په جنت کښي جوړ کړی او په هغه د کور ولګئ بَيْتَ الْحَمْدِ[1].

د مصيبت په وخت کښي سوچ ښکار دے

عمر رضي الله عنه ته به چي کله تکليف ورسيدو نو د الله حمد به ئي ونيلو چي ما له په دې تکليف کښي ستا په ما باندی ډير نعمتونه دي. يو شکر خو دا دے لَمْ يَكُنْ فِي دِينِي چي دا د دين تکليف نه وو. او نن صبا ددي زماني خلق د دين نقصان ته خو محسوس نه کوي[2].

حديث کښي راخي

چي د چا د ماښام مونځ فوت شي نو رسول الله ﷺ فرمائي لکه ستا مال او اهل چي ټول ستا نه لوټ شوی وی[3].

او فوت کيدل يې خنګ دي.

---

[1] سنن الترمذي باب فضل المصيبة إذا احتسب رقم الحديث ١٠٢١
[2] ... باب ... والمحقوص الشكر ...
[3] صحيح ... رقم الحديث ...

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



امام اوزاعي رحمه الله وائي قوت كيدل ني دادي چې كله سړي ته
ني نو ستا نه د مړيكر مونږ قوت شو. مونږ د دنيا په نقصان خفه
كيږو او صحابه به د دين په نقصان خفه كيدل.
او د وه به ني دا وئيل چې يا الله د دې په غټ مصيبت نه دې رااغلي
ولې د الله سره خو د مصيبتونو څه كمے نشته دے.
او دريم به ني داسې خبره كوله وئيل يا الله شكر دا دے چې ستا رضا
او ستا د پاره صبر زمانه نه دے فوت شوے. زۀ په دې مصيبت
خوشحاله يم.

## عروه بن زبير پښه کټ کيدل

عروه بن زبير رحمه الله خپې ته چې كله تكليف ورسيدو نو طبيبانو ورته وئيل دا خپه به كټ كول غواړي. چې كله ني ورله خپه كټ كړه. وې وئيل اَلْحَمْدُلِلّٰهِ لږ ساعت روستو چا ورته ووئيل چې ستا خوے محمد چې دا ورته په تولو بچو كښې ګران وو هغه د اوښ نه راوغورزيدو او څټ ني مات شو او هغه مړ شو. نو هغه وئيل اَلْحَمْدُلِلّٰهِ زما ربه چې څه دي رانه واخستل په دي زۀ شكر ادا كوم او څه چې دي راته پريښودل په دي زۀ شكر ادا كوم.-زما څلور اندامونه وو يو طرف دي رانه واخستلو او درې دي راته پريښودل.-زما اووه بچي وو يو دي رانه واخستلو اوكه ټول دي رانه اخستي وے نو هيڅ درسره مقابله نشوه كولے.
آخر سوچ كول پكار دے د ټولو نه لوي سړے رسول الله ﷺ تير شوے دے.: هغه ژوند چې وګوري د اول نه تر آخر پورې ټول د غمونو او مصيبتونو وو.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



عائشه رضي الله عنها فرمائي چې رسول الله ﷺ چرته په هفته کښې د غنمو په روټۍ نه دے موړ شوے[63]. هغه سړے وو چې د هغه غاښونه شهيدان شوي وو. او هغه سړے وو چې هميشه د پاره د دشمن د مقابلے سره مخامخ وو. او چې کله د رسول الله ﷺ ساه ختله نو د رسول الله ﷺ په کور کښې د رڼا انتظام نه وو. او چې کله ئې ساه وختله نو د رسول الله ﷺ زغره د يهودي سره په دريشو صاعو گانړه وه. دا تکليفونه پرې ولې راتلل. دا ددې د پاره چې د رسول الله د دنيا سره مينه زياته وه او که د آخرت سره ئې مينه زياته وه. او سوچ کوه دا دنيا د خوشحالۍ ځائ نه دے.

د رسول الله ﷺ نه چا تپوس وکړو چې خوشحالي به په کوم ځائ کښې وي؟ رسول الله ﷺ وئيل لَارَاحَةَ اِلَّافِي الْجَنَّةَ د خوشحالۍ او اطمينان سوا د جنت نه بل ځائ نشته.

نو عزتمندو مسلمانانو رونړو مونږ او تاسو له پکار دي چې د دنيا په مصيبتونو باندې صبر وکړو الله تعالى دې مونږ ټولو ته د صحيح عمل توفيق راکړي. اقول قولی هذا استغفر الله

---

[63] سنن ترمذي ص ۲ ج ۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# ستره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ (۱)

د دعوت الى الله د هغې بيان كوو الله طرف ته دعوت وركول ددې نه چې د اسلام پنځه اركان دي هغې طرف ته دعوت وركول اولنئ ركن د اسلام شهادت لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ،دويم ركن اِقَامَةُ الصَّلٰوةَ د مونځ خيال ساتل اند زمونږ نه اقامت الصلواة غواړي. كه صحيح مونځ ونشي نو د ثواب په ځائ به نَعُوْذُبِاللّٰهِ عذاب راكړي. د مانځه په مسائلو كښې يو اهمه مسئله چې خلقو پرېښودي دد. هغه د سترې مسئله ده. رسول الله ﷺ په احاديثو كښې تفصيلي ددې خبرې بيان كړے دے چې يو څوک مونځ كوي او مخې ته ئې ستره نهٔ وي.نو ددهٔ مونځ شوے دے.او كه نهٔ دے شوے؟

نو علامه ابن حزم رحمه الله فرمائي مَنْ صَلّٰى اِلٰى غَيْرِسُتْرَةٍ يو څوک مونځ وكړي او مخې ته ئې ستره نه وي فَصَلَاتُهُ فَاسِدَةٌ (۲) ددې سړي مونځ ونشو.ولې؟"لِاَنَّهُ صَلّٰى بِغَيْرِمَاآمَرَاللّٰهُ بِهِ"دا مونځ دهٔ په هغه طريقه باندې ونكړو چې په كومه طريقه باندې رسول الله ﷺ حكم كړے وو.نو دا يو داسې مسئله ده چې ډير خلق ددې نه ناخبره دي.نو په مانځه كښې څه خامخا وډرول ضروري دي.

---

(۱) سورة البقرة ۳

(۲) المحلى لابن حزم ص ۱۷ ج ۲ مسئله ۹

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دي باب کښې يو څو د رسول الله ﷺ صحيح احاديث شته دے چې هغه منعه کړي ده چې بغير د سترې نه به مونځ نه کوئ.

صحيح حديث د عبدالله بن عمر رضی الله عنه کښې راخي عَنْ اِبْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ لَاتُصَلِّ اِلَّااِلٰی سُتْرَةٍ وَلَاتَدَعْ اَحَدًا يَمُرُّبَيْنَ يَدَيْكَ فَاِنْ اَبٰی فَلْتُقَاتِلْهُ فَاِنَّ مَعَهُ الْقَرِيْنُ [66]

ترجمه رسول الله ﷺ صحابی ته وائي چې مونځ به بغير د سترې نه چرته هم نه کوي. او بيا رسول الله ﷺ فرمائی چې څوک به نه پرېږدي چې ستا مخې نه اوړي.

او بل حديث کښې داسې راخي اِذَا صَلّٰی اَحَدُكُمْ فَلْيُصَلِّ اِلٰی سُتْرَةٍ. رسول الله ﷺ فرمائي چې کله يو څوک په تاسو کښې مونځ کوي نو مونځ دې وکړي سترې ته.

او رسول الله ﷺ فرمائي وَلْيَدْنُ مِنْهَا دې سترې ته لږ نزدې ودرېږي [67]

ابوداود، ابن حبان.

په يو بل حديث د طلحه کښې داسې راخي رسول الله ﷺ فرمائي.

اِذَا صَلّٰی اَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِيْ صَلَاتِهٖ سُتْرَةً چې کله يو کس ستاسو نه مونځ کوي نو په مانځه کښې مخې ته څه کيږدوه. دا دومره احاديث چې رسول الله ﷺ امر کوي چې مخې ته څه کيږده. ددې نه بغير مونځ مه کوه نو دا ټول په دې دلالت کوي چې خامخا مخې ته څه کيږده.

---

[66] صحيح ابن حبان رقم الحديث [illegible] باب النهي [illegible] الی [illegible] سترة

[67] سنن ابي داود باب الدنو من السترة رقم الحديث [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## ددې سترې څه فائده ده؟

د ټولو نه لویه فائده ئې دا ده چې اتباع د رسول الله ﷺ ده. مونږ به کلمه کښې داسې وایو چې محمد رسول الله ﷺ څه ونیلي دي په هغې به عمل کوو. مونږ ته رسول الله ﷺ داسې ونیلي چې بغیر د سترې نه مونځ مه کوئ. چې یو سړے مونځ وکړي او مخې ته ئې ستره نه وي نو

اولنے نقصان ئې داسې وکړو چې ده خلاف وکړو د سنت د رسول الله ﷺ. او په دې خلاف کښې نن هر مسلمان آخته دے.

دویمه فائده ئې داده چې ددې په وجه د انسان خشوع برابر وي. او چې مخې ته ئې ستره نه وي نو رسول الله ﷺ فرمائي نور هیڅ شے دې مونځ ته نقصان ونه رسي نووائي ستامانځه ته شیطان نقصان رسوي

سترې فوائد از نووي:

علامه نووي رحمه الله فرمائي دریمه فائده ئې داده كَفُّ الْبَصَرِ د مونځ کونکي د مانځه په وخت کښې دا نظر په ځائ بیا لګي چې کله دې مخې ته ستره وي. نو تاته به دا خبره یاده وي چې ماته ددې ځائ پورې د کتلو اجازت شته اخوا د کتلو اجازت نشته[68].

څلورمه فائده ئې داده چې کله مونځ کوي او مخې ته دې ستره وي نو بل مسلمان به د ګناه نه بچ شي. که ستا مخې ته یو سړے واوړي او مخې ته دې ستره نه وي نو هغه یوه لویه ګناه وکړه. او مسلمان لره

[68] المنهاج شرح صحیح مسلم بن حجاج للنووی کتاب الصلواة ص ۲۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



داسې پکار دي چې بل مسلمان د ګناه نه بچ کړي.

## د مونځ ګزار مخې ته په تیریدلو کښې ګناه

حدیث: ابوهریره کښې داسې راغلي او دا روایت د ابوجهیم هم دے.

ابو جهیم فرمائي چې رسول الله فرمائي لَوْيَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَاذَاعَلَيْهِ مِنَ الْاِثْمِ لَكَانَ اَنْ يَقِفَ اَرْبَعِيْنَ خَيْرًالَهُ مِنْ اَنْ يَمُرَّبَيْنَ يَدَيْهِ'' هغه سړے چې د مونځ کونکي مخې ته اوړي که دې ته دا پته وے چې زما په تیریدلو کښې څومره ګناه کیږي.نو څلويښت کاله ودریدل به ددې د پاره ددې نه غوره وے چې د هغه مخې ته تیرشي. د ابوهریره رضی الله عنه روایت دے چې داسړے به د قیامت په ورځ ارمان کوی چې په هغه ځای دې سل کاله ولاړ وے خو چې د مونځ کونکي مخې ته نه وے تیر شوے..

ابن ماجه.امام طحاوي وائي چې رسول الله ﷺ اول داسې ونیلي وو چې د مونځ کونکي مخې ته تیریدلو سره دومره نقصان ورته رسي چې څلويښت کاله په ځای ودریدلو کښې تکلیف او نقصان نشته څومره نقصان چې د مونځ کونکي مخې ته تیریدو کښې دے.[2]

او بیا ئې وونیل چې سل کاله په یو ځای ودریږه خو د مونځ کونکي مخې ته مه اوړه. اوس کله کله داسې وي چې د هغه سړي بله لار نه وي نو که مخې نه دې ستره کیښوده. بیا رسول الله ﷺ فرمائي که بیا څوک تیریږي نو خیر دے وادي وړې اخوا د هغې نه.

---

[1] صحیح البخاري رقم ۵۱۰، وصحیح مسلم ۵۰۷

[2] مشکل الآثار للطحاوي ۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



په بل روایت: کعب الاحبار رحمه الله کښې داسې راځي دا هغه عالم وو چې تورات ئې په یادو یاد کړے وو.او روسته ئې په رسول الله ﷺ ایمان راوړے وو.هغه وائي یو سړے که د مونځ کونکي مخې نه اوړي او تیریدونکي ته ددې ګناه پته وي نو د تیریدلونه به ورته دا غوره وي چې په زمکه کښې ډوب کړے شي[71].

(مشکواة.موطاامام مالک.مصنف عبدالرزاق)

نو دې باره کښې حتی الوسع احتیاط پکار دے هسې نه چې انسان په دې ګناه کښې آخته شي.

صحیح حدیث کښې راځي

ابوسعید الخدری رضی الله عنه فرمائي چې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چا چې مخې ته ستره کیښوده او بیادې مخې ته څوک اوړي نو دا سړے منعه کړه.که هغه د نبوي د سنتو نه لرې خبر وي نو منعه به شي.رسول الله ﷺ به داسې کارکولو.

د نبی علیه السلام مخې ته ماشومان تیریدل

یو خل رسول الله ﷺ مونځ کولو او دوه ماشومان وو.یو هلک راغلے رسول الله ﷺ چې مونځ کولو نو دې ماشوم ته ئې اشاره وکړه چې مه راځه.هغه هلک پوهه شو او منعه شو.او په بل طرف باندې لاړو.واړه ماشومه جینۍ راغله رسول الله ﷺ ورته په مانځه کښې اشاره وکړه چې مه راځه هغه بیاهم په هغه طرف راغله.رسول الله ﷺ وفرمائیل هُنَّ اَغْلَبُ دا زوراورې دي دا ښځې.

[71] مشکواة المصابیح رقم الحدیث ۸۹۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دا خبره یاد ساته په مانځه کښې به ورته اشاره کوی چې مه راځه که راغلے نو مونځ ته دې نقصان ورسیدو د هغه مونځ چې ځنګ اجر وی هغه شان ثواب درته نه ملاویږي.

یو خل رسول الله ﷺ مونځ کولو او مخې ته ئې ګډ تیریدلو نو رسول الله ﷺ د یو ال ته جوخ شو چې ګډ مې مخې ته تیر نشي ولې؟ چې یو ځاروے دې مخې ته تیر شي نو هغه ثواب درته نه ملاویږي.

ابو سعید الخدری رضی الله عنه وائي چې نبی ﷺ داسې وئیلي دي چې کله یو کس ستاسو نه مونځ کوي او مخې ته ئې ستره ایښودې وی. او بیا دې څوک مخې ته تیر شي نو رسول الله وائي فَلْيَدْفَعْهُ دا سړے دې منعه کړي فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ الشَّيْطَانُ[1]

نو که دې سړي انکار وکړو نو جنګ ورسره وکړه. ځکه دا شیطان دے.

علما. یوه خبره کوي په مانځه ولاړ ئې او یو سړے دې مخې ته تیریږي. او تا ورته اشاره وکړه یا دې ورته سبحان الله اووئیله او بیا هم راغلے او تا په دې حال کښې اووهلو او هغه مړ شو نو فَدَمُهُ هَدَرٌ نو شرعًا ته ګنهګار نه ئې.

لکه حدیث کښې داسې راځي رسول الله ﷺ فرمائي چې څوک ستا کور ته ګوري او تا پرې ګذار وکړو او سترګه دې ورلره راویستله نو پتا څه نشته. پداسې حال کښې مونږ ته رسول الله ﷺ اجازت کړے دے.

رسول الله ﷺ یو خل په کور کښې سرګمنځولو یو صحابی آواز

---

[1] صحیح البخاری رقم ۵۰۹

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وکړو چې یارسول الله. چې رسول الله ﷺ راوتلو نو دا صحابي وائي ورنه حې ماته لېدلې چې سر دې کمنځولو. رسول الله ﷺ ورته ونیل که ما لیدلې وے په دې سوري کښې چې ته ماته کوري نو ما به دې په دې سرکو کښې دا کمنځ داخل کړے وے. دا اجازت خو دې د پاره دے چې د چا په کور دې نظر ونه لګي[73].

خبره مې په دې پوره کوله چې یو سړے مونځ کوي او مخې ته ئې سترہ اېښودې وي. او بیا هم یو سړے د دغې سترې په مینځ کښې سرېږي. نو رسول الله ﷺ وائي اول ئې منعه کړه او که نه منعه کېږي نو جنګ ورسره وکړه ځکه دا ستا مانځه ته نقصان رسوي او هغه یو لوے مجرم کېږي.

## د ابو سعید او مروان واقعه

صحابه څه ناشناخلق وو هغې د رسول الله ﷺ په احادیثو عمل کولو. یو خل ابو سعید رضی الله عنه مونځ کولو په جومات کښې یو هلک د بنی ابی معیط قبیلې راغلے. دې ابو سعید مخې ته سترہ اېښودې وه. دې هلک ته ئې اشاره وکړه چې مه راځه. خو د هلک د تلو بله لار نه وه لږ لاړے بیرته راغلے. ابو سعید ورلره یو سُک ورکړو قریبه وه چې راغورزیدلے وے. دا هلک لاړے او په دغه وخت کښې د مدینې سر مروان وو. هغه ته ئې شکایت وکړه. صحابه به د مانځه نه روستو د مروان خواله ورتلل.

صحابوو کښې ابوسعید هم وو. مروان د دې هلک نه تپوس وکړو چې هغه سړے پیژني؟ هغه وونیل آو دا دے هغه راپاسیدو، مروان

[73] صحیح البخاری کتاب الاستئذان رقم الحدیث ۵۹۲۴

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورته سلام وکړو ځای ئې خواته ورکړو. هغه هلک ته ئې وئیل دا پیژنې؟ هغه ووئیل دا خو صحابي دے. ابو سعید ته ئې وئیل دا هلک پیژنې؟ هغه وئیل نا. مروان ترې تپوس وکړو تا رشتیا په مانځه کښې دا هلک وهلے؟ هغه وئیل ما خو نه دے وهلے بیا یې ترې تپوس وکړو هغه ووئیل ما په مانځه کښې شیطان وهلے دے.

او مونږ ته رسول الله ﷺ داسې وئیلي دي چې کله ستاسو مخې ته ستره ئې او څوک د هغې په مینځ کښې تیریږي نو دا منعه کړه که نهٔ منعه کیږي نو فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّهُ شَيْطَانٌ نو مروان هم غلے شو. او نورو خلقو هم څه ونهٔ وئیل ځکه د رسول الله ﷺ حدیث پیش شو په دغه ځای کښې[74].

عرض مې ددې خبرې کولو چې ستره په مانځه کښې ضروري ده. د رسول الله ﷺ ژوند ټول په دې طریقه وو. کله به یې چې مونځ کولو نو مخې ته به یې خامخا څه ایښودل.

ابو جحیفة رضی الله عنه وائي چې رسول الله ﷺ ابطح مقام ته راغے. ابطح د مکې او منی په مینځ کښې یو خوړ دے. رسول الله ﷺ حجة الوداع له راغلے وو. او په دې خوړ کښې ورسره صحابه هم وو. بلال همسا مخکښې ودراوله او رسول الله ﷺ راغلے او دوه رکعته مونځ ئې هغې ته وکړو. د رسول الله ﷺ همیشه طریقه دا وه چې کله به یې مونځ کولو نو مخې ته به یې څه شے ودراولو[75].

---

[74] صحیح البخاري رقم الحدیث ۵۰۹

[75] صحیح بخاري رقم ۵۰۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائي چې: اختر ورځ وه د رسول الله ﷺ مخې ته هسا په يو صحرا کښې ودرولې شوه. نو رسول الله ﷺ د وړ کښته مونځ هغې ته وکړو.
نو دا حړو يادساته چې بغير د سترې نه مونځ وکړي نو څنې علماء داسې وائي چې دي سړی سنت د رسول الله ﷺ پريښودل.
او څنې علماء وائي چې د دې سړي مونځ د سره نه ونشو.
او څنې علماء وائي چې مونځ يې پورا ونشو. او دا قول د ټولو نه بهتر دے.
عمر رضی الله عنه يو سړے وليدو. ابن ابی ایاس رضی الله عنه د دوو ستنو په مينځ کښې يې مونځ کولو. ابن ابی اياس وائي زه يې په مانځه کښې د غوګونو نه ونيولم او ستنې ته يې نژدې کړم چې دلته مونځ وکړه. او دا هغه صحابی دے چې رسول الله ﷺ ونيلي وو چې الله هميشه د پاره ستا په ژبه حق جاري کوي.
عبدالله بن عمر رضی الله عنه يو سړے وليدو چې هغه د ستنو په مينځ کښې مونځ کولو. عبدالله بن عمر ورته وونيل صَلِّ إِلَى سُتْرَةٍ دې ستنې ته نژدې شه او دلته مونځ وکړه.
انس بن مالک رضی الله عنه وائي چې د صحابوو طريقه دا وه چې: مابنام د آذان نه پس به د يو بل نه مخکښې کيدل او ستنو ته به ودريدل دا د صحابوو او د رسول الله ﷺ طريقه وه چې بغير د سترې نه به يې مونځ نه کولو.
کله په احاديثو کښې داسې راځي چې رسول الله فرمائي چې چا ستره مخې ته ونه دراوله او مخې ته زنانه تيره شوله نو مونځ دي خراب شو.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او یو حدیث کښې راخي چې مخې ته دې تور سپے تیر شو نو مونځ دې خراب شو.

او په یو حدیث کښې دي چې خر دې مخې ته تیر شو او ستره نشته دے نو دا مونځ بیرته وکړه. او په دې باندې عمل صحابوو کړے ؤو. عبدالله بن عمر رضی الله عنه یو ځل مونځ کولو او مخې ته یې سپے یا کترے تیر شو نو مونځ یې بیرته وکړو.

د رسول الله یو صحابی حکم بن عمرو الغفاری رضی الله عنه یوځل مونځ کولو او مخې ته یې خر یا خره تیره شوه نو مونځ ئې بیرته وکړو.

دلته یوه اهمه مسئله داده که یو سړے مونځ کوي او مخې ته یې خپله ښځه ملاسته وي نو په دې باندې مانځه ته نقصان نه رسي.

دویمه اهمه مسئله چې د امام ستره د ټولو د پاره کافي ده.

امام بخاري په دې باندې باب اینبودے دے چې سُتْرَةُ الْاِمَامِ سُتْرَةٌ لِمَنْ خَلْفَهٗ او دلیل ئې داد ے چې رسول الله ﷺ په منی کښې مونځ کولو. عبدالله بن عباس رضی الله عنه وائی اِلٰی شَيْئٍ غَیْرِ جِدَارٍ. او وائي زهٔ په دغه دوران کښې، اغلم او په خره باندې سور ووم او د صف په خنې حصه باندې تیر شوم رسول الله په ما باندې څه رد ونکړو.[76]

## مخې ته د سترې د پاره څه کیښودل غواړي؟

یو حدیث کښې داسې راځي وَعَنْ سُبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ

---

[76] صحیح البخاري رقم الحدیث ٤٩٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رَسُوْلُ اللّٰهِ لِيَسْتَتِرْ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ وَلَوْ بِسَهْمٍ [1]
چې رسول الله ﷺ فرمایلي چې ستره دې کېږدي یو کس ستا سو نه په مونځه کښې اګر که غشے وي.

بل حدیث کښې داسې راځي وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ فِي غَزْوَةِ تَبُوْكَ عَنْ سُتْرَةِ الْمُصَلِّيْ فَقَالَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ [2]
ترجمه عائشه رضی الله عنها فرماني چې د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو په غزا د تبوک کښې د سترې د مونځ کونکي په باره کښې نو رسول الله وفرمائیل په مثال د روستني لرګي د کجاوې.

او س چې لرګے او غشے نشته نو په ضعیف احادیثو کښې راځي خو سا هم برې عمل جائز دے فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَلْيَخْطُطْ خَطًّا [3].ترجمه څه شے نه وي نو کرښه دې راکاږي.

او ځنو سلفو لکه ابراهیم نخعی رحمه الله چې مونځ به یې کولو او هیڅ څیز به نه وو نو خپله ټوپي به ئې مخې ته ایښودله. که مخې ته دې دیوال یا کټ یا ستن وي خو چې ستره وي په دې ټولو کښې په حدیث عمل راځي.

## څو مره به ورته نژدې ودرېږي؟

حدیث کښې راځي نبی ﷺ فرمائي چې ستا او د سترې په مېنځ کښې درې ګزه وي.

---

[1] المعجم [illegible] رقم الحديث [illegible]
[2] صحيح مسلم رقم [illegible]
[3] سنن ابن ماجه [illegible] قال الألباني في السلسلة ضعيف رقم [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او په يو حديث کښې دي چې ستاد سجدې د مقام او د سترې په مينځ کښې که تيريدلے شي[80].

آخري دا يوه خبره چې څوک دې داسې وليدو چې بغير د سترې نه ئې مونځ کولو. شريعت دومره اجازت کړے دے چې پخپله ئې مخې ته کينه.

ابن سيرين رحمه الله وائي عمر رضى الله عنه يو سړے وليدو چې بغير د سترې نه ئې مونځ کولو او مخې ته يې کيناستو او هغه ته ئې اوئيل ښه په دمه باندې مونځ وکړه چې کله يې مونځ سر ته ورسؤو نو دې سړي ته يې اوئيل چې رسول الله داسې وئيلي دي چې بغير د سترې نه مونځ مه کوه. چې آئنده د پاره بيامونځ کوي نو ستره مخې ته کيږدوه.

عبدالله بن عمر رضى الله عنه به نافع رضى الله عنه ته وئيل اے نافعه دا ملا دې ماته راواړوه زه به دوه رکعته مونځ وکړم. که نور څه شے نه وي نو يو مسلمان ورور ته داسې اووايه دا ملا دې ما طرف ته راواړوه زه به دوه رکعته مونځ وکړم. او په دې سنت به عمل وکړم په دې باب کښې نور احاديث هم شته. خو لنډه خبره داسې ده چې د سترې اهتمام ډير ضروري دے.

دا حکم د نارينو او زنانؤو د پاره يو شان دے. په دې کښې نفل او فرض يو شان دي. هر يو مونځ چې کوي نو رسول الله ﷺ وائي چې بغير د سترې نه مونځ مه کوه.

اقول قولي هذا استغفر الله لي ولکم ولسائرِ المسلمين

---

[80] صحيح البخاري رقم ۴۹۰

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# مرګ به خامخا راځي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ [81]

مرګ هو داسې حقیقت دے چې هر څوک ئې مني او مرګ په هر چا باندې راځي.

قرآن کریم کښې الله د هر ساه لرونکي په باره کښې دا فیصله کړې ده

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ هر یو نفس څکونکے د مرګ دے.

## د ملک الموت اور ابراهیم علیه السلام خبرې اترې

د ابراهیم علیه السلام په باره کښې راځي كَانَ رَجُلٌ غَيُوْرًا. ابراهیم ډیر غیرتي انسان وو. طریقه ئې داوه چې خپله کمره کښې به ئې د الله عبادت کولو او دروازه به ئې په ځان پسې بند د کړې وه. یوه ورځ چې د عبادت خانې نه راوتلو په کور کښې یو سړے ګرزیدو. ابراهیم علیه السلام ورته واتي مَنْ اَدْخَلَكَ هٰذَا الدَّارَ دې کور ته چا راداخل کړے ئې؟ ابراهیم علیه السلام له غصه ډیره ورغلې وه، هغه سړي ورته ونیل اَدْخَلَنِيْ مَالِكُ هٰذَا الدَّارِ ددې کور مالک زۀ راداخل کړے یم. ابراهیم علیه السلام ورته اونیل د کور مالک خو زۀ یم. دا سړے ورته وائي زۀ هغه چا راداخل کړے یم چې څوک ددې کور اصلي حقیقي مالک دے او زۀ یو داسې کس یم لااخاف الملوك زۀ د باچاهانو نه نۀ یریږم. او زۀ داسې کس یم چې د چا د څوکیدارانو نه

[81] سورة الانبياء

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نه منعه کیږم. ابراهیم علیه السلام ورته اوئیل فَأَنْتَ إِذًا مَلَكُ الْمَوْتِ
یا خو معلومیږی چې ته ملک الموت یې. هغه اوئیل آو زهٔ هغه یم نو
چې نبی نه پریږدی نو بل به څوک داسې وي چې هغه به د مرګ نه بچ
شي. هغه اثر کښې راځي ابراهیم علیه السلام ورته اوئیل زما نه خو
ساه اخلي خو صرف دومره وکړه چې ته کله د مؤمن نه ساه اخلي نو
ستا شکل څنګه وي. نو هغه ورته اوئیل مخ دي بل طرف ته واړوه نو
چې کله هغه شکل جوړ کړو نو ابراهیم علیه السلام ته ئي اوئیل چې
مخ راواړوه فَإِذَا شَابٌّ حَسَنُ الْمَنْظَرِ یو ښائسته شکل والا نوجوان
ولاړ وو. هغه اوئیل زه په دی شکل کښې د مؤمن نه ساه اخلم. نو
ابراهیم اوئیل که د مؤمن د پاره نوري خوشحالي نه وي. او په دي
شکل کښې ته د مؤمن سره ملاؤ شي دا د هغه د ټولو خوشحالو د
پاره کافي ده[82].

ابراهیم علیه السلام ملک الموت ته اوئیل دا شي کولے چې ما ته
هغه شکل هم اوښائي چې په کوم شکل کښې د کافر یا منافق نه ساه
اخلي. ملک الموت اوئیل آو مخ دي بل طرف ته واړوه. نو چې کله
هغه شکل جوړ کړو. نو ابراهیم علیه السلام ته یي اوئیل چې مخ
راواړوه. نو یو بدترین شکل والا وو. نو ابراهیم علیه السلام اوئیل
چې کافر ته نوره سزا نه وي او په دي شکل کښې ورسره ته ملاؤ شي
دا د هغه د پاره کافي ده.

داود علیه السلام او ملک الموت خبري اتري:

داود علیه السلام دا هم ډیر غیرتي انسان وو. همیشه د پاره به یوه

[82] التذکرة باب ال الموتي وامور الاخرة باب ماجاء في صفة ملک الموت عن قبض روح المؤمن والکافر م

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورځ روژه او بوه ورځ بوږه وو. او شپه یې تقسیم کړې وه عبادت د پاره. ملک الموت چې ورله راغلے ده اوئیل څوک یې؟ دې کور ته بې اجازته راغلے یې. هغه اوئیل زه داسې کس یم چې د چا اجازت ته نه یم محتاجه. زه د هر چا کور ته بې اجازته ورځم. داود علیه السلام اوئیل بیا خو معلومیږي چې ملک الموت یې. وئیل آو نو داود علیه السلام ورته اوئیل دومره مهلت به راکړې چې زه لږ تیارے وکړم. نو ملک الموت اوئیل چې نوره موقعه نه ملاویږي[83]

غرض مې دا دې خبرې کولو مرګ داسې حقیقت دے دا نه د غریب خیال ساتي نه د مالداره. نه د روغ او نه د بیمار.

## د یو متکبر بادشاه واقعه

ابن وهب رحمه الله وائي یو متکبر بادشاه وو. ښائسته کپړې یې اغوستې وې او فوجیان او نوکران یې مخکښې او روسته ترې روان وو. په لار کښې ورته یو سړے راغلے. زړو کپړو والا او سلام نې وکړو. بادشاه ورته اوئیل زه د داسې خلقو سلامونه نه اخلم. نو د آس واګې یې ورلره اونیولې. نو بادشاه ورته وائي څوک یې؟ چې زما د آس واګې دې راونیولې. نو په غوږ کښې ئې ورته اوئیل زه ملک الموت یم. بادشاه اوئیل دومره مهلت راکړه چې د خپل کور والا خواله لږ لاړ شم. نو ملک الموت ورته اوئیل چې دا مهلت پکښې نور نه چلیږي. چې ساه یې تړېنه د اس په سر واخسته نو داسې راوغوزیدو لکه لرګے چې خلق ښکته راغورزوي.

او چې بیا بادشاه وي نو وهب ابن منبه رحمه الله وائي یو نیک عمله

---

[83] التذکرة للقرطبي ص ۴۴

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بادشاه وو هغه لره په لاره کښې يو سړي مخې ته ورغلے او سلام يې پرې وکړو. بادشاه ورلره جواب ورکړو غريبه مسلمانه ستا څه ضرورت شته؟ او هغه اوئيل څه ضرورت دے. په غوږ کښې يې ورته اوئيل أَنَامَلَكُ الْمَوْتِ هغه ورته اوئيل په څه پسې راوتے يې؟بادشاه ورته اوئيل زما څه حاجت وو ملک الموت ورته وائي د الله د طرف نه ماته دومره مهلت راکړے شوے دے چې ستا نه ساه ستاد حاجت نه روسته واخلم. خو چې کله بنه انسان وي نو هغه وائي چې زۀ د خپل رب ملاقات غوارم. زما نه ساه واخله. ولې؟

مؤمن به دالله تعالى سره د ملاقات شوق لري:

په حديث کښې راځي عائشه رضى الله عنها وائي رسول الله ﷺ فرمائيلي چې کله د مسلمان سړي نه ساه وځي مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَائَهُ[84] چې د چا د الله ملاقات خوښ وي الله وائي زما د ده ملاقات خوښ دے. عائشې اوئيل اے د الله رسوله ﷺ چې که ددې دا معني وي چې مرګ نو مرګ خو مونږ ټول بد ګنړو. رسول الله وئيل ددې مقصد دادے چې مسلمان سړي ته د مرګ په وخت ملائکې راشي او د جنت زيرے ورلره ورکړي. نو دا سړے وائي چې کله به رانه ساه وځي چې د الله ملاقات له لاړشم. ولې؟ اَلْمَوْتُ جَسْرٌ يُوصِلُ الْحَبِيْبَ اِلَى الْحَبِيْبِ[85] مرګ يو پل دے چې مسلمان دوست دوست ته رسوي. نو نيک عمله بادشاه ورته وائي يو سوال مې شته

---

[84] صحيح البخاري باب من احب لقاء الله رقم الحديث ۶۱۴۲

[85] دا قول د حبان بن الاسود کما في فيض القدير للمناوي ص ۹۲ ج ۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه دا دے چې دومره مهلت راکړه چې زهٔ یکښې اودس وکړم او به سجده کښې راته ساه واخلي. هغه اونیل آو دا شم کولے. نو په سجده کښې یې ترېنه ساه واخستله.

ما غرض د دې خبرې کولو مرګ د چا خیال نه ساتي. د چا ضرورت او کار ته نه ګوري د چا خوشحالۍ او خفګان ته نۀ ګوري خو مرګ راځي.

یل سړ زورآور بادشاه وو. ډیر مالونه ئې په خپل کور کښې راجمع کړي وو. سړ خل کور ته د نوکرانو سره راغلے نو په دغه وخت کښې خپل نفس ته وائي اے انسانه کوم نعمت مې درلره پرېښودے دے. دا خبره ئې چې د خُلې نه وتله نو دروازه ورته چا په زوره ووهله نو خادمان ډیر په جوش راوتل چې دا څوک دے؟ یو سړے دے او زړې کپړې اغوستي دي. خادمانو ته ورله وائي ستاسو د مُوْلاَ سره مې کار دے. هغه خادمان ورته وائي چې زمونږ مَوْلاَ ستا غوندې سړي سره خبرې کوي. نو خادمانو بادشاه ته اونیل چې یو زړو کپړو والا سړي ستا سره کار دے. دا خبره کیدله نو بیا دروازه په زوره ووهله. بادشاه اونیل چې راداخل یې کړئ او مړ ئې کړئ. نو هغه غږ وکړو چې زهٔ ملک الموت یم. نو بادشاه اونیل چې ما خو په دي کور کښې یو کهنټه هم نه ده تیره کړي. هغه وئیل زهٔ د چا دې حال ته نه ګورم.

عرض مې د دې خبرې کولو چې مرګ په هر چا باندې راځي او چې مرګ راشي نو قبر ته به ځي. نو د قبر عذاب په څه حاصلیږي. او د قبر د عذاب نه خلاصیدل په څه باندې کیږي. د دې خبرې سوچ کول پکار دے.

صحیح حدیث د بخاري کښې راځي ابو سعید الخدری رضی الله عنه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



فرمائی چې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چې کله د يو مؤمن نه ساه وخي او خلق يې په کټ کيږدي.نو دا مړے وائي قَدِّمُوْنِيْ قَدِّمُوْنِيْ ما مخکښې بوځئ.ما مخکښې بوځئ.

د مړي ارمان کول

امام بخاري يوې باب ته ی بَابُ كَلَامُ الْمَيِّتِ زما او ستا ذهن کښې دا وي چې دا نورې خبرې نه کوي. خو دا رسول الله ﷺ ونيلي چې خبرې کوي.او کله چې کافر يا منافق سړے وي نو هغه وائي يَا وَيْلَهَا هائي تباه شوم اَيْنَ تَذْهَبُوْنَ بِيْ چرته مې وړئ.رسول الله ﷺ فرمائي يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَيْءٍ اِلَّا الْاِنْسَانُ چې ددي نفس آواز هر شے اوري سوا د انسان نه وَلَوْ سَمِعَهَا الانسان لَصَعِقَ [86] که انسان دا آواز واوري نو بے هوشه به شي.نو محترمو د قبر حال ډير خطرناک دے.

د قبر هيبت

عثمان رضی الله عنه چې به کله د قبر په غاړه ودريدو نو دومره به يې وژړل چې اوښکو به يې ګيره لمده کړه.چا ورته اوئيل چې د جنت او د جهنم بحث کيږي دومره نه ژاړي خو چې د قبر تذکيره شروع شي نو تاله ژړا ډيره درځي.نو عثمان به وئيل دا ډير د هيبت ځائ دے. ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي مَارَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ اِلَّا وَالْقَبْرُ اَفْظَعُ مِنْهُ [87] د قبر پشان د هيبت ځائ ما بل نه دے کتلے.او دا داسي ځائ

---

[86] صحيح البخاري رقم الحديث ۱۳۱۴

[87] سنن الترمذي رقم الحديث ۲۳۰۸

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے چې نه دې ښخه د حال نه خبريږي او نه ملګرے.خپل اعمال دي
بکاريږي.
ابوذر رضي الله عنه وائي رسول الله ﷺ يو خل راوتلو .صحابؤو وخاندل.
رسول الله ﷺ اوئيل: اے صحابؤو لَوْتَعْلَمُوْنَ مَآاَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَ
لَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا[88]. که تاسو د قبر د حال نه خبر وے نو خندابه مو لږه
کړي وے.او ژړه به مو ډيره کړي وے.

د قبر آوازونه:

رسول الله ﷺ فرمائي دا قبر وائي اَنَابَيْتُ الْوَحْدَةِ ماله به صرف
خانله راځي او قبر وائي اَنَابَيْتُ الْوَحْشِ زهٔ د يرې کور يم اَنَابَيْتُ
الظُّلْمِ زهٔ د تيارې کور يم. اَنَابَيْتُ الدُّوْدِ[89] زهٔ د چينجو کور يم.
او حديث کښې راځي د براء بن عازب رضي الله عنه حديث دے
رسول الله ﷺ فرمائي چې کله مړے په قبر کښې کينودلے شي اَتَاهُ
مَلَكَانِ ،دوه ملائکې ورته راشي فَيُجْلِسَانِهٖ : د ے کينوي او
داسې ملائکې وي اَسْوَدَانِ تکې تورې وي. اَزْرَقَانِ. او شنې سترګې
نې وي[90].
د ابن حبان په حديث کښې راځي سترګې د پيتلو د ګټې پشان وي.
او غاښونه يې د غواګانو د ښکرو پشان وي.نو که نور عذاب نه وي

[88] صحيح البخاري رقم الحديث ۶۳۱

[89] سنن الترمذي رقم ۲۴۶۰ قال الالباني في ضعيف سنن الترمذي ضعيف جدا كما في السلسلة الضعيفه رقم ۱۱۰۰ عن جمعة هاذم اللذات صحيحة ضعيف سنن الترمذي ص ۲۸۰ ج ۱

[90] سنن الترمذي رقم الحديث ۱۰۷۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او د ملائکې درله پداسې هیبت کښې راشې نو دا کافي ده. ددې وجې نه علماء فرمائي دا هیبت په هر چا راځي رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ رضی الله عنه په باره کښې ووئیل. لَوْنَجَامِنْهَا اَحَدلَنَجَا سعدبن معاذ[1] که د قبر د هیبت نه څوک خلاصیدلے نو دا به ترې خلاص شوے وے. او دا هغه سړے وو چې دده جنازې له (۷۰۰۰۰) اویا زره ملائکې راغلې وې. او په هغه باندې د قبر هیبت راغلے وو. رسول الله ﷺ یو ځل د قبر خواته ناست وو او په زمکه یې کرښې راښکلې او صحابؤ ته یې وئیل لِمِثْلِ هٰذَافَأَعِدُّوْا. ددې ځائے لره تیارے پکار دے.

یحي ابن معاذ رحمه الله وائي چې الله خو تاته وائي وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ۚ وَيَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝[2] الله درته وائي چې کور د سلامتیا ته راشه.

عرض مې ددې خبرې کولو چې دا مرګ په هر چا پسې راروان دے ددې د پاره تیارے پکار دے[93].

د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله واقعه:

عمربن عبدالعزیز رحمه الله یو نیک بادشاه تیر شوے وو. یوې جنازې له تلے وو. چا ورته اوئیل عمر بن عبدالعزیزه دا ولې روسته شوے؟ وئیل ددې قبر والا سره مې خبرې کولې. چا ترې تپوس

---

[1] شعب الایمان للبیهقي رقم ۲۹۹ صحیح ابن حبان رقم ۳۱۱۲ وقال اسناده صحیح علی الشرط مسلم

[2] [سورة یونس]

[3] سنن ابن ماجه للقزویني باب الحزن والبکاء رقم ۴۱۹۵

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وکړو چې څه خبرې دي ورسره کولې؟.نو وئيل داسې يې اوئيل چې قبر داسې ځائ دے چې ددې غريب به غريب کړي.ددې ژوند ے به مړ کړي. ددې عزتمند به ذليله کړي.ددې خوشحاله به خفه کړي.نو دې قبر راته داسې خبرې وکړې.بيا يې اوئيل ما هم تيارے نه دے کړے. خو دې تولو خلقو ته يې يوه خبره کوله. داټول انسانان تَسُرُّ بِمَا يَفْنٰى وَتَشْغَلُ بِالصِّبٰى.دا ټول انسانان دهوکه کښې دي.په هغه څه چې هغه به فنا کيږي.او په دنيا باندې عاشقان يو.او دا دنيا دهوکه کيدل. كَمَا غُرَّ بِاللَّذَّاتِ فِي النَّوْمِ حَالِمٌ.دا په دنيا باندې دهوکه کيدلو انسان داسې دے.لکه اُوده انسان چې په خوب کښې د مزې حالات ويني.او چې راويښ شي نو بيا څه نه وي.وئيل زمونږ او ستاسو ټولو دغه شان حال دے.په هغه شي باندې دهوکه يو چې هغه زمونږ د ټولو نه پاتې ده.او بيا ئې اوئيل نَهَارُكَ يَامَغْرُوْرُ لَهْوٌ وَغَفْلَةٌ ستا دا ورځ ټوله په دهوکه کښې تيره شي وَلَيْلُكَ نَوْمٌ وَالرَّدٰى لَكَ لَازِمٌ او ستا شپه په خوب کښې وي او خامخا به مرې. ورځ دې ټوله په دنيا تيره شي او شپه دې ټوله په خوب کښې تيره شي او بيا ئې اووئيل" وَتَعْمَلُوْا فِيْمَاسَوْفَ تَكْرَهُ غِبَّهُ" كَذٰلِكَ فِي الدُّنْيَا تَعِيْشُ الْبَهَائِمُ"[94] نن دداسې کارونو سره محبت کوي چې کله دې ساه وخي او قبر ته ورسيږې.او بيا به پرې ډير خفه ئې چې ددې کارونو سره مې مينه کوله.دغه ژوند څناور تيروي.

[94] کان عمر بن عبد العزيز يتمثل بهذه الابيات كما في ادب الدنيا والدين للماوردي ص-١١

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عرض مي ددې خبرې کولو چې ددې قبر دپاره تيارے کول پکار دي۔ چې ما او تا ددې د پاره څه تيارے کړے دے په هغه ځائ کښې صرف څه پکار دي۔

د علي رضی الله عنه د قبرستان والا سره مکالمه

علی ابن ابی طالب رضی الله عنه وائي يو ځل مقبرې (آديرې) ته ورغلے او سلام يې پرې وکړو اوونيل اے قبرونو والو ستاسو ښځې خلقو په نکاح کړې او مالونه مو خلقو تقسيم کړل او په کورونو کښې مو نور خلق وسيږي۔ علی رضی الله عنه اوئيل که دوئ جواب شوے کولے نو په جواب کښې به يې وئيل چې بهترينه توښه تقوي ده۔ چې تقوی په قبر کښې ښه ملګرے دے۔

قبر کښې د نېک اعمالو فوائد

په څنو رواياتو کښې راځي چې کله يو مسلمان بنده په قبر کښې کينسودے شي نو رسول اللهﷺ فرمائي کلمه شهادت راشي او سر ته ئي ودريږي۔ او مونځ ئي ښي طرف ته ودريږي۔ او اعمال صالحه ئي خپو طرف ته ودريږي او روژه راشي ګس طرف ته ئي ودريږي۔ چې کله ورته ملائکه رانزدې کيږي نو کلمه د شهادة ورته وائي ديته به څوک تکليف نه رسوي۔ چې ملائکه ورته د ښي طرف نه راشي نو مونځ ورته وائي چې دا به زما د وجې نه شپې جګې تيراولي۔ او چې ګس طرف ته ورله ملائکه راشي نو روژه ورته وائي چې رانزدې ورته نشي۔ دا به زما د وجې ډېره تنده تيروله۔ عرض دا چې هر طرف ته ئي نه پريږدي۔ نو جدا نه دا ملائکه ورته غږ کوي چې اے انسانه مَنْ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رَبُّكَ مَادِيْنُكَ وَمَاتَقُوْلُ فِيْ حَقِّ هٰذَا الرَّجُلِ"[1]

يو حديث کښې راځي چې درې چيزونه د انسان سره قبر پورې ځي.

(۱)اهل د ده (۲) مال د ده (۳) عمل د ده . فَيَرْجِعُ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ وَيَبْقٰى عَمَلُهٗ"[2] دوه چيزونه ترې واپس شي او يو چيز ورسره باقي پاتې شي چې عمل صالح دے.

د يو عالم واقعه

د يو عالم په باره کښې راځي چې د قبر خواته اوده وو. په خوب کښې خپل رور په قبر کښې وليدو ماته ئې ووئيل چې هائي رورو ته داسې اوده ئې تاته پته شته چې که زه ستا په ځائ وے چې دوه رکعته مونځ مې شوے کولے. د الله د پاره زما دې هيڅ شے نه وے. ولې؟ زه اوس هيڅ نشم کولے دا ځائ د عمل نه دے.

امام مجاهد رحمه الله وائي چې انسان ته هره ورځ قبر آواز کوي.او اول چې قبرکښې کيښودے شي.او ښه سړے وي نو قبر ورته وائي چې مرحبا پخير راغلے. ماته په دې مخ د زمکه محبوب انسان ته ښکاريدې.

او حديث کښې راځي قبر ورته کولاؤ شي او د جنت طرف ته ورته يوه کړکۍ کولاؤ شي. او جهنم ورته اوښودلے شي او ورته وائي که دا ايمان او عمل صالح درپکښې نه وے دغه دې بيا ځائ وو.او چې کافرانسان وي نو قبرورته وائي لَامَرْحَبًا چې ستا راتلل دې نامبارک

---

[1] صحيح ابن حبان رقم ۳۱۱۳ والفاظ الروايات مختلفة

[2] صحيح البخاري رقم الحديث ۶۵۱۴

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وي په دې مخ دزمکه کښې دټولونه بدترین انسان ماته ته ښکاريدي . نن به زما خوي وينې چې زه ستاسره څه کار کوم. او د شپږو وارو طرف نه پرې دا زمکه رایږ ځائ شي . او دا يوه ښتی ني په بله کښې ننوځي[97] . نو نن په دنيا کښې نيک عمل پکار دے چې صبا بيا خفه او پريشانه نه يې.

جعفر رحمه الله وائي دا زمکه هره ورځ وائي انسان ته چې کله ما او تا په بستره باندې څملو. او چې مذيداره بستره نه وي نو ما او تالره خوب نه راځي نو دا زمکه راته هره ورځ وائي عَجَبْتُ مِنْكَ انسانه زه خو تاته ډېره حيرانه يم نن چې د يوې کهنتي د پاره بيستره نه وي برابر کړي نو خوب نه درځي. او داسې وخت په تا راروان دے چې د زمکې او ستا په مينځ کښې به بيستره نه وي . او دا څه معمولي خوب نه دے چې څو پورې شپيلۍ نه وي وهلې شوي نو د هغې پورې به زما په غيږ کښې پورت يې.

يو شاعر وائي دې حالات ته چې څوک سوچ وکړي.

وَكَيْفَ يَلَذُّ الْعَيْشَ مَنْ كَانَ صَائِرا

اِلٰى جُدُثٍ أبلِي التراب مَنَاهِلُهُ.

وائي دا ژوندبه چالره مزاورکوي چې انسان داسې سوچ کوي چې يو ځل به داسې ځائ له ځم چې هغه خاورې به زما ولې ټول ختم کړي.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يو قبر ته خطاب کولو يو هاتيفي آواز ورته وشو د قبر والا د طرف نه اوئيل اے عمره تاته پته شته ما ددې انسان نه کفن ډېر جلدې ويستو اوتا ته پته شته دا اندامونه مې

---

[97] مسند احمد بن حنبل رقم الحديث ٢٥٠٩٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورله د يو بل نه جدا کړل اوس زره زره زما په غيږ پروت دے.

يو بل شاعر وائي

وَكَيْفَ يَلَذُّ الْعِيْشَ مَنْ كَانَ صَائِرًا

بِأَنَّ إِلٰهُ الْخَلْقِ لَابُدَّ سَائِلُ [1]

داسې انسان لره ژوند مزا ورکوي چې د هغه يقين دا وي چې رب به زما نه د ورې او غټې خبرې تپوس کوي.

عرض مې ددې خبرې کولو چې يو اوګد د آرام ځائ راروان دے. يا به د چا د پاره د آرام ځائ شي او يا به د چا د بې آرامۍ ځائ شي. نن سوچ وکړه چې د دغې ورځې د پاره دې څه تيارے کړے.

فاطمه بنت الحسين د خپل خاوند په قبر خيمه لګول

فاطمه بنت الحسين د علی رضی الله عنهما په کړوسو کښې راتلله چې کله ئې خاوند وفات شو. نو د خاوند د مرګ نه پس روستو ئې ورله په قبر خيمه ووهله د يو کال پورې ورله خيمه په قبر وهلې وه. او هلته ديره وه او شعر به ئې وئيلو چې داسې خلق وو چې د هغوي ژوند د اميد وو چې خلق به خوشحاله وو چې فلانکے ژوندے وو نن به دا راوړي او دا راوړي نن د هغه خلقو مرګ زمونږ د پاره يو لوے مصيبت ګرځيدلے. چې کله ئې خپله خيمه اوچتوله. نو امام بخاري نقل کوي يو آواز ورته وشو چې هَلْ وَجَدُوْا مَافَقَدُوْ. هغه سړے چې درنه تلے هغه بيرته راغلے. نو يو بل آواز ورته وشو بَلْ يَئِسُوْا فَانْقَلَبُوْا بلکې نااُميده شوله او واپس شوله. په دې قبر کښې د عمل صالح نه

[1] القبور لابن ابي الدنيا ص ١٢٢

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هيجوت ملکرے ســـه"!

عبدالله بن عمر : عبدالرحمن بن ابی بکر غلامان وليدل چې ۔د قبر د پاسه يې خيمه دَرِلي وه ۔ عبدالله بن عمر ورته اونيل هلکه : خيمه ترينه لرې کړه ۔ ونيل مولاکانو مې راته ونيلي دي ۔ وئيل مولاکي ته خه ثښتي ونيلي خيمه لرے کړه ولې اِنَّمَا يُظِلُّهُ عَمَلُهُ دې حای کښې سورے عمل کوي په دې خاۍ کښې په خيمو دهلو کار نه کيږي ۔

## د سفيان ثوري رحمه الله قول

سفيان رحمه الله به چې کله قبر وليده ونيل به ني اې قبره ظاهري شکل دې د بناسـت دے .خو دننه حال دې ډير د هيبت دے . سنه نه لګي چې هلته به د انسـان سره څه کيږي ۔ دړې تپوسونه به د نسان نه کيږي ۔ يو مَنْ رَبُّكَ؟ دويم مَادِيْنُكَ؟ دريم تپوس به دا وي وَمَاتَقُوْلُ فِيْ حَقِّ هٰذَا الرَّجُلِ؟

## قبر کښې د مؤمن حالت

رسول الله ﷺ فرماني چې کله ملائکه راشي د مؤمن خواله او راپخوې ني نو مؤمن واني چې ما پريږدئ مونځ راته قضاء شو. ملائک ورته واني دا د مانځه خاۍ نه دے نو چې ملائک ـري تپوس کوي چې رب دې څوک دے؟ دا واني چې رب مې الله دے. او ملائک ورته واني ستا دين څه دے؟ نو دا واني چې دين مې اسلام دے او چې ملائک ورته واني چې ددې سړي په باره کښې څه وايې

احياء علوم الدين للغزالي ص-٤٢ج٢

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبة الاشاعت ڈاٹ کام



څوک دے؟ به وائي: دا خو ما ته معلوم نه دے.

او په بل روایت کښې راځي نو دا وائي اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ.

د کافر: دوهم حالت

او چې منافق وي یا کافر وي چې نې راپاڅوي نو ډېر د یو بدحال سره به دا مخامخ شي. ملائک به ورته وائي رب دې څوک دے؟ دین دې څه دے؟ د دې سړي په باره کښې څه وائي؟ نو دے وائي هَاهَا لَا اَدْرِیْ اَقُوْلُ کَمَا قَالَ النَّاسُ[150]. ماته نه د رب پته شته. او نه راته د دین پته شته. او نه راته د دې سړي پته شته. خلقو به یوه خبره کوله نو ما به ورسره کوله نو ماته د دې خبرو معلومات نشته. د دې سوال جواب د پاره ئې معلومات وکړه چې د رب صفتونه څه دي. محمد رسول الله ﷺ وائي د الله تابعداري وکړه او د هغه په دین باندې روان شه نو هله به دا سوال او جواب وکړې. الله دې مونږ له د نیک اعمالو توفیق راکړي.

اقول قولی هذا استغفر الله لی ولکم ولسائر المسلمین

[150] مصنف ابن ابي شيبه رقم الحديث ۱۲۱۰۲

# حیاء او ستر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَ بَنٰتِكَ وَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا

د حیاء او ستر مسئله ستونزو حیاء او ستر هغه یوه مسئله ده چې د دې پابندي نه کول د آخرت عذاب نه ورکوي بلکې د دې په وجه اسلام د دنیا عذاب هم ورکوي.

یو حدیث کښې راځي محمد رسول اللهﷺ فرمایي اَلْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ حیاء ټول خیر دی. چې الله ځل لره د حیاء او ستر توفیق ورکړي نو په هر قسم خیر ملاو شو. او چې الله د چانه د حیاء صفت واخستو نو په دې بوهه شه فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ نه د هر قسم خیر نه محرومه شي. ستاسو په کور کښې که د حیاء او ستر مسئلې وي نو په دې بوهه شه چې ستاسو کور ټول د خیر نه ډک دی. او که ستاسو په کور کښې د ستر او حیاء مسئلې نه وي نو بوهه شه چې ستاسو کور د خیر نه محرومه شوی دی.

## کامله حیاء څه شی دی

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي یو ځل رسول اللهﷺ صحابوو ته اووئیل اِسْتَحْيُوْا مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الْحَيَاءِ چې

---

سورة الاحزاب [illegible]

صحیح مسلم رقم الحدیث [illegible]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د ... سره مناسب وي داسې ... هغه به نه کوي . نو ... او ... المنبر ... شعرونه انبياء اَلْحَيَاءُ مِنَ اللهِ ... ته ... کوي نو رسول الله ... صحيح حياء او ستر ... هغه دا دے اَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعٰى وَتَحْفَظَ الْبَطْنَ وَمَا حَوٰى

... دې ... څوک چې څه ذې ذدې بولو حفاظت کوه ذيته ... واي ... خپل خوانه چې څه ذې ذدې بولو حفاظت کول ذيته حياء وايي . نو اوس چې د حا غوروبه ... خپې چې ... خاپه استعمالوي دا هغه انسان دے چې د الله نه کرمه حقه حياء ده هغه ... نه کوي . چې د الله پيغمبر کوم نه چې حياء او ستر ونيلے دے دا ... به هغه کښې نه دے داخل . دا حياء د انسان د غيرت سره تعلق لري . اکر چې کافر ولي نه وي . يو خو هغه امور دي چې د ... نظرت نې غاښه کوي هغه د انسان عفت او حياء او ستر دے .

د جاهليت هغه زمانه چې اسلام هم نه وو راغلے ددې زماني چې کومه ... چې د يو لوے کافر په نکاح کښې وه او بيا روسته مسلمانه شوې وه چې رسول الله ﷺ ترې د حياء او عفت په باره کښې لوظ اخستلو . رسول الله ﷺ ته اوئيل چې يارسول الله ﷺ داسې يو آزاده زنانه به هم به دنيا کښې وي چې هغه د عفت او پاکدامنی نه خالي وي . دا خو ونيل زمونږ عقل له هم نه راځي . حياء او عزت د قرآن او د حديث نه علاوه دا د انسان د غيرت سره تعلق ساتي[104] .

... ترمذي ... الحديث ...

... تفسير ... تحت ... سورة ... ايت ... و تفسير ...

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د علي رضي الله عنه قول

علي رضي الله عنه به سړي ته اوسل رد حبر سوے سم چي سا سو د علاقي سخي د کافرو سره بو حاي کرحي. دا حبره چرته رسب وي نو بيا داسي معلوسيږي چي به ناسو کښي د سره غيرت نسته. و غيرت چي به حد کښي نه وي نو به هغه انسان کښي د سره فائده نه وي.

عثمان رضي الله عنه د شهادت په وخت کښي هم د بردې لحاظ ساتلو

عثمان بن عفان رضي الله عنه خوارجو د هغه د مرګ کوشش کولو آخر د هغه په کور باندي ورو حمله. د هغه ښځي نائلي رضي الله عنها وسل چي کله چي خوښه وي زه به دی کافرانو ظالمانو ته حمل مخ ښکاره کړم. کله چي ستي چي سکښي حدیث راغلي. او د دې په وجه به قتل نه کړي. عثمان رضي الله عنه ورته اوسل زما ښځي ده دا کافر وینم چي ما قتل کوي خو زه دي ته دا خبره نه منم چي دا هم د سر

اکري مِنْ اَنْ يُرَوْ خَصْلَةٌ مِنْ شَعْرِكِ چي ستا په يو ويښته هم نظر ونه لګي. زه دا ستم برداشت کولے. علماء د هغه اثر د لاندي بو ښنا خبره کوي که چري د عثمان رضي الله عنه ښځي دا مخ کولاو کړے وے دا ظالمان به په شا تلي وے. چي زنانه به دې کور کښي ده چي چرته ددې بې عزتي ونه شي. عثمان رضي الله عنه وته وائي چي ستا ستر زما مطلوب دے زما خپل ژوند مطلوب نه دے.

د هاجرې رضي الله عنها او ظالم بادشاه واقعه

ددې وجې نه لوے سړے په دنيا ابراهيم عليه السلام تير شوے دے. هغه د غيرت په بنياد د الله د دين د پاره خپلې ښځي ته خور ونيلي

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وه د دې [illegible] سړه چې د دې [illegible] او [illegible] به څوک ته نقصان ونه رسي.
ابراهیم علیه السلام او د هغه ښځه چې کله روان وو نو بادشاه ته چا
خبر ورکړو چې د دې سړي سره [illegible] ښایسته ښځه ورسره
ده [illegible] [illegible] خواب ولیږلو ابراهیم علیه السلام ته راغلے ونیل دا
ښځه دې څه ده؟ هغه ونیل چې دا مې خور ده. حکه د هغه ظالم
طریقه دا وه چې د سړي به خور وه نو هغه ته به نې څه نه ونیل. او
چې د سړي به ښځه وه نو د هغه بې عزتي به نې کوله. بادشاه
ورته ونیل چې دا ښځه زما خوا له راولیږې. ابراهیم علیه السلام
خپلې ښځې ته ونیل. اَنْتِ اُخْتِیْ فِی اللّٰہِ ته زما د الله د پاره خور نې. او
[illegible] کسې زما او ستا نه بل څوک مؤمن نشته. که دا بادشاه
د ته تپوس وکړي چې دا سړے دې څه دے؟ نو لَاتُکَذِّبِیۡنِیۡ چې زما د
خبرې تکذیب ونه کړې او چې کله نې دا ښځه راوغوښتله.
حدیث کښې راځي فَقَامَتْ تَتَوَضَّأُ وَتُصَلِّیۡ او اول نې اودس وکړو او
بیا په مانځه ودریدله او دا دعا نې کوله اَللّٰھُمَّ اِنۡ کُنۡتُ اٰمَنۡتُ بِكَ وَ
بِرَسُوۡلِكَ وَاحۡصَنۡتُ فَرۡجِیۡ اِلَّا عَلٰی زَوۡجِیۡ اَللّٰھُمَّ فَلَا تُسَلِّطۡ عَلَیَّ ھٰذَا الۡکَافِرَ.
یاالله که ما په تا او په رسول مې ایمان راوړے وي او ما د خپل
عورت حفاظت کړے وي سوا د خپل خاوند نه نو دا کافر په ما باندې
مه مسلط کوې. او دغه شان وشوله چې کله د بادشاه به د بدعملی
اراده وکړه نو تول بدن به نې کار پریښودو[105].
عرض مې ددې خبرې کولو دلته علماء، یوه خبره کوي که یوه زنانه په

صحیح مسلم، باب من فضائل ابراهیم خلیل علیه السلام، رقم [illegible]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دي باندې ډېرېږي چې ير ظالم زما حيا، او عفت ته نقصان رسوي.
نو خان دې قتل کړي که خان ني قتل کړو نو د قيامت په ورځ تري الله
تپوس نه کوي. چې ولې دي خان قتل کړے وو؟

د ټولو نه اوله خبره خو داسې ده چې کومه زنانه د حياء او د عفت
خيال ساتي الله هغې زنانه ته خطاب کوي وَ قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ
اَبْصَارِهِنَّ وَ يَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَ لَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَ لْيَضْرِبْنَ
بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۪ وَ لَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآىِٕهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ
بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآىِٕهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْۤ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْۤ
اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآىِٕهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ
الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۪ وَ لَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا
يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَ تُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ [106]

ووايه اے پيغمبره دي مومناتو زنانؤو ته چې ښکته کړي نظرونه
خپل او حفاظت کوي د خپلو عورتونو. علماء د دغه آيت د لاندې يو
ناشنا خبره ليکي هغوي وائي چې دا آيت دليل دے په دي چې کومه
زنانه د ايمان والا وي هغه به خامخا د خپل حياء او د عفت خيال
ساتي. ددې وجې نه د محمدرسول الله ﷺ د زمانې نه واخله تر
څلورمې صدۍ پورې چې څومره مؤمنانې زنانه تيرې شوي دي
هغوي ټولو به د حياء او ستر ډير خيال ساتو. روسته دي کافرانو
ظالمانو ته داپته وه چې د مسلمانانو خرابول په دې کښې دي چې د
هغوي د زنانؤو حياء ختمه شي. خو ډير افسوس داسې دے چې ددې

[106] [سورة النور]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زماني بې غیرته مسلمانان د هغوي په موبائل کښې د پردو ښځو تصویر ونه وي او دا هغه کار دے چې کفر هم دې برداشت نه شي کولے بے له شو لا اسلام.

## د یو نوجوان واقعه

حدیث کښې راځي یو سړے راغلے وئیل یارسول الله ﷺ زمابدکارۍ ته زړه سوے دے . خلقو ورته اونیل څه غلطه خبره دي د رسول الله ﷺ په مخ کښې وکړه . رسول الله ﷺ ډیر هوښیار وُو وئیل زما څنګ ته نې لږ رانزدې کړئ . نو چې کله رانزدې شو رسول الله ﷺ ورته وائي زما صحابي مثلاً ستا مور ته چې څوک په غلط نظر ګوري نو د هغې برداشت شي کولے هغه وئیل زه خو دا نشم برداشت کولے نو رسول الله ﷺ ورته اوئیل نو د هغه شان نور خلق هم دي چې هغوي برداشت نه شي کولے.

علماء کرام دا ښې یوه خبره کوي چې مخامخ پردې ښځې ته په بد نظر کتلو کښې دومره نقصان نشته چې څومره پردې ښځې تصویر ته په کتلو کښې نقصان دے . ولې؟ چې پردې ښځې ته ګوري نو چې هغه مسلمانه وي نو سترګې به دي وشرمیږي . او په تصویر کښې دغه شرم نه محسوسیږي . نو رسول الله ﷺ په آخر کښې دغه صحابي ته دعاوکړه . یاالله دده ګناه معاف کړې.دده زړه پاک کړې او د نیک عمل توفیق ورکړې . نوبیا هغه صحابي وائي چې د مرګه پورې زما په زړه کښې د غلط سوچ خیال هم نه وُو راغلے.

او.شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله وائي په دنیا کښې چې څومره بدترین خلق تیر شوي دي الله داسي عذاب ورکړے دے . د هغه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عذاب نمونه په دنیا کښې نشته دے. دا بے حیاء خلق وو کله چې په قوم لوط کښې حیاء نه وه نو الله فرمائي فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا بل ځائ کښې الله فرمائي وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ. ددې وجې نه شیخ الاسلام وائي چې کوم انسان کښې د بې حیائي صفت زیات وي په ده کښې به د ایمان صفت کم وي.

اوګوره په نورو ګناهونو کښې دومره سخته سزا نشته چې غلا وکړي لاس ترې کټ کړه. او هغه بې حیاء انسان هغه له داسې سزا په قرآن او حدیث کښې مقرر کړې ده. چې د هغې سزا مثل په دنیا کښې نشته چې هغه رجم کول دي. چې آئینده د پاره څوک د بې حیائي سوچ ونکړي.

بل ځای د حیاء باره کښې الله فرمائي يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا [107] الله وائي خپل نبی ته خپلو بیبیانو ته دې اووایه او نونړو ته او مؤمنانو زنانوو ته چې په ځان دې څادرې راوارتوي دا ددې د پاره چې دوئ ته ضرر ونهٔ رسي. ددې بې حیائي خلاف ولې کول غواړې؟ د قرآن نه معلومیږي چې د حیادار انسان زړهٔ پاک وي او چې بې حیاء وي نو دا د زړهٔ مریض دے.

الله خپل رسول ته فرمائي وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ [سورة الاحزاب ٥٣] که څوک ترې څه تپوس کوي د څه سامان په باره کښې نو تپوس ترې کوئ آخوا د پردې نه. که د نبی ښځه ولې نه وي

---

[107] [سورة الاحزاب]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



[illegible] خوا به سړي سوس کوي.

الله والي دا ولي؟ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ [illegible] والي د دوی زړونه به پاک وي [illegible] ستاسو زړونه به پاک وي.

[illegible] کښې الله فرمائي خپل نبي ته فرمائي که دا ستا بیبیانې چا [illegible] خبرې کوي فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ نو نرمې خبرې دې نه کوي. وائي ولې؟ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ نو طمعه به پیدا شي د هغه کس چې د هغه په زړه کښې مرض دے.

[illegible] سوچ وکړه چې یو ډاکټر درته اووائي چې ستا زړه کښې بیماري ده نو دا انسان سوچ کوي چې دا ئې راته څه اوئیل او الله رب العالمین په خپل کلام کښې فرمائي چې د بې حیا انسان زړه بیمار دے. او دا هم یاد ساتئ بعض بیماري داسې وي چې وخت په وخت زیاتیږي. او الله د زړه مریض (بې حیا) په باره کښې فرمائي فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا وخت په وخت په دې کښې نقصان زیاتیږي. او په دې کښې به څه خیر زیات نشي. د الله د اطاعت حکم منونکي که څوک خان ته وائي او که د صحابوو او د محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت منونکي خان ته وائي او که د رسول الله ﷺ د بیبیانو اطاعت منونکے خان ته وائي. نو شرط ئې دا دے چې الله او رسول که مني نو د ستر نه بغیر د رسول الله ﷺ اطاعت نه کیږي. که د یو سړي ښځه بې ستره ګرځي هغه خبرې چې قرآن او حدیث د ستر د پاره فرض کړي. هغه د حیا په کور کښې نه وي. دغه سړے د قرآن او د رسول او

---

[سورة الاحزاب [illegible]]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د بيبيانو د رسول مخالف دے۔ او د صحابوو او د امامانو هم مخالف دے۔

## د فاطمې رضي الله د وفات واقعه

د فاطمې رضي الله عنها په باره کښې راځي فاطمه رضي الله عنها چې کله وفات کيده نو اسماء رضي الله عنهاته يوه خبره کوي چې اے اسماء زما سره غم د دې خبرې راسره دے چې زه کله مړه شم او خلق به راباندې څادر واچوي او په دې څادر به د خلقو نظر لګي دا خو زه نشم برداشت کولے۔ اسماء رضي الله عنها ورته وائي ما په حبشو کښې يوه بله طريقه ليدلې چې خلق د کټ د پاسه واړوي او د هغه د پاسه څادر وارتوي۔ او بيا پکښې د مړي پته نه لګي چې دا خبره ئې ورته وکړه نو وئي وئيل اے اسماء چې زما د زړه کومه پريشاني وه هغه دې زمانه ختمه کړه۔ زه يو وصيت کوم هغه دا دے چې زه پردو ښځو ته ځان نشم ښکاره کولے۔ زما چې کوم خاوند دے ماله دې هغه غسل راکړي۔ او ته ورسره ملګرې شه او دويم ئې ورته دا خبره وکړه چې د هغه شان پروګرام به راله وکړي۔ او ددې سره سره زما کټ د شپې مقبرې ته ورسوئ۔ او دا ئې ولې داسې کوله. نو دا ئې د الله او د رسول اطاعت کولو۔

حديث کښې راځي رسول الله ﷺ له يوه ښځه راغله اووئيل ئې چې داسې حال راباندې کله راځي چې د بيهوشۍ په حالت کښې ځان بې پردې کړم۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمائيل چې که ستا خوښه وي نو زه به درله دعا وکړم الله به دې جوړه کړي۔ او که صبر وکړې الله به درله جنت درکړي۔ ښځې ورته اووئيل زه په خپله بيمارۍ باندې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خوشحاله يم او صبر به کوم چې الله راله جنت راکړي خو يو سوال درته کوم دعا راته وکړه چې کله راباندي دغه ميرګي راشي چې ځان نه بې پردې کوم.-رسول الله ﷺ ورلره دعا وکړه.

عبدالله بن عباس رضی الله عنه به خلقو ته وئيل که د جنت ښځ کورئ په دنيا باندي چې هغې لره رسول الله ﷺ په دنيا کښې جنت زيرے ورکړي هغه دا ښځه ده.

الله په قرآن کښې فرماني ﴿كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُوْدُوْنَ﴾[109] د قيامت دا داسې ورځ ده چې څنګه الله په دنيا کښې پيدا کړي وے. هغه شان به الله ته د قيامت په ورځ ورځي.

عائشې رضی الله عنها سره لوے غم ددې وو وئيل يا رسول الله ﷺ سړي او ښځې به په ميدان کښې ولاړ وي او بربنډ به وي او دا خو ډېره ناشناخبره ده. رسول الله ﷺ ورته اوئيل د قيامت داسې ورځ ده چې نه به د سړي سره دا سوچ وي چې زه بربنډ يم او نه به د ښځې سره[110]. دا يوه خبره يادساتې داسې وخت بيا راروان دے چې قيامت په ورځ به الله دي خلقو لره کپړې ورکړي. او هر څوک چې څومره لوے مؤمن وي هغې ته به جلد کپړې ملا ويږي.

رسول الله ﷺ وائي چې د ټولو نه به اول ماته کپړې واغوستلے شي خو چې زهٔ وکورمه اول به ابراهيم عليه السلام ته کپړې آغوستلے شوي وي. هغه وجه داده چې ابراهيم عليه السلام اول هغه سړے دې

[109] [سورة الاعراف۲۹]
[110] صحيح البخاري باب كيف الحشر رقم ۲۱۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



چې د امه د دين د پاره د هغه نه کېږي ايستلے شوي وي. او د هغه کېږي نه اوږ باندي سوزولے شوي وي. ماته به بيا کپړې واغوستلے شي. او د مسلمان ته به بيا کپړې واغستلے شي. خو رسول الله يود نښه خبره کړي. رسول الله فرمائي چې په ميدان د قيامت به د آدم نه راوخله تر قيامته پورې چې څومره انسانان وي دا ټول به راجمع شوي وي. او رسول الله ﷺ وائي چې هغه ښځې چې د ستر او حياء خيال ئې نه وي ساتلے دا به په دغه ميدان د قيامت کښې لغړې ولاړې وي. ددې وجې نه الله په قرآن کښې د نيوې ښځې صفت کړے دے. چې هغې ښځې د خپل ځان حفاظت کړے وو. الله فرمائي وَالَّتِىٓ اَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا الله فرمائي دا هغه زنانه وه چې د خپل ځان حفاظت ئې کړے وو. او دا خبره يادساته که تاته پته ولګي چې ستا خور يا لور يا نور خپلوان د شريعت موافق پرده نه کوي. او د خپل ستر خيال نه ساتي داسي سړي ته الله ديوس (بې غيرته) وائي داسي سړي ته الله چرته بخښنه او معافي نه کوي.

## درې قسم کسان د الله تعالى بدي شي

رسول الله ﷺ فرمائي چې درې کسان د الله بدي شي او الله ورته چرته جنت نه ورکوي. يو هغه بې غيرته سړے دے[111] چې د خپل اهل په باره کښې ورته پته وه چې دا د قرآن او حديث موافق پرده نه کوي. او دا ورته بيا څه نه وائي الله فرمائي يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا قُوۡٓا

[111] المستدرک للحاکم رقم الحديث ۲۲۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا" اے مؤمنانو بچ کړئ خپل ځانونه او اهل خپل د اور نه. نن دې نه خپل اهل اوعيال ته نظر وکړه چې د شريعت موافق پرده کوي او کنه. ددې وجې نه چې څوک د حياء او پردې خيال ساتي نو هغه به ددې څو شرطونو پابندي خپل لباس کول غواړي.

د زنانو د لباس شرطونه:

يو شرط دادے داسې لوپټه او برقعه ورلره پکار ده چې د سر نه تر خپو پورې د هغې يو ځاۍ نه ښکاري.

دويم شرط دادے چې کپړې زنانه کوي او د کور نه بهر وځي نو د بهر د پاره به ښائسته کپړې نه وړي. ډير خلق زمونږ داسې وي چې د بهر د پاره ئې ورله داسې ښائسته لوپټه آخستې وي د هغې ښکاره کول هم ګناه ده.

الله جلاجلاله فرمائي وَلَايُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ که دا ښځه ځان ته مؤمنه وائي نو دا به خپل ذول بهر نه ښکاره کوي.

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائي زينت ددې ښځو دا کپړې دي.
په دې نن زمانه کښې چې کومې پيشنې برقعې يا پروني وي او ګلدار وي نو ديته د قرآن او حديث په لحاظ سره پرده نه وائي.
صحابو خپلو زنانؤ له داسې لوپټې کړې وې چې هغه زينت والا نه وې.

حديث کښې رسول الله ﷺ فرمائي هغه زنانه چې بې ځايه خپل ذول ښکاره کوي رسول الله ﷺ وائي كَمَثَلِ الظُّلْمَةِ يَوْمَ الْقِيمَةِ لَانُوْرَلَهَا

[1] سورة التحريم ۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



الحي د قيامت په ورځ دا ښځه د رڼړا انتظار ونکړي. ددې د پاره به تيارے وي.

دريم شرط دا دے چې نرۍ کپړې دې زنانه نه کوي. او داسې کپړې چې بدن پکښې ښکاري دا هم بې حيائي ده.

څلورم شرط دا دے داسې کپړې چې د زنانه د بدن معلومات ترې نۀ کيږي يعني کهولاؤ کپړې کول پکار دي.

پنځم شرط دا دے چې زنانو لره د سړو پشان کپړې کول نه دي پکار. عبدالله بن عمر رضی الله عنه يوه ښځه وليدله أم سعد نوم ئې وه. هغې غاړې ته لينده او يو بيګ زوړند کړے وو. عبدالله بن عمر تپوس وکړو دا څوک ده؟ نو چا ونيل دا فلانکۍ ده. وئيل اے ښځې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې هغه ښځه زما د أمت نه نۀ ده چې هغه د سړو پشان هيئت کوي.

شپږم شرط دا دے چې په کپړو کښې د کافرو د ښځو پشان پوزيشن نه وي.

او رسول الله ﷺ فرمائي مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ چا چې د يو قوم سره مشابهت وکړو نو دا به د هغوي نه وي.

شيخ الاسلام رحمه الله فرمائي چې يو څوک د کافرو پوزيشن وکړي خواه که نر وي يا زنانه نو پوهه شه چې دده دننه زړۀ ته څه آثر رسيدلے دے.

اووم شرط دا دے چې د شهرت کپړې نه دي کول پکار.

---

[1] المعجم الكبير لطبراني رقم ٢١ سنن ابي داود باب في لبس الشهرة رقم الحديث ٤٠٢٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# عِيْدُ الْاَضْحٰى

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ اِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِیْ ؕ قَالَ لَا یَنَالُ عَهْدِی الظّٰلِمِیْنَ ۝ [114]

په دي آياتونو کښي الله هغه واقعه ذکر کړي چې د کومي واقعې ادا کولو د پاره به چې نن د ټولي دنيا مسلمانان تيارے کوي. او دا سنت به ادا کوي. ابراهيم عليه السلام د الله په انبياؤ کښي جليل القدر نبي وو. او دومره الله ته ګران وو چي وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ۝ (سورة النساء) دا ځکه چي په ابراهيم عليه السلام باندي الله ډېر امتحانات راوستي وو.

حديث کښي راځي چي د ټولو نه زيات امتحانات په انبياؤ راځي او بيا په هغه چا چي د انبياؤ په طريقه روان وي. او بيا الله د انسان ايمان ته ګوري چي د انسان ايمان څومره مضبوط وي د هغه په مقدار پري امتحانات راولي.

## دوه قسم امتحانات

علماء وائي په انبياؤ دوه قسمه امتحانات دي.

(۱) ديني امتحانات (۲) دنياوي امتحانات

په ايوب عليه السلام باندي صرف دنياوي امتحانات راوستي وو. الله پاک تري اولاد. مال. او د بدن صحت تري واخستو. او د يعقوب

[114] سورة البقرة

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عليه السلام نه الله پاک يوسف ورک کړے وو. او په ابراهيم عليه السلام باندې ديني امتحانات راوستي وو.

ابراهيم عليه السلام د نمرود مقابلې ته ودريدلو:

ابراهيم عليه السلام د لوے کافر نمرود مقابلې ته يواځې ودريدو. چې کله يوه مسئله په علاقه کښې نه وي او دا خلقو ته بيانوي نو دا ګرانه وي. نو په ابراهيم عليه السلام باندې مشکلات راغلل نو الله په دې امتحاناتو کښې کامياب کړو. د هغه روستو د پلار سره مقابله راغله. ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته نصيحت وکړو چې اے پلاره ته د کومو بوتانو عبادت کوې دا نۀ لائق د نفع دي او نه د ضرر دي. نو پلار ورسره نه منله نو ابراهيم عليه السلام ورته هغه د دعوت انداز پريښود. او په سختۍ ئې ورته بيان وکړو وَ اِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ[115] کله چې ابرهيم عليه السلام اوئيل پلار خپل ته چې آزر وو آيا تاسو نيولي بوتان په خدائ زۀ وينم تالره او ستا دې قوم لره په لويه ګمراهۍ کښې نو ابراهيم عليه السلام پلار ورته جواب ورکړو لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا [سورة المريم ۴۶] که د دې خبرې نه منعه نه شوې يا به دې رجم کړم يا زمانه جدا شه. نو ابراهيم عليه السلام ورته وائي سَلٰمٌ عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا سلام دې وي په تا باندې زر دے چې زۀ به بخښنه غواړم تالره د رب خپل نه. او الله په

[115] [سورة الانعام]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ما ډېر مهرابان دے. ابراهيم عليه السلام د دين په بنياد باندې اُور ته وغورزيدو. څلويښت ورځې ئې تيرې کړې.

په قرآن کښې چې کوم امتحانات د ابراهيم عليه السلام ذکر کړي هغه برطرف ته کړه او دا کوم امتحان چې د خوئي په باره کښې ذکر کوي دا ډېر لوے امتحان دے.

## د ابراهيم عليه السلام هجرت

ابراهيم عليه السلام چې کله په هجرت باندې مجبور شو. او شام ته روان دے د شام او د دغې علاقې ترمينځ کښې يو بادشاه وو. د هغه قانون دا وو چې د کوم سړي سره به ښځه ورسره وه نو د هغې ښځې بې عزتي به ئې کوله. د ابراهيم عليه السلام سره بی بی ساره رضی الله عنها ورسره ده. نو بادشاه ته چا اطلاع وکړه چې يو ځوان دے چې د هغه سره يوه ښائسته زنانه ورسره ده. نو بادشاه حکم اوکړو چې دا زنانه ترې راولی. نو ساره رضی الله عنها ئې هغه بادشاه لره بوتله. نو د الله رحم ته ګوره چې بادشاه کله نظر د اوچتولو اراده وکړه ساره ته رضی الله عنها، نو د بادشاه ټول بدن به مفلوج شو. درې ځل دغسې وکړه بادشاه پوهه شو چې دا زنانه د لوے کمال خاونده ده ځکه د نن ورځې پورې چې کومه زنانه راغلي د هغې سره مادا عمل کړے خو دا زنانه د لوے کمال والا ده. نو چې په مينځ کښې خبرې وشوې نو بادشاه خپله لور هاجره د ساره د خدمت د پاره ورکړه. ګوره کمال ته خلق لګيا ؤو د ابراهيم عليه السلام مخالفت ئې کولو او بادشاه خپله لور د ابراهيم عليه السلام د خدمت د پاره ورکړه.[116]

[116] صحيح مسلم باب من فضائل ابراهيم عليه السلام رقم [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او بیا د ساره رضی الله عنها اولاد نه وو نو دِ ابراهیم علیه السلام نکاح د هاجري رضی الله عنها سره وشوه. نو ددې نه ئي بچے پیدا شو او دا ماشوم وو. نو الله ابراهیم علیه السلام ته حکم وکړو وئیل دا خپله بی بی دي سره د بچي روانه کړه. نو د شام نه راروان شو چې په کوم ځائ کښي شین بوټے او اوبه نه وینې نو وائي دلته دا خپله بی بی او بچے پریدم. الله ورته حکم وکړو وئیل مخکښې ځه کله چې د صفا او مروه ډهیری ته راورسیدل چې دا یوه دشته وه. نۀ اوبه وي او نۀ ونه. نۀ انسان وو. نو الله ابراهیم علیه السلام ته حکم وکړو وئیل په دغه ځائ کښي دي دا خپله بی بی او دا بچے پریږدوه. نو کله چې دا هاجره رضی الله عنها او اسماعیل علیه السلام دغلته پریښودل نو ابراهیم علیه السلام ترې روان شو. نو هاجري رضی الله عنها ورې نعرې ابراهیم علیه السلام ته وکړي وئیل چاته دي پریښودو. هغه آواز نۀ ورکولو. په دریم ځل ورته اوئیل د الله په حکم دي پریښودو نو ابراهیم علیه السلام په دغه وخت کښي مخ راوړولو وئیل د الله حکم دے. دا ټول کارونه مې د الله په حکم وکړل. نو هاجري اوئیل مونږ به الله نه ضائع کوي. هاجري سره چې کوم خوراک وو هغه ورسره ختم شو. د هغې په بدن کښي چې کوم قوت د شودو د پیدا کیدو وو هغه ختم شو.

اسماعیل علیه السلام ئي وچې سینې ته آرتولو. نو هغه به ژړل نو اسماعیل علیه السلام ئي څملولو. او هاجره رضی الله عنها یوځل صفاء ته منډه وهله او یوځل به ئي مروه ته منډه وهله. دا ددې د پاره کوله چې خپل بچي ته ئي خیال کولو. چې هسې نه چې ځناور ئي ونیسي. او اُووه چکرونه ئي ووهل، چې کله د اسماعیل علیه السلام

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خواله راغله نو د اسماعيل عليه السلام د پوندي خواته جبرائيل عليه السلام دا خپل وزر اووهلو. نو د هغې نه د زمزم اوبه رواني شرلي. نو هاجره راغله او د هغه اوبو نه ئي کيرچاپيره شګه راټولوله او اوبو ته ئي ووئيل چې زم زم معنی ودريږئ.

رسول الله ﷺ فرمائي الله دې په بی بی هاجري رضی الله عنها رحم وکړي که چرې د زمزم اوبو ته ئي دا بند نه وے کړے نو دا اوبه به الله په ټولې دنيا باندي عامې کړې وے[117]. او په دې اوبو کښې الله دا صفت اچولے دے چې صرف او صرف دا اوبه انسان څکي. ددې انسان خوراک ته ضرورت نه پيدا کيږي. خو لنډه داده چې ابراهيم عليه السلام به شپږ مياشتي. کال بعد راتللو. نهه. ديارلس يا اولس کاله د اسماعيل عليه السلام وشو. نو ابراهيم عليه السلام خوب وليدو په آتمه ورځ د ذوالحجي مياشت چې دا خوي دې حلال کړه. په نهمه ورځ ئي بيا دا خوب وليدو چې دې ورځې ته عرفه وائي. په لسمه ورځ ئي بيا دا خوب وليدو نو ابراهيم عليه السلام پوهه شو چې اوس د الله حکم په ځائ کول غواړي. نو ابراهيم عليه السلام اسماعيل عليه السلام ته اووئيل يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى[118]. ترجمه: اے بچيه يقيناً زه وينم تا په خوب کښې چې زه تا ذبحه کومه ته وګوره چې ستارائے څه دہ. نو اسماعيل عليه السلام ورته اووئيل يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ

---

[117] تفصيل واقعه ابراهيم واسماعيل عليهما السلام في البدايه والنهايه ص ٢٦١ ج ١

[118] سورة الصافات ١٠٢

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الصَّابِرِيْنَ اے زما پلاره چې د الله څه حکم دے هغه آدا کړه او زه به صبر کوم نو ابراهيم عليه السلام پرے او چاره راواخستل او د کور نه راروان شو.نو شيطان راغلے لو بی بی هاجري ته واني خبر ني؟وئيل ستا يو بچے دے او هغه ستا خاوند حلالوي.نو هاجري رضی الله عنها ورته اوئيل هغه خو د الله خليل دے . هغه به خپل بچے څنګه حلالوي . شيطان اوئيل الله ورته حکم کړے دے . هاجري اوئيل چې مه کوه چې بيا خو د الله حکم پوره کړي. شيطان د هغه خايه نامراده شو.د هغه نه روستو ابراهيم عليه السلام ته بنکاره شو نو ابراهيم عليه السلام په اوه ګانړو ئي شيطان اوويشتو.نو ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام خائ د قرباني ته ورسيدل[119] .

نو امام قرطبي رحمه الله د سورة الصفت ددي آيات د لاندي ليکلي د امام بغوي رحمه الله په حواله واني کله چې ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام د الله حکم په خائ راوړو . نو اسماعيل عليه السلام خو خبري خپل پلار ته وکړي . وائي پلاره زما او ستا د جدائے بس دا وخت دے خو دا زما وصيتونه به پوره کړي.

د اسماعيل عليه السلام وصيتونه:

اولنے وصيت دادے چې دا زما قميص به زمانه په ژوندينی وباسي څکه که ته ما حلال کړي او زمانه وينه زما په قميص باندې پريوځي او بيا زما د وينې دا ګنده قميص زما مور له ويسې نو په دي به هغه ډيره دردمنده شي.

دويم وصيت دا دے چې زما لاس او څپې به کلک وتړي څکه چې

[119] تفسير البغوي ص ٢٢ ج٣

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ساه وتل ډیر ګران دي که زه دغه وخت خپ او لاس اووهم نو کیدے شي زما دا وینه ستا په جامو ونه لګي.نو زما آجر به کم شي.

دریم وصیت دادے چې چاړه به ښه تیره کړي چې زما دا ساه زر وخي.

څلورم وصیت دادے چې ما به مخامخ نه څملے په ډډه به مې څملے ي نه چې زۀ تاته ګورم او ته ماته ګوري . د پلاروالي او خوي والي به وجه به د شیطان غلبه په مونږ راتشي [120] . او د الله په حکم کښې کمے راتشي نو ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام ټول وصیتونه پوره کړل . نو کله چې ابراهیم چاړه رالګوله . نو د ابراهیم علیه السلام چاړي کار پریخودو. نو په دغه کښي جبرائیل علیه السلام ګډ راوستو.نو دا نن ورځ د هغه ابراهیم علیه السلام د یاد تازه کیدو د پاره تذکره ده.

نو محترمو رونړو په دي کښې درس او نصیحت مونږ د پاره دا دے چې ابراهیم علیه السلام د الله د دین او د الله حکم د پاره د خپل بچے قرباني کولو ته تیار شوے وو. نو دغه شان مونږ به ددین قرباني کولو ته تیار یو.او څنګه چې ابراهیم علیه السلام د الله حکم په ځائ راوړي نو الله ورله لوے مقام ورکوي . نو که مونږ او تاسو د الله د دین د پاره قرباني ورکړو نو الله به مونږ او تاسو له هم لوے مقام راکړي.

نو هم دغه وجه ده چې صحابه به د الله د دین د پاره لیوني او سیلني ګرځیدل. د خپلې بی بی خیال به نۀ ... نو.

ګوره حنظله رضی الله عنه د اولې شپې ناوې پریخودله او د رسول

[120] تفسیر القرطبي ص ۱۰ ج ۱۶

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



ﷺ حکم ته ئي خان ورسولو. او بی بی ورته وائي چې اے خاونده ما او تا خو يو بل پيژندلي نه دي. او ته زمانه خي. نو هغه ورته وائي دا زما ايمان نه دے چې رسول ﷺ دې د يوې خبرې اعلان وکړي او زه دې کور کښې د خپلې بي بي سره کينم. او چې لاړے نو هلته شهيد شو. د خپلې بی بی خيال ئي ونهٔ ساتو.

خنساء رضی الله عنها د خپلو څلورو بچو خيال ونهٔ ساتو. وئيل رسول الله ﷺ جهاد له خي. ځئ ورسره. څلور بچي شهيدان شول نو چا ورته اوئيل چې بچي دې شهيدان شول. هغې وئيل رسول الله ﷺ خو به نه وي شهيد شوے؟ وئيل نا. نو خنساء رضی الله عنهاورته اوئيل دا خو زما د پاره د فخر خبره ده چې په قيامت کښې الله اعلان وکړي چې د څلورو شهيدانو مور دې زما مخې ته حاظره شي.

ددې واقعې مقصد او حکمت دادے چې په قرآن کښې وګوره چې نور انبياء عليهم السلام په دې اُمت کښې نشته. قرباني به انبياؤو ورکولے او د هغوي خاصو ملګرو به ورکوله. نو اے اُمت د رسول الله ﷺ د دين د پاره دغه شان قرباني ورکړي.

سعدرضی الله عنه ته چااوئيل چې رسول الله ﷺوفات شوے نو سعدرضی الله عنه وئيل دا ژوند به ماله څنګه خوند راکوي چې په دنيا کښې محمدرسول الله ﷺ نشته او لاړے او د کافرو په ګنړه کښې ورننوتو. ددې ټولو واقعاتو نچوړ دا دے چې مونږ او تاسو هم د الله د دين د پاره قرباني ورکړو. بدني، مالي او د اولاد قرباني ورکړو.

د اولاد قرباني داده چې دين ورته وښايو څکه چې دين کله انسان ته

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



وبښودلے شي . دا انسان خپل رب وپیژني . او کله چې انسان رب وپیژني .د انسان د الله سره تعلق پېدا شي .او چې کله تعلق قائم شي نو رسول ﷺ فرماني چې الله فرماني چې زه ئي سترګے شم چې په ما لیدل کوي .زه ئي خپې شم چې په ما تلل کوي .زه ئي غوږونه شم چې په ما اوریدل کوي .ددې انسان ټول بدن به د الله تابع وي.

ددې ورځې سنت دادي:

رسول الله ﷺ فرماني چې مانځه د آختر ته ځي نو بهتر داده چې په یوه لار باندي لاړ شي.او په بله لار باندي راشي . او په لار باندي تکبیرونه وائي او کوم انسان چې قرباني کوي نو هغه له پکار دي چې په دي لسو ورځو کښې نوکونه،وېښته څه بل څه نه آخلي . چې کله دا قرباني وکړي نو بیا دي خان برابر کړي .او رسول ﷺ فرماني چې کله تاسو دا قرباني وکړي نو بیاپکښې د یتیمانانو د ګاونډیانو او د خپلوانو حصه وکړي . اقول قولی هذا استغفر الله

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# توبه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۠ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۠ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ [121]

د انسان په اعمالو کښې داسي عمل چې الله پرې ډير زيات خوشحاليږي د الله نه بخښنه او مغفرت غوښتل دي.

## حديث قدسي

ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي. چې زما يو بنده چې کله يو غلطي وکړي او بيا الله ته ودريږي چې يا الله اَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْلِيْ زما ربه زمانه غلطي شوي ده ما معاف کړه. الله ورته وائي زما بنده چې ته دومره منې چې زما يو رب شته چې هغه ستا گناه معاف کوي دادې عقيده ده نو ما درته معافي وکړه. دا بنده چې کله په دويم ځل غلطي وکړي. بيا الله ته وائی اَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْلِيْ يا الله ما بيا غلطي کړي ده. الله ورته وائي ما درته بيا بخښنه کړي ده. په دريم ځل دا انسان بيا غلطي وکړي. بيا الله ته وائي زمانه بيا غلطي شوي ده. نو الله ورته وائي زما بنده ما درته بيا معافي کړي ده. په آخر کښې د الله د طرف نه داسي يو اعلان وشي خپل بنده ته زما بنده داسي مرتبی ته ورسيدي چې څه کوي هر څه درته زه معاف کوم [122].

---

[121] سورة العمران : ۱

[122] سنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۲۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د الله نه بخښنه غوښتل یا الله ته توبه ویستل دا د انسان په اعمالو کښې داسې یو عمل دے چې ستا د دنیا او آخرت چې څه مشکلات ئې الله تول په هغې باندې ختموي.

د الله تعالی د رحمت نه نااميده کيدل نۀ دي پکار:

صحیح حدیث کښې رسول اللهﷺ فرمائي یو سړي قسم وکړو لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ زما دې په الله قسم وي چې الله به فلانکي سړي ته بخښنه نه کوي. الله لره په دې غصه ورغله چې زما بنده ستا زما په باره کښې څه کار دے چې زما په باره کښې خلقو ته قسمونه کوي چې الله فلانکي ته بخښنه نه کوي. زما دې په خپل ذات قسم وي هغه سړے مې اوبخښولو. او ته مې د جهنم لر سر ته ورسولې[123].

ډیر خلق داسې وي چې خلق د الله نه نااميده کوي. الله خپلو بنديګانو ته يو ښائسته اعلان کوي. او خاص کر هغه بنديګانو ته چې ګناهونه ئې کړي وي قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ[124].

زمانبي هغه بنديګانو ته اووايه چې هغې د خپل ځان سره زياتے کړے وي په ګناهونو کولو کښې چې هر قسم غلطي دې کړي وي لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ

زما بنديګانو ته اووايه زما د رحمت نه مه نااميده کيږی. زه ستاسو ټول ګناهونه معاف کوم. روستو آيات کښې وائي اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ

[123] اخرجه المسلم رقم الحديث ۲۶۲۱

[124] [سورة الزمر].

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَعَمِلَ صَالِحًا .... الخ. مګر چاچې توبه ويسته او ايمان ئې راوړو او عمل ئې وکړو نيک الله وائي د انسان ګناه نه معاف کوي الله داسې وائي فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ[125] ستا دا ګناهونه به الله وائي زه په نيکو بدل کړم.

د مسلمان حرص..

صحيح حديث کښې راځي د قيامت په ورځ باندې به الله د يو سړي سره خبرې کوي. او پرده به پرې راواړتوي. او الله به ورته اووائي تاته دې خپل ګناهونه معلوم دي نو الله به ورته اووائي دا دې کړي او دادې کړي. نو الله به ورته اووائي ستاد هرې ګناه په بدله کښې ما نيکی درکړه. انسان چې د الله دا رحمت وګوري نو الله ته به اووائي چې ياالله ما خو داسې غټ غټ ګناهونه کړي دي چې هغه زه دلته نه وينم. ددې سړي به دا يقين شي چې د الله رحمت پراخه دے چې ددې ګناهونو په ځائې نيکی راکړه نو ددې غټو ګناهونو په ځائې به نيکي راکړي.

عرض مې ددې خبرې کولو چې ګناهونه الله معاف کوي خو چې کله دا ګناهګار سړے په صدق توبه وباسي.

وحشي رضی الله عنه واقعه:

وحشي هغه سړے وو چې د رسول الله ﷺ تره ئې شهيد کړے وو. مولی ورته دا وئيلي وو، که تا حمزه رضی الله عنه شهيد کړو نو زه به تا آزاد کړم. حمزه رضی الله عنه ډير غيرتي نوجوان وو. داسې يو

[125] [سورة الفرقان: ٧٠]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سړے وو چې څوک به ورله مخې ته نشو راتلے۔ وحشي پخپله وائي حمزه ماپه میدان کښې ولیدو .لکه د زمري غوندې دانګونه ئې وهل ۔چې څوک به ورله مخې له راغلے د خپل ګوزار سره به ئې د مخې نه وړے وو .زه مخې له نشوم ورتلے۔ما دا سوچ وکړو چې دا په دې لاره ځي او زه به ورته پټ کینم۔او د نېزې ګزار به پرې وکړم۔زه د ګټې نه پټ شوم او دا چې یو طرف په لاره راتلو ما پرې ګزار وکړو د شاه طرف نه په نیزه ددې مغانو په مینځ کښې نیزه ولګیده او شهید شو. او د هغه زړه ئې هم ویستو .غوړونه.پوزه او هر څه ئې ترې کټ کړي وو.نو رسول اللهﷺ ته ئې جواب ولیږو چې ما هر قسم ګناه کړې ده. مابه زما رب معاف کړي او کنه؟ په رسول اللهﷺ دا آیات نازل شو. قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ [126] اے پیغمبره زما هغه بندیګانو ته اووایه چې هغې د خان سره زیاتے کړے وي په ګناهونو کولو سره چې هر قسم غلطي دې کړې وي لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۚ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ .مه نا اُمیده کیږه د رحمت د الله نه.الله ستاسو ټول ګناهونه معاف کوي۔او توبه ئې ښکه قبوله شوې وه چې الله ورلره یو توفیق ورکړو هغه دا چې لوئې کافر مسیلمة الکذاب الله دده د لاسه مردار کړو[127]۔

عرض مې ددې خبرې کولو د انسان په اعمالو کښې د ټولونه لوے عمل د الله نه بخښنه غوښتل دې چې یاالله مامعاف کړه۔

---

[126] سورة الزمر!

[127] تفسیر القرطبي ص ۲۶۱ ج ۱۵ تحت ایت سورة الزمر ۵۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



حديث كښې راځي د قيامت په ورځ باندې به څوک ډير خوشحاله وي.دا به هغه خلق وي چې د هغوي په صحيفه كښې دا لفظ ډير وي چې ربه مامعاف كړه طُوْبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِيْ صَحِيْفَتِهٖ اِسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا[1].

د يو کم سل کسانو د قاتل مغفرت

صحيح حديث كښې راغلي يو سړے وو او يو كم سل مرګونه ئي كړي وو.آخر ئي په ذهن كښې دا راغله چې څو پورې به زه دا مرګونه كوم.نو په ذهن كښې يې داراغله چې نور الله ته توبه وباسم.د يو ناپوهه عالم خواله ورغلے چې هغه د الله د دين نه پوره خبر نه وو. هغه ته ئي اوئيل زۀ توبه وباسم مابه الله معاف كړي.هغه ورته اوئيل تا الله نۀ معاف كوي.ايسته ئي هغه هم مړ كړواو سل۱۰۰ ئي پوره كړل.خو بيا په توبې پسې ګرځيدو چې زما رب ما معاف كړي.چا ورته د يو عالم پته وركړه چې د هغه عالم خواله لاړے او خپله قصه ئي وكړه.هغه عالم ورته اوئيل چې الله ته توبه وباسه او د هغه كلي نه وځه.د نيكانو كلي ته لاړ شه.چې كله ئي توبه ويسته او د نيكانو كلي ته روان شو نو د ساه ختلو ټيم ئي راغلے.د عذاب ملائكو اوئيل مونږ ترې روح وباسو.او د رحمت ملائكو اوئيل مونږ ترې روح وباسو.نو الله دواړو ملائكو ته اوئيل چې دا كلے ناپ كړئ كه د نيكانو كلي ته نزدې وو نو د رحمت ملائكې ترې روح واخلي.او كه د بدانو كلي ته نزدې وو نو د عذاب ملائكې ترې روح واخلي.نو الله د نيكانو زمكې ته اوئيل چې رانزدې شه او د بدانو زمكې ته ئي اوئيل چې لرې شه. نو چې ناپ ئي وكړو نو د نيكانو كلي ته نزدې

[1] سنن ابن ماجه رقم الحديث ۳۸۱۸ وصححه الباني

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وو. نو الله د رحمت ملائکو ته حکم وکړو. وئيل روح ترې تاسو واخلئ . په هر وخت کښې دانسان داسوچ وي چې زما يو رب شته چې هغه گناهونو معاف کولو والا دے.[129]

د نوح عليه السلام قوم نوح عليه السلام ته هر قسم تکليف رسولے وو خو نوح عليه السلام ورته دا خبره کوي فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝[130] نوح عليه السلام ورته اوئيل بخښنه وغواړي د رب خپل نه الله بخښونکے دے يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۝ [سورة نوح] په تاسو باندې به د ضرورت موافق بارانونه کوي وَّ يُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّ بَنِيْنَ وَ يَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّ يَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ۝ [سورة نوح] تاسو له به الله بچي، مالونه. باغونه.او نهرونه درکړي خو بخښنه د الله نه وغواړي.او د الله قانون دا دے چې کله انسان د الله نه بخښنه غواړي الله چرته چاله عذاب نه ورکوي.

دنياوي عذاب نه د امن دوه اسباب:

ابوذر رضی الله عنه فرمائي چې دوه خبرې د آمن دي په دنيا کښې.

(١) د رسول ﷺ وجود په دنيا کښې چې رسول الله ﷺ خو پورے ژوندے وو په دنيا کښې نو عذاب نه رَاتلو.

(٢) دوېمه خبره د آمن د خلقو د الله نه بخښنه غوښتل[131] .

د الله نه داسې سوال کوه چې يا الله ما معاف کړه. دا دواړه خبرې چې

---

[129] صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٧٤، وصحيح مسلم للنسابوري رقم الحديث ٧٠٢٢.

[130] [سورة نوح]

[131] المستدرک للحاکم رقم ١٩٩١

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کله وي الله عذاب نه راليږي. خو که دا دواړه خبرې نه وي. بيا د الله د عذاب انتظار کول پکار دي.

الله په سوره انفال کښې فرمائي: وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۝[132] د الله داسې طريقه نه ده چې زما نبی ته به پدې خلقو کښې ئې او زه به پرې عذاب راولم. او الله تر هغه وخت پورې عذاب نه ورکوي چې کله د بنده د خُلې نه دا الفاظ وځي اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ زما ربه ما معاف کړه.

واقعه کعب بن مالک رضی الله عنه :

صحيح حديث د بخاري کښې راځي د دريو(۳) صحابؤو نه يوه لويه غلطي شوي وه. هغه داوه چې د الله يو فرضي حکم ئې پريښودے وو. جهاد ته د رسول الله ﷺ سره نه وو تلي. قرآن کښې الله فرمائي چې د الله نبی دي جهاد ته ځي او دادې په کور کښې ناست وي دا کيدے نشي چې د الله نبی يو تکليف تير کړے وي که ته ځان ته مسلمان وائې ته به دا تکليف خامخا تيروې. ډيره خطرناکه غزا وه. صرف يو مياشت خو هلته مزل وو. کعب بن مالک رضی الله عنه وائي ذهن کښې مې داوه چې زه غزا ته. خو دامې وئيل چې زما سره هسې هم سورلۍ تيزه ده که رسول ﷺ رانه تيز لاړ شي نو خير دے. زه به پسې روستو لاړ شم. آخر داسې وشوه چې رسول ﷺ جهاد ته لاړے او بيرته د واپسۍ زيرے راغلے. خلقو سوچونه کول چې رسول ﷺ ته به څه بهانه کوو. منافقانو عذرونه پيش کړل. هر چا خپل

[132] [سورة الانفال]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



عذر .. وپيش كړل. ماپه دي زړه كښې اونيل چې زه هم د دروغو عذر پيش كوم چې مامعاف كړي خو بياذهن كښې دا راغله چې په دروغو باندې نشي خلاصيدے صفا خبره كوم. مخامخ د الله رسول ﷺ ته كيناستم. چې د الله رسوله ﷺ الله داسې څله راكړي دے. كه زه تاته عذر پيش كوم نو ته به زماعذر قبول كړي. خو زمانه غلطي شوې ده. زه د غلطي په بنياد د جهاد نه پاتې شوے يم. غلطي رانه شوې ده رسول ﷺ ورته اوئيل زه ستا په باره هيڅ نشم وئيلے. ستا امر الله ته سپارم ستا د رب خوابنه ده چې ستا توبه قبلوي او كنه. ٥پنځوس ورځې تيرې شوې سخت تكليف وو. قرآن فرمائي دومره ورته پدې خبره تكليف ووحَتّٰى اِذَاضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَارَحُبَتْ [133]دا زمكه د الله پرې راتنګه شوه. سره د فراخ والي نه. زړونه ئې تنګ شو او يقين ئې دا راغلے چې الله نه يو معاف كړي. نو زمونږ د خلاصي بله يوه لار نشته. دا دومره غلطي ورته په څه باندې معاف شوه. دا ورته په توبې معاف شوه. كعب رضى الله عنه وائي پنځوستمه ورځ مې وه د سحر مونځ مې كړے وو او د خپلې كوټې په سر باندې ناست ومه. يو سړي راته د جُدا نه آواز وكړو اَبْشِرْيَا كَعْبُ زيرے قبول كړه اے كعبه ستا رب ستا توبه قبوله كړه. وائي چې دا زيرے مې واوريدو نو په سجده باندې پريوتم. چې زما رب زما توبه قبوله كړه. اووائي چې كله د رسول الله ﷺ خواله ورغلم. نو د رسول يوه طريقه وه چې كله به رسول الله ﷺ خوشحاله وو نو

[133] سورة التوبة ١١٨

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مخ ته پرېږدو. لکه د سپوږمۍ غوندې چې د رسول الله مخې له راغلم چې د الله رسوله دا ستا يو اجتهاد وو چې زما دا توبه قبوله شوه او که نه دا د الله د طرف نه وحي جلي راغلي. رسول الله ﷺ اونيل چې دا دالله د طرف نه وحي جلي راغلي .او ما ته ئي اونيل أَبْشِرْ يَا كَعْبُ د ټولو نه بهترينه ورځ په ټوله عمر کښې بله نه ده راغلي سيوا ددې ورځې نه چې دا دربانديې راغله. هغه صحابي اونيل چې د الله رسول ﷺ زما په توبه کښې يو جز دا دے چې زما دا ټول مال دې د الله په لار کښې صدقه وي. ځکه زه ددې مال په وجه د جهاد نه پاتې شوم. او د الله رسوله ﷺ زما په توبې کښې دويم جز دا دے چې چرته به دروغ نه وايم[134].

عرض مې ددې خبرې کولو ټولو مسلمانانو لره پکار دي چې الله ته په صدق توبه وباسي.

ددې وجې علماء کرام فرمائي د توبې څوشرائط دي.

(۱) أَنْ يَقْلَعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ يو دا چې انسان به د ګناهونو نه بند شي.

(۲) أَنْ يَنْدِمَ عَلَى فِعْلِهَا چې د ګناه په کار به پښيمانه شي.

(۳) أَنْ يَعْزِمَ أَنْ لَا يَعُوْدَ إِلَيْهَا أَبَدًا[135] چې دا انسان به پخه اراده وکړي چې بېرته به دې ګناه ته هميشه د پاره نه ورګرځم.

او ددې سره اهمه خبره داده چې د چا دې حق وهلے وي. دا به مالک ته حواله کړي. اوکه حواله دې نکړو نوچې دالله مخې له ورشي او ته

[134] صحيح البخاري رقم الحديث ۴۴۱۸، وصحيح مسلم رقم ۲۷۶۹

[135] رياض الصالحين ص ۲۵

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



واني چې زما توبه وه. الله به درته واني كه ستا رښتيا توبه وے نو تا د فلانكي حق ولې وهلے وو؟ او دا پكښې هم ضروري ده چې د چا په ملكرتيا كښې دي كناهونه كول د داسې خلقو سره بيا مه كينه. او دا پكښې هم ضرور ده چې څرنكي تا خپل بدن ته د كناه مزه وركړه. نو نن دومره نيک اعمال وكړه چې دي خپل بدن ته د نيكو اعمالو خوند وركړي. ته بيا د الله نه خپل حق وغواړه. چې الله ئي ضرور دركوي ستا حق. نن خلق د الله نه سوال كوي چې الله باران وكړي. الله باران وكړي خو بل طرف ته نن صبا هر سړے په حرامو كښې ډوب دے. كه نور يو حرام د چا سره نه وي. نو د هر مسلمان سره د خور. لور حصه ورسره ده.

رسول الله ﷺ فرمائيلي دي الله د هغه سړي عمل نه قبلوي چې يوه نوړۍ د حرامو وخوري. كه يو انسان شپه ورځ په سجده پروت وي خو چې د بل چا حق ورسره وي نو ددې انسان اعمال الله نه قبلوي. په توبې ويستلو باندې الله د مخلوق حق نه معاف كوي. چې څو پورے حق مالک ته نه وي حواله كړے.

رسول الله ﷺ به د اودس ماتي نه د راوتلو په وخت كښې هم دا الفاظ وئيل غُفْرَانَكَ[136] ربه مامعاف كړه. او مانځه ته به وډريدو دا دعا به ئي وئيله اَللّٰهُمَّ اِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْمًا كَثِيْرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِيْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ[137]

[136] سنن الترمذي رقم الحديث ۱
[137] صحيح البخاري رقم الحديث ۸۳۴

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چې رکوع له به راغلے دادعابه ئې كوله سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ"[118] د سجدو په مينځ كښې به چې كيناستو دا دعا به ئې كوله رَبِّ اغْفِرْلِيْ رَبِّ اغْفِرْلِيْ الله تعالى دې زمونږ ګناهونه معاف كړي. الله تعالى دې مونږلره توفيق د صحيح توبې راكړي. او الله دې زمونږ ګناهونه په نيكو باندې بدل كړي. آمين

اقول قولی هذا استغفر الله لی ولكم ولسائر المسلمين

[118] صحيح مسلم ۱۱۱۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# صفونه برابرول

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ الصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۙ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۙ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ؕ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَ رَبُّ الْمَشَارِقِ[1,2] ⊙

دعوت ورکول کومې خبرې ته دے.نو دعوت زمونږ اسلام ته دے. یا دعوت دے زمونږ دین ته. یا دعوت دے زمونږ الی الله ته.او د اسلام پنځه ارکان دي.

اولنے دعوت شهادة اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ.

دویمه خبره دعوت اِلٰی اِقَامَةُ الصَّلٰوۃ. یعني مانځه ته دعوت ورکول. نن د مانځه په موضوع کښې د صفونو برابرول ددې خبرې بیان کوو.

مونږ چې الله زمونږ نه غواړي نو زمونږ نه اِقَامَةُ الصَّلٰوۃ غواړي.نفس مونځ نه غواړي. الله په مونږ او تاسو باندې اِقَامَةُ الصَّلٰوۃ فرض کړے دے. نفسِ مونځ ئې راباندې نه دے فرض کړے. بلکه الله فرمائي اِقَامَةُ الصَّلٰوۃ به کوي او د متقیانو په صفت کښې چې وئیلي دي يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوۃَ وئیلي دي .نفس الصلوۃ ئې نه دي وئیلي يُصَلُّوْنَ ئې نه دي وئیلي. او یو د مانځه اقامت د صف سمول دي. که څوک مونځ کوي اوپه مانځه کښې په شرعي طریقه صف نه برابر وي نو دې سړي نه مونځ کونکے وائي خو دې ته اِقَامَةُ الصَّلٰوۃ نه وائي.

(1) صفت: د

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو ځل رسول الله ﷺ صحابوو ته مخ راواړولو او وې وئيل سَوُّوا صُفُوْفَكُمْ .سَوُّواصُفُوْفَكُمْ.سَوُّواصُفُوْفَكُمْ بيائي اوئيل فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلٰوةِ"[1] او د مسلم په روايت کښې داسې راځي فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ تَمَامِ الصَّلٰوةِ"[2] . وئيل صفونه برابر کړئ او وئيل دا خبره درته ځکه کوم چې د صف برابرول د مونځ پورا والے دے . د دې وجې نه که يو سړے مونځ کوي او صف ئې برابر نه وي په شرعي طريقه باندې نو دې انسان ته إِقَامَةِ الصَّلٰوةَ والا نه وائي . مونځ ئې وکړو خو صحيح مونځ دا نه دے .

او د دې وجې نه امام بخاري په خپل کتاب کښې باب نقل کړے دے .إِثْمُ مَنْ لَمْ يُتِمَّ الصُّفُوْفَ"[3].

علامه عيني حنفي رحمه الله وائي د امام بخاري د خبرې او باب نه معلوميږي د دې په نيز دا صف برابرول فرض دي . که يو څوک مونځ کوي او صف ئې برابر نه وي .نو پوره مونځ ئې ونه شو .إِقَامَةَ الصَّلٰوةِ والا دا نۀ شو.

علامه عيني رحمه الله قول

علامه عيني حنفي رحمه الله وائي زه داسې وايم چې صحيح قول دادے چې صف برابرول فرض دي . وائي ولې؟ بِمُقْتَضَى الامر ځکه

---

(1) صحيح البخاري رقم الحديث ...

(2) صحيح مسلم رقم الحديث ...

(3) [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



محمد رسول الله ﷺ د صُف برابرولو امر کړے دے.او د امر تقاضا دا ده چې محمد ﷺ چې داسې کار اوکړي نو معلومیږي دا چې هغه کار فرض وي. نو څکه محمد ﷺ د امر حکم کوي. مګر که قرینه موجود شي چې دلته کښې دا امر د پاره د وجوب نه دے[143].

یو بل عالم تیر شوے دے علامه ابن عبدالبر رحمه الله هغه وائي آلاٰثَارُ فِيْ اِقَامَةِ الصُّفُوْفِ مُتَوَاتِرَةٌ وائي داسې احادیث چې د هغې نه د صفونو برابرول لازمیږي. وائي دا داسې احادیث متواترة دي معنی یو نهٔ دے.دوه نه دي.بلکې بې شماره داسې احادیث دی.بیا روسته وائي لَا خِلَافَ فِيْ هٰذَا بَيْنَ الْعُلَمَآءِ وائي د صفونو سمول دي کښې د اُمت د علماؤ د هیڅ اختلاف نشته د اُمت ټول علمآء داسې وائي چې صفونه سمول او برابرول پکار دي.

عرض مې ددې خبرې کولو چې د صف سمول دا د مانځه اقامت دے د دینه بغیر مونځ ناقص دے.

بعضې سلف وائي صف سمول سنت دي:

ځنې سلف داسې وائي چې د صف سمول سُنت دي. خو صحیح قول دادے.چې داسُنت نهٔ دي بلکې محمد ﷺ امر کړے دے.بیاڅوک چې ورته فرض یا واجب وائي دي صف سمولو ته د هغوي په مینځ کښې پکښې اختلاف دے.ځنې علمآء داسې وائي چې دا د مانځه واجباتو نه دي.خو مقصد ئې دادے چې چا صف سم نه کړو مونځ سې به صحیح طریقه ونشولو.اګر چې دا سړے ګنهګار دے.او دا

حسه: الفرد بن ص ...

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قول غلط دے صحیح قول دادے چې دا د مانځه د واجباتو او فرائضو نه دے. ځکه محمدرسول اللهﷺ داسي تعبير کړے فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوْفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلٰوةِ ئي وئيلي چې د صف سمول دا په هغه فرائضو کښې دي. چې په دي باندې مونځ برابريږي. او مونځ پرې سرته رسيږي.

علامه ابن حزم رحمه الله خو دې مرتبې ته رسيدلے هغه داسي وائي چې که د چا صف په مانځه کښې برابر نه وو. نو وائي مونځ ئي نه کيږي. مونځ ئي وکړو خو صف ئي برابر نه دے. ددې مونځ به بيرته اعاده کول غواړي. وائي داولې؟ ځکه محمدرسول اللهﷺ ديته مِنْ تَمَامِ الصَّلٰوةِ وئيلي دے. او مِنْ إِقَامَةِ الصَّلٰوةِ وئيلے شوے دے.

او په يو روايت کښې ورته مِنْ تَحْسِيْنِ الصَّلٰوةِ هم وئيلے شوے دے. هغه احاديث چې په دې باب کښې دي. چې د صف سمول ضروري دي. هغه احاديث صحيحه دي، متواتره دي. په هغې کښې مشهور حديث د نعمان بن بشير رضى الله عنه دے. چې دا هغه صحابى دے چې د محمدرسول اللهﷺ په کشرانو صحابؤو کښې وو. دا نعمان بن بشير رضى الله عنه فرمائي چې رسول اللهﷺ به مونږ ته امر کولو په برابرولو دصفونو باندې. او نبىﷺ زمونږ صفونه برابرول. يَسْوِىْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا يَسْوِىْ بِهَا الْقِدَاحَ "[1] رسول اللهﷺ دا صف زمونږ داسي برابرولو لکه دا صف په برابر والى کښې چې مشابهه

---

[1] صحيح مسلم رقم الحديث ١٠٠٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام -



وي د غشو سره.

ملاعلی قاري رحمه الله ددي حديث داسي معني کړي ده. كَاَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ دا صف به داسي سيده شو چې دا صف مشابهه شو د غشو سره چې غشي ورسره ته مشابهه کولے شي چې دا صف داسي سيده دے. چې څنګه دا غشے سيده وي[145]. دومره به نبی ﷺ زمونږ دا صفونه سمول. او جمع ئي څکه راوړي ده. چې قِدَاحَ قَدَحٌ ئي مفرد راځي معنی دا ده هر يو غشے لکه څنګه چې صانع سيده کوي. دغه شان هر يو صف محمد رسول الله ﷺ سيده کړلو. نبی ﷺ به دا صفونه سيده کول هره ورځ ئي تعليم ورکولو. وائي ترڅو چې رسول الله ﷺ ته پته ولګيده چې زما صحابوو زمانه د صف جوړولو طريقه ياده کړه.

يو ورځ نبی ﷺ راوتلو نو فَقَامَ حَتّٰى كَادَ اَنْ يُّكَبِّرَ نو ودريدو نزدې وه چې نبی ﷺ اَللّٰهُ اَكْبَرُ ونيلے وے. فَرَاٰى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهٗ مِنَ الصَّفِّ چې يو سړے ئي وليدو چې د صف نه خپله سينه بهرته راويستله نبی ﷺ اوئيل يَا عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ"[146].

(ابوداود) رسول الله ﷺ اوفرمائيل: الله بنديګانو صفونه سم کړئ اوکه داسي نه کوئ نو الله به ستاسو په زړونو کښي اختلاف پيدا کړي. نعمان بن بشير رضی الله عنه وائي چې د رسول الله ددې وړنا

---

[145] مرقاة المصابيح ص ۱۰۲ ج ۳

[146] صحيح مسلم رقم الحديث ۱۰۰۰ باب تسوية الصفوف واقامتها

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نه روستو زمونږ صحابوو طريقه دا وه چې رَأَيْتُ الرَّجُلَ مِنَّا يُلْزِقُ كَعْبَهُ بِكَعْبِ صَاحِبِهِ[147]

يو مسلمان ورور به په حديث داسي عمل كولو چې دا ولے به ني د ولي د خپل رور سره په مانخه كښې ولګولو وَكَعْبَهُ بِكَعْبِهِ. ولے به ني د ولي سره ولګولو خنګون به ني د خنګون سره لګولو. او پړکے به ني د پړکي سره لګولو او دا كار ني ولې كولو خكه محمدرسول اللهﷺ ورته داسي امر کړے وو چې صفونه برابر کړئ.

علامه ابن حجر رحمه الله فرمائي چې دا حديث په دې دلالت كوي چې صف برابراول فرض دي. او چې څوک صف نه برابره وي دا مرتكب د ګناه كبيره دے غټ ګناهګار دے دا سړے. وائي ولې؟ خكه نبيﷺ چې دومره سخت وعيد وئيلے دے. چې دي حديث كښې داسي راغي چې صف به سموئ او كه نه ئي سموئ نو الله به ستاسو مخونه د يو بل نه مخالف کړي.

داسي وعيد په سنتو او مستحباتو نه لازميږي. داسي وعيد په فرائضو باندې لازميږي.

بل حديث ابن عباس رضی الله عنه د رسول اللهﷺ نه نقل كوي.

خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَوٰةِ[148]

په تاسو كښې بهترين هغه مسلمان دے چې د هغه ولے نرم وي. چې څوک ورته اووائي چې په ماپسې راجوخت شه نو دا وروسې

[147] صحيح البخاري باب الزاق المنكب بالمنكب والقدم بالقدم في الصف

[148] سنن ابي داود باب تسوية الصفوف رقم الحديث ٥٢

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورجوخت شي.چې خوک ورته اوواني چې خپه زما سره ولګوه نو خپه ورسره لګوي . او بیا نبي ﷺ اوفرمائیل چې دا ولي او دا صفونه برابر کړئ د یو بل سره جوخت شئ . او که داسې نه کوئ نو الله تعالی به ستاسو د زړونو او ستاسو د مخونو په مینځ کښې اختلاف پیدا کړي:

قَالَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَاَنْتُمُ الْيَوْمَ اَشَدُّ اِخْتِلَافًا[1]

ابو مسعود رضی الله عنه فرمائي رسول الله ﷺ وئیلي وو صف به سم کړئ که صف نه سموئ نو الله تعالی به ستاسو په مینځ کښې اختلاف پیدا کړي . دا ابو مسعود انصاری دي خلقو ته وائي چې ددې حدیث د نه عمل کولو وجې نه یعني د صفونو د نه سمولو د وجې نه ستاسو په مینځ کښې ډیر اختلاف دے . کله چې د چا صف برابر نه وي او مونځ کوي نو ددې خلقو په مینځ کښې به اختلاف پیدا کیږي دا رسول الله ﷺ وئیلي دي .

حافظ ابن حجر رحمه الله وائي د حدیث یو مقصد خو دادے چې کله د چا صف برابر نه وي نو ددې خلقو یو اثر خو به دا وي چې کیدے شي چې الله د دې انسان دا مخ په شاباندې کړي او دا حدیث به داسې وي لکه څنګه چې الله تعالی سورة النسآء کښې اهل کتابو ته الله وئیلي چې ایمان راوړئ اوکه نه ئې راوړئ نو یا به درباندې لعنت وکړم او یا به ستاسو دا مخونه پشان د شاګانو وګرزوم.

[1] صحیح مسلم للنسابوري رقم الحدیث ۱۰۰۰ باب تسویة الصفوف واقامتها

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يا په هغهٔ بل حديث كښې راغلي دي چې نبيﷺ فرمائي چې مخكښې د امام نه سر مه راپورته كوه هسې نه چې الله دي دا سر د خر نهٔ كړي. مقصد د حديث دادے كوم مسلمانان چې مونځ كوي او صف كښې يو ځائ والے نه راولي. ددې امكان شته چې الله ورله دا مخ بشان د ښځ وګرځوي. او دا هم كيدے شي چې مخ بدليدل عبارت شي د زړه نه معنى الله ورله دا زړونه بدل كړي خو د زړه د اختلاف د وجې نه اختلاف د مخونو راځي. بيا يو يو طرف ته مخ اړوي او بل بل طرف ته بهرحال د حديث چې هر يو مقصد شي خو په دې دلالت كوي چې د صف سمول دا د مانځه د لوازمو او د فرائضو نه دي. كه صف برابر نه وي نو مانځه ته به دي نقصان ورسي.

په يو حديث د بخاري كښې داسې راځي چې نبيﷺ اوفرمائيل أَقِيْمُوْا صُفُوْفَكُمْ وَتَرَاصُّوْا"[150]. زما صحابۇو صفونه برابر كړئ او د يو بل سره جوخت ودريږي.

په يو بل حديث د ابوداود كښې راځي چې رسول الله ﷺ فرمائي رُصُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَقَارِبُوْا بَيْنَهَا"[151] داسې دا صف جوخت كړئ لكه څرنګه دا آبادي په سيمټو سره جوخته شوې وي.

په بل حديث كښې راځي رسول اللهﷺ فرمائي

وَسُدُّوا الْخَلَلَ فَإِنَّ الشَّيْطٰنَ يَدْخُلُ فِيْمَا بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْحَذَفِ[152]

---

[150] صحيح البخاري باب اقبال الناس عند تسوية الصفوف رقم الحديث ۷۱۹

[151] سنن ابي داود باب تسوية الصفوف رقم الحديث ۶۶۷

[152] مسند احمد بن حنبل رقم الحديث ۲۲۲۶۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



رسول الله ﷺ فرماني صفونه برابر کړئ او دا سوري په مينځ کښې بند کړئ په دې کښې دا شيطان ننوځي لکه څرنګه چې د ګډې بچې د خپلې مور په خېو کښې ننوځي.

بل ځائ نبی ﷺ فرماني

وَلَاتَذَرُوافُرُجَاتِ الِلشَّيْطَانِ وَمَنْ وَصَلَ صَفًّاوَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللهُ[1] رسول الله ﷺ فرماني د شيطان چې دا کوم سوري دي دا په مينځ کښې مه پرېږدئ نو چا چې صف پيوسته کړو الله به ئې د خپل ځان سره پيوسته کړي او چا چې صف قطع کړو نو الله به ئې د خپل ځان نه لرې کړي. دا هغه سُنت دي چې د ټولو مسلمانانو په نيز اتفاقي سُنت دي. اوکه د عمل مېدان راشي نو ټول مسلمانان ددې نه مخالف دي د عمل په مېدان کښې.

يو عالم تير شوے دے علامه عبدالرحمن مبارکفوری رحمه الله د هغه يو کتاب دے ابکارالمنن هغه وائي که نن دي چاته خپه ورنزدې کړه او يا دي چاته اوئيل چې دا ولے دي رانزدې کړه نو ته به وائي دا سړے دي په غشي يا توره وهلے وي. داسي به ستا نه نفرت شروع کړي.

بخاري کښې راځي انس بن مالک رضی الله عنه ته چا اوئيل زمونږ په دې مانځه کښې کوم يو شئ داسې غلط ښکاره شو چې هغه د رسول اللهﷺ ده طريقې سره برابر نه دے. نو انس بن مالک ورته

[1] سنن ابي داود رقم الحديث ٦٦٦

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اونبل مَا انكرت الشَّيْئًا اِلَّا اِنَّكُمْ لَاتُقِيْمُوْنَ الصُّفُوْفَ[154] ماته ستاسو په مانځه کښې غلط کار دابنکاره شو چې تاسو صف سم نۀ برابروئ.

عمر بن خطاب رضی الله عنه هغه به کسان مقرر کړي وو چې کله به اقامت وشو د اقامت نه روسته به ني کسانو ته وئيل چې په صفونو کرخي روسته اومخکښې څوک وي نودا خپې اولاسونه ورله د يو بل سره جوخت کړي. چې کله به ورته چا اوئيل صفونه برابر شول نو رابهر به شو او بيا به په جمع ودريدو. خو چې کله به د چا صف برابر نه وو نو يَضْرِبُوْهُ نو وهۀ به ني.

او د بلال رضی الله عنه هم دا طريقه وه چې کله به د عمر رضي الله عنه د طرف نه مقرر شوے وو. نو چې کله به د يو بل سره جوخت څوک نه وو ولاړ نو هغه له به ني يو ګزار دې خپې له ورکړو چې خپه دې سمه کړه.

موطا امام محمد کښې د عثمان رضی الله عنه طريقه رانقل کړي ده. چې عثمان رضی الله عنه به د صفونو په سمولو باندې ډير کسان مقرر کړي وو چې کله به ټول راغلل ورته به ني اوئيل چې صفونه برابر شو نو رابه غلے او مونځ به ني وکړو.

دغسې طريقه د علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه هم نقل ده.

بهر حال د احاديثو نه داسې معلوميږي چې کله مونځ کوي نو د يو بل سره به جوخت ودريږئ.

يو ځل رسول الله صحابوته راوتلو او ورته ني اوئيل مَالِیْ اَرَاكُمْ

[154] صحيح البخاري باب اثم من لم يتم الصفوف رقم الحديث ٧١٩

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



عزيزَنَ دا ولې دلې دلې ناست ني بيا بل وخت راوتلو او صحابو ته ني اونيل آلاتَصُفُّوْنَ كَمَاتَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَرَبِّهَا.داسي صفونه ولې نه جوړوئ لکه څرنګه چې ملائک دالله په مخ کښې صفونه جوړوي فَقُلْنَايَارَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ تصف الْمَلَائِكَةُ عِنْدَرَبِّهَا قَالَ يَتِمُّوْنَ الصُّفُوْنَ الْأُوْلٰى [155].نبی ﷺ اوفرمائيل د ملائکو د صفونو د جوړولو طريقه داده چې ملائکې اولني صفونه پوره کړي.بيا دويمه طريقه د ملائکو داده وَيَتَرَاصُّوْنَ فِي الصَّفِّ (رواه المسلم) هغې په دې صفونو کښې د يو بل سره جوخت ودريږي.داسي صفونه جوړول غواړي چې څرنګې ملائک صفونه جوړوي.ملائک وائي وَّ اِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ۝ وَ اِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ۝ [156] بله اهمه خبره داسي ده چې ډير خلق داسي وي چې کله مانځه ته راشي او په مخکښې صف کښې ځاې وي او دا په شاته صف کښې ودريږي.نو دا خبره يادساته نو ددې سړي مونځ نه کيږي.دا د احاديثو نه معلوميږي.

حديث کښې دي

وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍقَالَ رَاٰى رَجُلًا يُصَلِّىْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهٗ فَاَمَرَهٗ اَنْ يُعِيْدَالصَّلَاةَ [157]

يوه اهمه خبره کله چې جمات ته راغلي او صف کښې ځاې نشته نو دلته درې طريقې دي.

---

[155] صحيح مسلم باب الامر بالسكون في الصلواة رقم الحديث ۱۱۹

[156] [سورة الصافات]

[157] سنن ترمذي باب ماجاء في الصلواة خلف الصف وحده رقم الحديث ۲۳۰

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



(۱) صحابو به داسي كول چې يو سړے به ئي راجدا كړو د مخكښني صف نه او نبي ﷺ فرمائي فَمَاأَعْظَمَ أَجْرُالْمُخْتَلِجِ نبي ﷺ فرمائي چې دا راشاته كيدونكي سړي له ډومره لوي ثواب كيږي. خو خيال ساته چې څوک راشاته كوي نو چې څه ناڅه د احاديثو نه خبر وي.

(۲) چې نه خو مخكښي ته څوک ځائ دركوي او نه درسره څوک شاته صف ته راځي نو د بل ملګري ته انتظار وكړه ځان له په صف كښي مونځ نه كيږي.

صف نه روسته يواځي مونځ كول

په صحيح حديث د ابن حبان كښي راځي لَاصَلَاةَ لفرد خَلْفُ الصَّفِّ[158] د هغه سړي مونځ نه كيږي چې هغه د صف نه ځانله ولاړ وي. يوه خبره په يو حديث كښي شته دے. يو صحابي ابوبكره رضی الله عنه داسي كار وكړو چې راغلے مانځه ته او ركوع ئي بهر د صف نه وكړه او بيا په دي ركوع كښي ځان راورسولو. نبي ﷺ چې كله سلام وګرځولو ابوبكره ته ئي اوئيل ياابوبكره دا كار دي چې نن كړے دے خير دے.خو بياد پاره داسي كار ونكړي. امام احمدبن حنبل رحمه الله هغه وائي ددي حديث نه داسي معلوميږي كه نفس ركوع سړے د مانځه نه بهر وكړي يعني د صف نه ځانله اګر چې نبي ﷺ دي صحابي ته داسي وئيلي وو. غوره قول داسي دے يو سړے نه ئي خبر او مونځ ئي ځانله د صف نه وكړو. نو د هغي واپس كول نشته. خو نن درته پته ولګيده چې رسول الله داسي وئيلي دي چې د صف

[158] صحيح ابن حبان رقم ۲۲۰۲

نه ځانله مونځ نه کیږي. دا صحابي تر هغه وخته پورے خبر نه وو.نو ورته پته ولګیده الله په قرآن کښې فرمائي وَمَاكَانَ اللهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْهَدٰهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَايَتَّقُوْنَ [1] .الله تعالى په چا باندې د ګمراهۍ فیصله تر هغه وخته پورے نه کوي چې تر څو پورے خبره ورته ښکاره کړي نه وي.

عبدالحمید یو راوي دے.وائي یو ځل مونږ په یو امام پسې ولاړ وو دې خلقو په مانځه کښې تیل جوړ کړو نو مونږ صف د ستنو په مینځ کښې جوړ کړو چې کله مونږ سلام وګرځولو. انس بن مالک رضي الله عنه اوئیل چې كُنَّانَتَّقِيْ هٰذَاعَلٰى عَهْدِرَسُوْلِ اللهِ [2] د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به مونږ د ستنو د صف نه ځان ساتلو دا صحیح حدیث دے. نبي ﷺ منع کړي ده چې د ستنو په مینځ کښې به صف نه جوړوي.بهرحال د صف سمول د یو بل سره ولي(اوګې) او خنګونان او خپې لګول داهغه سُنت دي چې په دې کښې د اُمت د هیڅ اختلاف نشته اګر که داسې مرتبه کښې اختلاف وي چې سُنت دي که واجب دي اوکه فرض دي. داسې اختلاف پکښې نشته چې دا دې کول ضرور نه دي. ددې وجې نه کله چې مانځه ته ودریږې نو د صف د جوړولو ډیر خیال ساتې. که د چا صف برابر نه وي نو مونځ ئې وشو خو پوره مونځ نه دے.الله تعالى دې ما او تاسو لره د صحیح مونځونو د کولو توفیق راکړي. (آمین)

[1] التوبة: ۱۱۵

[2] سنن أبي داود باب الصفوف بين السواري رقم الحديث ۶۷۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



# اَلْوَلَاءَ وَالْبَرَاء

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ۚ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ۚ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۚ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ۚ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ [101]

د الله د عظيم كتاب د سورة مجادله يو آيت ما ولوستلو دي آيت كښې الله د ايمان د پاره د يوې اهمې خبرې بيان كوي هغه داده چې يو څوك ځان ته مؤمن وائي اووائي الله منم آخرت منم. الله فرمائي ددے خبرې سره دا كيدے نشي چې دا دي د الله او د محمدرسول الله ﷺ د دشمن سره مينه محبت كوي كه د الله او د هغه د نبي ﷺ د تابعدارۍ دعوې كوي او په قيامت ايمان لري. او بل طرف ته د الله او د هغه د رسول د دشمن سره مينه كوي. دا نشي جمع كيدے.

الله فرمائي لَا تَجِدُ قَوْمًا داسې خبره موندلے نشي چې يوقوم دي داسې وي يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او بيا دي د هغه چا سره دوستي كوي يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ چې د الله او د هغه د رسول دشمن وي او دا دي ورسره دوستي كوي. د ايمان دوه كړئ (هاتهكنډي) دي. دا دوه كړئ چې په چا كښې نه وي راغلې هغه څوك دي ځان ته مؤمن نه

[101] سورة المجادله:

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



واني.

د ايمان اوله كړى البراء: چې د الله او د محمد رسول الله ﷺ د دشمن سره به اعلان د بائیکاټ کوي.

او دويمه كړى الولاء هغه داده چې الله او محمدرسول الله ﷺ چې چا سره مینه کول غواړي هغه سره مینه کول. دي دواړو کړو کښی که لږ خلل راغلے نو دي سړي ته مؤمن نه ونيلے كيږي. اګر كه شپه او ورځ مونځونه او زكاتونه ولي نه وركوي.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وائي ماته محمدرسول الله ﷺ ونیلي دی أَحِبَّ فِي اللهِ وَأَبْغِضْ فِي اللهِ چې زما صحابی الله د پاره خلقو سره مینه کوه او د الله د پاره خلقو سره بغض کوه. او بیا وائي فَإِنَّهُ لَا يَنَالُ طَعْمُ الإِيمَانِ إِلَّا بِذٰلِكَ د ايمان خوند ددې نه بغير نشي حاصلولے. بیا رسول الله ﷺ دي خپل صحابی ته نصیحت او وصیت کوي ورته فرمائي زما صحابی فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَصِلُ إِلَيْهِ طَعْمُ الإِيمَانِ وَلَوْ كَثُرَتْ صَلَاتُهُ وَصِيَامُهُ[162]. يو سړے د ايمان په خوند باندې ترهغه وخته پورې نه پوهيږي چې تر څو پورې دا خبره دړيكښې نه وي راغلي اګر كه شپه او ورځ په مانځه كښې ولي نه وي ولاړ اګر که ټول عمر روژه نیسي خو د هغه وخت ته پورې دا صفت دړيكښې نه وي راغلے نو رسول الله ﷺ فرمائي چې د ايمان په خوند به نه پوهه نشي.

[162] المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٢١١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



### د ایمان حلاوة:

بل حدیث کښې رسول اللهﷺ فرماني ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ چي درې صفتونه په چا کښې وي هغه به د ایمان په خوند پوهه شي او که دا درې صفتونه په چا کښې نه وي دا د ایمان په خوند او په مزه نهٔ پوهیږي. زمونږ او ستاسو داسي مثال دے لکه یو انسان چي تبې ډیرې ورخې اوکړي او هغه چې بیا خني خوږ شے هم وخوري نو هغه پرې ډېر تریخ لګي. زمونږ او ستاسو دا ایمان داسي مرتبي ته رسیدلے دے چي زمونږ او ستاسو شپیته اویا کاله ولي نه وي ماوتاسو داسي نه محسوسوؤ چې دا ایمان څه خوند او مزه لري او که نه لري. په یو ځائ باندي چې لږ شان محنت وشي نو خلق وائي دا ځائ خوږ دے یا تریخ دے. خو یو مسلمان نن داسي نشي وئیلے چې آو زما په ایمان کښې خوند شته او که زما د ایمان خوند نشته.

اولني نسخه دلته داسي ده أَنْ يَكُوْنَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا[1]. چې الله او رسول الله هغه ته ډېر زیات ګران وي محبوب وي د هر ځانه او د هر څهٔ نه ترهغه وخت پورې ته د ایمان په مزه نهٔ پوهیږي چې دا صفتونه درېکښې نه وي راغلي.

### د ابراهیم علیه السلام امتحان

غالبًا شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله وائي کله چې الله ابراهیم علیه السلام لره خوي ورکړو اولنے خوي اسماعیل وو چې کله د چا نوے

[1] صحیح مسلم باب بیان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الایمان رقم ٦٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بچې وشي او بيا به آخري عمر کښې وشي. د سو يا د ايک سو بيس کالو به عمر کښې وشي او د مخکښې نه ني بچې نه وي دا يوه ظاهره خبره وي د دغه بچي به زړه کښې يو زور او اثر وي. خو هر کله چې ابراهيم عليه السلام بل طرف ته د الله خليل وو. او خليل هغه ته وائي چې هغه په خپل زړه کښې د الله د مينې نه علاوه د بل چا مينه نه منی. نه ورته اوښل با ابراهيم حکم دادے چې خپل بچے دې حلال کړه . . . ورته امر ددې د پاره کوي چې دا خبره يوه ډيره ناشنا خبره وه إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى، او وئيل خوبه په خوب کښې د الله حکم دادے چې دا بچے دې حلال کړي. الله دا خلقو ته ښکاره کوله چې آيا د ابراهيم عليه السلام په زړه کښې رشتيا د الله مينه شته او که نه؟ خلقو ته ني ښکاره کوله ابراهيم عليه السلام چې الله ته محبوب د بر جوړ شوے وو. وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا.

ابراهيم عليه السلام ولې خليل الرحمن شو:

د خليل ني وجه ني څه وه؟ هغه ابراهيم يو کار کړے وو. قَدَّمَ مَالَهُ لِلضِّيفَانِ مال دې د الله د پاره د ميلمنو د پاره قربان کړے وو وَوَلَدَهُ لِلْقُرْبَانِ وَنَفْسَهُ لِلنِّيرَانِ وَقَلْبَهُ لِلرَّحْمٰنِ[1] اولاد دي د الله د پاره قربان کړے وو د بچي په باره کښې ني وئيلي وو چې بچيه تا به زه د جوړ کے د لاندي راولم د الله د پاره. او د خپل ځان په باره کښې ني وئيلي وو چې زما دا بدن دي د الله د پاره په أور وسوځي. چې هر کله نه د نفس مينه پاتې شوله نه د بچي مينه پاتې شوله نه د مال او نه د

---

[1] تفسير التفسير لابن قيم، والتفسير الكبير للامام الرازي ص ... ج ...

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ښځې مينه پاتې شوله چې ځپله ښځه ئي په يو هموار ميدان کښې پريښودله د الله د پاره. نو الله ورته اوئيل ياابراهيم ته خو زما خليل ئي. خلقوته ئي ښکاره کړه.

عرض مي ددې خبرې کولو د ايمان اولنی نسخه د لذت او د خوند دادہ چې د الله او د رسول الله مينه د هر چا د مينې نه زياته شي. په دې کښې به ستا پلار راځي. په دې کښې به ستا مور او ورور راځي. ستا د کلي رسم و رواج دا هر څه به پکښې راځي.

سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه د مور واقعه:

سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه د مور سره به ئي احسان کولو او د مور خدمت به ئې کولو چې مور لره به ئي څله کښې روټۍ ورکوله. دا به ئي وئيل چې دا زما مور ده او ددې سره ښه احسان کول په ما فرض دے چې کله مسلمان شولو مور ئي ورته وئيل بچيه مَاهٰذَا الدِّيْنُ الَّذِیْ اَحْدَثْتَ دا نوے دين دې د کوم ځاۓ نه راوړو بچيه؟ هغه ورته اوئيل موري دا نوے دين نهٔ دے دا زوړ دين دے اوس مونږ نه معلومات وشولو. غلط دين نه دے دا صحيح دين دے. مور ئي وئيل بچيه زه به ترهغه وخته پورې خوراک څکاک نه کوم تر څو چې تا دا دين نه وي پريښودے. او تالره به دا پيغور درکيدے شي چې سعد بن ابی وقاص د خپلې مور وژونکے دے. او هميشه د پاره به دې دا شرم په سر پروت وي. سعدبن ابی وقاص ورته اوئيل موري که خوراک کوي اوکه نه؟ خو يوه خبره واوره چې که ستا سل ساه ګانې شي او زه درته ګورمه او يوه يوه درنه ځي. نو دې خبرې ته تيار

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نه حو دي خبرې ته نه يم تيار چې زه خپل دين چرته پرېږدمه.[165]
الله په قرآن کښې ناشنا خبره کوي وائي داسې خلق په دنيا کښې شته
چې هغه نه مور ته کوري د الله او د رسول د مينې په مقابله کښې.
ولې؟ د ايمان په مزه به ددينه بغير پوهه نشي دا آيت د داسې خلقو په
باره کښې نازل شوے دے ﴿وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ
فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ
مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾[166]

که يو پلار، يو قام، يو قبيله تا د الله د نبي د سُنت نه دې آړوي نو
الله تعالى په قرآن کښې فرمائي فَلَا تُطِعْهُمَا بيا د پلار او د مور خبره
مه منه. اگر که د مور او د پلار سره ښېګړه کول په خپل ځائ دي.
خو د الله او د رسول په مقابله کښې د بل چا خبره منل نشته دے کښې
د انسان سه مزه به پوهه نشي.

د ابوبکر رضی الله عنه شجاعت:

بخاری کښې چې هغه واقعه راځي محمد بن الحنفيه رحمه الله د خپل
پلار علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه تپوس کوي وائي پلاره په
صحابو کښې ډېر بهادر او غيرتي انسان څوک وو. پلار ورته اوئيل
لوي بهادر او غيرتي انسان ابوبکر رضی الله عنه وو. کله چې محمد
رسول الله ﷺ له کافرانو عقبه بن ابی معيط په غاړه کښې څادر
وارتولو او ساه ئي ورله بنده کړي وه او ساه ئي نزدې وه چې وخيژي

---

[165] تفسير القرطبي تحت هذه الآية وان جاهدک علی ان لاتشرک......

[166] لقمان: ١٥

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او زړه يې د غه خاې کښې ولاړ ومه. او ابوبکر داسې يو سړے وو چې کله راورسيدو. وے وئيل اَتَقۡتُلُوۡنَ رَجُلًا اَنۡ يَّقُوۡلَ رَبِّیَ اللّٰهُ داسې سړے وژنې چې هغه څه ګناه کړې سوا ددينه چې وائي چې رب مې الله دے او چې کله کافرانو بنۀ اوهولو او بيهوشه شو. او کور ته ئې يوړو او بيرته نيمه شپه کښې په هوش باندې راخې نود خلې نه اولنۍ کلمه دا خيژي ! اے محمدرسول الله به چې څنګه وي؟ چې د الله او د رسول الله مينه د هر چا د مينې نه نۀ وي زياته شوي الله فرمائي د ايمان په لذت به پوهه نشي[167].

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه روايت دے رسول الله فرمائي.

اَوۡثَقُ عُرَی الۡاِیۡمَانِ د ايمان په کارو کښې د ټولو نه مظبوطه کړئ چې تا جنت ته رسوي هغه اَلۡحُبُّ فِی اللّٰهِ[168]. «رواه دارالقطنی واحمد»

د الله د پاره د چاسره مينه کول او د الله د پاره د چا سره دشمني کول دا داسې کړې ده چې الله د مؤمنانو په باره کښې فرمائي اَللّٰهُ وَلِیُّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ۙ یُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ۬ؕ وَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا اَوۡلِیٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوۡتُ ۙ یُخۡرِجُوۡنَهُمۡ مِّنَ النُّوۡرِ اِلَی الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِکَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۵۷﴾[169]

بيا الله تعالى مثال ذکر کوي چې د الله دوست جوړ شي او د الله سره مينه کوي او د الله د پاره د خلقو سره دشمني کوي الله فرمائي د دوئ په لاس کښې يوه کړئ ده لَا انۡفِصَامَ لَهَا. چرته به دا وُنه شليږي.

[167] صحيح بخاري باب مالقی النبي من اذی المشرکين رقم الحديث ۳۵۵۶

[168] مصنف ابن ابي شيبه رقم الحديث ۳۰۴۴۳

[169] سورة البقرة ۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عرش مې ددې خبرې کولو د ایمان مظبوطه کړئ داده چې د الله د پاره دوستي او د الله د پاره دشمني کول.

د عرش د سیوری لاندې اوه کسان

رسول اللهﷺ فرماني سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَاظِلَّ اِلَّاظِلُّهُ الله فرماني اووه کسان داسي دي چې الله به ورلره عرش د سیوري د لاندې ځای ورکړي چې په هغه ورځ به نور سیورے نه وي. په هغه کښې يو دادے اَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَايُحِبُّهُ اِلَّالِلّٰهِ[170] چې د چا سره مینه کوي او که د چا سره دشمني کوي نو د الله د پاره به ئې کوي.

(بخاری ومسلم)

د عرش د سیوري د لاندي به درله ځای درکړے شي. دا خبره دي په عمل کښې بته لګي چې آیا زما د الله د پاره د چاسره دوستي ده او د الله د پاره مې د چا سره دشمني ده په عمل کښې پته لګي په خُله خو هر څوک وائي چې زه د الله د پاره د خلقو سره دشمني کومه. د صحابوو عمل لږ کتل غواړي چې هغوي د الله د پاره دوستي کوله او دشمني هم دالله د پاره کوله. او که نا ددنیا د لالچ د پاره ئې کوله.

د عبدالله بن عبدالله بن ابی واقعه:

عبدالله بن عبدالله بن ابی ابن سلول رسول الله ته راغلے وئیل د الله رسوله زهٔ خبر شوے یمه چې خلق داسي وائي چې زما پلار پهٔ چا وژني؟ او تاته دا پته ده چې زهٔ د خزرج قبیلې سرے یمه او زما پشان احسانات د پلار سره بل چانه دي کړي. که سبا لره زما پلار څوک مړ

[170] صحیح البخاري رقم ۶۶۰ صحیح مسلم رقم الحدیث ۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کړي او زهٔ بېرته د خپل پلار دشمن په سترګو وینم او زما نه صبر ونشي. او بل مسلمان چرته مړ نه کړم. هسې نه چې زه جهنم ته لاړ شم. د الله رسوله ښه خبره به داوي چې ته ماته پخپله اجازت وکړي چې زه د عبدالله بن ابی ابن سلول سر په خپلو لاسونو راوړم. رسول الله ورته اوئیل بس ګوزاره ورسره کوه زه ئي نه په بل چا وژنم او نه ئې په تا وژنم. د ایمان په لذت باندې هغه خلق پوهه وو چې د هغوي دوستي او دشمني هر څه د الله او د رسول د پاره وه. هغوي د دنیا د پاره دوستي او دشمني د چا سره نه کوله. چې کله ددې خبرې نه خبر شو چې پلار مې رسول الله ته ذلیل وئیلے دے په حدیث کښې راځي د پلار د خُلې نه دا خبره وتلے وه لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّمِنْهَاالْاَذَلَّ [171] چې خوي ددې نه خبر شو وئیل د الله رسوله اول راته اجازت راکړه چې زما پلار تاته ذلیلهٔ وئیلے دے. ددې خبرې په وجه دده سر پریکومه. رسول الله ورته اوئیل لګه ګوزاره ورسره وکړه. وئیل ددې خبرې اجازت راته وکړه دا پلار مې ستا مخې له راولم. او دا به داسې اووائي چې محمدرسول اللهﷺ د ټولو نه عزت مند دے او زه د ټولو نه ذلیله یم. چې دا خبرې ئي څو پورې نه وي کړي نو زه ئي نه پرېږدم. را ئي وستلو او رسول الله ته ئي اوئیل ته عزتمند ئي او زهٔ ذلیله یم [172]. د الله او د رسول اللهﷺ سره مینه کله وي چې کله د الله او د رسول د خبرې مقابله راشي او ستا د پلار او د رور او د قبیلې

---

[171] سورة المنافقون

[172] تفصیل الواقعه في تفسیر القرطبي تحت هذه الایه وتفسیر ابن کثیر ص ۳۹ ج۳ ومسند حمیدي ص ۵۲۰ ج۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مقابله راشي چې ته د الله او د رسول خبري لره ترجيح ورکوي اوکه د بل چا خبري لره ترجيح ورکوي. پته به په هغه وخت کښې لګي.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما يو ځل خبره وکړه چې محمدرسول الله ﷺ وئيلي دي چې د الله وينځې چې دا ستاسو ښځې دي دا د جوماتونو نه مه منعه کوئ[173].

## د صحابه کرامو ديني غيرت

صحابه ډېر ښه پوهيدل د عمر ښځه وه خوي ورته اوئيل چې زما پلار ستا په جومات ته په تللو خفه کيږي. وئيل مه څه جمات ته. هغه ښځې اوئيل ماته دي عمر داسي اووائي کنه. چې جماعت ته مه څه. وئيلي دا خو درته نشي وئيلے. ځکه هلته رسول الله داسي وئيلي دي. چې که ښځې جماعت ته ځي نو تاسو ئي مه منعه کوئ. عمر رضی الله عنه شهيد شو او ښځه ئي په صف کښې ولاړه وه. ولې؟ عمر رضی الله عنه د مرګ پورې زړه دا نه غوښتل. غيرت ئي دا وو خو هلته د الله حکم بل طرف ته وو. د الله خلاف ئي نه شو کولے د الله او د رسول سره مينه او محبت مظبوط وو. چې کله دا حديث عبدالله بن عمر رضی الله عنهما بيانولو. ځوي ئي راپاځيدلو. بلال وئيل د نن نه پس به مونږ دا ښځې منعه کوو د جماعت نه. دا به په جوماتونو کښې فسادونه شروع شي. پلار ورته اوئيل بچيه ما درته د رسول الله ﷺ حديث واورولو[174]. او وئيل زمادي په الله قسم وي چې زه به ستاسره تر مرګه پورې خبرې ونکړم. او نه به دې جنازې ته حاضر شم.

---

[173] سنن ابی داود رقم الحديث ٥٦٦

[174] صحيح مسلم باب خروج النساء الی المساجد رقم الحديث ١٠٢٢

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او که زۀ مړ ؤومه نو چې زما جنازې ته حاضر نشې فَمَا كَلَّمَهُ حَتّٰى مَاتَ تردې چې ساه ئي وختله او بچي ته ئي بچې ونه وئيلو۔ د الله او د رسول مينه نه بيا خوي ته ګوري.او نه پلار ته ګوري.او نه خپلوان ته ګوري۔ خو چې رشتيا د الله او د رسول مينه د چا په زړۀ کښې واقع شي۔ دا خبره دي په عمل کښې ښکاره کړه چې د الله او د رسول مينه دي په عمل کښې شته دے او کنه ؟

او که هسې په خله باندي خان ته مؤمن وائي۔ الله فرمائي چې په ما باندې د چا ايمان وي نو د هغې يو خبره داده چې دا به زما د دشمن سره چرته مينه او دوستي نه کوي۔ اګر که پلار ولې نه وي۔

مصعب بن عمير رضی الله عنه د بدر په جنګ کښې د‌ده پلار مخې لره راغے د کافرو د طرف نه او توره ئي پرې وچلوله او سر ئي ترې کټ کړو۔ وئيل څکه زما د الله او د رسول سره مينه ده۔

اګر که ته زما پلار ئي خو ته د الله او د رسول په مقابله کښې نن ته ما ته ولاړ ئي لَاتَجِدُقَوْمًا دا کيدے نشي چې د الله او د رسول مينه دي وي او بل طرف ته د الله د دشمن سره ستا مينه وي۔ اګر که ستا پلار ولې نه وي۔

ابوعبيده بن جراح رضی الله عنه رور ئي مخې له راغے او توره ئي پرې وچلوله۔ وئيل روره زما د الله او د رسول ﷺ سره مينه ده۔ يو طرف ته الله او رسول الله منم او بل طرف ته دي د الله او د رسول د دشمن سره زما مينه وي دا زۀ نه منم ۔

ابوبکر رضی الله عنه ته ئي څوي اوئيل بابا په جنګ کښې داسي حال راغلے وو چې ته زما د غشي د لاندي راغلے وې خو ما څکه مړ نۀ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کړی چی ما وئیل پلار مې دے. ابوبکر رضی الله عنه ورته اوئیل بچیه که ته زما د غشي او تورې لاندې راغلے وے نو تا به زۀ لیدلے وے چې ما توره په تا ځنګه چلوله.

دا خو د کفر قانون دے چې الله او د رسول په مقابله کښې د پلار او د رور خیال ساتي. زۀ د الله په مقابله کښې د خوي خیال نه ساتم.

چې کله ئې پلار ابوقحافه د رسول توهین وکړو دا خوي ئې راووه لړیدو او د پلار د مخ نه ئې یوه توده څپیړه ویستله او راغے رسول الله ته اوئیل بابا مې په څپیړه باندې اووهلو. رسول الله ورته اوئیل ولې؟ وئیل ستا په باره کښې ئې داسې خبره وکړه. رسول الله ورته اوئیل د پلار د مخ نه دې څپیړه ویستله. وئیل آو د پلار د مخ نه مې څپیړه ویستله. ځکه چې د الله او د رسول دشمن وي اګر که پلار ولې نه وي. خبره داده روره چې د ایمان خوند که ګورې د ایمان لذت که ګورې دا دواړه خبرې نشي جمعه کیدلے چې یو طرف ته دې د الله او د رسول سره مینه وي او بل طرف ته د الله او د رسول د دشمن سره مینه او محبت کوې.

د عبدالله بن مغفل رضی الله عنه د خوي سره خبرې بندول:

مسلم کښې د عبدالله بن مُغَفل رضی الله عنه واقعه راځي چې خپل بچي ته ئې اوئیل دې بچي به ئې واړه کاڼړي راخستل او کاڼړي ئې داسې ګوزارل. پلار ئې اوئیل دا کاڼړي مه ګوزاره د دیته محمد رسول الله ﷺ منعه کړې ده او دا خبره ئې کړې ده چې دا کاڼړي ویشتل نه په دې باندې دشمن ته ضرر رسیږي او نه په دې څه کار کیږي. او کیدے شي چې د چا سترګه پرې ړنده کړي. په دویم کرتې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ئې خوي بيا کانړے راواخستلو ،ورته ئې اوئيل بچيه زما دې په الله قسم وي چې ستا سره به بيا خبرې ونکړمه۔ د الله او د رسول دشمن ئې ما درته د رسول الله حديث اوئيلو او ته بيا دغه کار کوې[175]۔

الله ځکه ما او تاته فرمائي لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ دا آيت دې په زړهٔ کښې وليکه،دا د قرآن آيت دے الله فرمائي دا کيدے نشي چې ته په ماباندې ايمان راوړې او بل طرف ته زما د دشمن سره ستا مينه او محبت وي۔ د الله دشمنان قرآن خودلي دي د الله د نبی ﷺ دشمنان هغه قرآن خودلي دي۔لنډ الفاظ دادي چې د الله او د هغه د رسول مخالف وي دا د الله او د رسول دشمنان دي۔ چې مونږ او تاسو ورسره مينه ورسره نه کوو۔نو څو کارونه به کوو۔

## درې خبرې دې روره

که الله او د رسول ﷺ دشمن وي او الله تالره د جهاد کولو توفيق درکړے وي اسباب درسره وي۔

اولنې طريقه داده الله فرمائي فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ د شيطن د دوستانو سره جنګ وکړئ۔

دويمه طريقه داده چې محمدرسول اللهﷺ فرمائي چې ناروا کار دې وليدو نو که پهٔ لاس دې طاقت وو نو په لاس ئې بند کړه او که په لاس دې طاقت نهٔ وو نو په خله ورته اووايه او که په خله دې طاقت نه وو نو په زړهٔ کښې ورسره بغض وساته۔او دا کمزورے ايمان دے۔ يو سړے د نبی صلی الله عليه وسلم د سنتو او د الله د احکامو

[175] صحيح ...

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مخالف دے او ستا په زړۀ کښې ورسره ددې عمل د وجې نه بغض
رانغلے نو نبی پاک ﷺ فرمائي ددېنه اخوا بیا دا دعوې مه کوه چې
کنې ستا په زړۀ کښې د شړشم د دانې برابر ایمان شته ۔ هسې خاز ته
مؤمن مه وایه۔

د شیخ الاسلام قول

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي چې د ایمان دا دوه کړئ یو
د الله او د رسول د پاره مینه کول او دوېمه د الله او د رسول د پاره
دشمني کول دا داسې کړئ دي چې په دې کښې په یوه کښې خلل
راغلے نو دا دي ځان ته مؤمن نه وائي ۔ بلکې د کلمې اولنۍ کړئ دا
ده چې لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ دا به د خُلې نه د لاسونو نه عرض داچې د هر اندام
نه د ټولو خدایانو قائل نه یم ۔ الا الله دا دویم کړئ دا د مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ
اللهِ کړئ ده ۔ دا بله کلمه چې محمد رسول الله ﷺ ددې یوه کړئ دا ده
چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دے چې هغه کوم قول او
فعل او څۀ راته ښودلي دي په هغې به عمل کومه ۔ او د محمد رسول
الله ﷺ نه علاوه بل د هېچا رسالت نه منم۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وائي هسې کلمه ته وائي خو د
کلمې په مقصد ته نه پوهیږي۔

امام شوکاني رحمه الله وائي که د چا په زړۀ کښې ددې اجزاؤ د
اَلْوَلَآءُ وَالْبَرَاءُ چې څومره نقصان وي نو هغه پورې دده په زړۀ کښې
ضعف او کمزوري وي۔

عرض مې ددې خبرې کولو رسول الله ﷺ یو ځل روان وو معاذبن

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



جبل رضی الله عنه ته ئې يوه خبره کوله. معاذبن جبل رضی الله عنه ني يمن ته ليږلو. ورته ئې اوئيل اے معاذه کيدے شي داسې وخت راشي لَعَلَّكَ اَنْ تَمُرَّ بِقَبْرِیْ کيدے شي زما په قبر به راشې او کيدے شي چې ما به ونه وينې. معاذبن جبل رضی الله عنه وژړل د ژړولو وجه ئې دا وه په جدائي د رسول. د سترګو نه اوښکي لاړې. رسول اللهﷺ مخ مدينې ته کړو ورته ئې اوئيل اے معاذه خفه کيږه مه. زما دوستان د قيامت پورې چې وي او زما په طريقه باندې وي زما سره به په جنت کښې يو ځائې وي [176].

الله په قرآن کښې وائي وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ [177] د مکې مشرکانو مونځ کولو. مکې مشرکانو زکواة ورکولو د الله په کور کښې مونځ کولو. هر يو صفت پکښې وو خو الله فرمائي وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ الله وائي د الله دوستان نه دي د الله دوستان هغه ته وائي چې هغه متقي وي.

عرض مې ددې خبرې کولو چې د الله د پاره زړه کښې به دا عهد کول غواړې چې ياالله ماچې دا کلمه وئيلې ده چې لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ستاسره مې د نن نه دا لوظ دے که زما په ايمان کښې کمزوري وي. که ستا څوک دوست وي د هغه سره به زما دوستي وي او چې ستا څوک دشمن وي هغې سره به زما دشمني وي. داسې به کوو. انشاءالله اقول قولی هذا استغفرالله

---

[176] سنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۱۷۳۱

[177] سورة الانفال

Scanned by CamScanner

# مصارف زکوٰۃ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَ الْمَسٰكِيْنِ وَ الْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَ الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَ فِي الرِّقَابِ وَ الْغٰرِمِيْنَ وَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ- فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ- وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝[173]

## د اسلام بنیادي ارکان.

د اسلام د رېم رکن په ارکانو د اسلام کښې زکواة ورکول دي.
یو صحیح حدیث کښې راخي د ابوهریره رضي الله عنه روایت دے دا فرمائي یو سړے راغلے اعرابی د محمدرسول الله خوا ته رسول الله ته ئي اوئیل د الله رسوله ماته داسې کار اوښایه چې زهٔ پرې جنت ته لاړ شم او د اُور نه بچ شم. اول ورته رسول الله د شهادة ان لااله الا الله وان محمدرسول الله او دویم ورته د اقامة الصلواة امر ئي کړے وو. چي کله ورته پنځه مونځونه اوښودل هغه اعرابي ورته اوئیل ددې نه راباندې نور زیاتي شته.وئیل نا. زکواة مفروضه ئي ورته اوښودل. هغه سړے اوئیلي ددې نه زیاتي څه نور زیاتي شته. رسول الله اوئیل نا.هغه حدیث کښې زما دا جمله مقصود ده چې کله سړے تلو نو دا خبره ئي وکړه وَاللّٰهِ لَاأَزِيْدُعَلٰى هٰذَاوَلَاأَنْقُصُ. وئیل زما دې په الله قسم وي دا څه چې دي راته اوښودل ددېنه به زیاتے او کمے نور نه کوم. رسول الله صحابو ته اوئیل مَنْ سَرَّهٗ أَنْ يَنْظُرَاِلٰى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ

[173] سورة التوبه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْإِلٰى هٰذَا"[170] كه يو څوک دا غواړي چې زۀ دنيا كښې جنتي انسان ته وګورم نو رسول الله اونيل دې سړے ته دې وګوري. په دنيا كښې چې څوک زكواة وركوي نو ته داسې وئيلے شي چې په دې حالت كښې مړ شوي ته به جنت ته ځي او داسې معلوميږي. بيا ښكاره چې زكواة څوک نه وركوي نو داد جهنم د تللو ذريعه ده. يو فرضي زكواة دے او يو نفلي صدقه ده. دواړه ښه اعمال دي.خو فرضي كښې دا مسئله ده چې ددېنه بغير جنت ته تلل نشي كيدے. خامخا به په جهنم كښې غوټې خوري مګر كه د الله رحمت دې لاندې باسي او په نفلي صدقه كښې مسئله داده. كه وردې كړه ثواب به دې زيات شي. او كه دې ورنه كړو نو د جهنم د تللو ذريعه نه ګرځي. اګر چې صحابؤ به د فرض او د نفلي د ټولو اهتمام به ئې كولو. يو خو صحابه دي چې د هغوي عمل چې سړے وګوري نو انسان ورته حيران شي چې ددې خلقو د صدقاتو سره څومره مينه وه.

د مرثد بن ابی عبدالله رضی الله عنه صدقه كول:

يزيد بن ابي حبيب رحمه الله يو راوي دے هغه وائي ما د رسول الله يو صحابي مرثد بن ابی عبدالله رضی الله عنه دا مې وليدو چې كله به دا جمات ته تللو نو ما به ليدلو چې ده به خامخا په جمات كښې صدقه وركوله إِمَّاخُبْزٌوَإِمَّافُلُوْسٌ يا به ورسره روټۍ په لاس كښې ورسره وه. او په جمات كښې به دا روټۍ مخكښې وركړه او يا به ورسره پيسې په لاس كښې ورسره وې. دا به په جمات كښې وركړې. خامخا به صدقه وركوله. يوه ورځ وائي ما وليدو چې كېږو كښې ځان

[170] صحيح البخاري باب وجوب الزكواة رقم الحديث ۱۳۲۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



سره پياز راخستے وو او داني صدقه كولو- وائي ما ورته اوئيل چې يا عبدالله ستا زخو شَجَرَةٌ مُنْتِنَةٌ دا يو داسې بوټے دے چې بوئي كوي. او تا چې سه كېره كښې نيولي دي او دا خو به خامخا ددې كېړو نه بوئي خي. په دې حال كښې دا پياز مه صدقه كوه. دا صحابي وائي زه چې كله جماعت ته راتلم كوركښې مې وكتل په كوركښې هيڅ نه وو سوا ددې نه او وائي ما د رسول الله نه يو حديث اوريدلے دے. چې رسول الله فرمائي ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ [180] چې قيامت په ورځ باندې به دده صدقه په دده باندې سيورے كوي. ددې حديث د وجې نه كه كور كښې د سره هيڅ نه وي. نو زه وايمه پياز خامخا صدقه وركول پكار دي. چې د قيامت په سيوري كښې خلل رانشي. د بعضې خلقو يو سوچ وي چې صرف فرضي صدقه وركول پكار دي. او بس په دې باندې زما غاړه آزاده شوله.

مال كښې زكواة نه علاوه هم حق شته دے:

يو حديث كښې رسول الله فرمائي إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكٰوةِ [181] په مال كښې د زكواة نه علاوه كورے حقونه شته. دا سوچ مه كوه چې زكواة مې وركړو او غاړه مې آزاده شوله. ستا په دې مال كښې د زكواة نه نور حقونه شته. د قرآن ظاهري نص په دې دلالت كوي لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ [182] يواځي نيكي دېته نه وائي چې

---

[180] صحيح ابن خزيمه باب اظلال الصدقة صاحبها يوم القيمة رقم الحديث ٢٢٣٢

[181] سنن الترمذي رقم الحديث ٦٥٩ قال الالباني في السلسلة الضعيفة ضعيف رقم الحديث في السلسة ٤٣٨٣ ص ٣٥٣ ج ٩

[182] سورة البقرة ١٧٧

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



صرف مؤنځ کومه. او بس زه جنتي یم بلکې الله فرمائي وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ الْمَلٰٓئِكَةِ وَ الْكِتٰبِ وَ النَّبِيّٖنَ ۚ وَ اٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَ الْيَتٰمٰى وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ ابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَ السَّآئِلِيْنَ وَ فِي الرِّقَابِ ۚ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَ الْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَ الصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَ الضَّرَّآءِ وَ حِيْنَ الْبَاْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ [183]

چې مال ورکوي د جمهورو مفسرينو قول دادے چې وَاٰتَى الْمَالَ د زکواة نه علاوه نور مال مراد دے. خو زکواة نه علاوه ستا په دي مال کښې نور حق شته. زکواة هم ورکړه او ددې سره هم په دي مال کښې دي د الله نور حقونه ورکړه. او دا ياد ساته که ته د الله حق په صحيح طريقې سره ورکړے. الله به ستا د مال حفاظت کوي الله ستا د پټي د پاره ځان له باران شي کولے.

د باغ والا واقعه

د صحيح حديث نه معلوميږي رسول الله د بني اسرائيلو د يو سړي قيصه کوله. يو سړے وو په خوشې ميدان کښې روان وو يو آواز ئي واوريدولو. وريځې نه خطاب کيږي چې يَاسَحَابُ اِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ [184] اے وريځې د فلانکي پټي او باغ ته د اوبو ضرورت دے. اوبه ورلړه ورکړه او دا سړے حيران شو چې وريځې ته خطاب کيږي. او د يو سړي نوم اخستلے کيږي او دا وريځه روانه شوله او په يو ځائ کښې ئي باران وکړو. او هغه اوبه په يو لښتي کښې رواني شولې. دا سړے

[183] سورة البقرة:
[184] صحيح مسلم باب الصدقة في المساكين رقم الحديث ۲۳۰۵

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



وائي زه په دې اوبو پسې روان ووم چې دا څوک سړے دے چې الله ورېخې ته خطاب کوي چې د فلانکي په پټي باران وکړه. وائي دا اوبه چې يو ځائ ته راورسيدلے يو سړے په باغ کښې لګيا دے. بيلچه ورسره ده او اوبه سموي خپل بوټو ته. ما ترې تپوس وکړو چې سړيه ستا څه نوم دے؟ هغه نوم ئې راته اوئيلو کوم چې ما په صحرا کښې اوريدلے وو. ما ترې تپوس وکړو چې ته څومره نيک عمله سړے ئې چې ورېخې ته خاص ستا نوم وائي چې د فلانکي پټي او باغ ته د اوبو ضرورت دے. ما ووئيل دېته چې ته دومره لوے سړے ولې جوړ شوے؟ نو هغه اوئيل چې کله باغ سر ته ورسيږي نو ددې باغ آمدن درې حصې کړم.

يو حصه بيرته په دې باغ لګوم.

دويمه حصه ترې د الله په لار کښې صدقه کوم.

دريمه حصه ترې د خپلو بچو د پاره پريږدم.

يواځې دا نه ده چې داسوچ وي چې ستا په مال کښې صرف زکواة دے هغه مې ورکړو خبره ختمه شوله. ستا په دې مال کښې نور حقونه شته. رسول الله ﷺ فرمائي دا مؤمن نه دے دا دې موړ وي او ددې ګاونډي دې وږے وي.

عرض مې ددې خبرې کولو زکواة فرضي صدقه ده ددېنه بغير ستا رکن الاسلام ته نقصان رسيږي. ستا د اسلام يوه حصه ورانيږي. ددې سره ته سوچ کوه چې ستاپه مال کښې د الله د بنديګانو نور حقونه هم شته.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


د اوبو د ورکولو ثواب:

يو ناشنا حديث دے وائي د قيامت په ورځ به سړے جهنم ته روان ئي او صفونه د جهنميانو به خپل وي او د جنتيانو به خپل صفونه وي. دا جهنمي به جهنم ته روان وي و د جنتيانو په صفونو کښې به يو سړے ويني او د لاس نه به ئي ونيسي. ورته به اووائي اے فلانکي تاته پته شته ما په تا باندې په دنيا کښې يو ځل اوبه څکلي وي تا ته دا خبره ياد ده. هغه به وائي آو. نو اوس ته الله ته سوال ورکړه چې ما الله د جهنم نه خلاص کړي. هغه جنتي سړے به اووائي اے الله ماله ئي په دنيا کښې د څکلو اوبه راکړي وي. الله ته به سوال وکړي يا الله د جهنم نه ئي خلاص کړه. هغه سړے چې جهنم ته تللو والا دے د يو ځل اوبو څکلو باندې الله دې لره جنت ورکوي.

سپي ته پئ اوبو ورکو باندې جنت ته داخل شو:

يو داسي نه ده چې ته ئي په مسلمان باندې وڅکي بلکې د صحيح حديث د بخارۍ نه داسي معلوميږي چې داسي دې وکړي چې يو سپے دې په اوبو موړ کړو او په هغه دې صدقه وکړه دا هم ستا د پاره د جنت زيرے کيدے شي. هغه سړے چې ډير تګے شوے وو اوبو کوهي ته راورسيد و په هغه کوهي کښې ورښکته شو. او د هغه نه ئي اوبه وڅکلي. چې پام ئي وکړو يو سپے وو چې ژبه ئي د تندي دلاسه راوستلي وه. او دې سړے اونيل دا سپے هغې مرتبې ته رسيدلے دے چې کومې مرتبې ته زه رسيدلے ووم. کوهي ته کوز شو او اوبه ئي ورلره راويستلي. او په هغه سپي ئي اوبه وڅکلي الله ورلره دا عمل قبول کړو فَغَفَرَلَهٗ دا سړے بدعمله وو الله ورته معافي وکړه چې تا لره

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ما حنت لازم کړو دا يواخي د سړو د پاره نه ده دا حکم د زنانو د پاره هم دے [185].

د بدکارې زنانه مغفرت

صحيح حديث کښې راځي اِمْرَاءَةٌ بَغِيَّةٌ يوه ښځه بدکاره وه چې ئي کله سپے وليدو چې هغه لمده خته څټله او دې ښځې سوچ وکړو چې دا سپے تږے شوے دے په خپله پنړه او لوپټه کښې ورلره اوبه راوسـتي فَشَكَرَاللهُ لَهٗ الله ورله دا عمل قبول کړو او جنت ته ئي داخله کړه [186].

عرض مې ددې خبرې کولو فرضي صدقه هم يوه اهمه خبره ده. خو ددې سره سره دا سوچ کول پکار دي چې ستاپه دې مال کښې د زکواة نه علاوه نور مال هم شته.

صحابو به مزدوري وکړه او چې څۀ به ئي وګټل نو هغه به ئي په مينځ باندې نيم کړه. نيم به ئي د الله په لار کښې ورکړه او نيم به ئي کور ته يوړو.

بهترينه صدقه:

او ښکه رسول الله فرمائي بهتر صدقه جُهْدُالْمُقِلِّ [187] د هغه انسان صدقه ډيره بهتره ده چې غريب ئي او ددې سره سره د الله په لاره کښې صدقه کوي. الله بيا تالره ډير زيات اجر درکوي. خو رسول الله داسې يو خبره کړې ده چې د مؤمن مثال داسې دے لکه چې دده د پاسه يوه

[185] صحيح البخاري رقم الحديث ۱۸۱

[186] صحيح البخاري رقم الحديث ۲۲۳۳.

[187] سنن ابي داود رقم الحديث ۱۶۷۹

Scanned by CamScanner

زغرږه پرته ده داچې کله کوټي ورورې نوساعت په ساعت دازغرږه کولاويږي. دا زغرږه دومره کولاو شي چې دده ټول بدن پټ کړي. تردې پورې چې ددې روستو آثار ختموي او هر څۀ ورله ختمه وي. دا د مؤمن سړي مثال دے. او د بخيل سړي مثال داسي وي زغره ئې دې ځائ ته کلکه شوي وي چې څومره دا زور کوي دا زغره نه مضبوطه کيږي. دا اراده د صدقې کوي خو ديته توفيق د صدقې نه ملاويږي.

بهر حال خيرات فرضي هم دا خو به خامخا کوي. خو ستا په دې مال کښې د فرضي نه علاوه نفلي صدقه هم شته. صحابؤ به هره ورځ داسي کوشش کولو. کله کله داسي کار ئې هم کړے چې يو لوے باغ ئې دے. دېته هغوي نه دي کتلي چې زما په مال کښې ما فرضي صدقه هسې ورکړې ده. د هغه ابوطلحه رضی الله عنه واقعه مشهوره ده يو باغ ئې وو. دا آيات ئې واوريدلو لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۚ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ۝ [188] رسول الله ته ئې اوئېل دا باغ مې غوره دے دا ماته ډير محبوب دے او دا الله ته ورکوم چې الله ئې زما نه قبول کړي. نو په مال کښې سوچ وکړه چې ستا په مال کښې آيا د الله د بنديګانو حقونه شته او کنه؟ ستا په دې مال کښې د زکواة نه علاوه نور حقونه شته. ددې خيال هم په تا باندي فرض دے.

ما د زکواة موضوع باندي بحث کولو. د زکواة په احکامو کښې اهمه خبره يوه داده. په دې آيات کښې آته مصارف الله ذکر کړي دي. دې اقسامو لره زکواة ورکړئ، ددې آتو(۸) نه علاوه که بل چالره زکواة

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



ورکوي نو زکواة دي نه کيږي.
حديث کښې راځي زيد بن حارثه رضي الله عنه فرمائي د رسول الله ﷺ خوا ته ناست وومه، يو سړے راغلے رسول الله ته ئې اوئيل اے د الله رسوله په صدقه کښې څۀ حصه راکړه . نبي پاک ﷺ ورته اوئيل کښه إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ النَّبِيِّ وَلَا لِغَيْرِهِ الله د زکواة په باب کښې د ﷺ په فيصله هم نه دے رضا او نه د بل چا په فيصله رضا دے.
بلکې الله د زکواة د پاره پخپله فيصله راليږلي ده. او کلمه د حصر ئې وئيلي ده چې زکواة به صرف دې کسانو له ورکوئ . نبي ﷺ دغه سړي ته اوئيل چې مونږ به ستا حال وګورو چې ته په دې خلقو کښې ئې نو بيا به درلره زکواة درکوو. او که پکښې نه ئې نو بيا ستا د پاره زکواة جائز نه دے.
ډير خلق زکواة ورکوي خو د زکواة مصرف نه پيژني . او ددې وجې الله په قرآن کښې فرمائي دا خلق ستا نه تپوس کوي مَاذَا يُنْفِقُوْنَ کوم مال ولګوو قُلْ الله ورته وائي: مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَ الْاَقْرَبِيْنَ وَ الْيَتٰمٰى وَ الْمَسٰكِيْنِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَ مَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ۝[189] زکواة چې په صحيح ځائ اولګې هغه ذريعه د ثواب ګرځي . او زکواة چې په صحيح ځائ ونه لګي نو بيا هغه ذريعه د ثواب نه ګرځي ته به خپل کوشش کوې چې په هغه ځايونو کښې ولګي چې الله پخپله مونږ ته په قرآن کښې ښودلي دي.

[189] سورة البقرة

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ دريم مصرف وَالْعٰمِلِيْنَ. زكواة به هغه چالره ورکوي چې څوک زكواة راټوليدو والا وي دې لره بيرته په زكواة کښې حصه ورکول صحيح دي. چې اسلامي حکومت وي په دې اسلامي حکومت کښې به څه کسان مقرر وي چې هغه به زکواتونه راغونډوي. ديته شريعت کښې عامل وائي. عامل که مالداره هم وي بيا هم پرې زکواة کيږي.

ابن سعدي رحمه الله يو تابعي دے عمر رضی الله عنه عامل جوړ کړے وو خپل نوم ئي عبدالله بن واقد دے. دا تابعي وائي ما د عمر رضی الله عنه د پاره خدمت کولو. عمر زه يو ځائ ته ليګلے ومه. ما زکواة راغونډ کړو. بيا ما لره عمر څۀ حصه راکړه ما ورته اوئيل إِنَّمَا عَمِلْتُهُ لِلّٰهِ ما دا کار د الله د پاره کړے دے. عمر رضی الله عنه ماته اوئيل ماهم د رسول اللهﷺ په زمانه کښې داسي کار کړے وو. او بيا مي ماله ... اخستلو نو رسول اللهﷺ راته اوئيل چې کوم مال تاته بغير د ... د سوال نه ميلاويږي، نه هغه قبلوه. او چې د طمع او د سوال ... هغه مه آخله.

علماء وائي چې کۀ عامل مالدار هم وي هغه لره د زکواة نه روپۍ اخستل جائز دي. بعضي خلق د اسلام نه، شريعت نه، عرف نه خلاف کار کوي. هغه دا دے چې د يو ديني کار په نوم روپۍ راغونډوي، او بيا ئي خانله په جيب کښې کيږدي. داخبره ياد ساتئ دا خيانت دے او د خيانت ډيره خطرناکه سزاده وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ دا به ډيره د شرم ذريعه وګرځي. او په دې کارونو باندې خلقو د تولو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مسلمانانو نوم بدنام کړے دے۔ حال داد ے چې اسلام ددې تقاضا نه کوي۔ اسلام مونږ ته آزادي ښائي۔ دا راته نه ښائي چې ته دې د خلقو نه سوالونه کوه او د دین کارونه پرې کوه۔.

عمر رضی الله عنه په زمانه کښې یو سړے وو په جماعت کښې ودریدو وئیل الله مو اوبخښه زه جهاد ته خمه او ما طره پیسې راکړئ چې زه پرې د جهاد سامان واخلم۔ او جهاد ته پرې لاړ شم۔ کنز العمال دا اثر راوړے دے۔ عمر ورته اوئیل دلته راشه. وئیل چې یو میاشت کښې دې ونه وینم۔ خپل کاروبار به کوي۔ او پیسې به ماله راوړے. میاشت روسته چې کله راغلے۔ نو وئیل څومره روپۍ دي وګټلې وئیل دومره۔ عمر رضی الله عنه ورته اوئیل اوس که جهاد ته ځې او که کور کښېنې۔ یو خبره یادساتې یو څوک د خپل ځان د پاره سوال کوي دا ناروا ده که ته پرې ددین کار نه کوي لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا الله په مونږ باندې د دین کار لازم کړے دے چې څومره زمونږ د وسعه کیږي ۔ یو داسې طریقه ده چې ته یو چاته د نیکۍ خودنه وکړي چې اے سړیه فلانکے محتاجه دے په هغه ته صدقه وکړي نو ډېر ثواب به دې وشي ۔ او دا کار به محمدرسول الله ﷺ کولو چې کله به رسول الله خپل صحابه اوګې ولیدل نو رسول الله به اعلان وکړو چې دا صحابه وګې دي ۔ نو هغوي به خوراک ورکړو۔ نو د عامل د پاره زکواة اخستل بغیر د طمع نه څهٔ حصه ترې واخلي نو په دیکښې څه ګناه نشته۔

د مؤلفة القلوب حکم

بل یو حکم الله ذکر کوي وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ یو څوک دے چې هغه د اسلام سره مینه شته۔ او ته وائي دا زکواة ورله ځکه ورکوم چې د

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اسلام سره ئې مينه نوره پيدا شي . زكواة ورلره وركړه خير دے.
بعضي وائي دا قول منسوخ دے دا قول غلط دے . صحابؤو پرې د
رسول الله د وفات نه روستو هم عمل كړے دے . يو سړے كافر دے
او بل ضعيف الاسلام والا دے او ته ورلره پيسې ددې د پاره وركړې
چې ددې د اسلام سره مينه پيدا شي . دا زكواة وركول ښه طريقه ده .
انس بن مالک رضي الله عنه وائي د رسول الله نه به چې په اسلام څۀ
غوښتل نو رسول الله به وركول . د رسول الله ﷺ به سوچ دا وو چې دا
سړے مسلمان شي . يو سړے راغلے او رسول الله صلى الله عليه
وسلم ته ئې اوئيل چې مسلمانيږم . وئيل مالره څۀ راكړه . رسول الله
اوئيل د دغه دوو غرونو په مينځ كښې چې كومې ګډې دي هغه
واخله . ... دا سړے مسلمان شو او كلي ته راغلے . خلقو ته ئې اوئيل
چې إِنَّ مُحَمَّدً يُعْطِيْ عَطَاءً لَا يَخْشَى الْفَقْرَ [190] . محمد ﷺ داسې يو سړے
دے چې داسې عطيه وركوي چې د غريبۍ نه نۀ ويريږي . ماله ئې په
دؤو غرونو كښې چې كومې ګډې وې هغه ئې راكړې . دا ورلره رسول
الله څكه وركړې چې بيا د هغه سړے نه دومره دعوت خور شو چې د
هغه كلي او علاقې خلقو ټولو ايمان راوړو . يو سړے دے هغه په
سنتو عمل نۀ كوي او ته ورته پيسې په دې نيت وركوې چې د سنتو
سره ددې سړي مينه پيدا شي دا څۀ غلط كار نه دے چې اسلام كله
په پيسو قبليږي نو سنت عمل هم په پيسو باندې قبليږي .
انس بن مالک رضى الله عنه فرمائي چې يو سړے به سخت دشمن د
رسول الله وو . رسول الله به ورلره لږ غوندې څۀ وركړل بس بيا به ئې د

---

[190] اخرجه مسلم رقم الحديث ٢٣١٢

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اسلام سره دومره زياته مينه پيدا شوله.

نبي صلى الله عليه وسلم ته يو ځل علي رضى الله عنه د يمن نه سرۀ زر راوليږل. رسول الله اقرع بن حابس، عيينة بن حصن .زيد الخيل دا د كافرانو مشران وو ددې زمانې نه مخكښې.هغه ټول سرۀ زر ددې په مينځ كښې تقسيم كړل. او د فتح مكې په ورځ رسول الله ابو سفيان له د حنين په غنيمتونو كښې سل اوښان وركړل. يو كس لره ئې سل اوښان وركړل بيا ئې ورلره سل اوښان وركړل. دا د ايمان د مينې د پيدا كولو د پاره دا زكواة په داسې ځائ كښې لګولو كښې ښۀ كار دے. يو ځل رسول الله ﷺ غنيمت تقسيم كړو. ځنې صحابه لږ خفه شو انصارو كشران صحابه هغوي لږ خفه شو وئيل مونږ توري د هغوي په وينو اوس ككړې دي هغوي له وركوي او مونږ لره څۀ نه راكوي. رسول الله چې ترې كله خبر شو د امر بن تغلب په روايت كښې داسې راځي چې رسول الله وئيلے اے صحابۇو زه كله چا لره څه وركړه كومه او بل څوک ما ته ددېنه ډير محبوب وي خو اَتَأَلَّفُ عَلَى الْاِسْلَامِ زه ئې د اسلام سره مينه په زړۀ كښې پيدا كومه او ددېنه ځنې ډير داسې كسان وي چې هغه ماته د هغوي نه ډير ګران وي يو په هغه كسانو كښې چې ماته ډير ګران دے عامر بن تغلب دا صحابي ده په زړۀ كښې ايمان شته. دي لره څكه څه نۀ وركومه. او بعض داسې كسان وي چې هغوي د ايمان سره څۀ مينه نه لرله.نو زۀ ورلره څكه څۀ وركومه. د اسلام او د مينې د پيدا كولو د پاره كله داسې شوے دے. ابوطلحه كافر وو روسته بيا مسلمان شو.دا وائي چې كله ام سليم نه مطالبه د نكاح وكړه هغوي راته اوئيلے نكاح درسره كومه خو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مخکښې به مسلمان شي.

غالبًا شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وائي مقصد د زکواة ورکولو د پیسو ورکولو لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا چې د الله دین اوچت شي. د دین هر یو کار د الله د پاره کول غواړي. خو دا ورسره یاد ساته چې د دین یو کار ته تا یو څوک په پیسو راواړولو په دې باندې الله تعالی تالره اجر او ثواب درکوي. څکه الله فرمائي وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ د چامینه پیدا کړه اسلام سره او په هغې باندې زکواة ولګوه.

روسته الله فرمائي وَفِي الرِّقَابِ د خلقو څټونه آزاد کړه په زکاتونو باندې. ډېر خلق داسې دي چې هغوي د پیسو د وجې نه په جیلونو کښې پراته دي. پیسې راواخله چې هغوي د جیلونو نه آزاد شي. او بیا الله فرمائي وَالْغٰرِمِيْنَ چا باندي قرض راغلے دے پیسې ورلره ورکړه او د هغه دا قرض خلاص کړه. غَارِمْ هغه چاته وائي چې څوک د بل چا د وجې نه قرض واړه وي. د یو دؤو مسلمانانو په مینځ کښې اختلاف دے او چې په څه ئي اختلاف دے هغه پیسې ئې د خپل جیب نه ډکے کړۀ. ستا مقصد دا وو چې د دوئ په مینځ کښې جوړه راشي.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# فضائل قرآن

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ شِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ۭ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝[191]

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّامَنْ اَبٰى قِيْلَ وَمَنْ يَأْبٰى يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ اَبٰى[192]

محترمو رونړو څنګه چې تاسو ته معلومه ده نن د الله تعالی د عظيم کتاب آخري ختم دے کوم چا چې دا محنت کړے دے الله دې د هغې نه په خپل دربار کښې قبول کړي او د کومو ماشومانو بچو چې دا ختم د قرآن دے الله تعالی دې د دوي د پاره د کاميابۍ ذريعه وګرځوي. او الله دې د اسلام خدمت د دوي نه واخستلے کړي.

د قرآني مجلس فضيلت

محترمو رونړو نن چې کوم مجلس کښې مونږ تاسو راجمع شوي يو ددې په باره کښې ابوقلابه يو حديث نقل کوي وائي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي کله چې د قرآن کريم مجلس وي او بيا خاصکر د هغې آخري ختم وي. او د قرآن کريم ددې آخري ختم ته څوک حاضر شي د هغې داسې مثال دے لکه مجاهدين جهاد وکړي او بيا مال غنيمت تقسيموي او دې اخر کښې يو سړے راشي هغه لره په مفتو کښې

[191] (سورة يونس)

[192] صحيح البخاري باب الاقتداء بسنن رسول الله رقم الحديث ٦٧٣١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مال غنیمت کښې حصه ورکړي. اګر چې جهاد بل چا کړے، ږخمونه بل چا برداشت کړي دي. لیکن دیته یه مفسو کښې مال غنیمت میلاؤ شي. دارنګې هغه خلق چې د قرآن کریم آخري ختم ته راجمع شوي وي. محنت بل چا کړے وي خان بل چا کړولے وي او دې قرآن والا لره چې الله کوم مقام ورکوي نو دې ټولو لره الله هغه مقام ورکوي.

ابوحمید الاعرج نه نقل دي وائي کله چې قرآن کریم ختم شي او دې آخر کښې دعا کیږي نو ددې په دعا باندې څلور زره ملائک آمین وائي [193].

ختم القرآن په موقع دعا قبلیږي

انس رضی الله عنه نه نقل دي وائي کله چې د قرآن کریم دا ختم شي نو په آخر کښې الله دعاګانې ډیرې ښې ښې قبلوي. نو انس به خپل کور خلق راجمع کړل او په آخر کښې به ئې دعا غوښتله [194]. دا طریقه د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه هم وه. هغه به وئیل چې د مجلس په آخر کښې الله دعاګانې ښې ښې قبلوي. نو هغه خلق راجمع کړه او په آخر کښې به ئې په شریکه دُعاغوښتله. او دا طریقه د ابن عباس رضی الله عنه هم وه.

زمونږ او ستاسو دې مجلس باره کښې محمد رسول الله ﷺ داسې فرمائي: د قرآن کریم مجلس ته چې کوم خلق راجمع شوي دي نو لَایَشْقٰی جَلِیْسُهُمْ ددې مجلس چې څومره شرکاء دي او څومره افراد دیته راجمع شوي دي رسول الله فرمائي دا به د خیر نه چرته نۀ

---

[193] سنن الدارمي رقم الحديث ٣٤٣٠

[194] سنن الدارمي رقم الحديث ٣٤١٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



محرومه کيږي. او کله چې د قرآن کريم مجلس وي او بيا اختتام ته ورسيږي په اخر کښې ملائکه داسې اعلان کوي قُومُوا مَغْفُورًا لَّكُمْ اے زما بنديګانو پاځيږئ په داسې حال چې ستاسو ګناهونه معاف کړے شوي دي[195].

ابن قيم رحمه الله دا د ساتوا، صدي يو عالم دے هغه وائي الله په دې دنيا کښې يو جنت پيدا کړے دے که يو انسان ددې دنيا دې جنت ته داخل شي نو په قيامت کښې به بې الله تعالى جنت ته داخل کړي او که يو سړے ددې دنيا د جنت نه محرومه شو نو نعوذبالله قيامت کښې دا سړے چرته نشي داخليدے. او دا مضمون د سورة الکوثر نه معلوميږي.

اهل العلم وائي الله زمونږ نبى عليه السلام لره دنيا کښې کوثر ورکړے وو چې قرآن کريم دے او قيامت کښې به الله زمونږ نبى لره حوض کوثر ورکوي. کوم انسانان دنيا کښې ددې حوض نه سيراب شي ددې مطابق عمل او زندګي اختيار کړي قيامت کښې به د محمد رسول الله د حوض کوثر اوبه اوڅکي. ليکن که نن يو سړے په دنيا کښې د قرآن کريم د حوض نه سيراب نشي ددې مطابق عقيده، عمل او زندګي نه وي. ياد ساتئ دا سړے په ورځ د قيامت د رسول الله د حوض کوثر اوبه چرته نشي څکلے.

د قرآن د لوستونکي مقام:

ددې وجې نه ابوعبدالرحمٰن السلمى چې کله به چا قرآن کريم ختم کړو نو هغه به دا سړے راوستلو او خپلې مخې ته به ئې کينولو او

[195] صحيح مسلم باب فضل مجالس الذکر رقم الحديث ۲۷۰۰.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ورته به ني ونيل "يَاهٰذَا اِتَّقِ اللهَ فَمَآ اَعْرِفُ اَحَدًا خَيْرًا مِنْكَ" اے سړيه د الله نه ويريږه چي ستاپشان بهترين انسان په مخ د زمکه باندې ماته نه دے معلوم .اِنْ عَمِلْتَ بِالَّذِیْ عَلِمْتَ که چرې عمل دې وکړو په دغه څۀ باندې دا څه دې چي ياد کړه نو په مخ د زمکه باندې ستاپشان بهترين انسان بل نشته۔

عرض مي دا وو چې مجلس د قرآن کريم آخري مجلس دے ددې په باره کښې محمدرسول اللهﷺ کله داسي فرمائي چي دې مجلسونو ته رسول اللهﷺ کله د جنت باغيچه وائي.محدثين دهغې يو مقصد بيانوي لکه څنګه چې جنتيان په جنت کښې خوشحاله وي دارنګي د قرآن کريم په مجلس کښې قرآن والا زړونو کښې الله اطمينان او خوشحالي راولي .قرآن کريم دا زمونږ او ستاسو د رب خبرې دي او زمونږ او ستاسو رب عظيم ذات دے .نو د هغې خبرې به دا ډيرې عظيمې خبرې وي او دومره غټې خبرې دي. قرآن کريم کښې الله فرمائي لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰی جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ"[196]۞بناء په يو تفسير که چرته الله په دې غرونو کښې معرفت او شعور پيدا کړے وے او بيا بي په هغې قرآن کريم نازل کړے وے نو د الله تعالي د ويرې د وجې نه او د قرآن کريم د عظمت د وجې نه غرونه به ټکړې ټکړې شوي وے .ها دا بيله خبره ده چي زما او ستا زړونه د ګناهونو د وجې نه داسي مقام ته رسيدلي دي چي د آثر نه معلوميږي۔۔۔

---

[196] سورة الحشر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د وحي سوج

امام بخاري د عائشې رضی الله عنها آثر نقل کوي وائي چې کله به په رسول اللهﷺ وحي نازلیده نو وائي سخته د یخنۍ ورځ به وه لیکن د رسول اللهﷺ د تندي مبارک نه به خوله راوانه وه. خکه دا زمونږ د رب خبرې دی ددې وجې نه محمدرسول اللهﷺ کله چې د دنیې نه رخصت کیدلو نو د بیمارۍ نه یو هفته مخکښې جومات ته راوتلے وو او په هغه کښې څۀ خاص وصیتونه کړي وو. مونږ او تاسو دې علاقه کښې کورو کله چې یو سړے ته پلار نیکه وصیت کړے وی نو هغه بیاداسې وائي چې مونږ ته د پلار نیکه وصیت دے. او مونږ او تاسو ټولو ته محمدرسول اللهﷺ آخره کښې یو وصیت فرمائیلے دے اے خلقو زه د دنیا نه روان یم خو لیکن تاسو کښې زه یو دوه څیزونه پریږدم که چرې په هغې منګولې ولګولې نو هیچرے به ګمراه نشئ. یو د الله کتاب او بل زما سنت[197]. ددې وجې نه دنیا کښې د ټولو نه غټ دوه مراتب دي یو ته امامت الصغرٰی وائي او یو ته امامت کبرٰی وائي. امامت صغرٰی د جومات مشري او امام کبرٰی د ملک مشري. نو رسول الله ﷺ داسې فرمائیلي امامت صغرٰی دا د چا حق دے رسول الله فرمائي اَقْرَأُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ[198] کوم سړے چې د الله په کتاب څه پوهیږي دا به د جمات امامت کوي. دا دلیل دے په دې باندې چې د قرآن کریم دا مقام دے که یو سړے وروکےدے د

[197] سنن الکبرٰی للبیهقي رقم الحدیث ۲۰۷۳۲

[198] صحیح مسلم رقم الحدیث ۱۵۷۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قوم او د نسب په لحاظ سره کمزورے دے. د مال په لحاظ سره کمزورے دے. لیکن رسول اللهﷺ فرمائي چې قرآن ورته یاد وي نو د جومات د امامت لائق دے. او دا تاسو گورے واقعي دا وړوکے بچي قرآن کریم یاد کړي جمعي ته مخکښې شوے دے په ده پسې سپین کري او خوانان ولاړ دي. او د دنیا په لحاظ سره غټو عهدو والا ولاړ دي او وړوکے بچے قاري د قرآن مخکښې شوے وي. دا ولې؟ دا دلیل دے په دې باندې چې د الله عظیم کتاب دې لره ئې دا مقام ورکړے دے.

د قاري قرآن مقام

جنگ أحد کښې چې کله اویا کسان شهیدان شو نو د ضرورت په بناء باندې په یو لحد کښې دوه دوه کسان خښول. رسول اللهﷺ به تپوس وکړو چا لره به چې قرآن کریم ښهٔ ورتلو هغه به ئې په لحد کښې مخکښې ایخودلو. دا خو لوئ مقام دے د قرآن والا ؤو[199].

او امامت کبری چې هغې ته د ملک مشري وائي دا د چا حق دے. تفسیر قرطبي ددې آیت د لاندې وَ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً.[200] لیکلي وائي د ملک مشرې امامت د هغه چا حق دے چې د چا سره د قرآن او د سنت علم ورسره وي. اگر چې دا بیله خبره ده زما او ستا عمل د وجې نه الله په ما او تا داسې مشران مقرر کړي چې سوره اخلاص نه ورځي ورنه د ملک د مشرې لائق به

[199] صحيح البخاري باب من يقدم في اللحد رقم الحديث ١٣٤٧

[200] سورة البقرة ٣٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



محمد رسول ﷺ فرمائی دا علماء وي۔

د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د دور نه مخکښې يو بادشاه ؤو. هغه د علاقې مشران راجمع کړه هغوي ته ئې اوئيل تاسو څه رائے ده چې مونږ د ابوبکر او عمر رضی الله عنهماپشان شو۔ نو هغوي ورته اوئيل هغوي خليفه ګان ؤو او ته خليفه يې ۔ هغه ورته اوئېل د ابوبکر او د عمررضی الله عنهما د لاندې چې څنګه خلق ؤو تاسو هغه شان شئ مونږ به ابوبکر او عمر رضی الله عنهما پشان شو.او چې تاسو څنګه ئې دغه شان درباندې الله مونږ مقررکړي يو۔ بهرحال مقصد مې دا ؤو چې دنيا کښې دؤه لوې مقامونه دي ۔ يو امامت صغرى چې د جومات امامتى ده ددې مستحق هغه څوک دے چالره چې قرآن ښهٔ ورځي ۔او د ملک مشرې د هغه چاحق دے چې هغه په قرآن او سنت ښهٔ پوهيږي۔

د قرآن د معلم او متعلم مرتبه:

ددې وجې نه حديث کښې راځي خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ"[1]
غوره انسان په تاسوکښې هغه څوک دے چې قرآن کريم ياد کړي او بيا ئې نورو خلقو ته وښائې. داسې رسول اللهﷺ نهٔ دي وئيلي چې کوم سړے ډير حاجونه کوي دا فائده مند دے.کوم سړے ډير ذکرونه او تلاوتونه کوي دا فائده مند دے ۔ بلکه محمدرسول الله اوفرمائيل چا چې قرآن ياد کړو او بيا ئې نورو ته اوښائي دا فائده مند انسان دے۔دا ولې؟ځکه که ما او تا جهاد ايزده کړو نو هغه به د قرآن کريم نه ايزده کړو.

[1] صحيح البخاري باب خيركم من تعلم القرآن وعلمه رقم الحديث ۴۹۰۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ددې وجې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمائي خطيب بغدادي د هغه نه نقل کوي وائې کوم سړے چې د الله عبادت او بندګي بغير د علم نه کوي نو ددې سړي نقصانات به ډير وي. او فائده به ئې لږه وي او چې ما او تا دعوت زده کوو نو هغه به د قرآن نه زده کوو. ددې وجې نه کله چې قرآن نه وو راغلے رسول اللهﷺ دعوت نۀ دے کړے. په غارحرا کښې به ناست وو د الله عبادت او بندګي ئې کوله چې په هره طريقه باندې کوله خو کله چې قرآن کريم راغلے الله ورته فرمائي يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۝ . يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝ قُمْ فَاَنْذِرْ ۝ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝ د هغې نه پس بيا دعوت شروع شو. دا رنګ مونږ د ے. کۀ روژه ده. او نورو اعمال چې دي دا بغير د قرآن نه نه ايزده کيږي. ددې وجې نه بهترين انسان هغه دے چې قرآن ايزده کړي او بيائې نورو ته وښائي.

ددې وجې نه الله قرآن کښې فرمائي وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا [سورة الفرقان ۵۲] اے نبي ددې خلقو سره په قرآن باندې جهاد وکړه. علماء وائي په قرآن باندې لوې جهاد څنګه دے هغه داده چې يو خو ظاهرًا جهاد دے د کافرو سره ليکن د قرآن کريم د وجې نه لوې جهاد دا دے کله چې قرآن کريم بيانوي نو په مشرکانو باندې الله رد کړے دے. نو د مشرکانو مقابلے ته به ځان تيار کړي. قرآن په يهوديانو رد کړے دهغوي مقابلے ته به ځان تيار کړي. دارنګې په منافقانو باندې ئې رد کړے دے د هغوي مقابلې ته به تيار شي. په قسماقسم منکراتو باندې ئې رد کړے دے نو ددې ټولو خلقو مقابلې ته به ځان تيار کړئ. قرآن کريم د رب عظيم کتاب دے د قرآن مقام او فضيلت کۀ علماء بيانوي نو نه ئې شي بيانولے. ځکه دا د رب کلام دے دا د

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



انسانانو په طاقت کښې نشته چې د هغې فضيلت بيان کړي.

د قرآن مطالبات

ددې وجې نه قرآن کريم زمونږ او ستاسو نه يو څو مطالبات کوي.

محترمو رونړو ډير انسانانو دا قرآن ددې د پاره ذريعه ګرځولې ده
چې دنيا کښې بعض داسې انسانان شته چې دعوې د اسلام کوي خو
نعوذبالله د هغوې په کور کښې د الله دکتاب دا ظاهرې نسخه نشته
او دے مسلمان. او داسې خلق شته چې دده په کور کښې د الله
کتابونه پراته دي خو ليکن دده په ټول کال کښې چرته د الله کتاب نه
په کور کښې راخستے او نه په جمات کښې او دے مسلمان. ددې
وجې نه نن د هر چا سره د هرې خبرې وخت شته دے. د کاروبار
وخت شته دے. د تجارت وخت شته دے. د کراچۍ او سعودي
وخت شته. د اخبار کتلو د پاره وخت شته دے. د سکول او د کالج د
پاره وخت شته دے. د نيټ او د فيس بک د پاره وخت شته دے. که
نن وخت نشته صرف د الله د کتاب د پاره وخت نشته دا لوې ظلم د
الله د کتاب سره په معاشره کښې روان دے. بيا د بل چاته ګيلے کول
چې د فلانکي د وجې نه دا عذابونه راغله دا د ځان سره بے انصافي
ده. د الله د کتاب سره چې لوې ظلم وَاللهِ الْعَظِيْمِ د مسلمان په کور
کښې روان دے. کافر خو د الله دشمن دے د قرآن کريم دشمن دے.
خو زما او ستا معاشره کښې د قرآن سره لوے ظلم روان دے. ددې
وجې نه د قرآن کريم دا تش الفاظ ايزده کول او ددې تلاوت کول دا
فرض دې او ضروري دي. قرآن ځائ په ځائ فرمائي اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ
د قرآن کريم ظاهر تلاوت کول دا عبادت دے قرآن ته کتل عبادت

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے۔
عکرمه رضی الله عنه به قرآن راواخستو او په دې مخ باندې به ئې کېخودو . بېکل به ئې کړو او په ژړه به شو اوفرمائيل به ئې هٰذَا كَلَامُ رَبِّيْ وَمَنْشُوْرُ رَبِّيْ دا زما د رب كلام دے .او زما د رب منشور دے۔
عبدالله ابن مسعود رضى الله عنه به فرمائيل وائي دي قرآن ته كتل دا عبادت دے۔
عثمان رضى الله عنه به دومره ډير تلاوتونه كول د ډير تلاوت د وجې نه : قرآن كريم دا مصحف زوړ كړے ؤو. ددې وجې نه د قرآن د الفاظو تلاوت كول دا د مسلمان ذمه دارى ده۔نورو كتابونو تلاوت اوس نشته سيوا د قرآن نه۔
د تورات په تلاوت د نبی عليه السلام خفگان:
مشكواة كښي يو روايت راخي عمر رضى الله عنه يو ځل د تورات پاڼړه راخستي وه او هغهٔ يې لوستله.نو رسول اللهﷺ ورته اوكتل او د غصې د وجې نه تک سور شو صحابه كرام د هغه په صفت كښې فرمائي گوياكښې د هغه په دې مخ مبارک كښې آنار نچوړ كړے شو۔ ابوبكر رضى الله عنه چې ورته كله وكتل نو هغه خو پوهه شو نو عمر رضى الله عنه ته يې اوئيل واه مور دې بوره شه اَمَاتَرٰى بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ ته د رسول اللهﷺ دې مخ ته نۀ گورې هغه چې وكتل نو فوراً يې اَعُوْذُ مِنْ غَضَبِ اللهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّاوَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ نَّبِيًّا او بيايې اوفرمائيل يارسول اللهﷺ دا مې صرف ددې د پاڼړه راخستے چې بس تاته وښايم . رسول اللهﷺ اوفرمائيل اے

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



غمره دا خو د تورات باره ده خو بالفرض والتقدير كه موسى عليه السلام ژوندے وے نو د هغه د پاره دا جائز نه وه چې هغه دې د بل چا تابعداري كړې وے. هغه به زما تابعداري كولے او په بل روايت كښې راځي چې موسى عليه السلام ژوندے وے او تاسو په هغه پسې روان شوى وے نو گمراه شوي به وے[202]. حديث دليل دے چې د تورات په تلاوت باندې اوس ثواب نه ميلاويږي ثواب صرف د قرآن په تلاوت ميلاويږي. مونږ او تاسو دا ناست د نن نه اراده وكړو چا چې قرآن كريم ونيلے هغه دې كم ازكم يو سيپاره د ورځې تلاوت كوي. او چا چې نه دے ونيلے سپين كړي دې هغه دې د نن نه اراده وكړي چې دا الف دے او دا باء ده او كه مرګ پرې راغلے نو د الله نه اميد دے چې الله به ئې د قاريانو سره راپاڅوي.

او دريمه خبره داده چې د قرآن كريم مطابق عمل زندګي تيرول عقيده به دې قرآن مطابق وي. عمل به دې قرآن مطابق وي او ورسره د رسول سنت. ځكه الله قرآن كښې فرماني فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا[203] كه اختلاف راشي ستاسو په يو شے كښې نو الله او رسول ته ئې واپس كړئ.

او كله الله دا مي فرماني فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا[204] ستا په رب مې

---

[202] سنن الدارمي رقم الحديث ۴۴۴

[203] سورة النساء:

[204] سورة النساء:

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دی قسم وي چې د خلقو په منځ کښې چې کومې جګړې راخي او
رسول پکښې فیصله کونکے نه ګرځي دا سړے مؤمن نه دے.
اخـلافات چې راخي دا به په قرآن او سنت د رسول الله ختميږي. د
هغې مثال دا دے چې کله رسول وفات شو په صحابو مختلف حالات
راغله يعنی صحابه د ډیر غم د وجې نه چاړاګان شو او عمر رضی الله
عنه دومره لوي شخصيت ؤو چې نبی د هغه په باره کښې فرمائيلي
وو لَوْكَانَ بَعْدِىْ نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ[205]. چې زما نه بعد بل نبی راتللے نو دا
به عمر رضی الله عنه وے خو دده دومره حوصله خراب شوي وه دد
به وئیل چې رسول نه دے مړ او توره ئې راخستي وه وئیل که چا
اوئیل چې نبی مړ دے دا سر به ورله کټ کړم. ابوبکر رضی الله عنه
چې کله راغلے نو د عائشي رضی الله عنها کوټې ته راغلے نو رسول
باندې څادر مبارک پروت ؤو نو سر ئې پرې رابنکته کړو او ښکل
ئې کړو او په ژړا شو او فرمائيل يې چې کوم مرګ الله ستا د پاره
مقرر کړے ؤو هغه درباندې راغلے او بیا ورته وائی یارسول الله ﷺ
په ژوند کښې ډیرښائسته وي او پس د مرګ نه ښائسته يې او جمات
ته راغلے عمررضی الله عنه ته يې اوئیل کینه ابوبکر رضی الله عنه
خطبه اونیله او دا آیت یې اولوستلو وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ
قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۔ اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۔ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى
عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا ۔ وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ۝[206] او بیا ئې په اخر

---

[205] سنن الترمذي باب في مناقب عمر بن الخطاب رقم الحديث ٣٦٨٦
[206] سورة آل عمران ١٤٤

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کښې یوه خبره وکړه مَنْ کَانَ یَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَاِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، چاچې : محمد ﷺ بندګي کوله یقیناچې محمد ﷺ مړ دے وائی عمر رضی الله عنه چې کله دا آیت واریدو نو راوغورزیدو او بیا به صحابه په دې کوڅو کښې روان ؤو او دا آیت به ئې لوستو وَمَامُحَمَّدٌ اِلَّارَسُوْلٌ نو کوره دا اختلاف د صحابو راغلے په څه باندې ختم شو د الله په کتاب باندې ختم شو[207]۔

قرآن اختلافات ختموي

کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو درې اختلافات راغلل چې آیا رسول به دی مدینه کښې دفن کړو .او که نه مکی ته ئې ویسو .او که مسجداقصی ته ئې ویسو؟۔ابوبکر رضی الله عنه اوئیل ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دي د الله نبی چې په کوم ځائ کښې وفات شو په هغه ځائ کښې به ئې دفن کوی۔ اختلاف ئې راغلے نو اختلاف ئې د رسول الله ﷺ په حدیث ختم شو۔

دویم اختلاف ئې دا ؤو چې د رسول نه دا کپړې اوباسو او کنه؟ یوه ډله داسې وه وئیل چې کپړې ترې اوباسو ،هغې دویمې ډلې وئیل نه ئې ترې اوباسو۔ نو ابوبکر رضی الله عنه اوئیل ما د رسول الله نه اوریدلي دی چې د نبی عورت به نشی کولاؤهلے بلکې د کپړو د پاسه به غسل ورکولے شي۔دا اختلاف راغلے خو د رسول الله ﷺ په سنت ختم شو۔

مسلم کښې روایت راخي وائی عمر رضی الله عنه شام ته تللو د خان

[207] تفصیل الواقعه فی صحیح البخاري رقم الحدیث ۳۶۶۸

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سره ئې مجاهدين روان کړي وو. کله چې هغه ځائ ته نيژدې شو نو يو کس ورته راغلے په شام کښې وبا خوره شوې وه نو عمر د صحابو سره مشوره وکړه نو په هغه کښې دوه ډلې جوړې شوې - يوې ډلې اوئيل د کور نه راوتلي يو په الله توکل دے چې پرې ورځو. هغه دويمې ډلې اوئيل دا خو ستاسره د قريشو مشران او سرداران درسره دي او که چرې دوئ وفات شي نوزمونږ دقيادت اود رهنمائی به څوک نهٔ وي - په دې کښې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه راغلے وائی ما د رسول الله نه اوريدلي دي وائی کوم کلی کښې چې وبا ده هغه کلی لره به نه ورځې - عمر رضی الله عنه صحابه راواپس کړه [208] ځکه د رسول حديث ميلاؤ شو اختلاف ختم شو.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د بي بي واقعه:

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او د هغه د بي بي په مينځ کښې اختلاف راغلے۔ رسول زنانه وو لره ترغيب ورکړو اے زنانه وو تاسو صدقې ډيرې کوئ ما په جهنم کښې ډيرې وليدې. د رسول الله نه ئې تپوس وکړو دا جهنم ته مونږ ولې ډير ځو؟ نو رسول الله ورته اوفرمائيل چې تاسو کښې دوهٔ ناکاره صفتونه دي - يو خو داده چې تاسو خيرې ډيرې کوئ۔ او دويم داده چې د خپلو خاوندانو ناشکري ډيره کوئ۔ نو رسول الله ورته اوئيل صدقې کوئ.

زينب رضی الله عنها راغله چې دا ښځه د عبدالله بن مسعود وهٔ. عبدالله بن مسعود ته وائی زما صدقه په تا باندې کيږي هغه وئيل ته لاړه شه او د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړه هغې وئيل ته لاړه شه خو

---

[208] صحيح البخاري باب ما يذكر في الطاعون رقم الحديث ۵۷۲۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زینب راروانه شوه او د رسول الله ﷺ دروازه ئې وټکوله . بله زنانه ورسره ملګرې وه نو بلال راوتلو څنګه راغلې ئې . هغو وئیل د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړه زمونږ صدقه په خپلو خاوندانو کیږي؟ . خو زما نوم به ورته نه اخلې . بلال چې کله لاړے رسول الله وئیل څوک دي؟ کوره یو طرف ته امانت دے او بل طرف ته د رسول الله خبره ده . امانتو نه به شاته اوغورځوي او د رسول الله خبره به راواخلي . وئیل یارسول الله زینب ده وائي کومه زینب ده؟ وئیل د عبدالله بن مسعود کور واله ده . وائي چې زمونږ صدقې په خاوندانو کیږي . رسول الله وئیل او الله به تا لره دوچند آجر درکوي . یو د صدقې او بل د خپلوالي[209] . کوره د ښځې او خاوند په مینځ کښې اختلاف راغلے نو د رسول الله په حدیث ختم شو . لنډ مقصد مې دا دے زما او ستا په دې زمانه کښې دیني اختلاف راځي قرآن او حدیث کښې یوه مسئله شته دے بس وے کړه او چې نشته مه یې کوه . په دې زمانه کښې ناپوهه خلق ډیر اختلاف کوي . هلکه په دې مسئله کښې اختلاف وکړه چې هغه د ټول اُمت په نیز اتفاقي حرام وي . آمین بالجهر خبره ده . رفع الیدین مسئله ده . آته رکعته تراویح مسئله ده . په ټوله روژه کښې دا مسئلې وچیږي او عبادت ترې پاتې وي .

په دې جارکښې قاضي صاحب ته دي الله مغفرت نصیب کړي . وائي هغه به وئیل چې بچیه ډیر عمر مې په جارکښې قرآن بیان کړو وئیل جار واله هغه شان بانګیان جنګوي هیڅه فائده ئې ورله ورنکړه . په دې عوامو کښې داسې دي بعضې بانګیان جنګوي . بعضې مرزان .

---

[209] صحیح البخاري باب الزکواة علي الاقارب رقم الحدیث ۱۳۹۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او بعضی سپي جنګوي . نو په دې عوامو کښې اوس ناپوهه خلق پیدا شو هغه مولیان په خپل مېنځ کښې جنګوي . په مانځه کښې آمین په زوره چا اونیلو نو مونځ نې وشو او که چا ونه وئیلو نو هم مونځ یې وشو . دغه شان رفع الیدین دا خو د اختلاف خبره نه ده دغه شان اتهه رکعته تراویح مونږ صرف ګیله په دې باندې کوو چې مونځ په هغه طریقه باندې کوی په کومه طریقه چې محمدرسول الله ﷺ کړې دے . یو سړے دې دوه رکعته کوي خو چې د رسول الله په طریقه دې کوي او چې زر رکعته کوي او د رسول الله د طریقې خلاف وي نو الله نې نه قبلوي . نو مونځ به په هغه طریقه کولے شي چې رسول الله کړے وي . نو چې یو سړے یوکم دیرشت رکعته په پیخلس منټه کښې کوي او بیا د جمات نه راوځي وائی کافر مولا دے . او څوک وائی د بلا بچے دے . او څوک ورته وائی قاري صاحب دا مزې بړې نور راتینګ کړه . الله اکبر . دا په دین پورے توقې دي او که نه . مړه شل او آته پرېږده امام ابوحنیفه رحمه الله په داسې طریقه باندې کړې دي . عرض مې دادے چې قرآن او سنت کښې یوه مسئله راغلې ده نو هغه مونږ لره منل پکار دي . ګوره دا مسواک یو مسنون طریقه ده که چا استعمال کړو نو الله ورله آجر ورکوي . خو یادساتې که چا په مسواک پورے توقې وکړې چې دادې سه ږکې مکې راخستې دي . نو په اتفاق د علماؤو دا سړے کافر شو . ددې وجې نه آمین په زوره هم شته او په پټه هم شته د دواړو مونځ وشو نو که چا په زوره اونیل چې دا څه دغوا پشان رمبارے وهې په دې سړے کافر کیږي . رفع الیدین که یو سړي وکړل او بل سړي ونه کړه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو د دوارو مونځ کېږی خو که چا رفع اليدين وکړه او بل سړي ورته
اونېل چې دا سه مچان شړي نو په دې باندې دا سړے د ايمان نه
خلاص شو. د رسول الله په سنتو پورې توقې حرام دي. ددې وجې نه
داسې مشلې راتنکي کړه چې د ټولو امامانو په نيز اتفاق وي هسې
د بوهې د پاره يو مثال وايم چې جمات ته يو سړے راشي او دهٔ کيره
خريلې وي نو تاسو اووانئ چې د تمامو انبياؤ کيره خريلې ده؟ نه يې
ده. صحابو کرامو کيرد نه ده خراولي. امامانو کيره نهٔ ده خريلي. د
ټولو انبياؤ خلاف. د ټولو صحابو خلاف. د ټولو امامانو خلاف او
دومره عظيم جرم دے چې دا سړے په ولاړه ګنهګار. په بيت الله
ګنبې ګنهګار. په مانځه کنبې ګنهګار. په خوب کنبې ګنهګار
دومره عظيم جرم دے. ددے باوجود ستا سره په يو صف کنبې ولاړ
دے چرته دی ورته داسې ونه وئيل چې هلکه ته خو د څلور مذهبه
لاځه کوي د ټولو پيغمبرانو خلاف کوي. هغه ته څوک هيڅه نه وائی
خو که د رسول الله په سنتو عمل کوي دا کوه او دا مه کوه. مړه داسې
وکړه دا د څلور مذهبو خلاف چې کوي دغه ته اووايه. صرف دا خبره
مې کوله چې د قرآن کريم مطابق عمل دا ډير ضروری دے.

او دا څلورم حق راباندې د قرآن دے چې ددی نشر و اشاعت او
دعوت کول دي. زهٔ عوامو ته داسې وايم چې والله العظيم د الله لوی
نعمت وګڼړي په ځان باندې چې الله زمونږ او ستاسو په باجوړ کنبې
په هر جمات کنبې يو عالم او قاري پيدا کړے دے. ددې چې چا
ناقدري کړي ده الله تړې دا علماء اخستي دي. هغه حشر يې دے په
کومو خائينو کنبې چې علماء کرام نشته. د هغوی نه يې بيا تپوس

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



وکړئ. او ددې علماؤ نه فائده اخستل پکار دي.

د علماء کرامو مقام او مرتبه:

حسن رحمه الله فرمائيلي دي لَوْلَا الْعُلَمَاءُ لَصَارَ النَّاسُ مِثْلَ الْبَهَائِمِ[1] که دا علماء نه وے نو دا خلق به د حيواناتو پشان وے دا که ما او تاسو په معاشره کښې حلال او حرام پيژنو. جائز او ناجائز پيژنو دا علماء دي چې ما او تاته دين راښايي. نو ددې علماؤ نه دا فائده واخلئ چې په جمات کښې ترې د الله کتاب شروع کړئ.

او پنځم حق د قرآن کريم نفاذ يعني قرآن احکامات د خپل ملک نظام او آئين جوړول دا مقصدي خبره ده نن ما او تا ددې نه محرومه يو ولې اصل کار مونږ پريښودے دے چې جهاد دے په جهاد سره قرآن د ملک دستور او آئين جوړيږي. آخر کښې دا خبره چې څنګه مونځ او روژه په ما او تا فرض ده نو دغه شان د دوي بچو تربيت هم په ما او تا فرض دے.

ددې وجې نه رسول الله ﷺ فرمائي چې د قيامت د علاماتو نه يو داسې ده. داسې زمانه راروانه ده بنا په يو تفسير باندې چې خلق به د دنيا علوم کوي خو ليکن د دين علوم دا به نه حاصلوي ما او تا دي سحر په دي سرک ودريږو چې زما او ستاد علاقې نه سکول او کالج ته ډير خلق روان دي او که مدرسې ته. نو ددې بچو تربيت کول په مونږ او تاسو باندې لازم دے.

---

[1] احياء علوم الدين للامام غزالي ص ۱۱ ج ۱ کتاب العلم

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د قرآن اثر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَ اِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ۚ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ۚ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ[211]

وَقَالَ تَعَالٰى وَ اِذَا سَمِعُوْا مَاۤ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰۤى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ[212]

وَقَالَ تَعَالٰى اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَ مِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۫ وَّ مِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْرَآءِيْلَ ۫ وَ مِمَّنْ هَدَيْنَا وَ اجْتَبَيْنَا ؕ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ بُكِيًّا[213]

د الله د عظیم کتاب درې آثار دي په دنیا کښې.

اول اثر د الله د کتاب په دنیا کښې دا وي چې د انسان د سترګو نه اوښکې داسې رواني وي لکه څرنګه چې په دنیا کښې نهرونه روان وي.

دويم اثر د الله د کتاب دا وي که د چا د سترګو نه اوښکې لاړې نشي او نهرونه ترې لاړ نه شي. خو کم از کم په سترګو کښې ئي اوښکې راشي.

---

[211] سورة البقرة

[212] سورة المائدة

[213] سورة مريم

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دریم اثر: د الله د کتاب دا وي چې کم ازکم انسان تکبر پرېږدي او عاجزي پکښې راشي. او چې ددې درې واړه آثارو کښې یو آثر په تا ونشو نو په دې خبره باندې پوهه شه چې ستا په زړۀ کښې داسې مرض راغلې او ستا زړه داسې سخت شوے دے او ستا زړه داسې مرتبې ته رسیدلے دے چې په یوه خبره د قرآن په تا آثر نه کیږي.

بني اسرائیلو ته چې د الله د کتاب تلاوت کیدلو په هغوي کښې چې کله دا درې آثار نه راتلل. الله هغوي ته واني ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ ستاسو دا زړونه کلک شوي دي. د بیان حاصل دادے چې قرآن سړے اوري یا ئې لولي په هغه وخت کښې د انسان په بدن کښې. سترګو کښې د انسان په زړۀ کښې کوم یو کیفیت او آثر پیدا کیدل پکار دي او لازم او فرض دي. مونږ چې ټول قرآن وګورو او احادیث د محمدرسول الله ﷺ وګورو. آثار د صحابؤ وګورو. آثار د تابعینو ګورو. د قرآن لوے آثر په هر چا باندې دادے چې قرآن په اوریدلو ئې د سترګو نه اوښکې رواني شي. اوکله چې داسې ونه شوه. قرآن لولي یا ئې اوري او په دې حالاتو کښې د سترګو نه اوښکې نه تللې او زړه دې نه نرمیدلو نو ته پوهه شه چې ستا په زړۀ باندې د بل شے داسې آثر دے چې د الله د کلام آثر د هغې د پاسه نشي راتلے.

قرآن کریم کښې الله ځائې په ځائې دا موضوع ذکرکوي چې د قرآن لوستلو په وخت کښې په نیکانو باندې کوم حالات راځي او کوم صفت راځي. سورة اسرآء کښې د نیکانو خلقو حال ذکر کوي. چې نیکان خلق کله قرآن اوري په هغوي باندې څۀ صفت راځي. الله فرمائي قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖۤ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖۤ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا(۱) الله فرمائي چالره چې علم د قرآن ورکړے شوے وی مخکښې ددېنه او قرآن بيان ورته کيږي. اول صفت ئې دا وی يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا. پريوځي په زنو باندې سجده کوونکي او روسترو وائي وَّ يَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿سورة الاسراء﴾ او دوی وائي پاکي ده رب زمونږ لره يقيناً ده وعده د رب زمونږ خامخا پوره کړے شوي. دا دويم صفت دے.

دريم صفت دادے وَ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَ يَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ﴿سورة الاسراء﴾ او پريوځي په زنو باندې ژاړي دوئ او چې کله قرآن بيانيږي وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا زياتوي کوي دوي لره عاجزي.

د عبدالاعلى السلمى رحمه الله قول:

يو عالم دے عبدالاعلى السلمى رحمه الله وائي کوم يو انسان کوم يو عالم چې هغه قرآن وائي يا ئې اوري او د قرآن د اوريدلو په وخت د ده سترګو نه اوښکې رواني نشي. دا دې په دې يقين وکړي دا عالم نه دے ورنه الله په قرآن کښې فرمائي چې ما چا لره علم ورکړے وي.او د قرآن آياتونه ورته بيانيږي نو دا خامخا ژاړي.

عمر رضى الله عنه باندې د قرآن اثر:

عمر رضى الله عنه د قرآن دا آيت اولوستلو سورة مريم کښې الله فرمائي اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ بُكِيًّا ﴿۵۸﴾ د الله بنديګانو ته چې کله لوستلے شي آياتونه د رحمن ذات نو پريوځي سجده کوونکي او ژړا کونکي. عمر رضى الله عنه يو ځل سجده وکړه دا

(۱) [سورة الاسراء]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



آیت چې کله اولوستلو نو پریوتلو په سجده باندي[215] . او بیا ئي وژړل چې الله د خپلو بندیګانو کوم بندیګان اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ چې الله پرې احسان کړے دے . د هغوي خلقو په باره کښې الله داسي فرمائي چې قرآن ورته کله بیانیږي نو هغه خامخا ژاړي او وائي زه چې سجده اوس وکړم او ونه ژاړم زه پوهه شم چې څۀ کمے خو خامخا راغلے.او چې داسي یو سړے وي چې قرآن بیانیږي او چې د قرآن آثر په ده باندي نه کیږي . ولې نه کیږي؟روستو داسي وائي فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا [216] پس راغلل ددي نه روستو ناکاره خلق چې مونځ ئې برباد کړو. او روان شو په خواهش د نفس پسې نو زر دے چې مخامخ به شي سزا د سرکشۍ سره.

عروة بن زبیر رحمه الله د خپلې مور نه تپوس وکړو. مور ئې اسماء رضي الله عنها ده.وئیل مورې اصحاب د محمدرسول الله ﷺ چې به کله قرآن بیانولو یا به ئي پخپله لوستلو نو څۀ صفت به ئي وو. اسماء رضي الله عنها ورته وائي بچیه هغه صفت وو د صحابؤو چې کوم صفت الله د صحابؤو په قرآن کښې ذکر کړے دے . الله فرمائي اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ [217] ایاڅوک چې پرانستي وي الله تعالی سینه د دغه د پاره د اسلام نو هغه په رڼرا

[215] تفسیر ابن کثیر تحت هذه الایه

[216] سورة مریم

[217] سورة زمر

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



باندي دے خپل رب د طرف نه. اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ [سورة الزمر ٢٣] الله تعالى نازل كړي دي ډيرې خبرې چې كتاب دے پر شان بيابيابانيږي تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ۚ ثُمَّ تَلِيۡنُ جُلُوۡدُهُمۡ وَقُلُوۡبُهُمۡ اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ[218] "ويخته جرېږي او غوږے زيږ زيږ كيږي د هغه نه په څرمنو د هغه كسانو چې يريږي د رب خپل نه بيانرميږي څرمنې د هغوى او زړونه د هغوي د ذكر د الله نه. خو دويم قسم خلق داسې شته فَوَيۡلٌ لِّلۡقٰسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مِّنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ نو تباهي ده هغه چالره چې سخت دي زړونه د هغوي د اوريدلو د ذكر د الله نه داسې خلق په دنيا كښې شته چې د الله كلام بيانيږي او دده په زړهٔ كښې نرمي نه راځي. الله وائي داسې زړونو والا دي تباه شي اُولٰٓئِكَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ. دغه كسان په ګمراهۍ ښكاره كښې دي. ښه عمل په قرآن چا كړے دے. محمد رسول الله ﷺ به چې كله قرآن اوريدلو يا قرآن به كله ونيلو. حديث كښې راځي رسول الله ﷺ به داسې ژړل لِصَدۡرِهٖ اَزِيۡزٌ كَاَزِيۡزِ الۡمِرۡجَلِ"[219] لكه كټوے چې خوټكيږي داسې به محمد رسول الله د سينې نه آواز د ژړا راتللو او دا د قرآن داسې آثر دے چې يواځې په محمد رسول الله نه بلكې په ټول اُمت كښې چې څومره نيكان خلق

[218] [سورة الزمر]

[219] سنن ابي داود رقم الحديث ٩٠٤ باب البكاء في الصلواة

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تير شوي دي د قرآن آثر داسي دے که ايمان درپکښې وي. تا به ژړا نه راکاږي.

د نبی علیه السلام قرآن اوريدل:

يو ځل رسول الله ﷺ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته وائي قرآن راته اولوله هغه ورته وائي يارسول الله تاته قرآن اولولم، حال دا دے چې قرآن په تا نازل شوے دے رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې هؤ زه خوښوم چې د بل ملګري نه قرآن واورم. نو ماسورة النسآء شروع کړه چې دي آيت ته ورسيدم فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿سورة الانسآء﴾ نو څنګه به وي حال د دوي چې راولیږو مونږ د هر اُمت نه يوګواه. او راولو تا لره په دي ګواهي کونکے. عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائي رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې بس کړه. ماچې ورته وکتل فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ د رسول الله ﷺ د سترګو نه اوښکې رواني وي. او رسول الله ﷺ ما ته په ژړا ژړا کښې داسي وائي أَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ[220] چې الله ما د قيامت په ورځ به خپلي مخې ته د ګواهی د پاره پيش کړي. الله ته به اُووايم چې يا الله ستا نيک عمله بنده چې عيسیٰ علیه السلام هغه چې څنګه وئيلي وو هغه شان به زهٔ وايم وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ

[220] صحيح البخاري تفسير سورة النساء رقم الحديث ۴۲۰۶

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زۀ چې خو بورې به دوى کښې وُوم.ماته ئې حالات معلوم دي فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ۔ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۞[221]كله چې دې زۀ وفات کړے وُوم نو ماته د خپل اُمت پته بيا نشته ته په هر څۀ باندې گواه ئې۔

د رسول الله ﷺ طريقه داسې وه چې لوې لوې کافر به چې د قرآن كريم آواز د محمدرسول الله واريدلو.د هغه کافر د سترگو نه به اوښكې راونې شوې.هغه به په دې پوهه شو چې قرآن ناشنا کتاب دے۔

پۀ جبيربن مطعم د قرآن اثر:

بخارى كښې راخي رسول الله ﷺ د ماښام مونځ كوې۔سورة الطور لولې وَالطُّوْرِ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ او يو لوې كافر دے هغه وخت كښې لامسلمان شوے نه وو۔ جبير بن مطعم روستوبيامسلمان شوے وو۔ وائي محمدرسول ﷺ چې دا قرآن لوستلو په دغه وخت كښې.او وائي ما واريدلو او چې دې آيت ته رسول الله راورسيدلو.

اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ اے انسانه ته څۀ هسې بې فائدې پيدا كړے شوے ئې.او كه نه ته د خپل ځان پخپله پيدا كونكے ئې ۔ وائي چې دا آياتونه رسول الله ﷺ وئيل ۔ ماوئيل چې زړۀ مې والوتلو[222] اگر چې ومه كافر۔ څكه الله يوه ناشنا خبره كوي ته په دې پوهه شه چې ستا تلاوت يا د بل تلاوت په تا آثر نه كوي ۔ په دې پوهه شه چې ستا زړۀ ډير سخت دے۔

---

[221] مائده ١

[222] صحيح البخاري تفسير سورة الطور رقم الحديث ٤٨٥٤

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سورة الحشر کښې فرمائي

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ تِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝

بل ځاۍ ارشاد دے اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخَالِقُوْنَ الله وائي که دا قرآن ما په يو غر رالیږلے وے په غر کښې مې داسې صلاحيت پيدا کړے وے لکه څنګه چې مې تالره درکړے. هغه غر به ددې قرآن آثر د وجې نه ذره ذره شوے وے. خو انسانه ستا زړه د غر نه ډير سخت دے. قرآن درباندې آثر نه کوي.

د نبي عليه السلام ټوله شپه يو ايت لوستل:

حديث کښې راځي ابوذر غفاري رضى الله عنه فرمائي د رسول الله ﷺ سره مې يوه شپه مونځ کولو. يو آيت ئې وئيلو او د نبي ﷺ زړا وه او فرياد وو. ټوله شپه ئې په دې يو آيت کښې تيره کړه. صبا مې د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو اے د الله رسوله په دې يو آيت دې ټوله شپه تيره کړه. رسول الله ﷺ وئيل آو دا ډير لوې آيت دے.

إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝[223] که عذاب ورکوي دوي ته نو يقينا دوئ ستا بنديګان دي. او کۀ معافي ورته کوي دوي ته، ته زورور ئې او حکمتونو والا ئې. ټوله شپه رسول الله ﷺ دا يو آيت لولي او ژاړي رسول الله ﷺ ډير نرم زړۀ والا انسان وو.[224]

---

[1] سورة المائدة

[224] سنن النسائي رقم الحديث ١٠٠٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د رسول الله ﷺ ژړا

یو موقع کښې د رسول اللهﷺ چې کله خوي وفات شوے وو. ابراهیم هغه وخت کښې رسول اللهﷺ ژړلي دي [225]. کله چې عثمان بن مظعون رضی الله عنه وفات شو هغه وخت کښې ژړلي دي [226]. کله چې هغهٔ وخت کښې نمر تور شو په مانځهٔ باندي ولاړ وو. صلوة الکسوف ئې کولو او هغه په مانځه کښې سورة البقره اولوستله او وي ژړل. ولې؟ د قرآن د لوستلو آثر داد ے دا به ستا په دي زړه کښې یو انقلاب پیدا کوي. او چې نه پیدا کیږي نو بیا ورسره دا سوچ کوه ستا په زړهٔ کښې نقصان راغلے. ماو تا ددې دنیا په مینه کښې داسي ننوتلي یو چې قرآن راته د اول نه تر آخر پورې اولوستلے شي نو په ما او تا باندي څهٔ آثر نه کوي.

بلکې علماء یوه خبره کوي چې قرآن لوستل کیږي پکار دا ده چې ژړا درله بې اختیاره در شي. او که نه درځي لږ په دي خپل نقصان وژاړه چې قرآن ولې په ما آثر نه کوي.

عمر رضی الله عنه یوځل راغلے رسول اللهﷺ او ابوبکر رضی الله عنه دواړه ژاړل. عمر رضی الله عنه اوئیل یا رسول الله یا ابابکر ولې ژاړئ. که د ژړا څه وجه موجوده وي زه به هم وژاړم. سورة الانفال کښې دهغې واقعي تفصیل راځي دا یاد ساتې دا یو اخي رسول نه دے. قرآن داسي یو آثر دے چې د ټولو اصحابو تاریخ وګوري تاته به پته ولګي چې قرآن څومره ناشنا آثر کوي په خلقو باندي.

---

[225] صحیح البخاري رقم الحدیث ۱۳۰۱

[226] المصنف لابن ابي شیبه ص ۲۲۰ ج ۱۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



لوے صحابی د رسول اللہ ﷺ ابوبکر رضی اللہ عنہ رسول اللہ ﷺ چې کله بیماروو چې د هغې نه روستورسول اللہ ﷺ ددنیا نه لاړے.
رسول اللہ ﷺ دخپل کور ښخوته اوئیل مُرُوْا اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ ابوبکر رضی اللہ عنہ ته ووائي چې خلقو لره مونځ وکړي. عائشه رضی اللہ عنها فرمائي مامې خپلې ملګرې حفصې رضی اللہ عنها ته اوئیلې. رسول اللہ ﷺ ته اُووایه چې اَبُوْبَكْرٍ رَجُلٌ بَكَّاءٌ چې ابوبکر لره ژاړه ورځي چې قرآن لولي. او ددې د وجې نه به ئې څوک آواز وانهٔ وري. دابوبکر رضی اللہ عنہ په ځائ عمر رضی اللہ عنہ ته اُووایه[227]. ابوبکررضی اللہ عنہ به چې هر کرتې قرآن لوستو طریقه ئې داوه چې همیشه به ئې قرآن لوستلو د قرآن به پرې داسې آثر ووځ. پخپله به ئې ژړل او چې څوک به ئې خواته وو هغو به هم ژړل.

ابوبکر او ابن الدغنه واقعه:

بخاري کښې یو روایت راځي ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ یو ځل کافرانو ډیر تنګ کړو. ابوبکر رضی اللہ عنہ خپل سامان راواخستو. او وئیل ددې ملک نه نور ځم. ابن دغنه د کافرانو یو مشر وو، هغه ورله مخې له راغلے. وئیل اے ابوبکر چرته روان ئې. ابوبکر رضی اللہ عنہ ورته اوئیل دا خلق مې په خپل ملک کښې نه پریږدي. ابن دغنه ورته وائي په خپل ملک کښې دې څوک نه پریږدي وائي مِثْلُكَ لَایَخْرُجُ وَلَایُخْرَجُ ستا غوندې سړے هغه له پخپله پکار ده چې ددې ملک نه لاړ نشي. او ستا غوندې سړے به څوک ددې ملک نه وټه

[227] صحیح البخاري رقم الحدیث ۶۳۳ باب اهل العلم والفضل احق بالامامه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



باسي. خکه نه خو هغه سړے نې إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ
وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ. ته د خپلولی حق ساتي. د میلمنو خیال
ساتي. او په ځا چې مصیبت راشي ته ورسره مدد کوي. راځه زه به
درسره ملګرے شم او ټولو کافرانو ته به اووایم چې دې سړي لره ما
امن ورکړے دے. چې دۀ ته څۀ ونه وائي. ابوبکر رضی الله عنه
ونیل صحیح ده ماواپس بوځه. ابن دغنه په ټولو کافرو کښې
وګرځیدو ونیل ابوبکر لره ما امن ورکړے دے. دۀ ته به څه نه وائي.
خو ټولو کافرانو یو شرط ولګولو هغه داد ے ابوبکر کۀ په دې ملک
کښې پاتې کیږي نو شرط به دا وي ابوبکر به ښکاره قرآن نه وائي.
دا هغه سړے دے چې دده د قرآن یو آثر دے چې مونږ ویریږو چې
زمونږ ښځې او ماشومان به ټول په فتنه کښې اخته کړي.
ابوبکر رضی الله عنه ونیل صحیح ده. یو ورځ ده قرآن په کور کښې
لوستلو وَكَانَ رَجُلٌ بَكَّاءٌ دا یو سړے وو چې ژړل به ئې. د کور مخې
یو ځائ ته ئې جومات جوړ کړو. او په هغه ځائ کښې په مانځه
ودریدو. قرآن ئې شروع کړو او د قرآن د لوستو داسې یو آثر وو چې
د مشرکانو ښځې او ماشومان بیا ټول راجمع شو. کافرانو ابن دغنه
ته اونیل ابوبکر داسې قرآن لولي چې مونږ ویریږو چې دا ټول خلق
به زمونږ نه واړوي. دادې امن بیرته تاته واپس کړي[228]. او یا دې
ددې علاقې نه ځي. زما مقصد په کښې داوو ابوبکر رضی الله عنه
هغه سړے وو د الله کتاب به ئې چې کله لوستلو نو ډیر زیات به ئې

[228] صحیح البخاري باب جوار ابي بكر في عهد النبي رقم الحديث [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



ژړل۔

د عمر رضی الله عنه ژړا

عبدالله بن شجار رضی الله عنه وائي یوځل د سحر مانځه کښې زه شاته صف کښې ولاړ وم۔ عمر رضی الله عنه دا ځائ اولوستلو اِنَّمَآ اَشْكُوْابَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ[سورة يوسف۸٦] عمر وژړل چې یاالله ستانه سواچاته فریاد وکړم۔ وائي داسي ئې وژړل حَتّٰى بَلَّتْ دَمْعُهٗ تَرْقُوَتَهٗ چې دا مرئ په اوښکو لمده شوه.عمررضی الله عنه ټوله طریقه داسي وه چې قرآن به ئې کله لوستلو همیشه به پرې قرآن د غه شان آثر کولو۔

د یو راهب واقعه

یو ځل شام ته تلے دے۔د شام د یو راهب سره مخامخ شو او وي ژړل چا ورته اوئیل۔ امیرالمؤمنین ولې ژاړي؟وئیل ژاړم ځکه دا راهب مې چې ولیدو دا آیت راته رایاد شو چې الله په قرآن کښې فرمائي هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۝ د قیامت د هغه مصیبت نه خبر ئې چې دا ټول خلق به په هغه کښې راپټ ئي وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝ ډیر مخونه به په دغه ورځ ښکته وي.ذلیله به وي عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝ ځان به ئي ډیر ستړے کړے وي.ډیر مونځونه به ئي کړي وي۔ ډیر زکواتونه به ئي ورکړي وي نَّاصِبَةٌ هسې به ئي ځان ستړے کړے وي۔ یو نه هغه

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خلقو کښې دا کس هم دے. نه پکښې توحيد او نه پکښې اتباع د محمد رسول الله شته. نو زۀ دې خبرې وژړولم[229].

يو ځل عمر رضی الله عنه په لاره روان دے، يو ښځه ورله مخې له ورغله. ورته وائي عمره لږ ودريږه ښځې ورته اوئيل مَنْ خَافَ الْمَوْتَ خَافَ الْفَوْتَ څوک چې د مرګ نه ويريږي يو حکم د الله بيانۀ پريږدي. او چې څوک د قيامت د حال نه ويريږي دا لرې خبرې ورته بيا رانزدې شي. چې چاته دا پته وي چې زۀ به د الله مخې ته ودريږم. هغه ته لرې خبرې رانزدې شي. بيا ورته وائي عمره تاته پته شته ته هغه سړے وې چې تاته به مونږ عمير وئيلو. يو وخت بيا داسې راغلو چې تاته به بيا عمر وئيلے کيدو. يو وخت داسې راغلو چې تاته آمير المؤمنين وئيل کيږي، يادساته مَنْ خَافَ الْمَوْتَ خَافَ الْفَوْتَ چې څوک د مرګ نه ويريږي د قيامت ∴ ويريږي، هغه د الله په احکامو کښې آخوا ديخوا نه کوي فَبَکٰی عُمَرُ. خلقو ورته اوئيل ولې ژاړې؟وئيل ژاړم ځکه دا هغه ښځه ده چې الله د اوؤه آسمانونو د بره ددې خبرو ته غوږ اينښودے چې الله فرمائي دا خوله رضی الله عنها قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ۝[230]

علي رضی الله عنه يو ځل د سحر مونځ وکړو. او يو ځائ ته کيناستو نمر چې کله په ديوال راوختلو نو وې ژړل. وئيل اصحاب د محمد رسول الله ﷺ چې سحر به راپاخيدل. ببر سرونه به ئې وو. د اوښکو

---

229 مستدرک للحاکم رقم الحديث ۲۸۳۰ تفسير سورة الغاشية

230 سوره مجادله: ۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مغه آثار به ئې په مخونو باندې وو. خو ونيل تاسو نن ټول په غفلت کښې واقع شوي ئې. د صحابو پشان طريقه په تاسو کښې نشته.

صحابه کرامو د قرآن اثر

د عائشې رضی الله عنها خورے د خور خوي، واني چې يو خل ئې قرآن ئې لوستلو. د قرآن د آثر د وجې نه ئې دومره وژړل چې لوپته ئې لمده شوه.

عرض مې ددې خبرې کولو نن دې د خپل خان اصلاح وکړه او خپل خان ته وګوره چې په کوم وخت کښې دې الله د کتاب د وجې نه ستا د سترګو نه اوښکې تلې دي.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ يو ناشنا صحابي وو. او د رسول الله ﷺ ډير متبع وو. کله کله به ئې په يو آيت کښې ټوله شپه تيره کړه. او کله به ئې يو آيت واريدو نو ايسته به ئې ژړل. نافع شاګرد ئې واني دا آيت چې به ئې کله لوستلو وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ [231] الله فرمائي هره خبره که پټه او که ښکاره کوي ستاسو رب به ستاسو سره د هغې حساب کوي. په دې آيت پسې به ئې ډير ژړل.

ابوموسى اشعرى رضى الله عنه به چې کله دا آيت لوستلو يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝ اے انسانه څۀ شيئ دهوکه کړے ئې په رب عزت مند سره. نو ژړل به ئې. هره ګناه کوي او سوچ دې داوي کښې چې الله به ماته څۀ نه وائي. سندري غږوي او ته وائي چې الله به

[231] سورة بقره: ]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



ماته څه نه وائي. حرام خوري او وائي چې کنې الله به ماته څۀ نه وائي مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝ جاهله دالله د کرامت نه دي غلط فائده واخسته. او کله به ئي دا آيت اولوستو اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ [232] مؤمنه تا باندې تراوسه پورې هغه وخت نه دے راغلے چې د الله د کلام د وجې نه ستا په زړۀ کښې نرمي رانشي. شپېته او آويا کالو ته دې عمر ورسيدو او قرآن هره ورځ لولې خو ستا په بدن کښې ستا په زړۀ کښې د قرآن څۀ آثر او نښه ښکاره نه شوله. هغوي د قرآن په خوند پوهيدل د قرآن آثر د هغوي په زړونو کښې ووځکه؛ هغوي په زړونو کښې قسوت نه وو. قرآن ځکه وائي فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللهِ زړۀ دې تباه شه. پتا باندې قرآن آثر نه کوي. سوچ وکړه خان ته.

ځکه حديث کښې راځي د بدبختۍ يوه لويه نښه دا ده چې سترګې ئې وچې شولې. او د بدبختۍ يوه لويه نښه دا ده چې ستا په زړۀ کښې قسوت راغلے. بله نښه داده چې د چا د دنيا سره مينه پيدا شوله. دا انسان دې سوچ وکړې دا لوی بدبخته انسان دے.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ښځه وائي کله چې دا خليفه جوړ شو؛ هغه وخت نه دا ما په بستره نه دے ليدلے. يوه شپه ئې تهجد کول؛ دا آيت ئې اولوستلو يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝ وَ تَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۝ يوه چغه ئې وکړه او وئيل چې داسې ورځ راروانه؛؛

[232] [سورة الحديد ١٦]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چې يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ پۀ هغه ورځ چې شي به خلق پشان د پتنګانو خوارو وارو.

وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۔او شي به غرونه پشان د وړی ډاندس کړے شوي داسي ذره ذره به شي۔يوه چغه ئي ويستله. ښځه ئي وائي زه راپاسيدم چې څۀ چل وشو په سړي باندي وائي چې کله په هوش راغلے بياني د خولې نه داالفاظ اووتل. دا صباء خو ډير خطرناک دے۔ وائي بيا بےهوشه شو سحر پوري بےهوشه پروت وو۔وائي زما دا سوچ وو کنې چې مړ شوے دے ۔سحر چې آذان وشو نو په هوش کښې راغلے ۔ ښځه ئي وائي ماته مې د خاوند دا تاريخ رايادېږي.زما د سترګو نه بےاختياره اوښکې لاړي شي چې عجيبه سړے وو۔

خواته ئي يو سړي قرآن لوستو او دا آيت ئي اولوستو وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ [233] چې الله به د قيامت په ورځ دا اعلان وکړي او ما او تاته به اووائي چې اے مجرمه ددې نورو نه جدا شه نن۔او چې دا آيت ئي کله واريدو نو په ژړا شو. ملګري ئي وائي په مجلس کښې ئي دومره ژړا وکړه چې په ژړا ژړا کښې کورته لاړو۔چې الله به هر مجرم ته وائي چې اے ګناهګاره ددې نورو نه جدا شه۔په دنيا کښې ستا او د نيک عمله پته نه لګيدله۔تا به خان مسلمان شمارو او هغه به هم خان مسلمان شمارو۔نن نيک عمله يوطرف ته شي او بدعمله بل طرف ته شي۔

[233] سورة يٰسين ۵۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## د فضيل بن عياض رحمه الله واقعه

فضيل بن عياض رحمه الله يو لوے عالم د قرآن تير شوے دے دا يو لوے غل او ډاکو وو. چې دا آيت د قرآن ئي واوريدو چې الله فرماني اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا...اے مؤمنه په تا لااوسه پورې هغه وخت نه دے راغلے چې توبه وباسې. وائي دا آيت مې چې واوريدو غلا مې کوله او راکوز شوم او توبه مې ويستله. هغه سړے چې ددې آيت د وجې نه پرې داسې آثر وشو چې بيا به ئي کله قرآن واوريدو نو د قرآن د اوريدو وس به ئي نه کيدو چې کله به ئي لوستلو هسې به ژړا ورتلله.

سعد بن زنبور رحمه الله وائي يو خل داسې کار وشو چې مونږ ورته د دروازې نه بهر غږ وکړو. نو نه راتلو. وائي بهر راته يو سړي اوئيلي دد ته قرآن اووائي دا به اوس پخپله دلته راشي. نو زمونږ سرو يو قاري صاحب وود بهر نه ئي ورته داسورت شروع کړو اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۝ غافل کړي ئي تاسو ژوند د دنيا حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝ تردې پورې چې قبر ته ورسيږې. وائي بهر راووتلو او رومال په لاس کښې ورسره وو د سترګو نه ئي اوښکې وچولې. او وائي بيا ئي اوئيلي هائي ارمان دے چې اَتٰى عَلَىَّ ثَمَانُوْنَ وَمَاذَا بَعْدَ ثَمَانُوْنَ يَنْفَعُ. چې اتيا کاله مې وشو او ددې نه روستو به لا څه وي. او وي ژړل. څوې ئي نيک عمله سړےوو. علي بن فضيل دهغه په مخکښې به چا سوره التکاثر او القارعه نه شول لوستلے او چې چابه سوره القارعه اولوستو نو بےهوشه به شو.

يو عالم وائي يو خل مونږ په يو امام پسې ولاړ وو او هغه مولا

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



صاحب دا آیت اولوستو ﴿وَلَوْ تَرٰى إِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ [1] الله واني دا حال زاروان دے چي دا مجرمان د اور د جهنم مخې له ودرولے شي ددې مجرمانو د خلې نه به بيا دغه اوخي چي هاني ارمان دے چي ما د آيتونو تکذيب نه وے کړے. واني دآيت دې ټکي ته چي کله راورسيدو ﴿نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ﴾ د سړي نه سد وتلي وه.

بو خل ني بلاز ته اوښيل بابا الله ته دعا وکړه چي زهٔ قرآن ختم نشم کولے. قرآن چي کله شروع کړم. بوځاي ته چي کله ورسم نو به ما داسي حال راځي د اوسه پورې مي قرآن سر ته ونه رسوو. خکه قرآن کښي داسي خبري دي چي زهٔ ني لولم نو به ما بےهوشي راځي. ما لره ژړا راځي.

د مالک بن دينار رحمه الله به باره کښي راځي واني چي کله ني خواته قاري صاحب دا سوره لوستو ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴾ [2] هر کله چي اوخوزولے شي زمکه به خوزيدلو د هغي سره او راوبه باسي زمکه بوجونه خپل ﴿وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا﴾ او واني به انسان څهٔ وشو په دي زمکه ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ په دغه ورځ بيانوي به خبرونه خپل. واني دا آيت چي ني لوستو نو بےهوشه شو. او واني مونږ د بےهوشي په حالت کښي کور ته ورسولو. د قرآن داسي بو اثر دے خو چي په ما او نا آثر نه کيږي لږ سوچ کول غواړي.

[1] [illegible]

[2] [illegible]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



محمدبن منکدر رحمه الله يو عالم دے د شپې تلاوت کوي او تهجد کوی په تهجدو کښې به ژړا باندې شو. د کور خلق ورته ټول راجمع شول چې ولې ژاړې؟ جواب چا له نشي ورکولے. يو بل لوے عالم وو په هغه زمانه کښې ابوحازم رحمه الله هغه ني ورله راوستو. ونيل زمونږ په دې سړي ځۀ چل شوے دے. ولې ژاړې؟ چې هغه ورله کله راغلے نو تپوس ني ترې وکړو. يا محمدبن منکدر ولې ژاړې؟ هغه ورته وائي يو آيت په قرآن کښې راياد شو. قرآن کښې الله داسې وائي وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ داسې خبرې به درته الله ښکاره کړي چې ستا په خيال کښې به نه راتلله چې کنې دا به کېږي. دا آيت مې چې واوريدو ددې آيت راباندې داسې آثر وشو چې ايسته په ژړا شوم.

بهز بن حکيم وائي زرارة رحمه الله يو سړے وو. يو لوے محدث وو. وائي په جماعت کښې مولوي صاحب مونځ کولو او دا آيت ني لوستو فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَّوْمٌ عَسِيْرٌ (سورة مدثر) چې کله پوکے اوکړے شي په شپيلۍ کښې نو دغۀ ورځ سخته ده. نو راوغورزيدو چې مونږ وکتلو ساه ترې تلې وه. وائي زه په هغه خلقو کښې وم چې ما پرې جنازه وکړله. (سير اعلام النبلاء)

د قرآن داسې يو ناشنا آثر دے چې دا اثر نه کېږي نو دا خبره ورسره ياد ساته چې الله وائي ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ. ستا په زړۀ کښې سخت والے راغلے دے. ځکه د قرآن آثر درباندې نه کېږي. ورنه قرآن پخپله داسې وائي ددې امت د مسلمان لاځۀ کوي هغه اهل کتاب يهود او نصاري چې کله ني په قرآن باندې ايمان راوړے او

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لوستلے نې دے. بانې اوربدلے. وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ [236] هغه نيکان خلق چې قرآن کله واوري د سترګو نه ئې اوښکې رواني شي. او ولې ژاړي؟ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ. چې دوئ وپيژندو حق او به ژړا کښې واني وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ. څنګه به ايمان نه راوړو په الله ناندي. د الله يو ناشنا کلام دے.

محترمو رونړو قرآن لوستل پکار دي. خو د قرآن لوستل هسې فائده هم شته. قرآن چې د څه د پاره الله راليږلے دے په هغه دړې انقلاباتو کښې خامخاپه څان کښې يو راوله. يا خو داسې وژاړه وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ چې ددې سترګو نه دې داسې نهرونه روان شي. که داسې نشي وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ [237] نو په سترګو کښې دې په زوره آثر پيدا کړه. او که داسې نه وي نو که ازکم وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ۞ داسې خوکم ازکم وکړه چې عمل کښې دې لږ انقلاب راوله. دا خپله ژندګي دې لږه بدل کړه. او که په دې انقلاباتو کښې دريکښې يو رانغلے نو دا خاځ ورسره ياد ساته وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ستا د يو عمل نه هم رب ناخبره نه دے. د هر يو عمل جزا به تا لره درکوي.

اقول قولی هذا استغفر الله لی ولکم ولسائر المؤمنين

---

[236] سورة المائده ۸۲

[237] بقره: ۷۴

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# تقوی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ.
وَقَالَ تَعَالٰى يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ قُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۙ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۚ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا [1]
وَقَالَ تَعَالٰى. وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا. [سورة الطلاق ٢]

د قرآن کریم یو دری آیاتونه ما تلاوت کړل. دي آیاتونو کښې الله مونږ ته یوه خبره ذکر کوي چې هغه خبره هم د دنیا د کامیابی ذریعه ده. او هم هغه خبره د آخرت د کامیابی ذریعه ده. داسي خبره ده چې محمد رسول الله به د خپل رب نه دا دعا کوله اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْهُدٰی وَالتُّقٰی وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰی [2]. د الله نه به ني سوال دا کولو چې یاالله ما لره تقوي راکړه. چې هر کله رسول الله ﷺ د الله نه ددې سوال کوي نو معلومیږي چې دا یو اهم صفت دے چې الله ني چالره ورکړي.

خیر صرف په متقي کښې دے:

یو حدیث کښې راځي رسول الله ﷺ فرمائي چې په هیڅا کښې خیر نشته سوا د هغهٔ انسان نه چې هغه متقی او پرهیزګار وي. نو صرف په دغه کښې خیر دے.

ابی بن کعب رضی الله عنه به خپلو ملګروته وئیل وَاٰخِ الْاَخْوَانَ عَلٰی

[1] سورة الاحزاب

[2] صحیح مسلم رقم الحدیث ٢٠٢١

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قَدْرِ تَقْوَاکُمْ"[240] د چا سړه چې زوزولی کوي اول ورته وګوره چې تقوي ئې څومره ده. که تقوي ئې ډیره وه نو بیا ورسره ډیره زوزولي وکړه. او که تقوي ئې ډیره نه وه نو د داسې سړي د زوزولی نه خان وساته.

حدیث کښې راځي رسول الله ﷺ فرمائي

"لَاتُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ" (ترمذي، ابو داود)

ملګرتیا مه کوه مګر د مؤمن سره او طعام دې ونه خوري ستا مګر پرهیزګاره. د ټولو نه اهم عبادت او صفت چې انسان کښې دے دا د تقوي صفت دے.

درې خبرې په تقوي کښې چې هغه انسان لره ضروري دي.

اوله خبره د الله، د محمد رسول الله او د صحابوو د تفسیر په بنا باندې تقوي څه ته وائي؟

دویمه خبره د تقوي د حاصلولو ځه لاره ده او کله نه؟

دریمه خبره چې ما او تا تقوي دار شو نو الله به څه راکوي. د ټولو نه ښائسته تفسیر قرآن کړے دے.

د الله په نیز متقي چاته وائي؟

الله فرمائي چې درې صفتونه په چا کښې وي هغه زما په نیز تقوی دار دے اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ ستا ایمان به په غیبو وي. دا اولنے جز د تقوی دے چې الله او رسول څه وئیلي وي که ما او تا لیدلي

---

[240] شعب الایمان للبیهقي رقم الحدیث ۵۲۹

[241] شعب الایمان للبیهقي رقم الحدیث ۸۷

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وي او که نه حو دا به منو.

حسان بن ثابت رضی الله عنه وائي زمونږ اولنے صفت داوو. وَبِالْغَيْبِ آمَنَّا وَقَدْ كَانَ قَوْمُنَا يُصَلُّوْنَ لِلْأَوْثَانِ قَبْلَ مُحَمَّدٍ. زمونږ اولنے صفت دا وو چې مونږ دا خبره اومنله چې محمد ﷺ څه ونيلي دي هغه منو.

او دوېم شرط د تقوی د پاره دا دے وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ چې عبادت بدنی به دي برابر کړي.

او دريم شرط د تقوی د پاره دادے وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ عبادت مالي به دي برابر کړي.

تقوی صرف ډېر عبادت نۀ دے:

ددې وجې نه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وائي لَيْسَتِ التَّقْوٰى عَنْ كَثْرَةِ الصِّيَامِ وَلَا عَنْ طُوْلِ الْقِيَامِ. ديته تقوی نه وائي چې يو سړے ډيرې روژې نيسي. يا څوک ډير ودريدل کوي او ټوله شپه په تهجدو ولاړ وي نو ديته تقوی نه وائي ـ تقوي ديته وائي چې الله درته څۀ ونيلي وي هغه وکړه او چې د څه نه ئې منعه کړے ئې د هغې نه منعه شه. بس ته متقی ئې اګر که ستا روژي کمې ولې نه وي.

علماء فرمائي يو تقوی کلبی وي د سپي تقوی هغه دا ده چې په ګناه کښې سم ډوب وي ـ او په خپل ذهن کښې ورته ځان د ټولو نه پاک ښکاري ـ کله چې دا متيازي کوي نو ديوال ته خپه اوچته کړي ـ ذهن کښې ئې داده چې زۀ د ټولو نه پاک يم.

تفسير خازن وائي دتقوی تعريف دادے اَنْ لَّا يَرَاكَ مَوْلَاكَ حَيْثُ اَنْهَاكَ چې ستا رب تۀ د کوم ځائ نه منعه کړے ئې ستا رب تا هغه ځائ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کښې ونه ویني.

د تقوي تعریف د کعب الاحبار رحمه الله نه:

یو ځل عمر فاروق رضی الله عنه د ابی ابن کعب رحمه الله نه تپوس وکړو چې متقی چاته وائي؟ هغه ورته جواب ورکړو هَلْ اَخَذْتَ طَرِيْقًا ذَاتَ شَوْكَةٍ. آیا ته په ازغي داره زمکه تیر شوے ئې؟ هغه اوئیل آو، ده ورته اوئیل فَمَاعَمِلْتَ فِيْهِ. څنګه پکښې تیریدلې. عمر رضی الله عنه اوفرمائیل حَذَرْتُ وَشَمَّرْتُ احتیاط مې کړے او پینځې مې بډې کړې چې ازغې راپورې ونه نخلي. کعب اوفرمائیل هم دغه تقوی ده[242].

روح المعانی او شعبی اوعام مفسرینو د ابن المعتز اشعار نقل کړې دي خَلِ الذُّنُوْبَ صَغِيْرَهَا وَكَبِيْرَهَا ذَاكَ التُّقٰى یعني ګناهونه پریږده واړه او غټ دغې ته تقوی وئیلے شي وَاصْنَعْ كَمَاشٍ فَوْقَ اَرْضِ الشَّوْكِ يَحْذَرُمَايَرٰى. او داسې کار اوکړه لکه یو سړے په ازغي داره زمکه ځي او یریږي د هغه څه نه چا دا ئې ویني. او بیا وائي لَاتَحْقِرَنَّ صَغِيْرَةً اِنَّ الْجِبَالَ مِنَ الْحَصٰى[243] ګناه وړه مه ګڼه یقینًا غرونه د وړو کاڼړو نه جوړ شوي.

او د ټولونه ښه تعریف په حدیث د ترمذي کښې راځي لَايَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ يَكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَالَابَأْسَ بِهِ حَذْرًالِمَابِهِ بَأْسٌ[244].

---

[242] تفسیر قرطبي ص ۱۳ ج۱

[243] الجامع الاحکام القرآن للقرطبي ص ۱۳

[244] سنن الترمذي رقم الحدیث ۲۳۵۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رسول الله ﷺ فرمائي هغه پوري د تقوی حقيقت ته ونه رسيږي چې تر څو پورې هغه کار چې هغه کښې ګناه نشته ته ئې نه پرېږدي چې هسې نه چې په ګناه کښې اخته نشم. يعنی صغيره ګناهونو نه هم خان ساته دغه ته تقوی وئيلے شي.

محترمو رونړو د ټولو نه اهم جز په دنيا کښې هغه تقوی ده او که مونږ احاديث وګورو. د هرې ګناه نه د بچاؤ لار سيوا د تقوی نه بله لار نشته.

حديث الغار

دبخاری حديث کښې راځي رسول الله ﷺ فرمائی او ګډحديث دے.

درې کسان چې په لاره روان وو او بېر غار ته داخل شو او کله چې پرې د غار خُله رابنده شوله. هر يو اونيل الله ته داسې عمل وسيله کول غواړي چې زمونږ د پاره د نجات لاره جوړه شي.

يو اونيل زما مور او پلار بوډاګان وو ما به هميشه د ياره په خپلو بچو هغه مخکښې کول په خوراک کښې. ياالله که دا عمل ما ستا د پاره کړے وي نو مونږ ددې ځاي نه خلاص کړې.

او دويم اونيل ياالله زما يو خادم وو ما سره ئې مزدوري کړې وه او مزدوري ئې ماسره پاتې شوې وه ماورلره په هغو پيسو تجارت وکړو او چې بيا راغلے نو ما ورلره ټول مال ورکړو. نو هغه هم سوال الله ته وکړو.

او دريم اونيل ياالله زما د تره د لور سره ډيره مينه وه. يو خل محتاجه شوله ماته نو ما ترې د هغې د نفس مطالبه وکړه په سل ديناره خبره وشوله. او چې وخت راغلے نوماته ئې اونيل يَاعَبْدَاللهِ اِتَّقِ اللهَ وئيل د

اله نه او بیریږه او ناروا کار مه کوه. هغه سړي ونیل یاالله که زه ستا د ډېرې نه ډډې گناه نه منعه شوے یم. نو مونږ د دې مصیبت نه خلاص کړه. نو د هغه غار خله ورته کهولاؤ شوله. نو په دا سې ځاۍ کښې د گناه نه خلاصیدل صرف په تقوی باندې کیږي.[245]

ترمذی کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما اثر دے. یو لوي عابد او راهب چې کله په گناهونو باندې اخته شو. نو یوه ښځه ورته راغله ونیل مالره روپۍ راکړه نو هغه ورته اوئیل تیک ده خو چې زما سره بے حیائي وکړي. د روپو ورکولو نه روسته چې کله ورغلے نو ښځه په ژړا شوله ونیل د الله بنده د الله نه ویریږه. نو راهب وائي ما سوچ وکړو چې دا ښځه د الله نه دومره ویریږي. سره د دېنه چې د دې د نفس خواهش پوره کیږي. وائي ما ورته اوئیل چې ما د ر باندې زور کړے. ونیل نا. هغې ښځې اوئیل چې د الله نه ویریږم چې الله به راسره د قیامت په ورځ څه کوي. نو هغه سړي هغه گناه پریښوده. او وائي په د غه شپه باندې مړ شو. حدیث کښې راځي سحر ورله الله په دروازه باندې لیکلے وو. فُلَانٌ غَفَرَاللهُ لَهُ. چې فلانکي ته الله د ټولو گناهو معافي کړې ده.[246]

عرض مې د دې خبرې کولو چې محمد رسول اللهﷺ به دعا د دې خبرې غوښتله چې یاالله مالره تقوي راکړې.

یو ځل علی بن ابی طالب رضی الله عنه ورته د بحرین نه څه سره زر رالیکلي وو او رسول اللهﷺ د څلورو کسانو په مینځ کښې هغه

---

[245] صحیح البخاري رقم ۲۱۵۲

[246] سنن الترمذي رقم الحدیث ۲۴۹۶ ضعفه الالباني في السلسلة الضعیفة رقم ۴۰۸۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تقسیم کړل. یو سړے راغلے او کنه کیره ني وه او رسول الله ته ئي مخامخ اوئیل اِعْدِلْ یَامُحَمَّدُ وئیل محمده لږ انصاف کوه. مقصد ئي دا وو چې مونږ لره خه راکړه رسول الله ﷺ ورته اوئیل اے ظالمه الله ما په آسمانونو کښې امین ګڼړي. په زمکه کښې ما الله امین ګڼړي. چې زه د الله نه ونه ویریږم. نو بل به څوک داسې پیدا شي. خالد رضی الله عنه اوئیل یارسول الله ماته اجازت وکړه چې زهٔ ددې سړي سر اووهم. رسول الله ورته اوئیل دده په نسل کښې نور داسې شته. ظاهراً به قرآن لولي ظاهراً به ښه نیک عمل کوي. خو دا یادساته تقوي به پکښې نه وي لَایُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ [247]. نیک عمل به ئي د مرۍ نه لاندې نه ځي. هسې به خان ته نیک عمله وائي.

عرض مې ددې خبرې کولو د ټولو نه لویه تقوي د محمدرسول الله ﷺ طریقه ده. او د ټولو نه ښائسته تعریف دے.

عبادت کښې اتباع د رسول ضروري ده.

حدیث کښې راځي درې کسان راغله او د رسول الله د بيبيانو نه ئي تپوس وکړو چې رسول الله څنګه عبادت کوي. هغوي ورته خبر ورکړو چې داسې داسې عبادت کوي كَأَنَّهُمْ تَقَالُوْهَا. ګويا کښې دوئ دا عبادت کم وګڼړلو. وئیل زمونږ په ذهن کښې خو داده چې رسول الله به ټوله شپه عبادت کوي. نو هغه یو پکښې اوئیل زهٔ به چرته واده نه کوم.

او دویم اوئیل زه به ټول عمر روژې نیسم.

[247] صحیح البخاري باب علامات النبوه رقم الحديث ٣٢٢٣

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او هغه دريم اونيل زه به تول شپه عبادت كوم.

چې رسول الله ﷺ د دوئ نه خبر شو.او راغلے او وې فرمائيل چې ناسو داسې خبرې كړې.هغوي اونيل آو.رسول الله اوفرمائيل زه واده كوم.او زه د شپې تهجد كوم او اوده كيږم او روژې نيسم او ماتومه ئې هم.په يو روايت كښې راغلے اَنَااَتْقَاكُم لَهٗ.(متفق عليه) زهٔ د الله نه ډير يريږم او په يو روايت كښې دي فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّي (بخاري) خو دا يادساتئ چاچې اعراض وكړو زما د طريقې نه، نو هغه زما نه نهٔ دے[248].لويه تقوه دا ده چې د رسول الله د سنتو خيال وساتلے شي.

د نعمان بن بشير واقعه:

يو سړے راغلے چې يارسول الله ﷺ زما يو خوي دے او د فلانكې ښځې نه پيدا شوے دے.او دا ښځه راته وائي چې دي خوي له دي دا شے وركړه او محمدرسول الله پرې گواه كړه.ما هغه لره دا شے وركړو ته پرې گواه شه.رسول الله ﷺ ورته اوئيل ستا نور بچي شته، هغه سړي اوئيل آو.نو وئيل هغوي لره دي څه شے وركړے.- هغه اوئيل نا.رسول الله اوئيل په ظلم باندي زه گواهي نه كوم.او په يو روايت كښې راځي رسول الله ﷺ اوئيل اِشْهَدْ عَلٰى هٰذَاغَيْرِيْ (مسلم ١٦٢٣)

او رسول الله ﷺ ورته اوئيل.اِتَّقُوْاللّٰهَ وَاعْدِلُوْابَيْنَ اَوْلَادِكُمْ. (بخاري رقم ٢٥٨٧)

---

[248] صحيح البخاري باب الترغيب في النكاح رقم ٥٠٦٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د الله نه يره وکړي.برابر والے وکړي د خپل اولاد په مينځ کښې.

عرض مې ددې خبرې کولو چې د ټولو نه لويه تقوي د رسول الله ﷺ سنت په هره طريقه کښې کول ديته تقوي وائي.

لکه مثال په طور رسول الله ﷺ به په سفر کښې دوه مونځونه په يو خل کول. که يو سړي ته اوس اووائي چې ته ولې نه کوي؟ نو وائي زما زړه ئي نه غواړي ستا تقوي د رسول الله ﷺ د تقوي نه پسي بره شوله.

په مسلم کښې صحيح روايت دے چې رسول الله ﷺ په باران کښې دوه مونځونه په يو خل وکړه. د عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه چا تپوس وکړلو چې دا ئې ولې کولو؟ وئيل چې امت ته آساني شي اوس که يو سړے اووائي چې زما زړه ئې نه غواړي.نو ته به څۀ ئې او ستا زړه به څۀ ئې.ته د رسول الله ﷺ نه په تقوي کښې زيات ئې.

عرض مې ددې خبرې کولو هر يو کار چې د رسول الله ﷺ نه ثابت شي نو په هغه باندي ژوند تيرولو ته تقوي وائي الله دې مونږ ته د تقوي توفيق راکړي. اقول قولی هذا استغفر الله

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د تقوی اسباب فوائد او مراتب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝

(سورة يونس)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ اَعْبَدَ النَّاسِ.

مخکښي هفته نه د تقوی بيان شروع وو. مونږ وئيل درې خبرې پيژندل ضروري دي.

اول تقوی پيژندل.

دويم د تقوی اسباب چې په څه سره تقوی حاصليږي.

دريم د متقيانو د پاره الله کوم نعمتونه او اجرونه تيار کړي دي د مخکښې بيان حاصل دا وو چې تقوی د الله احکامو ته وائي او د رسول الله ﷺ پوره تابعدارۍ او د سنتو لحاظ کولو ته وائي. تقوی د ډيرو اعمالو، مونځونو. او روژو نه عبارت نه دے.

تقوی ديته وائي چې د الله د هر حکم په خپل ځائې باندې راوړې، او هر کار نه چې الله منعه کړے نې د هغې نه ځان وساتي. او د رسول الله ﷺ د سنتو لحاظ وساتي.

د امام غزالي رحمه الله قول

امام غزالي رحمه الله وائي اَلتَّقْوٰى كَنْزٌ عَظِيْمٌ ستا تقوی د الله احکام مثل د محمد رسول الله ﷺ د سنتو خيال ساتل دا تقوی لويه خزانه ده فَاِنْ ظَفِرْتَ بِهٖ فَكَمْ تَجِدُ فِيْهِ مِنْ جَوْهَرٍ شَرِيْفٍ که دا خزانه درلره رب

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دركړه به دي كښې به واني ته قيمتي ملغلرې بيامومې وَخَيْرٍ كَثِيْرٍ او بدې كښې به ډېر خير بيامومې وَرِزْقٍ كَرِيْمٍ وَ فَوْزٍ كَبِيْرٍ وَغُنْمٍ جَسِيْمٍ[249] او په دې كښې به ډېر رزق او لوې نعمتونه بيامومې. خوشحالي د دنيا او آخرت به په دې خزان كښې بيامومې. خو چې رب درله تقوى درنصيب كړي.

تقوى د اسې يو صفت دے رسول اللهﷺ به ونيل چې كله به سفر روان شي نو رب ته وايه چې ما په تا خان سپارلے. اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ فِيْ سَفَرِيْ هٰذَا مِنَ الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَمِنَ الْعَمَلِ مَاتُحِبُّ وَتَرْضٰى[250]. يا الله په دې سفر كښې دا غوارم چې تقوى رانصيب كړې.

تقوي باندې ټولو امتونو ته وصيت ؤو

الله فرماني چې ما ټولو امتونو ته دا وصيت كړے دے. وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ لَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ۝[251] او مالک د آسمانونو او زمکو الله دے. او پوخ حکم کړے مونږ تاسو ته او چې ستاسو نه مخکښې وو چې تقوى اختيار کړئ. قرآن کښې ځاي په ځاي د تقوى حکم شوے دے.

د رسول الله بليغ وعظ عرباض بن ساريه رضى الله عنه فرماني

[249] منهاج العابدين

[250] سنن للبيهقي د ١٠٢٦ باب مايقول اذا رکب

[251] [سورة النسآء]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چې صَلَّى بِنَارَسُوْلُ اللهِ اَلصُّبْحَ فَوَعَظَ مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَاالْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَاالْقُلُوْبُ داسي بيان رسول اللهﷺ وکړو چې د خلقو د سترګو نه اوښکې لاړې او زړونه ئې ویریدل. بیا مونږ رسول اللهﷺ ته اوئیل يَارَسُوْلَ اللهِ كَاَنَّهَامَوْعِظَةٌ مُوَدِّعٍ داسې معلومیږي چې داستاآخري بیان دے. نو رسول اللهﷺ مونږ ته وصیت په دوه کلماتو سره وکړو اُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ[252] وئیل د الله نه ویریږئ ابن رجب رحمه الله وائی چې دا دوه کلمات چې د الله نه ویریږه او د رسول اومنه د خپل آمیر او خلیفه اومنه. په دي کلماتو کښې د دنیا او آخرت ټولې کامیابۍ راجمع شوي دي.

د نبي علیه السلام ابوهریرة رضي الله عنه ته پنځه خبرې ښودل:

ابوهریرة رضی الله عنه فرمائي چې رسول اللهﷺ اوئیل مَنْ يَأْخُذُ عَنِّيْ هٰؤُلَآءِ الْكَلِمَاتِ فَيَعْمَلُ بِهِنَّ اَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ. چې څوک به زما نه دا پنځه کلمات یاد کړي چې پرې پخپله عمل اوکړي او یا ئې داسې کس ته اووائي چې هغه پرې عمل اوکړي. د رسول الله په احادیثو ډیر زیات مینه کونکے ابوهریره وو. وئیل یارسول الله دا به زه اوکړم. نو رسول الله ورته اولنۍ خبره دا کړې ده اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ اَعْبَدَ النَّاسِ چې د ګناهونو نه ځان ساته ته به زیات عبادت کونکے ئې د خلقو نه.

دویمه کلمه داده وَارْضَ بِمَاقَسَمَ اللهُ لَكَ تَكُنْ اَغْنَى النَّاسِ. په هغه

---

[252] صحیح ابن حبان باب الاعتصام بالسنه رقم الحدیث ۵

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مال خوشحاله شه کوم چې الله درکړي په ټولو کښې مالدار به ته نې.
او دريمه کلمه وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ د ګاونډي سره دې ښه کوه تَكُنْ
مُؤْمِنًا په دې به ته مؤمن شې.
او څلورمه کلمه داده وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا خلقو
لره هغه څه خوښود چې ته خان لره خوښوې ته به مؤمن نې.
او پنځمه کلمه داده. وَلَا تُكْثِرِ الضِّحَكَ. او ډير خانده مه. فَإِنَّ كَثْرَةَ
الضِّحْكِ تُمِيْتُ الْقَلْبَ[1]. زړۀ به دې مړ شي. نيک اعمالو ته به دې
زړۀ نه راپورته کيږي.
عرض مې ددې خبرې کولو چې محمدرسول اللهﷺ دا وصيت
کړے. صحابؤو هم کړے. قرآن وګوري د ټولوانبياء عليهم السلام
دعوت دا وو چې تقوی په خان کښې پيدا کړئ.
ابراهيم عليه السلام چې کله خپل قوم ته وائي يَاقَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ
وَاتَّقُوْهُ. صالح. لوط او شعيب عليهم السلام دا سې وائي أَفَلَا تَتَّقُوْنَ.
عرض دا چې هر نبي دا اقرار کړے.
عمر رضي الله عنه ته د ابوبکرصديق رضی الله عنه وصيت
او چې کله ابوبکر رضی الله د دنيا نه تلو. عمر رضی الله نې د خان
خواله راوستو. هغه ته نې اولنے وصيت دا کړو. اے عمره إِتَّقِ اللهَ د
الله نه ويريږه که صحيح خلافت او مشري کول غواړې نو اولنے شرط
ستا د خلافت دا دے چې د الله نه ويريږه.

[1] شعب الايمان لبيهقي رقم الحديث ١١٢١

Scanned by CamScanner

عمربن عبد العزيز رحمه الله چې کله وصيت کولو آخري خبره ئې داوه
أُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ فَإِنَّ تَقْوَى اللهِ خَلَفٌ مِنْ كُلِّ شَيْئٍ وَلَيْسَ مِنْ تَقْوَى اللهِ خَلَفٌ[254] (البدايه والنهايه)

د الله نه يره کوئ د تقوى په ځائ بل شيئ نشي نائب کيدے.

والتقوى خلاف من کل شيئ- او تقوي د هر شيئ نائب دے.

ددې وجې نه ابن رجب رحمه الله وائي

وَلَايَزَالُ سَلَفُ الصَّالِحِيْنَ يَتَوَاصَوْنَ بِالتَّقْوٰى چې هميشه وو سلف چې هغوي به يو بل ته وصيت په تقوى کولو.

حسن بصرى رحمه الله فرمائي مَازَالَتِ التَّقْوٰى بِالْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى تَرَكُوْا كَثِيْرًا مِنَ الْحَلَالِ مَخَافَةَ الْحَرَامِ (الدرالمنثور للسيوطى)
وائي چې ددې امت چې څومره نيکان تير شوي وو د تقوى د وجې نه ئې کله يو جائز کار پريښودو چې هسې نه چرته په حرام کار کښې واقع نشم.

ابن ابى ذئب وائي ما ته يو خل سفيان ثورى رحمه الله اوئيل دواړه دير نيکان علماء تيرشوي دي إِنِ اتَّقَيْتَ اللهَ كَفَاكَ النَّاسَ وَإِنِ اتَّقَيْتَ النَّاسَ لَنْ يُغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا[255] د الله نه ويريږه د ټولو خلقو نه به دې بچ کړي، که د خلقو نه ويره کوي او د خلقو خيال ساتي چې خلق به څۀ وائي فَإِنَّهُمْ لَنْ يَغْنُوْكَ مِنَ اللهِ شَيْئًا (الفوائد لابن القيم) د الله

---

[254] البدايه والنهايه ص ۲۱۳ ج ۲۹
[255] (الفوائد لابن القيم ۵۲)

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



: عذاب نه به دي بچ نه کړي. نن په خلقو کښې تقوی شته خو د الله نه ويره نشته.

او الله د کافرانو او منافقانو په باره کښې فرمائي

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ۔ وَ كَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۝[256]

په دې خلقو کښې داسې مرض پکښې دے چې د خلقو په مخکښې ګناه نه کوي. او د الله نه نۀ يريږي چې هميشه د الله په مخکښې ګناهونه کوي. د الله نه يره کول پکار ده او د خلقو لحاظ نه دې کول پکار.

معاذ بن جبل رضی الله عنه چې آخري ملاقات د رسول اللهﷺ کولو. رسول اللهﷺ ورته دا خبره وکړه اِتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُ مَا كُنْتَ. زما صحابی د الله نه ويره کوي. کوم ځائ چې ته ئې. داسې نه دې کول پکار چې خلق ئې نو بيا سړے ګناه نه کوي او چې خلق ترينه جدا شي نو بيا ګناهونه کوي. ديته منافقت وائي. دا تقوی د ابی ابن سلول منافق او د هغه د ملګرو وه. دا ډير خطرناک عمل دے. د تقوی فائدې ډيرې زياتې دي.

ابن زيد رحمه الله قول

ابن زيد رحمه الله يو تابعي تير شوے دے. هغه خلقو ته وائي اے زما ملګرو وائي د الله نه ويره کوی يُحِبُّكَ النَّاسُ وَاِنْ كَرِهُوْا[257]. خلق

[256] سورة النساء ]
[257] شعب الايمان للبيهقي ۱۰۲۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



به درسره مینه کوي. اګر که: خلقو به دا مینه زړه نه غواړي.

شعبه رحمه الله وائي زه د خپل استاذ خواله راغلم زما استاذ حکَم وو. ما ورته اوئیل استاجي زه څمه. هَلْ لَكَ حَاجَةٌ څه ضرورت شته. وائي استاذ مې اوئیل هغه ضرورت مې دے کوم چې معاذ بن جبل نه رسول اللهﷺ وئیلے وو. هغه دا وو. اِتَّقِ اللهَ حَيْثُ مَا كُنْتَ وَاَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ[258]

ترجمه معاذه د الله نه ویریږه چرته چې نې او د بدۍ نه روستو نیکي وکړه چې بدي ختمه شي او د خلقو سره ښه اخلاق ساته.

ابن عون رحمه الله لره یو سړے راغلے وئیل رخصت راکړه زه څمه هغه اوئیل چې په رخصت کښې درته یوه خبره کوم چې اِتَّقِ اللهَ فَاِنَّ الْمُتَّقِيْ لَيْسَ عَلَيْهِ وَحْشٌ. څوک چې د الله نه ویریږي هغه د بل چانه نه ویریږي. بس د سفر په دوران کښې د الله نه ویره کوه الله به دې د هر چانه بچ ساتي. او د تقوي یو څو مراتب دي یو څو هغه ایږد کول غواړي او په دې باندې اصل کښې د تقوي مصداق ښکاره کیږي.

اولنی مرتبه د تقوي هغه داده چې مونږ د شرک نه ځان وساتو. د منافقت نه ځان ساتو که دا صفت دې کښې نه وي نو په نوعه د شرک کښې مبتلاء ني. که ته شپه او ورځ کښې عبادت کوي خو ستا په عقیده کښې شرک پکښې دے.

الله د داسې خلقو په باره کښې فرماني وَقَدِمْنَاۤ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا۝ [سورة فرقان] الله وائي چا کښې چې تقوي نه وي په

[258] موارد الظمآن لدروس الزمان

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اول درجه باندي او شرک پکښې وي دده په عقيده اوعمل کښې الله واني که نا نيک عمل کړے وي نو ددينه به څه يوه دوره الوخولے شوي او کرخومه. ماته د داسې عمل هيڅ حاجت نشته.

ددي وجې نه قرآن کريم کښې الله فرمائي

فَمَنۡ كَانَ يَرۡجُوۡا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ﴿﴾[259]

که دا ذي سوچ وي چې يو ځل به د الله مخې ته ودريږم نو نيک عمل وکړه خو شرط دا دے د رب سره به په عبادت کښې يو قسم شرک نه کوي. او که شرک دي وکړو نو بيا د الله نه د ثواب طمع مه کوه. ددې وجې نه په هر مسلمان فرض دي چې د شرک څومره اقسام دي هغه وپيژني.

يو حديث کښې راځي اَلشِّرْكُ فِيْ هٰذَا الْاُمَّةِ اَخْفٰى مِنْ دَبِيْبِ النَّمْلِ[260]

رسول الله فرمائي زما په دي امت کښې دا شرک د ميږي د رفتار نه پټ پټ چليږي. صحابوو چې دا خبره واريده نو تپوس ئي وکړو. يارسول الله کله کله يو انسان په ځان پوهيږي نه او مشرک شوے وي. د الله رسوله دا خو ډيره خطرناکه خبره شوله. رسول الله ورته اونيل دا دعا هميشه د پاره وائي اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا اَعْلَمُ بِهٖ[261] يا الله که سره د علمه مانه شرک شوے وي نو معاف مې کړه. او که په ناپوهئ کښې شرک شوے وي نو هم ما معاف کړه. دا دعا هر انسان لره هر وخت کښې کول پکار دي.

---

[259] سورة الكهف ا

[260] صحيح الادب المفرد رقم ۱۲۰

[261] مجمع الزوائد ۱۰/۲۲۴

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



دوه قسمه شرک دے:

يو شرک اکبر دا هغه شرک دے چې ددې په وجه ستا هر يو عمل باطليږي، چې د الله په آسماؤو او صفاتو کښې ورسره څوک شريک کړي.

يو شرک اصغر هغه دا دے چې يو سړے مونځ کوي او خلقو ته ځان ښائي. يو سړے هر يو د دين کار کوي او د خلقو د ښودنې د پاره کوي دا هم مفسد عمل دے.

عرض مې ددې خبرې کولو چې اولنۍ درجه د تقوي داده چې مونږ د

• شرک نه ځان ساتو، الله د صحابؤو په باره کښې فرمائي وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى الله ورله کلمه د توحيد پيوسته کړي وه. هغوي الله د شرک نه بچ کړي وو.

او دويمه درجه داده چې د محارم نه يعني دګناهونوځان ساتو. که وړه وي اوکه غټه وي چې يو سړے وړه ګناه کوي دا متقي نه دے.

عائشي رضي الله عنها ته رسول الله فرمائي إِيَّاكَ وَمُحَقِّرَاتِ الذُّنُوْبِ [262] زما بي بي ګناهونو ته سپک مه ګوره. داسي مه وايه چې دا وړه ګناه ده او ياغټه ګناه ده. ولې داسې يو ذات شته دے، چې د هرې ګناه به تپوس کوي. داسي يوه ورځ راروانه ده فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝ [263] الله فرمائي چاچې عمل وکړو په مقدار د يوې ذرې که نيکي وي اوکه بدي نو هغه به هم

---

[262] المعجم الكبير للطبراني ۲۸۰۲

[263] سورة زلزال ۱

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وبني . بعض خلق گناهونه كوي اووائي الله غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ دے . الله
فرماني يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝ اے انسانه چا دهوكه كړے
ني په رب عزتمند سره.او د هغه د كرم نه دي فائده اخستے ده.اوس
بو سړے دروغ وائي.غيبت كوي.د نظر خيال نه ساتي.د خپلو
غوږونو خيال نه ساتي دا خو مرتكب د گناه كبيره دے.
د عامو علماؤو قول دادے كه الله وغواړي چې د جهنم نه ئې بچ كړي
دا د الله خوښه ده.
او دريمه درجه د تقوي داده چې ما او تا د مشتبهاتو نه ځان ساتو.
خني كار به داسې وي چې ښه به جائز وي خو دا به د حرام د پاره
ذريعه جوړيږي.
رسول الله فرمائي اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ رسول الله فرمائي حلال
او حرام دواړه ښكاره دي وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ
النَّاسِ[264] ددې حلالو او حرامو په مينځ كښې څه شک چيزونه داسې
دي چې ډير خلق ئې نه پيژني . خو دا ياد ساتئ. څوک چې په دي
مشتبهاتو كښې واقع شي. رسول الله فرمائي هغه به په حرامو كښې
واقع كيږي.او ددې داسې مثال دے چې څوک د چا د انګور او پټي
نه ګډې او بيزې ساتي نو خامخا به ئې ګډې او بيزې ورننوځي دغه
پټي ته.رسول الله او صحابؤو به د مشتبهاتو نه ځان ساتو.

مشتبهاتو نه ځان ساتل:

بخاري كښې يوه واقعه راځي بَابٌ الرِّحْلَةُ فِي الْمَسْئَلَةِ النَّازِلَةِ هغه

[264] صحيح البخاري رقم ۵۲، صحيح مسلم ۱۵۹۹

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ځائ کښې يوه مسئله ذکر کوي عقبه بن حارث د يوې ښځې سره نکاح وکړه بله توره غونډې ښځه راغله.هغې ورته اوئيلي چې تاته پته شته دے چې ما تا او ستا دې ښځې لره تے (شوده) ورکړے.نو د هغه خپلوانو ورته اوئيل چې مونږ ته پته نشته چې تا زمونږ دې هلک لره تے ورکړے. دا سړے لاړو د رسول الله خواته او رسول اللهﷺ په مدينه کښې وو. رسول اللهﷺ ته ئې اوئيل داسې يوه مسئله راوړاندې شوله. څه چل وکړم نو رسول الله ورته اوئيل كَيْفَ وَقَدْ قِيْلَ[205] ته به ددې ښځې سره څنګه ږده لګوې چې داسې خبره شوې ده. هغه اوئيل صحيح ده د الله رسوله اګر که يوې ښځې دا خبره کړے ده. خو د الله رسوله چې خبره کښې شک پيدا شو وئيل دا ښځه دې زمانه پاتې وي. تقوي ديته وائي چې کله په يو چيز کښې اشتباه يعني شک ښکاره شوله،رسول اللهﷺ فرمائي اَلتَّقْوٰی هٰهُنَا. درې ځل ئې اوئيل او بيائې اوئيل وَإِنْ اَفْتَاكَ النَّاسُ وَاَفْتَوْكَ"[206] اګر که مفتيان حضرات درته سل ځله اووائي چې دا کار جائز دے د خپل زړۀ نه کله تپوس کوه. چې دا کار څنګه دے.

حديث کښې راځي د رسول الله په زمانه سعدبن ابي وقاص رضی الله عنه يو صحابي دے ددې د يو بل صحابي سره جګړه شوله عبد بن زمعه دواړه د رسول الله صحابه دي د عبدبن زمعه د پلار يو ښځه وه د هغې نه يو هلک شوے وو. سعدبن ابي وقاص اوئيل دا هلک خو

[205] صحيح البخاري باب الرحله في المسئله النازله وتعليم اهله رقم ٨٩

[206] المعجم الكبير رقم ٢١٠

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زما رور دے.او عبدبن زمعه وئيل دا هلک زما رور دے.جګړه ئې رسول الله لره راوړه.رسول الله ترې تپوس وکړو څنګه؟ سعدبن ابي وقاص وئيل زما رور دے.عتبه بن ابي وقاص ماته وصيت کړے وو چې د فلانکي سري د وينځې چې کوم بچے دے دا ګورے زمانه دے.د جاهليت زمانې زناکانې وې په دغه لحاظ سره ئې دا خبره کوله.او عبد بن زمعه وئيل د الله رسوله زما رور خکه دے دا زما د پلار په ژوند باندي پيدا شوے دے.زما د پلار د وينځې نه پيدا شوے دے.خکه دا زما رور دے.رسول الله ﷺ چې دي هلک ته وکتل دا هلک په شکل کښې د هغهٔ زاني سره مشابه وو.خو رسول الله ﷺ د قانون د شريعت موافق دا فيصله وکړه چې د چا په بستره باندې کوم بچے پيدا شي دا به د هغه نه شماريږي.خو رسول الله د احتياط په طور باندې د تقوي د شبهاتو نه ځان بچ کولو په بناء باندې ددي عبدبن زمعه خور وه سوده بنت ضمعاء رضي الله عنها د رسول الله بي بي وه رسول الله ﷺ دي خپلې بی بی ته وائي زما بی بی دا هلک اګر کهٔ شرعًا ددي فلانکي بچے دے.ستا د پلار څوي حسابيږي خو اِحْتَجِبِيْ مِنْهُ[267] سوده ددينه نه به پرده کوې خکه ظاهري شکل ئې د زاني سره مشابه دے.او هغې پرې ناشنا عمل وکړو ترمرګه پورې ئې دي خپل رور باندي سترګي ونه لګولي ولې؟خکه اشتباه ښکاره شوه په خبره کښې عرض مې ددې خبرې کولو نن مونږ په ډيرو مشتبهاتو کښې واقع يو.

يو ځل عمر او عثمان رضي الله عنهما دواړه يو واده لره لاړل، چې

[267] مؤطاء للامام مالک رقم الحديث ۱۲۱۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بیرته کله راغلل عمر رضي الله عنه ورته اوئیل زما ارمان دا وو چې مونږ ددي واده روټۍ نه وے خوړلے، نو ښه به وے۔ عثمان رضي الله عنها ورته اوئیل، ولې؟ زۀ دومره ویریدم ما وئیل چې دا روټۍ ماته د فخر او مقابلې ښکاره شوله۔ داسي مشتبه روټۍ چې زۀ اوخورم بیا زما په عبادت کښې نقصان راځي۔

بل حدیث کښې راځي رسول الله ﷺ یو ځل په جومات کښې اعتکاف کولو، صفیه رضي عنها راغله د رسول الله ﷺ سره ئي ملاقات کولو چې وخت لږ تیریدو، رسول الله ﷺ دي خپلې بي بي ته وئیل زه درسره د کور پورې ځم۔ چې رسول الله ورسره روان شو، نو دوه صحابه رسول الله لره په مخې کښې ورغلل۔ چې رسول الله ﷺ ئي ولیدو نو د ډیرې حیاء د وجې نه په تیزۍ باندي روان شول۔ رسول الله ﷺ ورته ناشنا خبره کوي۔ وئیل زما صحابۀو په دَمه شئ دا ستاسو مور صفیه ده۔

علماء فرمائي مقصد د حدیث دا دے چې ځان د شک نه ساته او داسي کار مه کوه چې نور خلق ستا د وجې نه په مشتبهاتو کښې واقع نشي۔ صحابۀو اوئیل یارسول الله ﷺ ستا په باره کښې زمونږ څۀ بدګماني نشته چې ته به د پردۍ ښځې سره روان ئې۔

رسول الله ﷺ فرمائي

إِنَّ الشَّيْطٰنَ يَجْرِيْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ [268]

دا شیطان د انسان په رګونو کښې داسي چلیږي لکه څنګه چې دا

[٢٦٨] بخاري رقم ١٩٢٢ مسلم رقم ٥١٠٥

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وينه جلىړي. ډېر خوراكونه نن داسې دي چې د هغو پته نه لګي چې
حلال دي او كه حرام.

او څلورمه درجه دا ده چې د دنيا نه لرې ځان ساتنه د دنيا سره مينه كول
موږ د الله د عبادت نه منع كوي.

رسول الله ﷺ فرمائي خلق به نفس د خوراك د ډېر والي سوچ كوي
او ديته به نه ګوري أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ چې دا حلال دي او كه
حرام دي.

او پنځمه درجه دا ده چې د الله سره تعلق پيدا شي. په هر كار كښې د
الله رضا ته وګورو.

حديث كښې راځي غوره ايمان د انسان دا وي چې انسان هر وخت
كښې دا سوچ وي چې الله زما سره دے

## د تقوي مراتب په څهٔ حاصليږي

اول خبره داده اَلْخَوْفُ مِنْ عَذَابِ الدُّنْيَا ويره وكړه د الله نه او هر اندام
دي غلط مه استعمالوه. الله فرمائي زما د صبر نه غلطه فائده مه اخله.
إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ الله وائي زما نيول ډير سخت دي.

دويم اَلْخَوْفُ مِنْ عَذَابِ الْاٰخِرَةِ

دريم ثَوَابُ الدُّنْيَا په دي باندي الله په دنيا كښې ډير ثواب وركوي
او د تقوىٰ ډيرې فائدې دي.

الله فرمائي: وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ﴿سورة الطلاق﴾

كله الله فرمائي: وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ﴿سورة الطلاق﴾

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



کله فرمائي وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗ اَجْرًا ۝ [سورة الطلاق]

کله فرمائي يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝[269]

او علي رضي الله عنه وائي چې څوک دا غواړي عِزٌّ بِلَا مَالٍ. چې زۀ دې عزتمند شم او مال دې راسره نه وي.

دويم وَمَخَافَةٌ بِلَا قُوَّةٍ چې زما نه دې ټول خلق په هيبت کښې وي او زما سره دې څه نه وي.

دريم او دا غواړي چې زما دې دنيا او آخرت کښې عزت وي نو دا په تقوي باندې حاصليږي.

او څلورم باعث د تقوي دا دے چې د آخرت ثوابونو ته سوچ کول پکار دے. الله فرمائي اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا ۝[270]

کله فرمائي تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ۝[271]

او کله فرمائي اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ۝[272]

او پنځم باعث د تقوي دا دے اَلْحِسَابِ. چې زما او ستا دا سوچ وي چې الله به د ذرې ذرې حساب کوي. د کافرانو په باره کښې الله فرمائي لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا کله وائي هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ.

---

[269] [سورة الانفال]
[270] [سورة النبآء]
[271] [سورة مريم]
[272] [سورة دخان]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



شپږم باعث د تقوي اَلْحَيَاءُ مِنَ اللهِ. د الله نه ډيره حياء كول پكار دي.
د حياء نه كونكو ظالمانو په باره كښې الله فرمائي: وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ [273]

كله الله فرمائي اِنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ

اوم باعث دتقوي اَلْعِلْمُ علم حاصلول چې انسان ښه او بد او پيژني.
آتم باعث د تقوي تَعْظِيْمُ اِجْلَاءِ اللهِ الله تعالي د هر څه نه لوے گڼړه.
• نهم باعث د تقوي دادے د تقوي فوائدو ته به گوري چې كله ستاپه ذهن كښې دا خبرې راغلې نو ته به متقي انسان جوړ شي.

اقول قولي هذا استغفر الله لي ولكم وسائر المؤمنين

[273] {سورة حم السجده}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# عدل وانصاف

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلٰى أَهْلِهَا ۙ وَ إِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ۗ إِنَّ اللهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝ [274]

وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَاظِلَّ إِلَّاظِلُّهُ إِمَامٌ عَادِلٌ وَشَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ اِمْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّيْ أَخَافُ اللهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَاتَعْلَمَ شِمَالُهُ مَاتُنْفِقُ يَمِيْنُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَاللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ [275]

د دنيا د يو دؤو ورځو د پاره كۀ وُوړے وي او كۀ زمے وي د هر چا دا سوچ وي چې يو داسې كور جوړ كړم چې هغه ماپه ژمي كښې د يخنۍ نه ساتي ـ خو داسې مسلمان به ډير كم وي چې دا سوچ ورسره وي چې په ماو تا پسې يو ورځ راروانه ده چې د هغې ورځې مقدار قرآن كښې الله فرمائى خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ پنځوس زره كاله يوه ورځ ده۔ او په بل آيت كښې الله فرمائى چې د هغې ورځې مقدار اَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا

[274] سورة النسآء [
[275] صحيح البخاري باب من حبس في المسجد ينتظر الصلوٰة رقم ٦٢٩ وصحيح مسلم في الزكوٰة وفضل اخفاء الصدقه رقم الحديث ١٠٣١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تَعُدُّوْنَ. هغهٔ ورځ زر کاله ورځ ده.

علماء فرمائی د هغې ورځې په يو يو ځای کښې زما او ستا ودريدل به زر زر کاله وی. او دا ټوله ورځ چې راجمعه شي نو دا به پنځوس زره کاله ښي. خو داسي مسلمان چې دا سوچ نې چرته کړے وي چې ددغې ورځې د سُبوري د پاره د دغې ورځې د ګرمی او د يخنې د پاره ما او تا څهٔ کړي دي. نن کهٔ ته سوچ وکړي چې ډېره ګرمي وي او هغه داسي ګرمی وي چې آخرت په ګرمی پسي لکه چې نهٔ ګرمي وي. د هغې د پاره خلق څومره سوچونه کوي چې ددي ګرمی نه به څنګه بچ شم.

خو افسوس دادے چې زما او ستاسره دا غم راسره وے چې د هغې ورځې د سُبوري انتظام وکړو. اود الله د سُبوري نه علاوه بل سُبورے به نهٔ وي. خو ابوهريره رضی الله فرمائی چې اُووه کارونو باندي الله د عرش د سپوري لاندی ځای ورکول کيږي.

د عرش د سپوري د لاندي اووه کسان

ابوهريره فرمائی چې رسول اللهﷺ فرمائيلي دي سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَاظِلَّ اِلَّاظِلُّهُ اوپه مسند احمد کښې راغلی دي: ظِلِّ الْعَرْشِ چې الله به ورلره د عرش سپوري کښې ځای ورکړي.

لويه خبره داده چې دا به په دغې ورځ لويه خوشحالي وي چې چاته ځای ملاؤ شي. خو ما او تالره دا سوچ کول پکار دی چې دا اُووه خبري په ما او تا کښې شته او کنه؟

د ټولونه اولنی خبره داده چې په چا کښې عدل وي.

او دويمه خبره داده هغه سړے او ښځه چاچې د الله په بندګی کښې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خپله خواني تيره کړي وي.

او دريم هغه انسان چې د هغه زړه جمات سره تړلے شوے وي.

او څلورم هغه دوه کسان چې د الله د پاره مينه محبت کوي. يو ځائ کيدل او جدا کيدل د الله د پاره وي.

او پنځم هغه نوجوان چې يوه ښائسته او قام نصب والا ښځه د ګناه دعوت ورکړي او هغه اُووائي زۀ د الله نه ويريږم.

او شپږم: هغه انسان چې صدقه ورکړي په ښي لاس او چپ لاس ته پته ونه لګي.

او اووم: وَرَجُلٌ ذَكَرَاللّٰهَ خَالِيًافَفَاضَتْ عَيْنَاهُ الله ځان له ياد کړي او اُوښکې ئې اوبهيږي.

دا خو اجمالي طور وو خو ددې لږ وضاحت کؤو.

اولنی خبره چې عادل سړے به د عرش د سُبوري د لاندي وي.رسول الله فرمائی اِمَامٌ عَادِلٌ هغه بادشاه چې د انصاف والا وی.عدل داسي صفت دے که دا اُووايو چې قرآن او حديث الله د عدل د پاره راليږلي دي.

الله سورة الحديد کښې وائي

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَ اَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَ اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَ رُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ الله تعالى رسولان او کتابونه پۀ انصاف باندې د کلک کيدلو د پاره ما او تاته راليږلي وو. دا

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عدل به ما او تاد رسول الله ﷺ نه ایزده کوو ،دي دنیا ته الله د عدل د پاره رسولان راليږلي وو .څومره انصاف پکښې وو .

فاطمه باندې حد نافذ کول:

عائشه رضی الله عنها فرمائی د رسول الله ﷺ په زمانه کښې يوې ښځې غلا کړې وه .فاطمه نوم ئې وو ،او قام والا وه .قبیلې ئې وئیل کۀ لاس ئې کټ شو نو زمونږ د پاره به شرم وي .نو اسامه رضی الله عنه ته ئې اوئیل چې رسول الله ته اُووایه چې دا ښځه معاف کړي .نو هغه رسول الله ته اوئېل .نو رسول الله ﷺ د جومات په ممبر باندې خطبه اوئیله . وئیل اے خلقو ستاسو نه مخکښې خلق یهود او نصارٰی چې په هغوې کښې چې به مالدار ګناه وکړه نو په هغه به حد نه قائم کیدو او چې غریب به وکړه نو حد به پرې قائم کیدو .او زما دې په الله قسم وي چې کۀ د محمد رسول الله ﷺ لور فاطمه هم غلا اُوکړي نو د هغې نه به هم لاس کټ کیږي [276] .رسول الله د عدل یو نمونه وو .

د نبی علیه السلام زهد:

د رسول الله ﷺ چې کله ساه ختله .عائشه رضی الله عنها د ګاونډی ښځې ته اوئیل چې زما په دې ډیوه کښې لږ تیل راوړه چې د رسول الله خدمت پرې وکړم . داسې عادل ذات وو چې په خپل حکومت کښې چې کله ساه وځي نو ډیوه کښې تیل هم نشته انصاف پواخې دا نۀ دے چې ستا په لاس کښې حکومت دے نو ته به انصاف کوې .

[276] صحیح البخاري باب ذکر اسامه بن زید رقم الحدیث [illegible]، اخرجه مسلم في الحدود باب قطع السارق الشریف وغیره رقم الحدیث [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



حديث کښې راځي كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ [217] - په تاسو کښې هر يو مشر دے او د هر مشر نه به تپوس کيږي د خپل رعيت په باره کښې:

عمر رضی الله عنهٔ به وئيل چې زما حکومت اګر که په ټوله دنيا باندې دے. کهٔ د دجلې سند په غاړه يو سپے د تندې مري، نو ددې به هم د عمر نه تپوس کيږي. مونږ ته صحابؤ د انصاف او عدل يوه نمونه ښودلې ده.

د عمر رضی الله عنه د شهادت په وخت کښې انصاف

د عمر رضی الله عنه چې کله وفات کيدو عمر بن ميمون وائي د ساه ختلونه څلور ورځې مخکښې حذيفه بن اليمان او عثمان بن حنيف رضی الله عنهما ئې د عراق زمکې ته وليږل چې ددې خلقو نه زکواة او ټيکس راوړي. عمر رضی الله عنه ورته اوئيل چې زياتے خو به پرې څه نه وي مقرر کړي. هغوي اوئيل څومره چې هغه زمکه برداشت کوي دومره پرې مقرر کړي. عمر رضی الله عنه وائي زه کهٔ الله ژوندے وساتم زهٔ به داسې انصاف وکړم چې لَاَدَعَنَّ اَرَامِلَ اَهْلَ الْعِرَاقِ لَايَحْتَجْنَ اِلٰى اَحَدٍ بَعْدِيْ. د عراق کونډه به په داسې حال کښې پريدم چې هيچا ته به سوال نه کوي. او هره کونډه به په خپل کور کښې حاجت مندلے شي. خو عجيبه قيصه داوه چې څلور ورځې پس الله ورله شهادت ورکړو. دا جماعت ته تلے وو. د مغيره غلام وو او د سحر مانځه ته چې دا مخکښې کيدو اوالله اکبر ئې چې څنګ

[217] صحيح البخاري رقم الحديث ٢٢١١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



اُونيل نو هغه برې د نيزې حمله وکړه. او د عمر رضی الله عنه د خلې نه دا اُورتل چې سپي اوچيچلم، او يا سپي قتل کړم[278]. خو چې کله ئي کور ته راوړو نو يو نوجوان ورته وائی اَبْشِرْ يَاأَمِيْرَالْمُؤْمِنِيْنَ بِبُشْرَى اللّٰهِ د الله زيرے درکوم ولې؟ هغه مقام پدې وجه باندې.

يو خو د رسول الله صحابی ئې۔

دويم چې عمررضی الله عنه په اولنو مسلمانانو کښې وو۔

دريم دادے چې تاپه خپل حکومت کښې دانصاف نه کاراخستےوو.

څلورم: ثُمَّ الشَّهَادَةُ۔ بيا درله الله شهادت درکړو.

نو انصاف ته ئې کورئ۔ عمر رضی الله عنه دې ملګري ته وائی د محمدرسول اللهﷺ ملګرتيا د الله فضل وو او په رسول اللهﷺ اول ايمان فضل وو په ما د الله تعالی۔ او د حکومت په باره کښې وائی چې الله مې سر بر معاف کړي اجر ترې نه غوارم خو چې معاف مې کړي۔ خو داسې انصاف ئې کړے وو[279]. خپل بچي ته عبدالله بن عمر رضی الله عنه ته ئې اُوئيل زمابچيه زما قرضونه شمار کړه هغه وشمارل ونيل شپږ اَتيازره روپۍ دي۔ داسې حکومت ئې کړے وو۔ صحيح حديث کښې راځي څوک چې هر قسم انصاف کوي دا به د قيامت په ورځ د نور په ممبرونو باندې د رحمن ذات طرف ته به دا خلق ناست وي۔

[278] صحيح البخاري باب قصه البيعه والاتفاق علي عثمان بن عفان رقم الحديث ۳۴۹۷

[279] صحيح البخاري رقم الحديث ۳۴۱۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## دا انصاف کونکي څوک دي؟

رسول الله ﷺ فرمائی دا هغه خلق دے چې انصاف کوي په فیصلو کښې په بچو او ښځو کښې انصاف کوي.

د نعمان بن بشیر رضی الله عنه واقعه

بخاری کښې راځي نعمان بن بشیر رضی الله عنه راغلے چې یارسول الله زما یو ځوي دے. او عمره بنت رواحه نه پیدا شوے دے. او دا ښځه راته وائي چې دې ځوي له دې دا څیز ورکړه او محمدرسول الله ﷺ پرې ګواه کړه. ما هغه لره دا څیز ورکړو ته پرې ګواه شه. رسول الله ورته اوئیل ستا نور بچي شته. هغه سړي اوئیل آو. نو وئیل هغوي لره دې څه څیز ورکړے؟ هغه اوئیل نا. رسول الله اوئیل په ظلم باندې زه ګواهي نه کوم. او په یو روایت کښې راځي رسول الله اوئیل اِشْهَدْ عَلٰی هٰذَا غَیْرِیْ. او رسول الله ﷺ ورته اوئیل اِتَّقُوا اللّٰهَ وَعَدِلُوْا بَیْنَ اَوْلَادِکُمْ [281]. د الله نه یره وکړئ. برابر والے وکړئ د خپل اولاد په مینځ کښې الله به د عرش د سیورې لاندې ځائ درکړي.

حدیث کښې راځي چې کله د قیامت ورځ شي نو که یو سړے د لسو کسانو مشر وي نو ملائکو به یرلره دا لاسونه د سته تړلي وي. او د الله مخې له به ورشي. یاخو به ئې عدل د الله د عذاب نه خلاص کړي. او یا به ئې ظلم د جهنم مینځ ته وغورځوي.

رسول الله ﷺ خپل اُمت ته دا خبره کړي ده زما اُمته د واک او مشرئ نه خان وساتي. ولې؟ اول د مشرئ نه ملامتیا ده. دویم

---

[281] صحیح البخاري باب الاشهاد في الهبة رقم ۲۲۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ندامت دے.په آخر کښې شرم دے د قيامت په ورځ.

رسول اللهﷺ يو خل تقرير وکړو ونېل اے خلقو د اجتماعي څيز نه خان وساتئ.او دا يادساتئ که چا په دنيا کښې په هر شيئ کښې خيانت وکړو نو د قيامت په ورځ به دي په سټ ناست وي. او آوازونه به کوي.او ته به ما ته اُووائي زما پيغمبره زما مدد وکړه.او زه به درته انکار کوم.ولي؟ ماپه دنيا کښې ددي کارونو نه منع کړي وي.او بيا ئي يو وينته د اوښ نه راويستو وئيل زما دا واک نشته چې ستاسو نه بغير ئي زه واخلم.

کرکره واقعه

يو صحابي رضى الله عنه کرکره نوم ئي دے.رسول اللهﷺ د خيبر نه واپس راتلو او په لاره کښې ئي د رسول الله کته د اوښ نه ښکته کوله.ناساپه يو غشے راغلے او دده په سر باندي ولګيدو او مړ شو. د چا د خلو نه دا خبره وختله هَنِيْئًا لَهُ الْجَنَّةَ جنت دي مبارک شه، رسول اللهﷺ ورته اُوفرمائيل يو شړي ئي د الله په لاره کښې پټه کړي ده هغه پرې اوس جهنم په مېنځ کښې اُور بلوي[281].

محترمو رونړو عدل کول يو اهمه خبره ده.

سورة النور کښې الله فرمائي څوک چې بدکاري وکړي او د الله د حد سره مخامخ شي.الله مؤمنانو ته فرمائي وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِيْنِ اللهِ[282] د الله په حکم نافذ کولو کښې به د چا خيال نه ساتي.د رسول

---

[281] صحيح البخاري رقم الحديث ۲۷۰۴

[282] سورة النور ۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله پنځلسو ښځو سره واده شوے وو. او د رسول اللهﷺ په نكاح
كښې په يو ځل يولس راجمعه شوي وي. او چې كله د دنيا نه تلو نو
نهه بيبيانې ترې پاتې شوي وي. د عائشى رضى الله عنها سره
ورسره وو. زينب رضي الله عنها تلكارى پخ كړي وه. غلام ئې رسول
الله له راوړه. نو د كومې زنانه كره چې رسول الله ناست وو دې لره
قهر ورغلے د هغه غلام لاس ئې اووهُو او لوخے ترې ګوزار كړو. او
لوخے مات شو. او تلكاري واوختله. رسول الله په خپلو لاسونو
مباركو دغه تلكاري په دغې مات لوخي كښې راواخسته په رسول
الله كښې انصاف وو. ددغې ښځې د كوره ئې روغ لوخے راواخستو
او غلام لره ئې وركړو. او بيا ئې ورله داسې عذر بيان كړو. ونيل دې
ښځې لره قهر ورغلے. زه بس الله دې ورته بخښنه وكړي.
د ټولو نه لويه خبره داده چې خپل كور كښې انصاف وكړي. د خوي
په واده لكهونه روپۍ لګوئ او د لُور په واده كښې ئې نه لګوئ. د
دوئ په حقُوقو كښې عدل پكار دے حتى چې خوي دې راواخستو او
خُكل دې كړو په تا باندې حق داد ے چې لُور هم خكل كړه. څكه د انصاف
نه به كار اخلې.

د انصاف والا مدد الله تعالى كوي:

حديث كښې راځي د الله قانون داد ے چې كوم حكومت چې انصاف
والا وي اګر كه هغه كافر وي الله هغه حكومت باقي جارى ساتي. او
كله چې ظلم كوي اګر كه هغه حكومت دمسلمانانو وي الله هغه حكومت
ختموي. عرض مې ددې خبرې كولو چې د عرش د سپوري د پاره
عدل پكار دے.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



## د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د انصاف اثر

عمربن عبدالعزیز رحمه الله یو لوے حاکم تیر شوےدے . ساد ني چې کله ختله . لس بچي ئي وو . چاورته اوئیل چې ظلم دې وکړو ددې خپلو بچو سره تاپه دې دومره حکومت کښې څه پریښودل . عمربن عبدالعزیز رحمه الله خپل بچي راغونډ کړل . وئیل بچو تاسو به دؤو حالاتونه خالي نه ئي . یا به تاسو په انصاف باندې ئي . الله به بیا ستاسو خیال ساتي . او زما بچو یا به تاسو ظالمان او ګناه ګار ئي نو ما دا نشوه کولے چې زما په پیسو ګناهونه بیا کوئ . چې کله وفات شو نو د هر یو پنځه پنځه روپۍ ورسیدې . هغه سړے چې په ټوله دنیا ئي حکومت وو خو چې کله ئي ځامن نیک عمله وو . الله ئې په مال کښې دومره برکت واچولو . د بني أمیه وو یو کس وائی چې ما دا په خپلو سترګو لیدلي دي چې د عمر بن عبدالعزیز ځامنو لره الله داسې مالونه ورکړه چې یو یو بچي ئي د الله په لاره کښې سل سل اوښان او آسونه ورکول . نو که دعرش د سیوري دلاندې ځائ غواړې نو بیا عدل کول پکار دے . الله دې مونږ کښې عدل پیدا کړي . آمین

اقول قولی هذا استغفرالله

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام -



# عدل و انصاف

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلٰٓى أَهْلِهَا ۙ وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ۗ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا [283]

وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهٗ إِمَامٌ عَادِلٌ وَشَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّيْ أَخَافُ اللّٰهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ [284]

حدیث د ابوهریره رضی الله عنه روان وو.اوله اهمه خبره داوه چې الله به اُووه کسانو ته د قیامت په ورځ د عرش سیوري لاندي ځای ورکړي. په دې کښې به یو عادل هم وي. عدل یو خو د انسان د خپل ځان سره عدل دے او هغه داد ے چې انسان په نیکو باندي کلک شي او د ګناهونو نه ځان بچ کړي. او یو د بل چا سره عدل دے. ستانه علاوه درے قسمه خلق دي چې ستا سره ئې حقوق متعلق دي. یو هغه سرے چې ستانه بره دے نو د هغه سره به انصاف کوي.

---

[283] سورة النسآء:
[284] صحيح البخاري باب من حبس في المسجد ينتظر الصلاة رقم ٦٣١، صحيح مسلم في الزكاة فضل اخفاء الصدقه رقم الحديث ١٠٣١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دویم هغهٔ انسان چې ستانه ښکته دے د هغه سره به انصاف کوي۔

د دري قسمه خلقو حقوق

دريم هغه انسان چې ستا سره برابر دے نو د هغهٔ سره به هم انصاف کوی۔ یو هغه چي ستانه بره دے هغه اسلامی بادشاه دے۔ ددې تابعداری به کوي۔ ښکته خلقو کښې ستا بچي او ښځه شامل دي۔ د بچي سوچ کوه چې مونځ کوي او کنه؟ او د الله په احکامو عمل کوي او کنه؟ دا عدل دے او ستا دا خبره فرض ده چې خيال ئي ساته۔ او دويم چې ستا برابر وي ستا د کمرې ملګرے دے۔ د هغه سره عدل کول په تا فرض دي۔ او په کومه ورځ چې عدل ختم شي نو په هغه ورځ به دنياتوله ختميږي۔ معاشره کښې عدل وونو خلق په خوشحاله او آمن سکون کښې ژوند تيروي۔

د عدل اثر پهٔ لېوانو

د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله زمانه کښې عدل وو۔ شرمخ او ګډي به يو ځائ څريدلي۔ خو په يو بل به ئي زياتے نه کؤو۔ خو چې کله وفات شو د عدل نمونه ظاهراً ختمه شوه حتی چې يو بانډيچے وائي چې کله شرمخ په ګډه حمله وکړه نو ماته پته ولګيده چې عمربن عبدالعزيز رحمه الله وفات شو۔

حدیث صحیحه کښې راځي د انس بن مالک رضی الله عنه حدیث دے چې رسول الله فرمائيلی دي۔ درې خبرې داسي دي چې زما او ستادرجې اوچتوي۔او درې خبرې داسي دي چې زما او ستا ګناهونه معاف کوي۔او درې خبرې داسي دي چې هغه زما او ستا د نجات ذريعه ګرځي ۔او درې خبرې داسي دي چې هغه زما او ستا د هلاکت

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ذريعه کرځي. کۀ دادي زړه غواړي چې الله زما درجې اوچتې کړي. نو دا درې خبرې ځان کښې راوله.

## درې خبرې درجات اوچتوي

رسول الله فرمائي اوله خبره اِنْتِظَارُالصَّلٰوۃِ بَعْدَالصَّلٰوۃِ. د مونځ نه پس بل مونځ په انتظار کښې کينه.دا به ستا د پاره د الله په نيز درجې اوچتې کړي. دويمه خبره:وَاِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ فِي السَّبَرَاتِ.په يخنی کښې د رسول الله په طريقه اودس کول. دريمه خبره:وَنَقْلُ الْاَقْدَامِ اِلَى الْجَمَاعَاتِ[285]. د جمعې د مانځه د پاره يو يو قدم اخلې يوه يوه درجه به دي الله اوچتوي.

## درې خبرې ګناهونه معاف کوي

او درې خبرې داسې دي چې په هغې باندې الله زما او ستا ګناهونه معاف کوي. رسول الله فرمائی اِطْعَامُ الطَّعَامِ وَاِفْشَاءُ السَّلَامِ وَصَلَاۃٌ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ. په خلقو طعام وخوروه او په هرچا باندې سلام کوه او مونځ کوه د شپې چې نور خلق اوده وي. په دې باندې الله ستا ګناهونه معاف کوي.

## درې خبرې د نجات

رسول الله فرمائي درې خبرې داسې دي چې هغه انسان د پاره د هر مشکل نه خلاصے او د انسان د درجاتو ذريعه جوړيږي. يو اَلْعَدْلُ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَا انصاف به کوې په غصه کښې اوپه خوشحالۍ کښې،

[285] المعجم الکبير للطبراني رقم الحديث ٢١٦

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



انصاف به چرته نه پرېږدي. دويم وَالْقَصْدُ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنٰی. درميانه ژوند تيروه که غريب ئې او که مالداره. دريم وَخَشْيَةُ اللّٰهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ د الله نه په پټه او ښکاره ويرېږه داخبرې به تا د هر مشکل نه خلاصي.

درې خبرې د هلاکت او تباهي:

او درې خبرې داسې دي چې هغه انسان تباه کوي. اول: شُحٌّ مُطَاعٌ، چې په چا کښې بخل وي. او دريم وَهَوٰی مُتَّبَعٌ سړے په خواهشاتو پسې روان وي. چې زړهٔ ئې څه غواړي هغه کوي. دريم وَاعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهٖ. سړے خپل ځان ته ګوري چې سړے هم زهٔ يم دا انسان تباه کوي.[286]

عرض مې ددې خبرې کولو د عرش د سيورې د لاندې کيدل اولنۍ خبره داده چې ما او تا د عدل نه کار واخلو.

د عدل نمونه:

حديث کښې راځي ابوهريره رضی الله عنه فرمائي يو سړي په بل سړي زمکه خرڅه کړې وه هغه دويم په زمکه کښې د سرو زرو منګے ومندلو. د عدل د وجې يې اولني مالک ته اوئيل ماستانه زمکه اخستي، نه دا خزانه دا واپس کړه. نو هغه جواب کښې اوئيل چې ما دربانديې زمکه سره د خزانې خرڅه کړې ده. بادشاه لره فيصله لاړله بادشاه د يو د ځوي سره د بل د لور نکاح وکړهٔ. او خزانه ئې هغوئ

[286] المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۲۲۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لره ورکړۀ ـ نن صبا خلق د اسلام دعوې کوي او پردي حقونه نه ورکوي۔

د ابوذر رضی الله عنه انصاف

یو ځل ابوذر رضی الله عنه بلال رضی الله عنه ته د ځلي نه اوختل اے د تورې خويه بلال رضی الله عنه رسول الله ته اُوئيل ـ نو رسول الله ابوذر ته اوئيل چې اے ابوذره دې وخت کښې ستا د ځلي نه د اسلام سره داسې خبره اوځي په تا کښې اوس د جاهليت آثر شته[287]۔ نو ابوذر رضی الله عنه قسم اوکړو چې څو پورې بلال زما په تندي او اننګي باندې خپه نه وي ايښودې زه به دا خپل اننګے ددې زمکې نه نه اُوچتوم چې دا د جاهليت آثر زما نه وځي۔

قرآن کښې الله فرمائي

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝[288]

اے مؤمنانو تاسو کلک شئ په انصاف باندې ګواهي کوي د الله د پاره اګر کۀ په نفسونو ستاسو باندې وي۔

الله فرمائي کۀ ته وائي چې زه انصاف نشم کولے وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا۔ کۀ ژبه اوړ مخ دې د عدل نه واړولو نو يقينًا الله دے په هغه چې تاسو ئې کوي ليدونکے۔

---

[287] شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۵۱۳۵

[288] [سورة النسآء]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



كله الله تولو مؤمنانو ته فرماني

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ۡ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا ۭ اِعْدِلُوْا ۣ هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ۝[289]

الله فرماني اے مؤمنانو د الله د پاره په عدل باندي كلك شئ او بيا الله فرمائي چې د چا سره دي دشمني وي د هغه دشمنۍ د وجې نه د عدل خبره درنه پاتې نشي اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى۔ په عدل روان شه دا به دي تقوي ته نيزدې كړي۔

او كله الله فرمائي اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا[290] الله حكم كوي تاسو ته چې وركړئ امانتونه خپل اهل ته۔ او بيا الله فرمائي: وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ۭ چې كله فيصله كوي د خلقو په مينځ كښې نو فيصله وكړه په عدل۔ خبره مې دې پورې كوله كۀ د عرش د سيورې لاندي خان كول غواړې نو د عدل نه كار واخله۔

دريم سړے به د قيامت به شَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ۔ هغه ځوان چې خپله ځواني ئي د الله په عبادت كښې ولګوله۔ خو افسوس چې نن صبا زمونږ نوجوانان د خپل دين نه نۀ وي خبر۔ زما او ستا ځوانان په ټي وي او موبائيل باندي آخته دي۔ ددې زماني ځوانان د كركټ او فټ بال په لوبو كښې اخته دي۔ زما او ستا ځوانان په ګانو او بے حيايۍ

[289] [سورة المائدة]

[290] سورة النساء ۵۸

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کښې آخته دي. هائي افسوس کۀ دي نوجوان لړ قرآن راخستے وے
او لړ احادیث د رسول اللهﷺ راخستی وے. او همیشه د پاره د دین
خدمت دا نوجوانانو کړے دے.

## اصحاب کهفو واقعه:

قرآن کریم د یو څو نوجوانانو قصه بیان کوي الله فرمائي
اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ ۙ كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا۝[291]
آیا گمان کوي ته چې هغه غار والا او تختو والا دا زما د نښو ناشنا
نښې د عبرت وې. دا څوک وو اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَ زِدْنٰهُمْ هُدًى۝
الله فرمائي دا یو څو ځوانان وو چې ایمان ئي په خپل رب راوړے وو
او زیاد کړے مي وو دوي ته هدایت. داسي ځواني پکار ده چې لکه
د اصحاب کهف والا پښان وي. چې کله د قیانوس بادشاه مخې ته
ودریدل. نو بادشاه ورته اوئیل چې چاته رب وائي تاسو؟ وَ رَبَطْنَا عَلٰى
قُلُوْبِهِمْ الله وائي مضبوط کړي وو مونږ زړونه د دوي اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا
رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ کله چې دوي ودرولے شو نو دوي اوئیل چې رب
زمونږ رب د آسمانونو او د زمکو دے چې هغه الله دے. او داسي
ورته اوئیل لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا د الله نه سوا هیچا ته معبود نه وایو.
نو بادشاه ورته اوئیل کۀ څوک بل چاته رب وائي نو تاسو به څۀ
وائي؟ لَقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا۝ کۀ داسي خبره مونږ وکړه نو د حد نه به مو
ختلي خبره کړي وي دا د ټولو نه لویه گمراهي ده. الله د هغوي تذکره
په قرآن کښې کړې ده. ځکه چې دوئ په ځوانئ کښې د رب بندگي

[291] سورة الكهف:

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کړي وه. چې کله دې څوک په يو ځای کښې د الله عبادت ته نه پرېږدي نو هغه د اصحاب کهف تاريخ ته ګوره. نو اے نوجوانه تا د دين د پاره کوم محنت کړے دے. تاته د محمدرسول الله هيئت د اوسه پورې ښائسته نه ښکاريږي. کوم نوجوان چې ګيره خروي د هغه نوجوان نه تپوس پکار دے. ته چې ګيره خروي تا چې د کوم پيغمبر کلمه ونيلي ده هغه چرې ګيره خريلي ده.

د يوسف عليه السلام واقعه:

يو بل خوان تير شوے دے يوسف عليه السلام حديث کښې راځي رسول الله فرمائي نيمه حصه د ښائست ورلره الله ورکړې وه. خو د رب تابع وو. الله فرمائي وَ رَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَ غَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَ قَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّيْۤ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ۝[292] د بادشاه ښځې ترې مطالبه وکړهٔ او دروازې ئې بندې کړې خو يوسف عليه السلام دروازے ته منډه کړه. بادشاه په دغه دوران کښې د دروازی خواته ولاړ وو. نو يوسف عليه السلام ورته اوئيل چې ستا ښځې زمانه مطالبه وکړه. خکه مې دروازې ته رامنډه کړه. اوس لږ سوچ کول پکار دے زما او ستا نوجوان د موبائل د تصوير نه مخ نشي آړولے. او دا ياد ساته کهٔ ته د بل ښځې ته ګورې ستا ښځې ته به سل کسان ګورې دا پتا باندې قرض دے.

د عفت اثر پهٔ خاندان:

امام شافعي رحمه الله وائي ځان پاکدامن کړه چې ستا ښځه پاکدامنه

[292] [سورة يوسف]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



شي.نو اے نوجوانه که په ځوانۍ کښې دي د الله عبادت وکړو نو د یوسف پشان مقام به الله درکړي.او چې په ځوانۍ کښې خپل ځان د غلط کارونو نه ساتي نو الله به د عرش د سیوري لاندې ځائ درکړي.

اقول قولی هذا استغفر الله

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# الشباب (خواني)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝

(سورة القصص)

وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَاظِلَّ اِلَّاظِلُّهٗ اِمَامٌ عَادِلٌ وَشَابٌّ نَشَأَفِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّافِيْ اللّٰهِ اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ اِمْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَاحَتّٰى لَاتَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَاتُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ وَرَجُلٌ ذَكَرَاللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ[293]

حديث د ابوهريره رضى الله عنه روان وو چې اووه کسانو ته به: عرش د سيوري د لاندې الله ځاې ورکړي. د اولني ذکر مخکښې وشو.

دويم: هغه ځوان وو چې خپله ځواني ئې په عبادت کښې تيره کړې وي او دا اهم عبادت ځکه دے چې يو خو د انسان طبيعت: خواهشاتو طرف ته ډېر مائله وي. په ځوانۍ کښې قوت مضبوط وي په هره ګناه کولو باندې قادر وي. او کله چې انسان بوډا شي نو ګناه نه کوي نو هغه ئې هسې هم نشي کولے. په ځوانۍ کښې د الله

[293] صحيح البخاري باب من جلس في المسجد ينتظر الصلوٰة رقم ٦٦٠، صحيح مسلم في الزكوٰة فضل اخفاء الصدقة رقم الحديث ١٠٣١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عبادت کول د الله نه ویره کول دا د آنبیاؤ طریقه ده.

قیامت کښې به د څلورو خبرو تپوس کیږي

حدیث کښې راځي رسول الله ﷺ فرمائي چې د قیامت په ورځ د څلورو خبرو تپوس نه وي شوے یو قدم به آخوا نشي تلے. لَاتَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُسْأَلَ عَنْ اَرْبَعٍ.

اَلْاَوَّلُ: عَنْ عُمْرِهٖ فِيْمَا اَفْنَاهُ.

تا دا ټول عمر په څۀ کښې تیر کړے وو؟

دویم: وَعَنْ شَبَابِهٖ فِيْمَا اَبْلَاهُ.

ځواني دې په څه کښې تیره کړې وه؟

دریم: وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَيْنَ اِكْتَسَبَهُ وَفِيْمَا اَنْفَقَهُ

تا مال د کوم ځائ نه ګټلے وو او کوم ځائ دې خرچه کړے وو؟

او څلورم: وَعَنْ عِلْمِهٖ په خپل علم دې څومره عمل کړے وو[294]؟

اوس سوچ کول پکار دے چې ددې زمانې د نوجوان ځواني په څۀ کښې تیریږي، په کرکټ او ګانو بجانو کښې تریریږي.

د ابراهیم علیه السلام واقعه:

تاریخ چې وګورو لوي ځوان ابراهیم علیه السلام د توحید بیان وکړو. او وئیل ستاسو دا بتان د عبادت لائق نه دي. او ورته وائي: وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ۝[295] وئیل زما دې په الله

---

[294] شعب الایمان رقم الحدیث ۱۷۸۵

[295] سورۃ الانبیاء ۵۷

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قسم وي زما د ځواني زور به وينې چې زۀ ستاسو دا بتان ذره ذره کړمه.دا واقعه د ځوانانو د پاره ده.نو اے نوجوانه تا نن د بےحيائي کومه آډه ورانه کړي ده. تا نن د غيرت کوم کار کړے دے لکه ابراهيم چې کړے دے خو ابراهيم هسې خبرې نه کولې فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ۝(الانبياء) نو چې کله هغوي راغلل. وئيل قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وئيل دا کار چې چا کړے دے دا خو ډير ظالم دے.بعضو اووئيل قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ۝ او وئيل ئي چې اوريدلي مونږ د يو ځوان نه چې هغه ددې بتانو بد وئيل چې هغه ته ابراهيم عليه السلام وئيلے شي. نو اے نوجوانه نن تاسو سره په موبائيلو کښې غلط تصويران درسره دي دا د بےحيائي آډي ولې نه ختموي.د ابراهيم عليه السلام په نقش قدم باندي ولې نه روانيږي.

عبدالله بن عباس رضی الله عنهماته د نبی عليه السلام نصيحت

رسول الله عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته وائي اِحْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ د الله د دين حفاظت کوه الله به ستا حفاظت کوي سترګې دي صحيح استعمال کړه الله به ستا حفاظت کوي وَاعْلَمْ اَنَّ الْاُمَّةَ لَوْ اِجْتَمَعُوا عَلٰى اَنْ يَنْفَعُوْكَ.دا ياد ساته کۀ ټوله دنيا راجمع شي چې فائده درکړي تاته نو نشي درکولے مګر چې الله مقرر کړي وي[236]. خپله ځواني د الله په عبادت کښې تيره کړه.

[236] مسند احمد بن حنبل رقم الحديث ٢٦٦٩

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د علي رضي الله عنه د عمرو بن عبدود سره مقابله:

د رسول الله د ترهٔ خوي علي بن ابی طالب رضي الله عنه کله چې جنګ احزاب جوړ شو ـ لس ذره کافران د مدينې نه تاؤ شوي وو۔ عمرو بن عبدود لوے پهلوان وو هغه په خندق باندي راودانګل او ونيل زما څوک مقابله کونکے شته۔ علی رضی الله اونيل آؤ زه يم. نو د دواړو په مقابله کښې چې کله عمر بن عبدود حمله وکړهٔ نو د علی رضی الله عنه سر لږ زخمي شو .او بيا علی رضی الله عنه پرې د تورې ګزار د دواړو ولو په مېنځ کښې وکړو۔او په مېنځ ئې دوه کړو۔ او په ټوله مدينه کښې د الله اکبر چغه خلاصه شوه۔ چې يو نوجوان هلک د کافرانو لوے پهلوان قتل کړو۔

يو بل نوجوان تير شوے دے موسیٰ عليه السلام۔

قرآن کښې الله فرمائي

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۝ [297]

او چې کله ځوانی ته ورسيدو نو الله وائي مونږ ورلره پوهه او علم ورکړو .او دارنګه مونږ بدله ورکؤو نيکانو خلقوته۔ د پيغمبری نه مخکښې د غرمې په وخت کښې روان وو.نو يو ظالم قبطی په يو اسرائيلی باندي ظلم کوي۔نو اسرائيلی موسی ته د مدد آواز وکړو.

نو موسیٰ عليه السلام فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ نو موسیٰ د ځوانی سوک ورکړو نو ايسته تري ساه لاړله ـنو ته نن سوچ وکړه نن په دنيا کښې د مظلومانو سره زياتے کيږي تا د کوم يو مظلوم مدد کړے دے۔

---

[297] {سورة القصص}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د حاتم طائي د لور واقعه

اوکله چې رسول الله ﷺ د حاتم طائي لور ونیوله. دا یو سخي سړے تیر شوے وو. او رور ئي عدی بن حاتم وتختیدو. نو رسول الله ته د عدی خور وائي اے پیغمبره په ما خهٔ کوي د الله د پاره ما آزاده کړه. نو رسول الله ورسره دوه ځوانان ملګري کړه چې کور ته ئي ورسوئ. نو دا جینئ خپل رور عدی ته وائي اے عدي زما روره اصحاب محمد ﷺ چې زما کوم قدر کړے دے زما ئي چې د حیا کوم خیال اصحاب محمد ﷺ ساتلے زما دې په الله قسم وي زما د حاتم په کور کښې هغه عزت نه دے شوے. هغه دا زهٔ چې کله په لاره راتلم نو دوئ اونیل چې زمونږ نه روسته راځه او کهٔ لار خطا شوه نو د کانړي په ذریعه ئي رانښوو.

نو اے د نن صبا ځوانه زما او ستا نظر نن په کوم ځائ لګي. زمونږ په غوږونو څهٔ غږیږي. زمونږ خپې کوم طرف ته رواني وي. زما ځوانه روره تا هغه حدیث نه دے اوریدلے چې رسول الله فرمائي الله تعجب کوي د هغه ځوان نه چې د هغه ګناه طرف ته میلان نه وي. او په ځوانئ کښې د الله عبادت کوي. دا یو اخې د سړو صفت نه دے. داسي زنانه هم تیرې شوي چې هغوي په پیغلتوب کښې د الله عبادت کړے دے.

د آسیه رضي الله عنها واقعه:

په قرآن کښې د یوې نوجوانې زنانه آسیه رضي الله عنها قصه ذکر ده چې د فرعون کافر په نکاح کښې وه خو ایمان ئي راوړو او د الله نه ویریدله. الله وائي زهٔ د هغې قصه دې نوجوانانو او دې پیغلو ته کوم.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَ نَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَ عَمَلِهٖ وَ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ [298]

نو كله چې ظلم پرې ډېر وشو نو دا دعا ئې وكړه. وئيل اے زما ربه جوړ كړه مالره ستا په خوا كښې (په جنت كښې) يو كور. او خلاصے راكړې مانړه د فرعون نه او د هغه د عمل نه او د قوم ظالمانو نه. نو په خوانې كښې د الله بندگې كونكے به د عرش د سيورې لاندې وي.

او يوه بله پيغله مريم رضى الله عنها تيره شوې ده.

الله فرمائي وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ۝ [299] او دا قصه ددې د پاره بيانوم چې د هغې پيغلې نه عبرت واخلې الله وائي ياد كړه په كتاب كښې مريم كله چې لاړه د اهل خپل نه يو سكان مشرقي طرف ته او خپل خان له ئې د عبادت خائ جوړ كړو. جبرائيل عليه السلام ورلره په شكل د انسان راغلے قَالَتْ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ۝ [300] مريم عليها السلام ورته اوئيل زۀ پناه غوارم په رحمٰن ذات سره ستا نه كۀ ته پرهيزگار ئې دا قصه د مريم عليها السلام.ما او تاته الله ولې كوې.

الله په سوره التحريم كښې فرمائي وَ مَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَ صَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَ كُتُبِهٖ وَ كَانَتْ مِنَ

[298] سورة التحريم
[299] سورة مريم
[300] سورة مريم

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الْقٰنِتِيْنَ ﴿۱۲﴾[1] او مریم چې لور د عمران وه دا هغه نوجوانه وه او صفت پکښې دا وو د خپل ځان حفاظت ئې کړے وو. ځان ئې د بے حيائي نه بچ کړے وو. او په اخر کښې الله فرمائي دا وه د تابعدارو نه.

عرض مې ددې خبرې کولو کۀ د عرش د سیوري د لاندې ځان کول غواړې نو په ځوانۍ کښې د الله عبادت کول غواړي. الله دې زمونږ د ټولو د عرش د سیوري د لاندې ځائ نصیب کړي.

آمين



Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه انسان چې د هغه زړهٔ د الله په کور پسې لګیدلے وي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَ لَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰۤى اُولٰۤئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ۝[302]

وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهُ اِمَامٌ عَادِلٌ وَ شَابٌّ نَشَاَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ[303]

د ابوهریره رضي الله عنه د حدیث تشریح روانه وه چې دریم کس چاته چې د عرش د سیوري لاندې الله د قیامت په ورځ ځائ ورکړي هغه سړے به وي چې د جمات سره ئې محبت وي. ددې خبرې وضاحت په احادیثو کښې راغلے د ټولو نه اولنۍ خبره دا ده چې کوم انسان پنځهٔ وخته مونځ په جمعې سره کوي ددې انسان په باره کښې ما او تاته اوئیلے شو چې ددې انسان زړهٔ د الله په کور پسې لګیدلے دے. او دا هغه انسان دے چې د عرش د سیوري لاندې به وي.

## په منافقانو دوه مونځونه ګران وي:

په بل حدیث کښې ابوهریره د رسول اللهﷺ نه روایت کوي چې په منافقانو باندې دوهٔ مونځونه ډېرګران وي. یو د سحر او بل د ماسخوتن مونځ. رسول الله فرمائي کهٔ دې انسانانو ته پته وے چې

[302] (سورة التوبه)
[303] صحیح البخاري باب من حبس في المسجد ینتظر الصلواة رقم ۳۳۰ وصحیح مسلم في الزکواة فضل اخفاء الصدقه رقم الحدیث ۱۰۳۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د جمعي په مانځه کښې څومره ثواب دے نو په څرپوځو به جمات ته راغلي وے. بيا رسول الله ﷺ فرمائي چې زړهٔ مې داغواړي چې يو سړي ته حکم وکړم چې د سحر يا ماسخوتن جمعه ورکړي او ځان سره يو څو ځوانان ملګرې کړم چې لرګي راجمعه کړي او بيادهغه چا کورونه وسيزم چې دي مونځونو ته نهٔ حاضريږي.

امام بخاري رحمه الله قول

امام بخاري وائي بَابُ وُجُوبِ الصَّلٰوةِ الجَمَاعَةِ چې د جمعې مونځ کول فرض دي. د ټولونه اول دا چې ته به پنځه وخته په جمات کښې مونځ کوې.

په صحيح حديث کښې راځي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خلقو ته اوئيل اے خلقو دا مونځونه په هغه ځائ کښې کوئ چرته چې آذان کيږي. او بيا ئې اوئيل چې د رسول الله په زمانه کښې به هغه انسان د جمعې نه پاتې کيده چې هغه به ښکاره منافق وو. دا د جمعې مونځ کول دا هغه سنت دي چې رسول الله چرته نه دي پريښودي. او بيا ئې اوئيلي چې کهٔ خوک په کورونو کښې مونځ کوي نو ګمراه به شي.

يوهٔ عجيبه واقعه:

سير اعلام النُّبَلَاءِ کښې د يو عالم د يوتابعي وينا ذکرکړي ده. هغه وائي ما به دا ارمان کولو چې زمانه د جمعې مونځ لاړ نشي يو خل د مسلمه د وجې زمانه د جمعې مونځ لاړو وائي ما ټول جماتونه وکتل خو هلته هم جمعه شوي وه وائي کور ته راغلم سوچ مې راغلو چې حديث د ابوهريره کښې چې رسول الله وائي چې يو مونځ د جمعې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



سره دا د پینځویشت مونځونو نه بهتره دے چې هغه بغیر د جمعې وي. په بل حدیث د عبدالله بن عمر رضي الله عنه کښې راځي چې د اوویشتو مونځونو نه بهتره دے. او په یو بل حدیث کښې یوویشت هم راغلي. وائي په مانځه ودریدم او اوویشت کرته مې مونځ وکړو. چې اوده شوم خوب کښې مې اولیدو چې یو جماعت د اسونو والا دے. تیز روان دے د جنت په طرف او زه هم په خپل اس سور یم. وائي ما هم خپل اس د دوي سره یو ځائ کول غوښتل خو د هغوي سره نه شوم ملګرے کیدے. یو کس شاته روان وو او ماته ئي اوئیل چې هسې خپل اس مه ستړے کوه مونږ بیګاه د ماسخوتن مونځ په جمعې سره کړے دے.

عرض مې ددې خبرې کولو چې د ټولونه اولنۍ خبره داده چې ته به د جمعې مونځ نه قضا کوې.

د یو صحابي واقعه:

صحیح حدیث د مسلم کښې راځي ابو هریره رضي الله عنه فرمائي چې یو سړي اوئیل یارسول الله اِنِّیْ رَجُلٌ اَعْمٰی. وئیل زه ړوند یم او زما څوک د راوستو هم نشته ما ته اجازت وکړۀ چې د ماسخوتن مونځ په کور کښې کوم. رسول اللهﷺ اجازت ورکړو. چې کله لږ وړاندي لاړو نو رسول الله جواب ورکړو چې د آذان آواز آورې. هغۀ اوئیل آو، رسول الله اوئیل بیا جمات ته راځه. چې د ړوند د پاره اجازت نشته نو د روغ د پاره خو خامخا نشته.[304]

[304] صحیح مسلم باب یجب اتیان المسجد علی من سمع النداء رقم الحدیث ۱۰۱۹

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بل ځائ کښي الله خپل رسول ته فرمائي وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ[305] ابن کثير د مجاهد نه نقل کوي چې ددې آيت معني داده چې پنځه وخته مونځ په جمات کښې کوئ. خبره مې په دې پورې کوله د ټولو نه اول د جماعت مينه او محبت او د جماعت د ټولونه اول آبادول دادي چې زما او ستا به د جمات سره تعلق د جمعې وي.

په يو صحيح حديث د ابوقتاده کښې ناشنا خبره رسول الله کړې ده. اِذَارَاَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَفَاَشْهِدُوْالَهٗ بِالْاِيْمَانِ[306] رسول الله فرمائي يو سړے دې وليدو چې هغه د جماعت سره مينه ده او پنځه وخته په جماعت کښې مونځ کوي نو ددې سړي د ايمان ګواهي ورکړه. چې ته مؤمن ئې ځکه الله په قرآن کښې فرمائي اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ۝ الله وائي هغه سړے چې د الله کور آبادوي دا صرف د مؤمنانو کار دے. يو سړي وي عقيده ئې خرابه وي او عمل ئې د رسول الله د سنت خلاف وي. د داسي خلقو په باره کښې الله فرمائي مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ۭ اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ښ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ۝[307] الله فرمائي د مشرک سړي د جماعت د جوړلو سره څۀ کار دے.

---

[305] {سورة کهف ۲۸}

[306] سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۱۷

[307] {سورة التوبه}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مفسرين وائي چې مشرک سړے به يوه خښته د الله په کور کښې نه
ګدي.

د رسول الله ﷺ د مشرک نه په جنګ کښې مدد نۀ آخستل:

يو کافر راغلے او رسول الله ﷺ ته ئي اوئيل چرته روان ئي؟رسول
الله اوئيل جهاد ته. هغه کافر اوئيل زۀ به درسره مدد وکړم او زغره
به درکړم. رسول الله ورته اوئيل ته مؤمن ئي هغه اوئيل نا. رسول الله
اوئيل زۀ منعه کړے شوے يم د مدد د مشرکينو نه. زما سره د الله
مدد کافي دے.

عرض مې ددې خبرې کولو کۀ د الله د عرش د سُبورې لاندې ځائ
غواړې په هغه ورځ چې ددې سُبورې نه علاوه به بل سُبورے نۀ وي
نو د الله د کور سره تعلق جوړ کړه يعني پنځه وخته مونځ په جومات
کښې کوه. الله دې زمونږ تعلق د جماتونو سره جوړ کړي. آمين

اقول قولی هذا استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمين.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## هغه دوه کسان چې د الله د پاره د يو بل سره مينه کوي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ اِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ۚ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَ اَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ۚ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۚ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝[308]

وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ اِمَامٌ عَادِلٌ وَ شَابٌّ نَشَاَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ اِمْرَاَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ[309]

د عرش د سيوري د لاندې ځلورم کس رسول الله ﷺ فرمائي هغه دوه کسان چې د الله د پاره دوستي کوي د الله پدې دوستۍ باندې د يو بل سره مينه کوي او د الله په دې دوستۍ باندې ديو بل سره دشمني هم کوي.ما او تا کښې چې د الله د پاره مينه او د الله د پاره دشمني پيدا شي نو هله به د عرش د سيوري لاندې ځائ ژاکړي۔او دا ياد ساته چې دا وړه خبره نه ده.

### د اسلام مضبوطه کړۍ:

مصنف ابن ابي شيبه کښې د رسول الله نه عبدالله بن مسعود رضی

[308] [سورة الانفال]

[309] صحيح البخاري باب من جلس في المسجد ينتظر الصلاة رقم ٦٢٠، وصحيح مسلم في الزكاة وفضل اخفاء الصدقة رقم الحديث ١٠٣١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله عنه نقل کوي دا د الله د پاره مينه کول هِيَ اَوْثَقُ عُرَى الْاِيْمَانِ[310]
دا د ايمان په کارو کښې مضبوطه کړئ ده. دالله د پاره د چاسره مينه
کول او د الله د پاره د چاسره دشمني کول دا د الله په مهرباني سره
کيږي.

الله تعالي رسول ﷺ ته فرمائي هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝ الله
وائي زما دا احسان اومنه چې الله ته په خپل مدد باندې کلک کړي.
او الله وائي ماته په مؤمنانو کلک کړي.

کوم مؤمنان وَ اَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ۭ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ
قُلُوْبِهِمْ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ . الله هغه ذات دے چې ستا او ستا د
ملګرو په مېنځ کښې ئې مينه پيدا کړه. او کۀ تا ټوله دنيا خرڅه
کړي وے نو تا به د اصحاب محمد ﷺ په زړونو کښې مينه پيدا
کړي نۀ وے. بلکه ما دا مينه پيدا کړه.

قرآن بل ځائې کښې الله فرمائي وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا ۠ وَ
اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ
اِخْوَانًا ۚ وَ كُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ
اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝[311]

الله فرمائي زما دا نعمت را ياد کړه کله چې تاسو د يو بل دشمنان
وئ. نو محبت واچؤو ما په زړونو ستاسو کښې. نو وګرځيدې تاسو
په نعمت د الله سره رونړه. او هغه نعمت ايمان وو. په اصحاب محمد

---

[310] مصنف ابن ابي شيبه رقم الحديث ۹۹ وکذا في ۳۰۲۲۲
[311] سورة ال عمران

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ﷺ کښې دا صفت ډېر وو.

مصعب بن عمير رضي الله عنه د مؤمن سره محبت:

د مصعب بن عمير رضي الله عنه به د مؤمن سره ډېره مينه وه او د کافر سره به ئې ډېره دشمني وه. د بدر په جنګ کښې يو انصاري ددې رور ابوعزيز وو دلاسه نيولے او تړې ئې. چې کله مصعب بن عمير رضی الله عنه پرې راغلے نو د رور ئې دا ګمان وو چې اوس به مې تړې خلاص کړي. نو مصعب بن عمير رضی الله عنه دې انصاری صحابی ته وائي چې روره دا لاسونه پرې کلک راغونډ کړه چې د لاسونو نه دې ونه وځي. هغه رور ئې ورته وائي زما ګمان وو چې ما به خلاص کړي او تا خو داسي وصيت وکړو. مصعب بن عمير ورته وائي أَنْتَ لَيْسَ أَخِيْ. ته زما رور نه ئې هُوَاَخِيْ دُوْنَكَ دا زما رور دے ستانه بغير[312]. داسي مينه پيدا کړه.

د محبت پېدا کولو نسخه:

صحيح حديث کښې راځي رسول الله ﷺ ټولو خلقو ته داسي خبره کوي لَاتَدْخُلُوْا حَتّٰى تُؤْمِنُوْا جنت ته نشي تلے تردې چې ايمان راوړي او مؤمن نشي کيدے تردې چې د يو بل سره مينه ونه کړئ. بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل أَ لَا أَدُلُّكُمْ اَلْاَمْرِاِذَا فَعَلْتُمُوْهُ چې يو کار درته ښايم دا کار به ستاسو د يو بل سره مينه پيدا کړي. أَفْشُوْا السَّلَامَ هر سړي ته سلام کول په دې باندې مينه محبت پيدا کيږي د صحابؤو په خپل مينځ کښې ډيره مينه وه.

[312] صحيح مسلم رقم الحديث ٥٤

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## د ابوطلحه رضي الله عنه د ميلمستيا کولو طريقه

بخاري کښې راځي خپل ځان ،خپل بچي او ښځه ئي وږي پاتې شول خو چې د الله د پاره ئي د چا سره مينه وه هغه ئي موړ کړو۔رسول الله يو ځل صحابؤو ته اوئيل اَلَارَجُلٌ يُضِيْفُهُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ د رسول الله يو ځل ميلمه راغلے او په نهو کورونو کښې کار نه کيدو نو وئيل داسي يو سړے دريکښې نشته چې دي ميلمه له بيګاله روټئ ورکړي۔يو صحابي وئيل زه به دا کار وکړم۔چې صحابي کور ته راغلو نو ښځې ته ئي وئيل کور کښي څۀ شته؟ ښځې ئي وئيل نا۔سوا د هغې نه چې ماشومانو د پاره دي۔ښځې ته ئي وئيل ماشومان په څۀ طريقه اوده کړه۔او چې مونږ کله روټئ ته کينو نو ته ډيوه په څۀ بهانه مړه کړه.چې ميلمه موړ شي۔نو دغسې ئي اوکړل۔نو په حديث کښې راځي لقد عجب الله اوضحك مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانَةٍ[313] الله بيګاه فلانی ښځې او خاوند ته خندل چې خومره ئي ددي ميلمه د رسول الله سره مينه وه۔

او رسول الله دا خبره کړي ده لَايُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ[314].رسول الله ﷺ وائي تر هغه پوري مؤمن نه ئي چې د مؤمن د پاره هغه څۀ خوښ نه کړې چې کوم ته د ځان د پاره خوښ نه کړي۔ستا رور دې وږے وي او ته دې موړ ئي نو ته دعوي د مؤمن کيدو مه کوه۔

[313] صحيح البخاري تفسير سورة الحشر رقم الحديث ٣٩٠٠

[314] صحيح مسلم رقم الحديث ١١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



حديث كښې راځي د احد په جنګ كښې آواز وشو چې رسول الله شهيد شو. دې آواز په صحابوو باندې ډير آثر وكړو. ځكه د صحابوو د رسول الله سره ډيره مينه وه.

انس بن نضر رضي الله عنه واقعه:

انس بن نضر رضي الله عنه ته چا اوئيل چې رسول الله شهيد شو وئيل چې رسول الله شهيد شو نو بيا په ژوند كښې څه مزه ده. په لار كښې سعد بن معاذ رضي الله عنه ورته اوئيل چرته ځې؟ انس بن نضر ورته وائي د كعبې په رب مې دې قسم وي د احد د غره نه د جنت بوي راځي. نو توره ئې واخسته او دعا ئې وكړه. اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَبْرَأُ اِلَيْكَ [315]. ياالله ددې مشركانو نه په دې وخت كښې براءت كوم. او د ملګرو د غلطۍ د پاره ئې دعا وكړه اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعْتَذِرُ اِلَيْكَ ياالله د خپلو ملګرو عذر درته پيش كوم دوې معاف كړه. داسې نه وائي چې زما ملګرو بې غيرتوب وكړو عذاب وركړه ځكه مينه ئې ورسره د الله د پاره وه.

د ايمان حلاوة په درې شيانو مبلا ويږي:

انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله فرمائيلي ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ چې درې صفتونه درپكښې وي نو ته به د ايمان په خوند پوهيږې.

اول مَنْ كَانَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا چې د الله او د رسول مينه د هر څانه زياته وي.

[315] سنن الترمذي تفسير سورة الاحزاب رقم الحديث ۳۲۰۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



دويم: وَاَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ اِلَّا لِلّٰهِ چې د چا سره مينه كوي نو د الله د پاره به كوي.

او دريم: وَاَنْ يَكْرَهَ اَنْ يَعُوْدَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ اَنْ يُلْقٰى فِي النَّارِ[316] چې انسان اووائي چې په اور دي وسوزم خو چې چرته رانه د كفر كار ونشي. دا خبرې چې دې په زړهٔ كښې راغلي ته به د ايمان په خوند پوهه شي.

حديث قدسي دے د قيامت په ورځ به اعلان وشي اَيْنَ الْمُتَحَابُّوْنَ بِجَلَالِي اَلْيَوْمَ اُظِلُّهُمْ فِيْ ظِلِّيْ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلِّيْ[317] الله به اعلان وكړي چې زما د لوئي د وجې نه چا د چا سره مينه كړې وې هغه خلق پاڅيږئ. نن به ورلره زه داسي سيوري كښې ځائ وركړم چې د هغې نه بل سيورے نشته.

د مؤمن سره محبت:

د مسلم په حديث كښې ابوهريره رضى الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي چې يو سړے د خپل دوست ملاقات له روان وو الله ورته په لار كښې ملائک كينوله نو ملائک ترې تپوس وكړو چې چرته ځې. هغه سړي وئيل په دې كلي كښې مې ديني رور دے چې زما ورسره د الله د پاره مينه ده ملاقات له ورځم. ملائک اوئيل چې څه د احسان بدله يا نور څه كار خو به دې نه وي. سړي وئيل غَيْرَ اَنِّيْ اُحِبُّهُ فِي اللّٰهِ چې زما ورسره د الله د پاره مينه ده. ملائک ورته ناشنا

[316] صحيح مسلم كتاب الايمان رقم الحديث ٦٧

[317] الموطاء رقم الحديث ١٥٠٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مكتبة الاشاعت ڈاٹ كام



خبره كوي إِنَّا رَسُوْلُ اللهِ إِلَيْكَ ـ الله درته وائي إِنَّ اللهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيْهِ [118] چې زما درسره داسي مينه ده چې څنګه ستا ددې رور سره مينه ده.

الله په قرآن كښې فرمائي قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَ اَبْنَآؤُكُمْ وَ إِخْوَانُكُمْ وَ أَزْوَاجُكُمْ وَ عَشِيْرَتُكُمْ وَ أَمْوَالُ اِقْتَرَفْتُمُوْهَا وَ تِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَ مَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِّنَ اللهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ جِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَأْتِيَ اللهُ بِأَمْرِهٖ ؕ وَاللهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ [119] الله فرمائي زما د دين په مقابله كښې كۀ تا د پلار،رور،ښځې يا قبيلې لحاظ وكړو الله فرمائي فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَأْتِيَ اللهُ بِأَمْرِهٖ ؕ وَاللهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ چې بيا زما د عذاب انتظار وكړه.

حديث كښې راځي د ابوبكر صديق رضي الله عنه پلار يو ځل د رسول الله په باره كښې غلطې خبرې د خُلې نه اُوتلې،نو ابوبكر د خپل پلار د مخ نه پړق اويستلو چې رسول الله ﷺ خبر شو.وئيل اے ابوبكره د پلار د مخ نه دې پړق اويستلو. وئيل يارسول الله ستاسو په باره كښې غلطې خبرې وكړې ما برداشت ونكړو ما ستاسو د مينې د وجې نه داسې وكړل.

نن زما او ستا بچي او پلار الغرض نور خپلوان د الله او د رسول مخالفت كوي ما او تا ورسره چرې خفګان رانه وستو.د دينداره سره مينه كول او د هغې اظهار كول سنت دي.

[118] صحيح ابن حبان باب الصحبة والمجالسة رقم الحديث ٥٧٢

[119] سورة التوبه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د رسول الله خواله يو صحابي راغلے وئيل زما د فلانکي سړي سره مينه ده. د الله د پاره ـ رسول الله ورته اوئيل خپله مينه دي ورته ښکاره کړي ده؟هغه وئيل نا يارسول الله ـ رسول اللهﷺ وئيل دا ورته ښکاره کړه نو په جواب کښې ورته هغه داسي وائي اَحَبَّكَ اللّٰهُ الَّذِيْ اِحْبَبْتَنِيْ لَهٗ[320] وئيل هغه ذات دي درسره مينه وکړي چې د کوم ذات د وجې نه زما سره مينه کوي۔

عمر بن خطاب رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله فرمائيلي د قيامت په ورځ باندي به څه خلق وي دا به نه انبياء وي او نه به شهيدان وي چې د هغې مقام ته به شهيدان ارمان کوي۔ شهيد به وائي چې هائي الله مالره داسي مقام راکړے وے۔صحابؤو وئيل دا څوک دي؟ رسول اللهﷺ وئيل هُمْ يَتَحَابُّوْنَ فِي اللّٰهِ دا هغه خلق دي چې د يو بل سره د الله د پاره مينه کوي۔ ولاأَرْحَامٍ كانت بَيْنَهُمْ د خپلولۍ د وجې نه نهٔ وَلَااَمْوَالِهِمْ[321] او د مالونو د وجې نه هم نهٔ۔ د قيامت په سخته ورځ به دوي خوشحاله وي۔ رسول الله بيادا آيت ولوستو اَلَا اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ۔په دوستانو د الله به نهٔ ويره وي او نهٔ به دوي خمژن وي۔

## ابي ابن سلول واقعه:

رسول اللهﷺ يو ځل اوبه وڅکلې عبدالله بن عبدالله بن ابي ابن سلول وئيل يارسول الله لږې زياتي اوبه پريږده ستا دا جوټه خپل

[320] صحيح ابن حبان رقم الحديث ۵۶۵

[321] مصنف ابن ابي شيبه رقم ۳۲۰۹۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



پلار له ورکوم کیدے شي چې د هغه زړهٔ صفا شي۔ جوته ئي چې کور ته راوړه خپل پلار ته ئي ووئيل دا د رسول الله جوته وڅکه کيدے شي چې الله ستا زړهٔ صفا کړي۔ پلار بدبخته ورته اوئيل د مور بول به دي راله راوړے وے چې د رسول الله جوته دي راوړله۔ نو عبدالله راغلے او رسول الله ته وائي چې اجازت راکړه چې د خپل پلار څټ پرې کړم۔ رسول الله ورته فرمائي چې ... قرآن کښې الله آيت نازل کړو[322] لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ۔ الله فرمائي دا کيدے نشي چې يو سړے د ايمان دعوي کوي او بيا د هغه سړي سره مينه کوي چې د الله او د رسول خلاف وي وَ لَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ۔ اګر کهٔ هغه نزدې خپلوان ولې نه وي اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَ اَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ۔ وَ يُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ۔ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ۔ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۝[323] دغه کسان ليکلے دے مونږ په زړونو د دوي کښې ايمان او مضبوط کړي دي مونږ په روح خپل سره ۔

کهٔ دادي سوچ وي چې الله مالره د قيامت په ورځ د عرش د سيورې لاندې ځائ راکړي نو د الله د پاره د خلقو سره دوستي کوه۔

اقول قولی هذا استغفرالله

[322] تفسير القرطبي تحت هذه الايه

[323] [سورة المجادله]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د ګناهونو نقصانات

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وَ لَوۡ اَنَّهُمۡ اَقَامُوا التَّوۡرٰىةَ وَ الۡاِنۡجِيۡلَ وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِمۡ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ لَاَ كَلُوۡا مِنۡ فَوۡقِهِمۡ وَمِنۡ تَحۡتِ اَرۡجُلِهِمۡ ؕ مِنۡهُمۡ اُمَّةٌ مُّقۡتَصِدَةٌ ؕ وَ كَثِيۡرٌ مِّنۡهُمۡ سَآءَ مَا يَعۡمَلُوۡنَ ۞[324]

دوه قسمه اعمال دي دنيا کښې يو ته نيک اعمال وائي او يو ته بد اعمال وائي د نيک اعمالو هم نتيجې دي او فائدي دي. يو د دنيا سره تعلق ساتي او يو د آخرت سره تعلق ساتي.

## د بدواعمالو نتائج

د بدواعمالو هم دوه نتجې دي. يو د دنيا سره تعلق ساتي او يو د آخرت سره تعلق ساتي. د بدو اعمالو څه نتيجه ده؟ څه آثر ئې دے چې مونږ او تاسو بداعمال کوو په دنيا کښې به ئې څه آثر وي.

## د ګناهونو دنياوي اثر

يو: اثر ئې دادے چې بدعمله انسان له الله تعالى علم د قرآن او د حديث نه ورکوي.

دويم: اثر د بدواعمالو چې انسان الله تعالى د رزق نه محروم کوي په دنيا کښې.

دريم: اثر د بدو اعمالو تَعۡسِيۡرُ الۡاُمُوۡرِ انسان ته هر يو کار مشکل کيږي.

څلورم: اثر د بدو اعمالو طَبۡعُ الۡقُلُوۡبِ الله د انسان زړۀ بند کړي فلا

[324] [سورة المائدة]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يَعْرِفُ مَعْرُوْفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا بيا ښهٔ او بد نهٔ پيژني.
پينځم: اثر د بدو اعمالو دا وي چې الله تعالى د انسان په عمر کښې برکت ختم کړي، نيک اعمال چې کوي ستاپه دي عمر کښې به الله کله يو خير او برکت پيدا کړي. داسي کارونه به درنه کيږي چې هغه به د چا نه په ډيرو عمرونو کښې نه کيږي، او چې کله ګنهګار يې الله تعالى به ستا په دي عمر کښې برکت ختم کړي، يو کار به د يوې ورځې وي الله تعالى به ستانه په کال کښې هغه کار نه کوي. او ددي خائسته مثال مونږ ته د اصحابو د محمدرسول الله ﷺ د هغوي په عمر کښې الله تعالى برکت آرتلے وو نو په لږ عمر کښې د دنيا ګوټ ګوټ ته اسلام ورسيدو او هغوي د اسلام د پاره ډيرې کارنامې کړي وي. څومره لږ وو او څومره دنيا ته تري الله خير ورسولو. د هغوي په عمرونو کښې برکت وو هغوي نيک عمله وو. نن په کروړونو باندي مسلمان په نورو علاقه کښې لاځه کوي دده په کور کښې دين او اسلام نه وي، دده په عمر کښې برکت نشته. اهم برکت داوي چې الله تالره لږ عمر درکړي او په دغه لږ عمر کښې د دين ډير خدمت وکړي.
دا د بدو اعمالو داسې يو نتيجه ده په تا باندي به کله ټوله ورځ تيره شي او ته به پکښې د دين داسې يو کار ونکړې چې الله تعالى پرې ستا نه خوشحاله شي. ځکه الله تعالى دي آيت کښې فرمائي که دي خلقو د الله په کتاب باندي عمل کړے وے لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ الله وائي د بره به پرې برکتونه کولاؤ شوي وے، د ښکته نه به برکتونه کولاؤ شوي وے. چې دا درباندی نه کيږي دا ستا په دې عمر کښې برکت نه وي. ځکه دا تا د الله په کتاب باندی عمل نه

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے کړے، بدعمله ئي.

قيامت به كله راځي:

يو صحيح حديث دے چې محمدرسول الله فرمائي چې ترهغه پورې به قيامت قائم نشي ترڅو پورې چې دا كارونه نهٔ وي شوي. يو دا چې حَتّٰى يُجْعَلَ كِتَابُ اللّٰهِ عَارًا د قرآن وئيل قارى كيدل د قرآن خدمت كول به خلقو ته نعوذبالله شرم ښكاره شي.

وَيَكُوْنُ الْإِسْلَامُ غَرِيْبًا (كنزالعمال) د اسلام او د مسلمانۍ كار به خلقو ته يو ناشناكار ښكاريږي كه يو څوك بدكار كولو نو خلقو ته به ناشنا نهٔ ښكاري. او چې يو سړے د دين په لار روان وي نو خلقو ته به ناشنا ښكاري. او بيارسول الله فرمائي داسې وخت به راځي وَيَظْهَرُ فِيْهِمَ السِّمَنُ ښورب والے به په خلقو كښې ښكاره شي. ځكه چې د چا سره د آخرت ويره ورسره وي نو هغوې كښې ښورب والے كم وي.

هغه حديث كښې راځي هغه مولا د يهوديانو چې د رسول الله خلاف ئې كولو نبیﷺ ورته داسې اوئيل اې مولوی صاحب په تورات كښې دا نشته چې إِنَّ اللّٰهَ يَبْغُضُ الْحَبْرَ السَّمِيْنَ[325] دادرپكښې شته كنه هغه مولا ددې خبرې د اوريدو سره وئيل نهٔ قرآن منم او نهٔ تورات منم او نه بل آسماني كتاب منم. او بيا نبیﷺ وائي وَيَظْهَرُ الزِّنَا بدكارياني به زياتې شي. وَيَقِلُّ الْعِلْمُ او علم به كم شي او بيا محمد رسول الله اوفرمائيل وَيَنْقُصُ عُمْرُ الْبَشَرِ د انسانانو په دې عمرونو

[325] شعب الايمان رقم الحديث ٥٣٦٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کنبې به برکت ختم شي. نبي ﷺ فرمائي دا سې وخت به راشي وَيُصَدَّقُ فِيْهِ الْكَاذِبُ دروغژن انسان ته به خلق رشتونے انسان وائي وَيُؤْتَمَنُ فِيْهِ الْخَائِنُ خائن انسان ته به خلق آمانت دار وائي. او چې کوم سړے ډېر بې دينه انسان وي خلق به وائي دا دين داره انسان دے وَيَكْثُرُ الْهَرَجُ قتلونه به زيات شي په ناحقه. صحابو اوئيل د الله رسوله الهرج څه ته وائي؟ نبي اوئيل اَلْقَتْلُ په ناحقه مرګونه به زيات شي [1].

عرض مې دا دې خبرې کولو خپل خان ته کله سوچ وکړه خپل ژوند ته دې فکر وکړه چې ستانه د نيکۍ کار ډېر کيږي او که ستا نه د بدۍ کار ډېر کيږي. د سحر نه د ماښام پورې سوچ وکړه چې ستانه د نيکۍ کار نه کيږي الله ستا ددې عمر نه برکت ختم کړے دے. ستا نه به ددې عمر د يو سيکنډ تپوس کيږي. ډېر علماء تير شوي دي د چا عمرونه 40 کال د چا عمرونه 50 هغوې چې کوم کتابونه ليکلي دي نو هغه ما او تا نن کتلے نشو ليکل خو لا روستو خبره ده. څه وجه ده چې رسول الله ﷺ او هغه صحابه به تهجدو ته راپاڅيدلے شو او ما تا نشو راپاڅيدے. مونږ او تاسو په ګناهونو کنبې نوتلي يو. ما او تا نن د خپل عمر د مقصد نه نه يو خبر چې زمونږ دا عمر څه د پاره دے.

اوم اثر د بدو اعمالو دا دے چې زما او ستا په مينځ کنبې به اختلافات پيدا شي د صحابو به مينځ کنبې ولې مينه او محبت وه.

[1] جامع الاحاديث للسيوطي رقم الحديث ١٩٩١٥

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه صحیح روایت کښې چې راځي چې هغه صحابوو یو د بزي سر
په اووه کورونو کښې کرځولو دومره مینه او محبت نې وو. یو بل
سره چې د ساه ختلو په وخت کښې به د بل ملګري اوبو ته ضرورت
وو نو هغه له به نې ورکولي دا وو فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا الله
درباندې نعمت د اعمال صالحو کړے وو. نو ځکه رونړه رونړه شوې.
حدیث کښې راځي د عبدالله بن عمر حدیث دے محمدرسول الله
فرمائي وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ زما دي په هغه ذات قسم وي چې زما روح
د هغه په قبضه کښې دے د دوو مسلمانانو چې په خپل مېنځ کښې
نالګي وي او د دوارو په مېنځ کښې جداوالے راشي د یو ددې دواړه
سره نې بغض پیدا شي دا ولې؟ دا ځکه بِذَنْبٍ اَحْدَثَهَا اَحَدُهُمَا مګر
په ګناه د یو ددې دوارو سره ځکه نن ته اختلاف د یو د بل سره راغلے
نن ته یو داسې سوچ وکړه. رور د رور سره اختلاف لري او کاونډي
د کاونډي سره اختلاف لري بلکې د حدیثونه داسې معلومیږي چې
رونتو وخت کښې که څوک ظاهرې دوستاني کوي دا به د ژبې
دوستاني وي او د زړه دشمني به وي دا ولې؟دا محمدرسول الله
داسې ونبلي دي دا د ګناه آثار دادي چې د دوو کسانو په مېنځ کښې
به اختلاف وي.

د ګناه اثر په څاروو

یو عالم داسې وائي زۀ کله کله د ګناه آثر په خپل څاروي کښې هم
پیدا کړم زما څاروے دي ما په خپل پرې ترلے وي هغه مالره شودده
صحیح نه راکوي زه چې سوچ وکړم چې دا ګناه مې کړې دده.
عرض مې ددې خبرې کولو نن چې څومره اختلافات او نقصانات د

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مسلمانانو په مینځ کښې دي ددې وجه دا وي چې مخکښې به دې
څه ګناه کړي وي ځکه اختلافات دے۔

آتم آثر د بدو اعمالو اَلْهَزِيْمَةُ الْعَسْكَرِيَّةُ ته به یو لوي مسلمان یې ته
به یو مجاهد نې ته به د الله د دین د پاره ډیر محنت کوي خو ستا د
ګناهونو د وجې نه به چرته په میدان د جهاد غلبه کیږي نه۔ چې کله
ته نیک عمله نې نو ستا د نیکۍ آثر به داوي تا ته یو دشمن نشي
ټینګیدلے۔ چې رسول الله ﷺ فرمائي الله مالره داسې رُعب راکړے
دے چې زما نه اخوا د میاشت په مسافت دشمن ویریږي۔ او هلته
حافظ ابن حجر لیکلي دي چې دا خصوصیت یواځې د رسول الله نه
دے بلکې دا خصوصیت د ټول اُمت دے چې کله د رسول الله په نقش
قدم باندې روان شي۔نن ما او تا د یوې میاشتې په مسافت د دشمن
نه ویریږو دا ولې؟ ما او تا نن ګناهونو کړي دي۔ نیک اعمال مونږ
نه دي کړيَ دا د ګناهونو آثر دے۔

ابودرداء رضي الله عنه خلقوته وئیلي اې خلقو اِنَّمَاتُقَاتِلُوْنَ بِاَعْمَالِكُمْ
تاسو[327] چې په دشمن باندې په جنګ کښې غالبه کیږې دا ستاسو
د نیکو اعمالو په وجه۔ په ډیروالي باندې چرته صحابوو میدان نه
دے ګټلے۔

حافظ ابن حجر یو ناشنا خبره کوي وائي د فتح مکې په ورځ الله
تعالی صحابوو لره غلبه ورکړه او چې روسته د حنین جنګ وشو په
حنین کښې صحابوو ته شکست میلاؤ شو وائي ددې څه وجه وه،په

[327] صحیح البخاري کتاب الجهاد باب عمل صالح قبل القتال

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دي کښې وائي يو نکته وه چې د ډيرو خلقو سوچ دا وو چې محمد رسول الله او صحابو چې کاميابي حاصله کړه په مکه دا ډير وو. په حنين کښې دا څنور زره کسان وو او چې کله جنګ شروع شو په جنګ صرف د رسول الله سره په روايت کښې راځي ۲کسان پاتې شو.

الله دي خپلو مؤمنانو ته وائي اې د رسول الله صحابو دا خبره ﴿وَّ يَوْمَ حُنَيْنٍ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّ ضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ﴾[328] د حنين په ورځ تاسو په خپل ډيروالي دهوکه شوي. د څنو صحابو د خلې نه دا وختل وئيل مونږ به نن چرته مغلوبه نۀ شو. بيا الله روستو آيت کښې فرمائي ﴿ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ﴾ بيا دوي وګرځيدل شاه کونکي ولې؟ څکه ذهن ته غلطه خبره راغله ډيرواله چرته د کاميابي ذريعه نه ګرځي، صحابوو چې هر ځائ او هر وطن ته رسيدلي دا په نيکو اعمالو باندې.

عرض مې ددې خبرې کولو چې د ګناه يو لوې آثر په ټولو دنيا دا وي چې ته به هميشه د پاره مغلوبه اوسيږې ته به هميشه د پاره د کافر د لاندې اوسيږې.

د معمولي غلطي اثر:

وړه غلطي د صحابو نه شوې وه. د احد واقعه قرآن څکه ذکر کړې ده، د أحد په واقعه کښې رسول الله ۵۰ صحابه د سعيد بن جبير رضى الله عنه د امارت د لاندې په يو اوچت ځائ باندې کينول. او نبى ورته اوئيل زما صحابوو که هر قسم حال راغلے تاسو به نه راکوزيږئ

[328] {سورة التوبه}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



که مونږ غالبه شو او که مونږ مغلوبه شو. چې کله جنګ شروع شو نو کافرو شکست اوخوړلو نو دې صحابو يو بل ته اووئيلې ځې چې مونږ ورکوز شو چې غنيمتونه راغونډ کړو. آمير ورته اوئيل مونږ ته خو رسول الله وئيلي چې مه راکوزيږئ خو هغوئ د آمير ونۀ منله. وړه نافرماني د رسول الله وکړه رسول الله ورته اوئيل مه راکوزيږئ هغوي راکوز شو. الله تعالى وائي چې دا خلق وائي چې ولې شکست ميلاو شو وجه داده وَعَصَيْتُمْ مِنْ بَعْدِمَآاَرَاكُمْ مَاتُحِبُّوْنَ. تاسو د نبي خلاف وکړو د رسول الله د يو آمر خلاف وشو ځکه ورته دا شکست ميلاؤ شو. ۷۰ صحابه شهيدان شو د محمدرسول اللهﷺ غاښونه مبارک شهيدان شو. د محمدرسول الله سر مبارک زخمي شو. د محمدرسول اللهﷺ په مخ کښې زخم پيدا شو. دا د يوسنت خلاف وشو. ګناه ډير اثر لري.

د قبرص د فتح په موقع د ابودرداء رضي الله عنه ژړا:
صحيح اثر کښې راځي جبير بن نُفير وائي يو ځل داسي کار وشو چې قبرص علاقه باندي چې کله مونږ حمله وکړه نو هغه خلق مونږ تول ونيول وائي خپل مينځ کښې دا کافر ناست وو فَبَكَىٰ بَعْضُهُمْ اِلَى بَعْضٍ ژړل ئي په خپل مينځ کښې ولې؟ د هغوى د ښځو په مينځ کښې مونږ تقسيم وکړو د هغوى هلکان مونږ تقسيم کړه يو به يو ته ژړل او بل به بل ته ژړل. جبير بن نُفير وائي ما د محمدرسول اللهﷺ صحابه وليدل ابودرداء رضى الله عنه يوځانله ځائ ته ناست وو او ژړل ئي وئيل ماورته اوئيل اي ابودرداء نن ورځ خو الله مسلمانانو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لره عزت ورکړے او د الله د دین دشمنان مغلوبه شوي دي. نن خو د خوشحالۍ ورځ ده ته نن ولې ژاړې؟ ابودرداء ورته اوئیل جبیر بن نُفیر لږ سوچ وکړه هٰذَالْقَوْمُ کَانُوْا اَعَزَّالنَّاسِ دا خلق د الله په نیز ډیر عزت مندخلق وو کَانُوْاقٰهِرِیْنَ په دې ملک کښې د دوي غلبه وه. چې کله ئې د الله خلاف شروع کړو الله تعالی ورله داسې سزا ورکړه نن زما او ستا غلامان دي دا خلق ما او تاته نن د یو عبرت خبره معلومیږي. که ما او تا د الله نافرمانی نن وکړو ما او تابه الله داسې وشرموي.

عرض مې ددې خبرې کولو د ګناه یو لوې آثر په دنیا کښې دا دے چې ته به د کافرو د لاس د لاندې اوسیږې.

دا د ګناهونو آثر وي یو آثر د ګناه دادے چې هر مجرم د الله په نیز باندې ډیر ذلیله او شرمیدلے وي. چې د چا ګناه څومره زیاته وي هغومره دا انسان الله تعالی ته ډیر سپک ښکاریږي. الله فرمائي وَمَنْ یُّهِنِ اللّٰهُ فَمَالَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ الله چې کوم انسان ذلیله کړو نو څوک به دغه سړي لره عزت ورکړي. خلق نن عزت به څه کښې ګوري د خلقو فکر دادے چې عزت د دنیا په ډیروالي کښې دے. خو د الله په نیز باندې کوم سړے چې تقوي دار ډیر وي الله فرمائي یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ خَبِیْرٌ۝ [329] د الله په نیز باندې عزت د هغه چا ډیر زیات دے چې څوک د الله نه ډیر ویریږي. دا خبره

---

[329] {سورة الحجرات}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



یادساته چې د الله په نیز ذلیله شوې نو دا ټوله دنیاعزت نشي درکولے۔

## معاویه رضي الله عنه ته د عائشي رضي الله عنهاوصیت

عائشي رضی الله عنها ته یو ځل معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهماخط ورولیکلو۔ وئیل موري ماته وصیت وکړه او وصیت راته مختصر وکړه هغې ورته اوئیل بچیه دا یادساته د الله د رضا په مقابله کښې دمخلوق درضاسوچ مۀ کوه ولې؟که الله درنه خوشحاله وو دا ټول خلق به درنه خوشحاله کړي او که الله دي خفه کړلو او دا ټول خلق دي خوشحاله کړل نو هغه به درنه صبا خفه وي خو د الله د خوشحالولو سوچ وکړه۔ چې الله درله عزت درکړي۔ که دا ټول اُمت بیا راجمع شي چې تالره نقصان درکوي او تا بې عزته کوي نو نشي بې عزته کولے چې د الله په نیز خو عزت مند ئې کنه۔

حدیث کښې راځي یوه نیک عمله ښځه وه او خلقو ورته په بد نظر باندې کتل۔ رسول الله صحابوو ته وئیلي یو روایت کښې د نیک عمل سړي ذکر راځي نیک عمل سړے دے خو غریب سړے دے خلق ورته ډیر په سپک نظر باندي ګوري۔ او یو مالدار سړے دے خلق ورته ډیر د عزت په نظر باندي ګوري خو بدعمله دے۔ رسول الله صحابوو ته اوئیل ددې دواړو په باره کښې ستاسو څه خیال دے ۔ وئیل دایو هغه سړے دے که دا د چا د خور لور تپوس وکړي نو څوک ورله خور،لور نه ورکوي او که د چا شفاعت کوي نو څوک ئې شفاعت نه قبلوي۔ داسې مرتبه کښې دے۔ او دا بل مالدار سړے دے خو عزت مند دے که د چاسفارش کوي نو خلق ئې سفارش

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قبلوي. نبي عليه السلام اوئيلي چې داتوله زمکه د داسي مالدارانو نه ډکه شي د الله په نيز باندي ددې تولو نه زيات قدر يو نيک عمله انسان دے. عزت هغه عزت دے چې الله ئې چالره ورکړي عزت دا په نيکو اعمالو باندي ميلاويږي چې څومره بدعمله وي نو هغومره به د الله په نيز بې عزته وي.

نهم: اثر د بدو اعمالو په دنيا کښي داوي کله د بدو اعمالو آثر الله په دنيا کښي خلقو ته ښکاره کوي.

د ارتداد سزا دنيا کښي:

په حديث د بخاري کښې راځي يو کس وو په رسول الله ﷺ باندي ئې ايمان راوړو، او بيا مرتد شو نعوذبالله او خلقو ته ئې وئيلي دا محمد چې څه وائي دا ما ورته دا ښودنه کړي ده، ما ورته دا کتاب او سبق ايزده کړے دے دا کوم چې دے خلقو ته وائي چې کله ئې ساه اوختله. خلقو چې دفن کړو نو زمکي واپس راوغورزلو. دي يهوديانو وئيل دا د محمد ملګرو داسي کار کړے چې زمونږ ددې مړي بې عزتي ئې اوکړه او دفن ئې کړو. په دويم ځل ئې بيرته راواچولو، دويم ځل چې دي خلقو بيا وليدو وئيل دا ددې محمد ملګرو زمونږ د مړي بې عزتي ئې کړي. په دريم ځل ئې چې بيا دفن کړو بيا زمکي راواچولو خلق پوهه شو چې دا خو دا خبره نه ده. رسول الله اوئيلي زمکه کله ددېنه بدترين انسان لره ځائ ورکوي خو دي لره ئې ولې ورنکړو الله خلقو ته يو غبرت ښودلو چې ګوره دا په محمد ﷺ دروغ وائي. په دنيا کښي الله کله کله د ګناه آثر خلقو ته ښائي چې بيا د پاره ځنې کار نه کوي. يهوديانو چې کله د رسول الله

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خلاف ډير شروع کړو. بنوقريظه او بنونظير الله تعالى د مدينې د خراوشاه نه وشړل او الله فرمائي وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا كله كله د الله قانون داوي چې د ګناهونو د وجې نه داسې د شرم سزا ورکوي.

ابن ماجه کښې حديث راځي نبي ﷺ يو لښکر وليږلو د جهاد د پاره يو مسلمان صحابى د هغه د لاس نه دا غلطى وشوله چې توره ئې په ير کافر باندې اوچت کړه او هغه ورته اوئيل اِنِّيْ مُسْلِمٌ زهٔ مسلمان يم دده د لاس نه غلطى وشوله او توره ئې پرې وچلوله. چې کله ئې مړ کړو رسول الله ته دا خبر راورسيدلو. رسول الله ورته اوئيل اے فلانکي د قيامت په ورځ به ته څه کوي چې ډا سړے د الله مخې ته راشي او داسې اووائي چې زه مسلمان يم. صحابى وائي دالله رسوله زمانه ئې په مسلمان تېکي ځان خلاصولو مسلمان نه وو. رسول الله ورته اوئيل دا زړهٔ به دې ورله شلولے وے چې د مسلمان تېکے ئې حقيقةً وئيلے وو او که د ځان د بچ کولو د پاره ئې وئيلے وو. هغه وئيل د الله رسوله که زړهٔ مې ورله راويستلے وے نو زهٔ پرې بيا څه پوهيدلم وئيل د الله رسوله ماله بخښنه اوغواړه. رسول الله ورته اوئيل داسې سړي لره بخښنه نه غواړم مسلمان ئې ځان ته اوئيلو او تا پرې توره چلوله. چې کله مړ شو درے ځل ئې دفن کړو او درے ځل زمکې واپس راوارچولو. او رسول الله خلقو ته اوئيلې کله کله الله د دين دشمن انسان لره په دې زمکه کښې ځائ ورکوي قارون او فرعون لره ئې ځائ ورکړے. خو کله کله د غبرت د پاره داسې کوي چې خلقو ته پته ولګي چې د ګناهونو څه آثر شته او يو اخي دا آثر ئې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نه دي ډیر واقعات ئې په صحیح روایتونو کښې راغلي دي.
عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وائي عبدالحمید د هغه نه روایت کوي هغه وائي مونږ د سعبدالله بن عباس سره په یو ځائ کښې ناست وو یو سړے راغلے وئیل یو تپوس درنه کومه وئیل زمونږ سره یو ملګرے وو چې په لاري کله راتلو نو هغه مړ شو نو مونږ چې دفن کولو په لحد کښې نو لحد کښې یو مار وو. مونږ دویم ځائ وکنستلو نو هغه ځائ کښې هم تور مار وو. دریم ځائ مو ورله وکنستلو په هغه کښې هم تور مار وو.
بیا موداسي پریښودو عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ورته اوئیلے که دا تولو زمکه ورله تاسو کنستلے وے په هغه کښې به ورته تور مار راپیدا کیدے. زمکه کله د دین بدترین انسان لره ځائ ورکوي په دي سړي کښې به خامخا د دین په لحاظ سره څه نقصان وو چې بیا ئې معلومات کله وکړو ښځې ئې اوئیلي دي سړي به دهوکه کوله ده به د وریشو سره هسي دورمي میده کړې او د هغې سره به ئې په خلقو خرڅولي ،وئیل به ئې چې دا ټولې وریشي دي.
عائشي رضی الله عنها ته یوه ښځه راغله او چې دروازه ئې اوټکوله وئیل ماته اجازت شته د درننوتلو هغې ورته اوئیل راځه. چې کله راننوتله غاړه ئې داسي کولاؤ کړه دي غاړه نه ئې یو اژدها تاؤ شوي ده. عائشي ورته اوئیل دا ولې ګناه دي ښکاره کړه څه ګناه دي کړي ده؟ وئیل ګناه مي دا وه چې بدکاري مي کړي وه او د هغه بچي نسبت مي خپل خاوند ته نشو کولے. نو تنور ته مي واچولو او مړ شو. عائشه خپل خادم ته وائي دا ښځه اوباسه هسي نه چې په مونږ باندي عذاب په دي ځائ کښې رانشي او چې کله هغه ځائ ته

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



ورسیده چي په کوم ځائ کښې پرې اژدها مسلط شوي وه هغه ځائ کښې پرې اژدها يو کريز اويستلو ځناور ورته تول راغلل او هډوکي ني کړه دا ښخه. دا خو کله کله داسي وي ځکه الله دي مجرمانو په باره کښې وائي اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَسْبِقُوْنَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ آيا ګمان کوي هغه کسان چې عملونه کوي ناکاره چې بچ به شي دوي زمونږ د عذاب نه ډيره بده ده هغه فيصله چې دوي ئې کوي. نو د ګناهونو يو آثر دادے چي ګناهونه کله کله د دنيا د عذاب سزا هم جوړيدلے شي.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د تراويحو او د تعجيل الافطار

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾[330]

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.

آيت كريمه كښې درې اهمې خبرې:

د قرآن كريم د سورة البقرة يو آيت ماتلاوت كړو دې آيت كښې درې خبرې الله تعالى بيانوي.

يو: خبره دا بيانوي چې روژه نيول فرض دي.

دويم: الله يوه خبره كوې خفه كيږه مه د آدم نه واخله تر محمدرسول الله ﷺ پورې ټولو خلقو روژه نيولې.

دريم: خبره الله داسې فرمائي چې د روژه نيولو فائده او ثمره څه ده؟ كه روژه اونيسو الله فرمائي ستاسو نه به متقيان جوړ شي د جهنم د اُور نه به بچ شي.-روژه د دريو څيزونو نه ځان ساتل د خوراك نه، د څښاك نه،او د خپل اهل د صحبت كولو نه دې ته روژه وائي.-او ددې د پاره په شريعت كښې يو وخت مقرر دے چې الله ئې هغه تيم په قرآن كښې واضح كړے دے چې فرمائي روژه به نيسئ تر صبا ختلو نه واخله تر شپې پورې به دا روژه نيول درباندې فرض وي.

---

[330] (سورة البقره)

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## د روژې مختلف حالات:

يو داسي وقت وو چې صرف د محرمې د لسمې ورځې روژه نيول فرض وو او رسول الله به دا يوه ورځ روژه په ماشومانو هم نيوله.
امام بخاري ذکر کوي بيا څه زمانه روسته درې ورځې روژه نيول شو 13، 14،15 په هره مياشت کښې او تولو ترينه يو مياشت جوړ شوه څه د پاسه.بيا روسته حکم دا راغلے چې رمضان روژه نيولو کښې اول کښې اختيار وو ستا خوښه ده که روژه نيسې او که ددې په ځائ باندې فديه ورکوي خو داسي ئې وئيلي وو په روژه نيولو کښې مو خير ډير دے - روسته بيا دا حکم ختم شو حکم دا راغلے فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ-[331] څوک چې په تاسو کښې په دې مياشت کښې وو نو روژه به خامخا نيسي خو بيا پکښې لږ غوندې تغير وو-چې چا به روژه ماته کړه اُوده به شو نو د اُوده کيدو سره سره به دوباره پابندي ولېګيدله چې خوراک څښاک بيرته بند شو- اول کښې دا حکم لږ سخت وو.

### د يو غريب صحابي واقعه:

بخارى کښې راځي صحابى د رسول اللهﷺ کار له تلے دے بيرته راغلے او کور کښې د ښځې نه دروژه ماتي په وخت کښې د تلکارى مطالبه وکړه نو ښځې ورته اوئيل کور کښې خو څه نشته او ګاونډيانو کره به لاړه شم او تالره به د تلکارى تپوس وکړم - چې بيرته راغله خاوند ئې اُوده شوے دے نو هغه ښځې ورته اوئيل چې

[331] {سورة البقرة ١٨٥}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مقصد دي پوره نۀ شوځکه چې کله به اُوده شوې نو هر څه به بند شو.
او ځنې صحابه لکه لوی شان والا صحابی عمربن خطاب رضی الله عنه د هغه نه ځنې کارونه داسې شوي وو چې د هغه د شان مناسب نه وو په شپه د رمضان کښې د هغه خيال دا وو چې زه نه يم اُوده شوے او هغه اُوده شوے وو. الله حکم بدل کړو چې د نن نه ايسته حکم دا دے چې ترڅو پورې صبانۀ وي راختلے د صبا د راختلو پورې تاسو ته اجازت دے د خوراک څښاک. او بيا ئې الله وجه بيان کړه چې الله په تاسو آسانتيا غواړي.

## د روژې درې اقسام دي.

### د عوامو روژه:

يو د عوامو روژه وي بس د دريو خبرونه ځان وساته څښاک مه کوه. خوراک مه کوه،او خپل اهل ته مه نزدې کيږه. بس دا د عوامو په اصطلاح کښې روژه وي نو که کنځلې کوي او که هر څه کوي صرف ددې درې څيزونو ځان اوساته نور ستا روژه په هيڅه نه ماتيږي.

### د متوسط خلکو روژه:

يو د متوسط خلقو روژه وي هغه داوي د خوراک او څښاک نه ځان ساتي او ددې سره سره د ګناهونو نه ځان ساتي،د خپل ستر خيال ساتي،د خپل لاسونو او خپو خيال ساتي،دا د عوامو متواسطينو روژه ده.

### د خواصو روژه:

او دريم قسم خلق چې هغې ته خواص خلق وائي هغوي په خپله روژه کښې دا سوچ کوي چې آيا زمانه به زما رب خوشحاله شي او کنه. زۀ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



په خپل رب ته نزدې شم او کنه، د هغوي په توله روژه کښې دا سوچ وي چې یاالله ته به زما نه څنګه خوشحاله شې. دا قسم خلق ډیر کم وي. زمونږ او ستاسو تول فکر د خیټې سوچ وي نو د سحر نه، د ماسپخین نه د مابنام پورې د خوراک بندوبست شروع شي او دا سوچ چرته راڼغلے چې زما رب به خوشحاله شي او کنه؟

صحیح حدیث کښې رسول الله فرمائي هغه انسان دې تباه شي چې کوم انسان باندې رمضان تیر شي او دې ته الله معافي د ګناهونو ونکړي. دا ولې؟ دې انسان ته د روژې مقصد چې دا انسان د جهنم د اُور نه بچ شي هغه ته ددې سوچ نه دے راغلے دده صرف د خیټې ته فکر وي. د ډیرو خلقو نظر داسې وي چې صرف ددې دریو څیزونو خان ساتل دیته روژه وائي.

دروغ او روژه نۀ شي جمع کیدلے:

خو محمدرسول الله ﷺ یو ناشناخبره کوي په صحیح حدیث کښې راځي مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالْعَمَلَ بِهٖ فَلَيْسَ لِلّٰهِ حَاجَةٌ فِيْ اَنْ يَدَعَ طَعَامَهٗ وَ شَرَابَهٗ {بخاری} یو سړے د خپلې خُلې کنترول په روژه کښې نشي کولے یعني دروغ، غلطې خبرې د خُلې نه نشي بندولے او ددې موافق عمل نه ځان نشي بچ کولے محمدرسول الله وائي دده خوراک دده څښاک د بندولو نه الله ته هیڅ حاجت نشته. معني داده چې د داسې روژې الله هیڅه ثواب نه ورکوي.

دارمی کښې حدیث راځي رسول الله فرمائي

كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ صِيَامِهٖ اِلَّا الظَّمَأُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهٗ مِنْ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



قِيَامِهِ اِلَّا السَّهَرُ - رسول الله فرمائي ډير روژه دار دي چې هغوي ته د هغوي د روژې نه سيوا د تندې نه نور هيڅ نه جاصيلږي.او ډير د شپې عبادت کونکي داسي دي چې هغوي ته سيوا د بې خوبۍ نه نور څه نه ميلاويږي۔

روژه د جهنم نه ډهال دے:

يو صحيح حديث کښې داسي راځي رسول الله ﷺ فرمائي اَلصِّيَامُ جُنَّةٌ دا روژه د انسان د پاره د جهنم نه يو ډال دے دا انسان به جهنم ته نۀ پريږدي دا روژه به تاته وائي نه دي پريږدم جهنم ته که تالره د قيامت په ورخ مخې ته راځي که تالره په قبر کښې عذابونه راځي روژه به په مينځ کښې حائل کيږي۔ وائي نه ئې پريږدم دي انسان ته عذاب ده خو ستا د ويرې نه روژه نيولې وه خو رسول الله روسته يو جمله وائي داسي حالات به کله راځي مَالَمْ يُخْرِقْهَا څو پورې چې روژه دي شلولې نۀ وي۔ او که روژه دي وشلوله بيا که تا شل ځل روژه نيولې وي بيا به ډال نۀ وي بيادي هسې ځان ورے کړے دے۔ عرض مې ددې خبرې کولو روژه يو اهم عبادت دے او د روژې په دوران کښې د انسان د الله نه ويره ډيره کامله وي تاسو سوچ وکړئ هر انسان ته چې دومره هر انسان ويريږي چې ځانله په يو کمره کښې ناست وي هيڅوک ورسره نۀ وي۔ او نۀ پرې هيڅوک خبريږي او نۀ چاته پته لګي چې ده روژه نيولې ده او که نه او دا صرف د يو الله نه ويريږي۔ خو افسوس دادے چې کله مابنام شي بيا ديته فکر نه کوو دا وس مې چې مخې ته خوراک پروت دے دا به زما وي او که دا به بل چا وي۔ د چرګ بانګ په وخت دا سوچ چا ونکړو چې زه دا روژه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



په څنډ نیسم به دي کښې به خو زما د خوړ حصه نه وي. په دي کښې به خو ما د ځانه په زور پوله او بڼې نه وي نیولے. که داسې کار دې پکښې کړے وي دا یادساته هغه مشهور متل دے هندو سترے او رب ناراضه یوه نوري دي چې پکښې تاحرامه کړې وي محمد رسول اللهﷺ فرمائي خلويښت ورځې شپې دې الله مونځ نه قبلوي. پاتې شوله لا روژه بهرحال د روژې فضیلتونه په حدیثو کښې ثابت دي. خو د ټولونه اهمه خبره داسې ده چې د روژې د آدابو لحاظ کول ضروري دي.

د روژې مقام

د روژې ډیر لوي مقام په حدیث د بخاري کښې راځي رسول اللهﷺ فرمائي الله داسې وائي هر عمل آدم د خوي د پاره دے اِلَّا الصَّوْمُ فَاِنَّهٗ لِيْ وَاَنَا اَجْزِيْ بِهٖ هر عمل چې ستا دے یوه روژه الله وائي دا زما ده او ددې بدله به درله زۀ درکومه چې زما کومه خواخه وه هغه به درله زۀ درکومه. نور عبادت چې ته وکړې زکواة دې ورکړے وي په جنت کښې به په دروازه هم داسې وي باب الزکواة د جنت آته دروازې دي باب الجهاد باب فلان خو الله په جنت د یوې دروازې نوم بدل کړے ستا د خوشحالۍ د پاره د یوې دروازې د جنتیانو ته ني باب الریان ایخودے دے چې چرته څفه نشي هغه تندې او لوګې تا په دنیا کښې تیرې کړې دي نن د مړیندلو ځائ دے.

د هر عمل خپل معیار وي

اهمه خبره داسې ده چې ځنې مسئلې داسې دي چې خلق هغه خبرو له ... زۀ ډیر ورکوي. زما مقصد داسې دے چې زمونږ د وخت نه عمل

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او عقيده داسي ده چې کوم کار د محمدرسو ل اللهﷺ نه ثابت وي
چې کوم کار د اصحاب محمدﷺ نه ثابت وي مونږ هغه کارونو
ټولو ته جائز وايو خو بعضې خلق داسې کار کوي چې هغوي يو کار
ته دومره زور ورکړي چې ذهن کښې داوي چې دا يو کار جائز او د
بل کار په باره کښې داسي فتوي لګوي چې خلق منع کوي چې دا
کار بيخي ناروا دے دا آته رکعته تراويحو ته خلق ډير په بد نظر
ګوري۔

اته رکعته ترايح هم شته او شل هم شته:

مونږ داسي وايو آته رکعته تراويح که څوک کوي هم صحيح دي.که
څوک شل رکعته کوي هم صحيح دي۔ مونږ ورته د ناروا په نظر نۀ
ګورو بلکې وايو چې د شپې مونځ دے د الله د پاره چې څوک څومره
کوي څه پابندي پکښې نشته۔ زمونږ اختلاف اصلي په بله خبره
کښې دے۔ اختلاف دادے خلق چې دا شل رکعته چې په کومه
طريقه کوي آيا داسي مونځ چرته محمدرسول الله کړے دے آيا
چرته صحابوو کړے دے يا چرته تبع تابعينو کړے دے۔ زمونږ
خبره پکښې داده،دا په کومه طريقه چې تراويح کيږي زما دي په الله
قسم وي د الله په کور کښې يم چې د محمدرسول الله وېنا ده چې
داسي مونځ الله نه قبلوي چې داسي جلد تروايح کوي۔محمدرسول
اللهﷺ داسي انسان ته غل وائي خبره په ديکښې ده که ته شل کوي
مونږ به چرته دا ونۀ وايو چې شل ناروا دي زيات نه زيات خبره به دا
وکړو چې آته غوره دي او شل جائز دي۔داسي خبره کږو خو داسي
مسئله مونږ چرته نشو کولے چې يو مسئله کښې دليل وي که کمزور

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



وي او که هر څه او هغه ته مونږ ناروا اوواېو. زۀ تاسو ته يو څو حوالې پيش کومه دا حوالې درته ددې د پاره پيش کومه چې هغه خلق چې احناف علماء دي داسې وائي چې آته رکعته جائز دي نو بيا ددې زمانې مولا ورته ولې ناروا وائي. زۀ يو څو حوالې پيش کومه چې دا آته رکعته تروايح احناف علماء مني او کنه او د هغوي په کتابونو کښې آته رکعته شته او کنه؟

شاه انورشاه کشميري رحمه الله قول:

يو لوې عالم دے شاه انور کشميري هغه د آتو رکعتو په باره کښې فيض الباري کښې وائي دويم جز صفحه ۴۲۰ وائي وَلَامَنَاصَ وائي زما ددينه خلاصے نشته مِنْ تَسْلِيْمِ اَنَّ تَرَاوِيْحَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَتْ ثَمَانِيَةَ رَكَعَاتٍ وائي زۀ به دا خامخا منم چې د محمدرسول اللهﷺ تراويح آته رکعته وې او بياوائي وَلَمْ يَثْبُتْ دا نۀ دي ثابت چې اِنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ صَلَّى التَّرَاوِيْحَ وَالتَّهَجُّدَ عَلَى حِدَةٍ فِيْ رَمَضَانَ.

چې د رسول الله تراويح خانله وي او تهجد ئې خانله وو او بياوائي وَاَمَّاالنَّبِيُّ فَصَحَّ عَنْهُ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ د محمدرسول اللهﷺ نه وائي آته رکعته تراويح ثابت دي. بياوائي وَاَمَّاعِشْرُوْنَ رَكَعَاتٍ دا شل رکعت تراويح چې دي وائي فَهُوَعَنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِسَنَدٍ ضَعِيْفٍ وَعَلَى ضُعْفِهِ اِتِّفَاقٌ وائي شل رکعت تراويح د رسول اللهﷺ نه ثابت دي خو په ضعيف سند سره او داسې سند دے چې دا ټول ئې مني چې دا ضعيف دے دا حنفي عالم دے.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د ابن الهمام رحمه الله قول

دويمه حواله يو لوي عالم دے ابن الهمام د هغه د كتاب نوم فتح القدير چې كومه د هدايه شرح ده صفحه ۴۰۷روسته اولنے جلد باب النوافل فَتُحُصِلَ من هذاكله ان قيام رمضان احد عشر ركعةً بالوتر فى جماعةٍ بيا روسته وائي دا آته ركعته سُنت دي دا دولس پسې روسته كوئ.دا مستحب دي وائي ستاخواخه ده كۀ كوي او كه نۀ ئي كوي.

يو بل حنفي عالم طحطاوى دالدرالمختار په حاشيه اول جز صفحه ۲۹۵باندي وائي لِاَنَّ النَّبِيَّ لَمْ يُصَلِّهَاعِشْرِيْنَ بَلْ ثَمَانِيَةً وائى رسول الله شل ركعته نۀ دي كړي بلكې رسول الله آته ركعته كړي۔

د ملا علي قاري رحمه الله قول

يو بل عالم دے حنفي ابن نجيم المصرى:فَاِذَيَكُوْنُ اَلْمَسْنُوْنُ عَلٰى اُصُوْلِ مَشَائِخِنَاثَمَانِيَةٌمِنْهَاوَالْمُسْتَحَبُّ اِثْنَاعَشَرَ خو سُنت د رسول الله ﷺ نه آته ثابت دي دكتاب نوم البحرالرائق دويم جز صفحه ۶۷ .

يو بل عالم ملاعلى قاري حنفي دا وائي اَنَّ قِيَامَ رَمَضَانَ چې قيام د رمضان سُنَّةٌ دا سنت دي اِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ فِي جَمَاعَةٍ د وترو سره يووالس ركعته دي بيا وائي فَعَلَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ داوائي محمد رسول الله ﷺ داسې كار كړے دے د كتاب نوم مرقات دريم جز صفحه ۳۸۲ .

يو بل د يوبندي عالم دے منظور نظر محمد احسن هغه وائي لِاَنَّ النَّبِيَّ لَمْ يُصَلِّهَاعِشْرِيْنَ بَلْ ثَمَانِيَةً وائي رسول الله ﷺ چرته شل ركعته نه دي

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


کړي بلکې رسول اللهﷺ آته رکعت کړي. حاشيه کنزالدقائق صفحه ۳۶

يو بل حنفي عالم دے عبدالشکور لکنهوی هغه وائي اگرچه یہ آٹھ

تراويح مسنون ہے اور ایک روایت میں ابن عباس سے بیس ۲۰ رکعت.

د هغه کتاب نوم دے علم الفقهه صفحه ۱۹۸.

د علامه عبدالحي اللکنهوی رحمه الله قول:

يو بل لوي عالم دے علامه عبدالحي اللکنهوی د کتاب نوم مجموع الفتاوی ۳۳۱ اول جز. آپ ﷺ نے تراویح دو طرح ادا فرمائی ہے چې نبي تراويح په دوه طريقو سره کړي دي بیس رکعت باجماعت لیکن اس روایت میں سند ضعیف ہیں. وائي شل رکعته ئې کړي دي ليکن ددې سند ضعيف دے او بياوائي دويمه طريقه د رسول الله دا د آته رکعته اور تین رکعت وتر باجماعت او وائي ددې سند صحيح دے.

دا زۀ خکه بنايم چې ځنې خلق وائي آته رکعته په يوه مذهب کنبې نشته زه وايم دا آته رکعته محمدرسول اللهﷺ کړي دي. مونږ د شلو رکعتو خلاف نۀ کوو چې څوک د محمدرسول اللهﷺ په طريقه مونځ کوي. که ۲۰ کوي، که ۲۴ کوي، که ۳۰ کوي، که ۳۶ کوي، ۴۹ کوي. مونږ ورته ناروا نۀ وايو خبره پکښې داده چې د رسول الله په طريقه باندې کول غواړي.

د عالم محمديوسف بنوري رحمه الله قول:

يو بل لوي عالم محمديوسف بنوري ديوبندی هغه وائي فَلَابُدَّ مِنْ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تَسْلِيْمٍ اَنَّهُ ﷺ صَلَّى التَّرَاوِيْحَ اَيْضًا ثَمَانِيَةَ رَكْعَاتٍ وائي زهٔ به دا خامخا منم چې رسول الله تراويح آته ركعته كړي دي د هغه د كتاب حواله ده. معارف السنن جلد ۵ صفحه ۱۵۴۳.

او په حديثو كښې دا مسئله ده صحيح حديث د بخاري دے د عائشې رضي الله عنها نه چا تپوس وكړو چې محمد رسول الله ﷺ به په رمضان كښې څو ركعته كول؟ عائشې رضي الله عنها ورته اوئيل چې رسول الله ﷺ به پهٔ رمضان كښې او په غير د رمضان كښې يولس ركعته كول.

شاه انورشاه كشميري فرمائي څنې خلق وائي چې دا تهجد وو ليكن په تراويح او تهجد كښې هيڅ فرق نشته خو كه د شپې په اوله حصه كښې وكړي خلق ورته ترواېح وائي او كه د شپې په روسته حصه كښې وكړي نو خلق ورته تهجد وائي. څنې خلق چې د شپې اوله حصه كښې كوي نو دا تراويح دي او چې په روستو حصه كښې كوي نو دا تهجد دي. وئيل تا د عائشې حديث نه دے اوريدلے رسول الله به تهجد كله كول هغې ورته اوئيل كله به ئې د شپې په اوله حصه كښې كول. او كله به ئې د شپې مېنځ كښې كول او كله به ئې د شپې په آخري حصه كښې كول. ولې؟ د تراويح په باره كښې دا حديث نه دے اوريدلے.

د ابوهريره رضي الله عنه روايت:

ابوهريره رضي الله عنه فرمائي رسول الله ﷺ يو ځل تراويح كولې ؛ ومره ئې ناوخته كړو چې مونږ ويريدلو چې هسې نه چې زمونږ نه چربانګې فوت نشي. دا پكښې تاته چاوئيلي چې په اول كښې كوي

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نو تراويح دي او كه په آخر كښې كوي نو دا تهجد دي . كله خلق داسې وائي چې تراويح به جمع كيږي او تهجد ځانله كيږي . دا خبره ولې كوي تا دا حديث نه دے اوريدلے چې محمدرسول الله د عبدالله بن عباس، حذيفه،عبدالله بن مسعود رضى الله عنهم د پاره تهجد هم به جمع كړې دى . ددې وجې نه شاه انورشاه كشميري وائي وَلَمْ يَثْبُتْ عِنْدِيْ ماته د تراويحو او د تهجدو هيڅه فرق نه دے ثابت. صرف دومره خبره ده چې د شپې مونځ دے كله ورته قيام الليل وائي،كله ورته صلواة الليل وائي،كله ورته تهجد وائي،اوكله ورته تراويح وائي،دا ټول يو مونځ دے . او نبى عليه السلام په مختلفو طريقو باندي كړے دے ټولو ته په صحيح نظر كتل غواړي.

كله خلق وائي اهل الحديث د عُمررضى الله عنه د سنت خلاف كوي موطاامام مالك كښې د عُمرصحيح آثر امام الباني او ټولواماماتو ورته صحيح وئيلے اَمَرَ عُمَرُ بْنُ الخطاب اُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَتَمِيْمَا الدَّارِيَّ اَنْ يَقُوْمَالِلنَّاسِ بِاِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً (موطاامام مالك) عمر تميم ابن داري اوابى ابن كعب ته وئيلي وو خلقو له وئيل يولس ركعته كوه. صحيح روايت دادے د شلو ركعتو باندى كلام دے خو زما مقصد دادے چې ديته ناروا نه دي وئيل پكار . كه څوک آته كوي هم هغه ورته ښه ښكاري الله دي ورله په هغې جنت وركړي او كه چاته دا شل قوي ښكاري او دا ئې هم سوچ وي نو دا هم صحيح ده.

يودويمه اهمه مسئله هغهٔ د روژې د ماتولو په باره كښې خلك وائي چې دا روژه دوخته ماتوي . خلق وائي: ملک كارغانو وران كړو او

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



بدنام کاغي دي . مااو تالره داسي کول پکار دي چې دليل کتل غواړي چې آيا ته په سنتو روان ئې او که مونږ په سنتو روان يو .
افسوس داسي دے چې حديث کښې راځي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه داوائي چې روسته داسي وخت راروان دے چې نبي ﷺ فرمائي داسي وخت به راشي چې خلق به بدعاتو ته سُنت وائي او سنت ته به خلق بدعت وائي دا د شريعت خلاف او الزام به په تا لګوي وائي به دا د شريعت خلاف کوي ډير افسوس دادے د حديثو صحيح کتاب د قرآن نه روسته دا بخاري دے .

تعجيل الافطار باره کښې د امام بخاري رحمه الله قول:
امام بخاري يو باب تړي او يو حديث راوړي چې آيا روژه وختي ماتول سُنت د رسول الله ﷺ دي او که روژه ناوخته ماتول سُنت د رسول الله ﷺ دي.په کومه طريقه رسول الله ﷺ روژه ماتے کړے .
امام بخاري درے ځائ باب تړي يو باب تړي او يو حديث راوړي باب ئې داسي تړلے "باب تعجيل الافطار" چې په دي روژه ماتي کښې جلدي کول پکار دي. بياوائي بَابُ مَتٰى يَحِلُّ فِطْرُ الصَّائِمِ په کوم وخت کښې د روژې ماتول جائز کيږي؟ بياوائي وَافْطَرَ اَبُوْ سَعِيْدُ الْخُدْرِيُ حِيْنَ غَابَ قُرْصُ الشَّمْسِ ابو سعيد الخدري به چې څرنګې د نمر کوکورے ډوب به شو ايسته به ئې روژه ماته کړه آيا د رسول الله صحابي به څه پوهيږي او که ددې زمانې يو سړے به څه پو هيږي . ابوسعيد چې څنګه نمر پناه شو نو ايسته به روژه ماته کړه بس دغه د روژه ماتي تيم دے .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



بيا روسته حديث راوري وائي رسول الله ﷺ فرمائيلي دي لَايَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ دا انسانان به په خير وي چې په روژه ماتي كښې جلدي كوله. خير څه ته وائي: وَخَيْرُ الْأُمُوْرِ مَا كَانَ سُنَّةً په سنتو به هغه سړے روان وي چې هغه د روژې په ماتولو كښې جلدي كوي.

بيا روسته حديث راوري ابن ابى اوفى رضى الله عنه وائي د نبي ﷺ سره په سفر روان وُمه فَصَامَ نو نبى ﷺ روژه نيولې وه چې په سفر كښې د چا د وسي وه نو شي ئې نيولے وائي روژه ئې نيولې وه حَتَّى اَمْسٰى تردې چې مابنام شو. ثُمَّ قَالَ لِلرَّجُلِ اَنْزِلْ نو نبى ﷺ يو سړي ته اوئيل كوز شه او فَاجْدَحْ لِيْ ستوان راله پاسته كړه روژه ماتومه قَالَ لَوِانْتَظَرْتَ حَتّٰى تُمْسِيَ هغه صحابى ورته فرمائي د الله رسوله لږ انتظار وكړه چې لږ خو مابنام شي. ابن حجر وائي چې محمدرسول الله چاته وائي مالره د روژه ماتي د پاره تيارے وكړه روژه ماتومه نو بيا رسول الله ته ولې وائي ابن حجر وائي ددې سړي په ذهن كښې داوه چې لا رڼړا پاتې ده لكه خلق وائي كوره سور والے خو لاشته دے په دي بخاري كښې بل تكے داسي دے ده ورته داسي اوئيل يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا اے د الله رسوله ورځ ده ته څنګه روژه ماتوي لكه ددې زماني جاهل سړے وائي روژې مو وخوړي ورځ ده. دغه سړے رسول الله ته وائي اِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا ورځ ده د الله رسوله لږ صبر وكړه. رسول الله ﷺ ورته بيا اوئيلي اَنْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا پاځه مالره ستوان پاسته كړه هغه بيا خبره وكړه. رسول الله ورته اخر خبره بيان كړه اے زما صحابى

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هٰهُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ چې ما ښام کښې کله تياره د مشرق طرف نه شروع شي او ورځ ددې طرف نه شاه کړي چې نمر کله ډوب شو بس روژه دې ماته ده.

بعض خلق وائي کيدے شي چې دا د وهابيانو مذهب وي. دا وختي روژه ماتول يو لوي عالم دے د احنافو دا وائي د ځنې حنفيانو نه تپوس وشو د عالم نوم التبوکي دا حنفي عالم دے وائي د حنفيانو عاليمانو نه تپوس وشو چې نمر په سکندريه خار کښې ډوب شي يعني پناه شي خو يو کس پکښې داسي دے وَمَنْ كَانَ عَلَى مَنَارَتِهَا يو کس په په دي سکندريه کښې په يوه مناره باندې ناست دے نور خلق وائي چې نمر ډوب شوے دے دا اوچت چې کوم سړے دے دا وائي زه نمر وينم نمر لا شته دے.

دا نور خلق وائي چې نمر خو زمونږ نه پناه شو او يو سړے په منارې سر ته ختلے چې زه خو نمر وينم نو څنګ چل به وي؟ نو حنفي عالم ورته اوئيل يَحِلُّ لِأَهْلِ الْبَلَدِ دا ښار والا دي روژه ماته کړي او دا بر سړے چې دا نمر ويني هغه ته وايه چې لږ ساعت ته کوزاره وکړه.

کله وائي دا د احنافو مذهب نه دے دا د وهابيانو مذهب دے. ته د حنفيت نه خبر څه ئې. اوس وخت کښې يو سړے دے دلته نمر پناه شو او بره جهاز کښې وختلو هلته نمر نه دے پناه شوے نو څه حکم به ئې. نو دغه حکم ئې دے چې په چا نمر پناه شو نو روژه ئې ماته شوله که ته ئې ماتوي او که نه ئې ماتوي. بره ته بيا په جهاز کښې اوچت شولے او نمر دربانديې وليګدو نو بيا بيرته صبر وکړه.

يو بل کتاب دے فتح الباری د هغې يو حديث دے ابن حجر وائي

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



إِذْغَابَ قُرْصُ الشَّمْسِ وائي چې کله د نمر کوکوړے تول ډوب شو نو أَفْطَرَ الصَّائِمُ د روژه دي وائي ماته شوله. بيا وائي وَلَا عِبْرَةَ بِالْحُمْرَةِ الْبَاقِيَةِ داکوم سور والے چې د آسمان په غاړه کښې دے دي لره وائي هيڅ اعتبار نشته. وائي ولې؟ لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ وائي محمدرسول الله وئيلي دي إِذَاأَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هٰهُنَاوَأَدْبَرَ النَّهَارُمِنْ هٰهُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْأَفْطَرَ الصَّائِمُ

(مجموع الفتاوی شیخ الاسلام ابن تمیه ۲۵ جز ۲۱۶)

وَالسُّنَّةُ أَنْ يُعَجِّلَ الْإِفْطَارَ وائي سُنت د رسول الله دادي چې روژه ماتولو کښې لره جلدي کوئ. بيا وائي ولې وَكَانَ النَّبِيُّ زمونږ خوږ نبي ﷺ به داسي کار کولو چې څنګ به نمر پر يوتلو نو روژه به ئې ماتوله. بيا د ابوهريرة حديث په جامع الصغير کښي دے چې ابوهريرة فرمائي چې محمدرسول الله ﷺ فرمائيلي دي لَا يَزَالُ الدِّيْنُ ظَاهِرًا دين به غالبه وي مَاعَجِلَ النَّاسُ الْفِطْرَ چې خلقو به روژه ماتولو کښې جلدي کوله. که احتياط وکړي نو دا دين به ښکته راوغورځيږي.

بيا محمدرسول الله وائي لِأَنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى يُؤَخِّرُوْنَ د يهودو او د نصاراؤو کار دا دے چې هغوي روژه ماتے روسته کوي دا زما او ستا پيغمبر محمدرسول الله ﷺ داسي وائي.

بيا روسته د ابن عبدالبر کلام دے د هغه قول دے ابن عبدالبر رحمه الله وائي أَحَادِيْثُ تَعْجِيْلِ الْأَفْطَارِ وَتَأْخِيْرِ السُّحُوْرِ صِحَاحٌ مُتَوَاتِرَةٌ

(مفتاح الحاجة شرح ابن ماجه)

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



په کوم حديثو کښې چې روژه جلد ماتول هغه احاديث متواتره دي .

د عبدالرزاق يو آثر ئې راوړے يو خاځ رسول اللهﷺ نه بلکې كَانَ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍاَسْرَعُ النَّاسِ اِفْطَارًوَاَبْطَأُهُمْ سُحُوْرًا تولو صحابوو به روژه مخکښې ماتوله او چربانګے به ئې تر آخر پورې كولو.

يو حديث ئې د سهل راوړے چې رسول اللهﷺ فرمائيلي دي زما اُمت به په خير باندې وي چې څو پورې جلدي كوله په روژه ماتي كښې.

د دوه صحابه کرامو د افطار متعلق معمول:

ابوعطيه وائي ما او مسروق د عائشي رضی الله عنها خواته ورغلو مونږ ورته اوئيلي اے ام المؤمنين دوه كسان په صحابو كښې دي. يو روژه جلته ماتوي او مونځ جلد كوي او دا بل وائي لړ احتياط پكار دے او مونځ لږ روسته كوي . په دوارو كښې كوم يو صحابی بنه سړے دے. نو عائشي رضی الله عنها ترې تپوس وكړو دا روژه كوم يو جلد ماتوي وئيل مونږ ورته اوئيل چې عبدالله بن مسعودؓ ئې مخکښې ماتوي نو هغې راته اوئيلي قَالَتْ كَذٰلِكَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ زمونږ پيغمبر به دغه شان كار كولو.

اوس خلقو دلته نقشي جوړې کړي دي زمونږ دين رسول اللهﷺ وائي په نقشو نه دے بناء. رسول اللهﷺ وائي مونږ اميان اُمت يو مونږ ته رسول الله داسې طريقه ښودلې ده چې نمر درنه ډوب شو بس روژه دي ماته شوله. زمونږ په علاقه کښې دوه اوچت غرونو دي .يو د كيمور غر دے او يو د باړر غر دے دا نقشه راواخلي او د دغه دواړه غرونو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سره نې اولګوی تاسو ته به پته ولګي چې دا نقشه د الله او د رسول الله د طريقې نه خلاف ده او کنه. په هغه غرونو باندې لس منټ يا پنځه منټه مخکښې نمر پريوتلے وي. او خلق آذان نه کوي ولې؟ دې نقشه کښې داسي څۀ آيات نشته. په دې نقشه کښې د يو عالم حواله نشته. دا خو زما او ستاسو غونده خلقو ليکلې ده. په نقشه کښې يواځې دغه غلطي هم شته چې صبا ختلے نه وي. نبي عليه السلام وائي چې صبا کله ښۀ وخيژي نو روژه به تاسو بندوی. قرآن کښې الله وئيلي او دغه نقشه کښې صبا تقريبًا پاؤ ساعت شل منټه روسته خيژي. ستاسو سترګي ړندي نه دي تاسو لره الله عقل درکړے. نن صبا ته دې خپلې نقشې ته کينه او صبا ته کوره چې آيا دا نقشه د قرآن او د احاديثو نه څومره خلاف ده. ما او تاسو لره داسي کار پکار دے چې زمونږ قائد محمد رسول الله کوم کار کړے دے.

يو اوسنے عالم دے هغه ددې فلکياتو په علم ډير ښۀ پوهيږي. مولانا مودودي رحمه الله دده کتاب دے تفهيم القرآن ۱۴۶ صفحه کښې دا وائي رات تک روزہ پورا کرنے سے مراد یہ ہے کہ جہاں رات کے سرحد شروع ہوتی ہے وہی تمہاری روزی کے سرحد ختم ہوجاتی ہے۔

چې شپې سرحد شروع شو نو وائي ستا روژه ختمه شوله وائي اور تاہم ہے کہ رات کے سرحد کله شروع کيږي وائي کله چې نمر پريوځي بيا روسته يو ناشنا خبره کوي وائي آج کل لوگ سحری افطار دونوں کے معاملے میں شدت احتیاط کے بناء پر کچھ بے جا تشدد کرتے ہیں۔ وائي ددې زمانې خنې خلق د روژه ماتي په وخت کښې هم او د چربانګي په وخت کښې بې ځايه تشدد

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کوي وائي مسئله داده مګر شریعت ان دونوں اوقات کے کوئي ایے مدبندی نہیں کي

ھیں۔ان سے چند سیکنڈ چند منٹ اِدھر اُدھر ھوجانے میں سے آدمی کاروزہ خراب ھوجاتے ھے۔

دا وائي چرته په شريعت کښې نشته دے که يو دوه يا درے منټه دي مخکښې روژه ماته کړه وائي هلک نقشه کښې خو وائي تيم نه دے پوره دا نقشه محمدرسول الله ته مخې ته پيش شوے ده يارسول الله ددې نقشې خبر ورکړو چې دا نقشه صحيح ده.

عرض مې ددې خبرې کولو چې ما او تالړ پکار دي د قرآن او سُنت نه خان خبر کړو . د علماؤ کتابونه وګورو چې آيا د شريعت سره ثوک موافق دي.الله دي مونږ لره د هغه روژې توفيق راکړي په کومه باندي چې مونږ د جهنم نه بچ کيږو .

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# بيان الاعتكاف وصدقة الفطر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلٰى نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَ اَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۚ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَ عَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَ ابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَ كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۚ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَ لَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَ اَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ فِى الْمَسٰجِدِ ۚ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ۚ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ۝[332]

وَقَالَ تَعَالٰى: وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ۚ [سورة البقرة ١٨٤]

د قرآن كريم ددوه آياتونو څه حصې ما تلاوت كړي. ځني مسئلې داسې دي چې هغه د هغه وخت سره تعلق ساتي. د دې مياشې په آخري لسو ورځو كښې اعتكاف كول دا د رسول الله ﷺ سنت دي. اعتكاف كول په عامو ورځو كښې په عام كال كښې هم شته. داسې رسول الله ﷺ كړي دي.

د رسول الله ﷺ شوال كښې اعتكاف كول:

بخارى كښې راځي يو ځل رسول الله ﷺ د رمضان اعتكاف د څه عذر په بناء پريښودے ؤ. په هغه ځل باندې رسول الله د شوال په مياشت كښې اعتكاف كړے وو[333]. اعتكاف ددې مياشې په لسو

[332] [سورة البقرة]

[333] صحيح البخاري باب الاعتكاف في شوال رقم الحديث ١٩٣٦

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



آخري كنبي اعتكاف كول دا سنت مؤكده دي. رسول الله د دي مياشت اولنى لسو ورځو كنبي اعتكاف وكړو. بيا رسول الله ﷺ لسو ورځو اعتكاف وكړو. بيا چې كله د دي مياشتي شلمه ورځ شوه نو رسول الله ﷺ اوئيل چې ماته شپه د قدر د دي مياشتي په دي آخري لسو ورځو كنبي معلومه شوله نو صحابو ته ئې اوئيل چې زما سره په دي آخري لسو كنبي بيرته اعتكاف وكړئ.

د رسول الله دائمي طريقه داوه چې په هره مياشت د رمضان كنبي به رسول الله اعتكاف كولو. په كوم كال باندي چې د دنيا نه تللو نو په هغه كال باندي د لسو په ځاى شل ورځي اعتكاف وكړو[334].

د الله تعالى سره د تعلق نه دري شيان مانع دي:

شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله وائي په روژه كنبي درے شيان د انسان د پاره د الله د وصال نه مانع جوړيږي. دا دري خيزونه چې د خپل حد نه واوړي د دي په وجه انسان د الله سره تعلق كم شي.

اول: خوراك او څنباك داچې څومره ډيريږي نو هغومره انسان د الله نه تعلق كميږي. خوراك سره خواهشات د انسان زيات شي د ليونو صفت پكنبي پيدا شي غلط صفتونه پكنبي زياتيږي.

دويم: چې كله په انسان كنبي خوب ډير زيات شي د دي انسان د الله سره تعلق كم شي. څومره چې دا خوب زياتوي د هغه په مقدار غفلت زياتيږي.

او دريم: مخالطة الناس د خلقو سره چې څومره انسان كف شف

---

[334] صحيح البخاري باب الاعتكاف في العشر من رمضان رقم الحديث [illegible]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



زیاتیږي هغه په مقدار د انسان تعلق د الله سره کمیږي[335].
روژه چې کله انسان ونیسي په خوراک کښې کمے راشي په څښاک کښې کمے راشي . او څوک چې د روژې په مقصد باندې پوهیږي د هغه په خوب کښې کمے راځي . هغه ته داپته وي چې د روژه دا مقصد نه وي چې صرف خوله وتړه . هغه ته د رسول اللهﷺ د وینا پته وي چې روژه یواځې د خلې بندولو ته نۀ وائي . بلکې روژه عبارت دے د الله د بندګۍ نه،نو د هغه پکښې خوب کم شي . د اعتکاف د پاره داسې ځائ پکار دے چې د انسان د خلقو نه ځانله والے راشي . ځکه په انسان پسې روستو ځانله یوځائ راروان دے. قبر راروان دے په دې قبر کښې د انسان سره نه ښځه یو ځائ کیږي. نه ورسره پلار، مور ملګرتیا کوي . داسې یو ځائ دے چې شپږ طرف ته به ته بند شې . ستا سره د هیچا رابطه نه کیږي . ددغه ځائ د سوچ د پاره الله مونږ ته په دنیا کښې د اعتکاف حکم رالیږلے دے. ځانله به یوه خیمه په جُمات کښې جوړه کړې . ددې اعتکاف د پاره او د هغه قبر سوچ به ځان ته مخې ته کړې چې یو وخت داسې راروان دے چې د خلورو طرف نه به په ماپسې دروازې بندې شي.او زما به صرف د خپل عمل سره تعلق وي . او زما به صرف د خپل رب سره تعلق وي. ددغه مقصد د پاره مونږ اعتکاف مشروع کړے دے. دا اعتکاف رسول الله کړے دے په ټول عمر چې د کوم وخت نه روژه فرض شوے ده او دا د رسول الله صحابو کړے دے او دا د محمد رسول الله بیبیانو هم کړے دے.

[335] زاد المعاد فصل في هديه صلي الله عليه وسلم في الاعتكاف ص ۸۷ ج ۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



## د اعتكاف اصل مقصد:

ددې اعتكاف اصلي مقصد دا دے چې د خلقو سره ستا اختلاط كم شي. دخلقو سره ستا خبرې كمې شي.ددې د پاره چې هغه مقصد د اعتكاف تاته حاصل شي.

د رسول الله ﷺ طريقه داوه لكه څنګه بخارى كښې راځي چې كله ددې مياشت شلمه ورځ به شوله د رمضان نو په يويشتمه شپه به رسول اللهﷺ جومات ته لاړو د اعتكاف د پاره[336].

دوه قسمه حديث په دې باب كښې راځي يوحديث د عائشي رضى الله عنها دے هغه كښې داسي دے چې رسول اللهﷺ د اعتكاف ځائ ته سحر مانځه نه روستو ننوتلو. يعني د يويشتمې ورځې د سحر د مانځه نه روسته د اعتكاف ځائ ته ننوتلو[337].

او په دې بل حديث كښې راځي چې رسول اللهﷺ د يوشتمې شپې رمضان په جومات كښې تيره كړه.

### دواړو احاديثو كښې تطبيق:

علماء وائي د دواړوحديثومقصد دادے جُمات ته لاړ شه په يوشتمه شپه باندې. او سحر چې د اعتكاف كوم ځائ دے هغې ته ننوځه يوشتمې شپې په سحر باندې.نو په دواړه حديثو به عمل وشي. كه داسي ونه كړې چې سحر ته مانځه ته هغه وخت لاړ شې او د هغه وخت نه اعتكاف شروع كړې نو بيا هم اعتكاف كښې څه فرق نه راځي. څكه داهم د حديثونه ثابت ده. ددې اعتكاف د پاره چې

[١٧٠] صحيح البخاري رقم الحديث ١٩٢٣

[١٧١] صحيح مسلم باب متى يدخل من اراد الاعتكاف في معتكفه رقم الحديث ١١٧٣

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



رسول الله د یویشتمې شپې غوره والے کړے. په دیکښې حکمت دا دے چې رسول الله وائي د لیلة القدر احتمال په لسو شپو کښې دے. او په لسوکښې طاقو شپو کښې دے. 29,27,25,23,21 او دا احتمال په دغه شپه باندې په دغه کال چې یویشتمه شپه به وي؛ راغلے وو. نو ددې وجې نه بهتر طریقه داده چې انسان په یویشتمه شپه جمات ته لاړ شي کیدے شي پته نه لګي چې لیلة القدر به دغه شپه کښې وي او که دا شپه دي په جمات کښې تیره کړه. خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ[3.38] لکه چې د زرو میاشتو نه دي زیاتي په دي جمات کښې تیر کړي وي لوي عبادت به درته حاصل شي.

دویمه طریقه د رسول اللهﷺ داوه چې رسول الله به جمات کښې خیمه وهله. یو ځل ئې تُرکي خیمه وهلي وه. نور ځل ئې عامه خیمه وهله خو دا اعتکاف چې نبی کړے نو نبی د ضرورت د پاره کور ته هم تلے. په هغه وخت کښې به په جمات کښې غسل خانې او لیټرین نه وو. رسول الله به چې غسل کول یا به ئې چې سر وینځو نو رسول الله ددې د پاره خپل کور ته تللو.

عائشه رضی الله عنها فرمائي چې رسول اللهﷺ به نه راوتلو مګر د حاجت انساني د پاره یعني اودس به ئې چې ماتولو نو کور ته به راغلے. نو یو ځل ئې سر وینځو نو عائشه فرمائي چې ماته ئې سر رازوړند کړو چې مالره سر وینځه نو ما ورله سر وینځو. او زه به حالت د حیض کښې ومه. نو که په دې دروان کښې که سړے کور ته

---

[3.38] سورة القدر ۳

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د ضرورت د پاره لاړ شي نو په دې باندې اعتکاف نه باطليږي. که په دې دوران کښې سړے د خپلې ښځې سره خبره وکړي يا د خپلې ښځې سره سلام کلام وکړي په دې باندې اعتکاف ته نقصان نه رسيږي.

د رسول الله ﷺ احتياط:

په صحيح البخاري کښې راځي يو ځل د محمدرسول الله ﷺ په جومات کښې ناست وو تولې بيبيانې ئې خواله راغلې. صفيه بنت حيي بن احطب رضی الله عنها هغه وائي چې تولو بيبيانو سره ئې خبرې وکړې او هغه کور ته روانې شولې. او زه لږه روسته حصاره شومه زه چې کله تلم ماته محمدرسول الله ﷺ اوئيلې لږه حصاره شه ستا سره به زه لاړ شم. د يو ځائ پورې چې کله نبی ﷺ د صفيه رضی الله عنها سره روان شو د صفيه کور هغه کور وُو چې روستو پکښې زيدبن ارقم رضی الله عنه اوسيدلو. رسول الله چې ورسره راوتلو. په لاره د رسول الله يو دوه صحابه روان وُو هغوي چې رسول لله د خپلې بی بی سره وليدو نو تيز لاړل. ځکه دعاموکشرانو عادت داوي چې د خپل مشر سره خپله بی بی وينې هغه آدب په دې کښې ګنړي چې د هغه سره ميلاو نشي. په دې حالات کښې رسول الله ورته د لرې نه غږ وکړو وئيل زما صحابو لږ ودريږی. وئيل دا ستاسو مور صفيه ده. په ذهن کښې چرته بل څه رانشي. هغوي اوئيل سُبْحَانَ اللهَ د الله رسوله ستاپه باره کښې زمونږ بدګمانې ځنګه راتلے شي نو رسول الله ورته اوفرمائيل اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِیْ مِنَ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ شیطان د انسان په دي رګونو کښې داسي چلیږي لکه وینه چې څنګه چلیږي . ماوئیل هسې نه چې شیطان ستاسو په زړهٔ کښې غلطه خبره وانه چوي[339] .

نو د ضرورت د وجې نه کهٔ د چا خپل کور والا خواله راشي.څوک ورلره تلکاري راوړي.روټۍ ورله راوړي په دي باندي اعتکاف ته څه نقصان نه رسیږي.

بلکې د محمدرسول اللهﷺ طریقهٔ داوه چې محمدرسول الله به خپله سره د بیبیانو نه په جُمات کښې اعتکاف کولو. رسول الله به خانله په جُمات کښې اعتکاف کولو. او خپلو بیبیانو ته به ئي وئیل چې تاسو په جُمات کښې اعتکاف وکړئ . څکه د قرآن نه دا شرط ثابتیږي چې وَاَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسْجِدِ داعتکاف ځائ جُمات دے.

حدیث صحیح د عائشي رضی الله عنها دے چې هغه فرماني

لَااِعْتِكَافَ اِلَّا فِي الْمَسْجِدِ سنن ابي داود

اعتکاف کښې سنت طریقه:

اعتکاف کوئ په هغه مسجد کښې چې کوم جامع مسجد وي.

عائشه فرماني چې سُنت دادي څوک چې اعتکاف کوي هغه به جنازو لره نه ځي.

او د اعتکاف سُنت دادي چې جامع مسجد کښې به ئي کوي.

او د اعتکاف سنت دادي چې اعتکاف بغیر د روژې نه نهٔ صحیح کیږي. نو رسول الله خو اعتکاف کړے د بیبیانو سره خو په جمات

[339] صحیح البخاري باب زیارة المرأة زوجها في اعتکافه رقم الحدیث ۱۹۳۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبة الاشاعت ډاټ کام



کښېږ نې کړے.

## د امهات المؤمنين د اعتكاف ذوق

يو کرتي رسول الله ﷺ خپلې يوې بی بی ته اجازت وکړو ونيل ځمات کښې زما سره اعتکاف وکړه هغه بي بي خانله خيمه اووهله بله بي بي زينب چې دا وليده نو د بنو په مېنځ کښې عادت داسي وي چې يوه يو کار وکړي نو بله ئې په سيالئ کوي.نو هغې هم خيمه خانله اووهله په ځمات کښې.بلې بي بي چې د رسول الله دا وليدو نو ډيرې خيمې جمع شوې. رسول الله چې د سحر مونځ وکړو او خيمې چې وليدې ونيل داڅه دي؟ صحابو ورته خبر ورکړو چې ستا بيبيانې دي چې ځمات کښې خان د پاره خيمې وهلې دي.رسول الله اوئيل تاسو دا څه د نيکۍ کار کوئ چې يوه بي بي يو کار شروع کړي او بله ورسره په سيالۍ په دغه کار کښې کوي. ونيل تولې خيمې اوباسئ او رسول الله دا خفګان ونکړو روسته چې کله بيبيانو د رسول الله اعتکاف کړے دے يا د صحابو بيبيانو کړے نو د يوې بي بي د رسول الله ﷺ نه نۀ دي ثابت چې هغوي دي اعتکاف چرته په کورونو کښې کړے وي.

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه اثر

عبدالله بن عباس رضی الله عنه صحيح آثر دے په بهيقي کښې هغه وائي إِنَّ اَبْغَضَ الْاُمُوْرِ اِلَى اللّٰهِ د الله چې ډېر بدې شي په کارونو کښې هغه کار د الله بدي شي چې هغه بدعت وي. او بيا اونيلي وَاِنَّ مِن الْبِدَعِ اَلاِعْتِكَافُ فِي الْمَسَاجِدِ الَّتِي فِي الدُّوَرِ بعض د بدعاتو نه چې په

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کورونو د جماتونو کښې اعتکاف کوي دا یو لوي بدعت دے د څلورو واړو امامانو قول دا دے چې د ښځې اعتکاف کور کښې نه کیږي۔

د قرآن فتوی داده او د حدیث فتوی داده د صحابو فتوی داده او دا خلق هم امام ابوحنیفه په دلیل کښې ګرځوي چې د امام ابوحنیفه په نیز په کورونو کښې اعتکاف جائز کړي او حالانکه هغه داسې نه دہ.

امام ابوحنیفه رحمه الله هم پخپله چې څوک په کورونو کښې اعتکاف کوي هغې ته ني ناروا وئیلي ۔ د امام ابوحنیفه شاګرد د هغه نه نقل کوي د هغه د کتاب نوم دے کتاب الحجج علی اهل المدینه د امام محمد بن الحسن شیباني کتاب دے په هغې کښې لیکلي باب الاعتکاف او دا ډیره قیمتي خبره دہ ۔ قَالَ اَبُوْحَنِیْفَةَ وَیَکْرَهُ الِاعْتِکَافُ فِي الْبُیُوْتِ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي مکروه دے اعتکاف په کورونو کښې چې د هیڅ اعتکاف په کور کښې نه کیږي۔ بغیر د جُمات نه که خلق وائي چې فتنه ده نو د نور څه د پاره فتنه نه وي خو د پیغمبر د سُنت د پاره فتنه وي۔چې یو کار بل فرض نه کیږي او لاره ورله نه جوړیږي د هغې دا معنی نه وي لکه طواف د بیت الله نن څوک داسي نشي کولے چې یو سړے وائي چې زما طواف د بیت الله اوس نه کیږي او زه به ددې جُمات نه تاؤ شم دغه شان که د یوې زنانه د شرعي پردې د لاندې په جُمات کښې اعتکاف نشي کولے نو په کور کښې دې اعتکاف نشته.

د عائشې رضی الله عنها واقعه:

یو خل عائشې رضی الله عنها هغه ټبیر نوم ئې یو غر دے هلته ئې یو

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



جمات جوړ کړو په هغه کښې ئې اعتکاف شروع کړو۔ روز ئې ورته راغلے عبدالرحمن ابن ابي بکر رضی الله عنه.خپلې خور ته ئې اونيلې خورې بِئْسَ مَافَعَلْتِ دا کاردې غلط دے داځائ جُمات دے۔ يو ځل عائشې رضی الله عنها اعتکاف کولو نو هغې به په جُمات کښې کولو لحاظه په دې باندې امام قرطبي د اجماع دعوٰی کړې ده او که بغير د مساجدو نه اعتکاف جائز وے نودرسول الله بيبيانې ډيرې حياناکې وې زما او ستاسو زنانه د هغوي پشان حياء نشي کولے۔هغوي په کورونو کښې اعتکاف نه دے کړے۔نو ددې نه ثابته شوه چې څوک په غارونو او غرونو او شاړو ځايونو او کورونو کښې اعتکاف کوي نو دا بدعت دے۔چې په شريعت کښې هيڅ ثبوت نه لري۔بلکې د اعتکاف د پاره درے جماتونو لره سفر کولے شي۔مسجدحرام، مسجدنبوي،مسجداقصٰی (بيت المقدس) ددې نه علاوه د خپلې علاقې جماتونو نه بل جُمات ته د ثواب په نيت سفر کول د اعتکاف د پاره دا هم بدعت دي۔داد رسول الله د سنتو خلاف دي۔

يو ځل ابوهريرة رضی الله عنه طور ته تلے وو او په دې نيت باندې تلے وو چې طور هغه ځائ دے چې پکښې وحی موسی عليه السلام ته راغلې ده۔ابو بصره غفاري ورله په لاره کښې مخې ته ورغلے او ورته ئې اووئيل دا دې غلط کار کړے۔ولې؟ تانه دې اوربدلې د رسول الله نه چې محمدرسول اللهﷺ فرمائي لَاتُشَدُّالرِّحَالُ اِلَّااِلٰی ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ په نيت د ثواب باندې به د دريو جماتونو علاوه بل جُمات ته سفر نشي کولے چې په دې ځائ کښې ثواب زيات دے او

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



په بل ځای کم دے.نو حاصل داد ے چي اعتکاف په جُمات کښې کول پکار دي. په دي اعتکاف کښې د خپل حد نه زيات خوب کول.په اعتکاف کښې د خلقو سره بې ځايه خبرې کول د ضرورت نه بغير په دي باندې د اعتکاف مقصد ته نقصان رسيږي. خو که يو څوک داسي وکړي چې مجبوره شي د اعتکاف ماتولو ته نو دا پکښې بيا نشته دے چې آئنده کال له به بيا خامخا اعتکاف کوې.

رسول الله وائي څوک چې يو نفلي عمل کوي دا د خپل ځان واکدار دے که سږکال دي وکړو که کاله له ئې کوي که کوې او که نۀ ئې کوي.که سږکال دي مات کړو نو هم خپله خوښه دي ده دا پرې نشته چې خامخا به ئې اعتکاف کوي.

فرض اعتکاف

يو اعتکاف صرف فرض دے چې څوک ئې په ځان نذر اومني چې داسي اووائي چې د الله د پاره به دومره ورځې په جُمات کښې تيرومه.په دي اعتکاف کښې روژه نيول دا فرض دي.

د اعتکاف نه د وتلو وخت:

رسول الله ﷺ فرمائي اعتکاف بغير دروژې نه نۀ وي . ددې اعتکاف د پاره د وتلو بهتر وخت کوم يو دے . خلقو کښې دا مشهوره ده چې د وړوکي اختر سحر په هغه ورځ به وځي . خو د نن حده پورے داسي حديث يا د صحابو آثر نه دے ليدلے چې د وړوکي اختر شپه به هم په جُمات کښې تيره وي.

بلکې د حديثونه داسي معلوميږي چې دا لس ورځې يا دا لس شپې د اعتکاف ئې وئيلي د اختر شپه د روژې نۀ وي هغه د شوال شپه وي

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



. ددې وجې نه که څوک د اختر شپې لره کور ته لاړ شي نو په دې
باندې ددې اعتکاف ته څۀ نقصان نه رسيږي. بلکې دا د سنتو سره
موافق عمل دے د رسول الله او د صحابو سره موافق عمل دے.
د اعتکاف نه د وتلو کښې دغه ورځو کښې يو اهم عمل راروان دے
چې هغې ته صدقة الفطر وائي. ددې مسئلو وضاحت ځکه ضروري
دے چې اکثر خلق په دې باندې نه پوهيږي.

## د صدقة الفطر فرضيت:

يو خبره داسې ده چې صدقة الفطر (سرسايه) دا فرض ولې ده؟
ځکه په حديث کښې داسې لفظ دے د عبدالله بن عمر رضى الله عنه
روايت قَالَ فَرَضَ رَسُوْلَ اللهِ زَکٰوۃَالْفِطْرِ چې دا صدقة الفطر فرض ده،
سُنت نۀ ده. او ديته د واجبو تعبير ورکول نۀ دي پکار. ځکه په
حديث کښې ورته فرض کلمات صحابی استعمال کړو دا په چا
باندې فرض ده. صدقة الفطر د عبدالله بن ثعلبه روايت چې محمد
رسول الله ﷺ وائي هر څوک مالداره وي الله به ورله خائسته بدل
ورکړي. او که غريب وي نو نبی ﷺ وائي غريب لره پکار دي چې
صدقة الفطر ورکړي الله به ورله خائسته او مزيداره بدله ورکړي. دا
چې څنې خلق وائي چې د صدقة الفطر د پاره مالداري ضروري ده.يا
دا چې د نصاب خاوند وي هغه به صدقة الفطر ورکوي. دا قول
صحيح نۀ دے.
د ابن ماجه حديث دے او نورو کتابونو هم راوړے چې نبی ﷺ وائي
تاسو کښې هر چالره صدقة الفطر ورکول پکار دي. دومره ضرور ده
چې څومره د صدقة الفطر وس ئې کيږي. يعني په دغه ورځ باندې

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله درله دومره طاقت درکړے دے چې کوم مقدار رسول الله وئيلے هغه مقدار تهٔ خلقو لره شې ورکولے بس ور يې کړهٔ په دغه ورځ باندې.او ولې؟رسول الله وائي الله به ددينه خائسته بدله تالره درکړي که تا ورکړو په دغه ورځ باندې.او دا قول د ټولو امامانو دے سوا د يو امام نه.ټول ائمۍ داسې وئيلي چې غريب او مالداره له که هغه مالک د نصاب وي او که نه وي دي صدقة الفطر کښې څه شے ورکول پکار دي.

صدقه الفطر کښې به څهٔ شے ادا کوي:

محمدرسول اللهﷺ د يو څو شيانو تعين کړے دے چې دا ورکول پکار دي.نبیﷺ کهجوره وئيلي دهٔ.وشکي ئې وئيلې دي،او نبیﷺ پنير وئيلے دے.وربشې ئے وئيلې دي.او په يو روايت کښې ورسره د طعام تکے راغلے دے.

د رسول الله په زمانه کښې چې صدقة الفطر به ئې ورکوله نو دغې شيانو نه به ئې ورکوله.

د ټولو صحابونه.د ټولو تابعينو نه.سيوا د دؤو تابعينو نه ټولو به وئيلې چې صدقة الفطر چې ورکوې نو په دي شيانو کښې به ئې ورکوي.په بل شے کښې صدقة الفطر نشته.

د علماؤو پکښې اختلاف شته په دي مسئله کښې ځنې علماء داسې وائي چې د بل شے نه دي صدقة الفطر ورکړه دا د سره نه شوې نهٔ دهٔ.

ځنې علماء داسې وائي چې د ضرورت د وجې نه د بل شے نه دې ورکړه نو جائز دهٔ.

او ځنې وائي چې نا د بل شے نه کول بهتر دي.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



غوره قول دادے چې صدقة الفطر د بل شي نه به نهٔ ورکولے کیږي د هغه شي نه به ئي ورکوي چې کوم چې مونږ ته محمدرسول الله ښودلي دي۔

بعضي خلق داسي وائي چې په قيمت يعني په روپو ورکولو کښې ئي د مسکين ډير خير وي۔ خو د مسکين په حاجت باندې الله ښهٔ پوهيدو او رسول اللهﷺ ښهٔ پوهيدو ،صحابهٔ ښه پوهيدل۔ زما او ستا علم دومره نشته که د مسکين په بل شي کښې خير ډير وے نو پکار داده چې رسول اللهﷺ مونږ ته ښودلے وے۔ داسي به ئې وئيلې وے چې دا بل شے پکښې ورکړئ۔

د امام احمد بن حنبل رحمه الله واقعه:

ابوداود د امام احمد بن حنبل رحمه الله هغه خبره نقل کوي يو سړي ترينه تپوس وکړو وئيل امام صاحب عمربن عبدالعزيز رحمه الله به وئيلي چې صدقة الفطر کښې يو درهم سړے ورکړي دا جائز ده۔امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته اوئيلي چې رسول الله خو روپۍ نه دي ورکړي صحابؤو نه دي ورکړي هغهٔ ورته اوئيلي کهٔ څوک ئې ورکړي نو هغه لره غصه ورغله۔ وئيل زهٔ درته وائم چې رسول اللهﷺ نهٔ دي ورکړي.صحابوو نهٔ دي ورکړي او ته ماته وے چې فلانکي داسي کار کوي۔

حاصل دادے چې څوک د روپو نه صدقة الفطر ورکوي دا داسي مسئله ده ثواب ئې د سره ونه شو۔ او ځنې علماء وائي وشو۔ او که مونږ د هغه شيانو نه صدقة الفطر ورکړو د کوم نه چې رسول اللهﷺ ورکړي دهٔ د هر چا په نيز باندې دې صدقة الفطر وشوله۔ داسي سوچ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مسلمانانو له پکار وي چې ځان د اختلاف نه خلاص کړي.
بعضې خلق وائي دي کښې د فقير خير دے نو د بيا د وڅکو قيمت داخلق ولې نه ورکوي. دا خلق چې د فقير خيال پکښې ساتلے شي. يا دي د کهجورو قيمت بيا ورکړي چې د کهجورو قيمت کښې د فقير ډير خير دے. ته بيا خامخا د غنمو قيمت ولې ورکوي. دي غنمو ته دي خبره ولې ګرځولې ده.

## څومره مقدار ئې دے.

حديث کښې داسې راغلي دي صَاعًا مِنْ تَمَرٍ يو صاع د کهجورو نه. يا يو صاع د وڅکو نه. يا يو صاع د وربشو نه. يا يو صاع د طعام نه. او يا يو د پنير نه. د هغې مقدار څومره دے زمونږ دين ډير آسان دے که نور مقدار نشي لګولے. درميانه انسان د هغه په لپه چې څلور لپې يو شے شو. بس دغه مقدار د صاع دے. زمونږ شريعت دومره سختي نۀ ده کړي. بس د يو کس په سر باندې څلور لپې د يو شے نه راخله يا د وربشو نه راخله. يا د وڅکو نه څلور لپې وغيره. دا د يو کس سرسايه شوله. که خامخا تول ته ئې راړے نو تقريباً دوه کلو سل ګرام دا د يو صاع مقدار دے. خو د رسول الله په زمانه کښې ددې تولو شيانو پوره صاع ورکړے شوې.
او د معاويه رضی الله عنه په زمانه کښې هغه بيا وئيلي وو چې د غنمو قيمت لږ زيات شوے دے نو که ددې نصف صاع ورکړے شي نو هم صحيح کيږي. اګر چې بهتره داسې ده.
ابو سعيد خدری رضی الله عنه به وئيلې زه به په هغه طريقه سرسايه ورکوم چې کومه طريقه سرسايه ما د محمدرسول الله ﷺ په زمانه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



كنبي وركړے ده ـ د محمدرسول اللهﷺ په زمانه كنبې ما سرسايه يو صاع پوره وركړے دے ـ اوس به هم دغه كار كوم څكه وئيل د رسول الله ﷺ تابعداري بهتره ده د بل چا د تابعداري نه.

دا صدقة الفطر كله وركول پكار دي.

خلق په دي كنبې ډير تپوس كوي زمونږ عقيده داسي ده زمونږ عمل داسي دے چې رسول الله نه به په څه طريقه باندې نقل وي هغه طريقه باندي كول پكار دي.

صحابو به صدقة الفطر د اختر د ورځې نه زيات نه زيات دوه ورځې مخكنبي بيت المال ته راجمع كوله.

او بل حديث كنبي داسي راغلي دي رسول الله ﷺ فرمائي أَغْنُوْهُمْ عَنِ السُّؤَالِ فِي هٰذَا الْيَوْمِ دي ورځ كنبي تاسو دا غريبانان د سوال نه مستغني كړئ ـ ښۀ داده چې په دغه ورځ باندې وركړئ ـ كه بيت المال وي هغې ته ورځ دوه مخكنبې جمع كولے شي.

صدقه الفطر به كله ادا كوي:

يو د علماؤو خبري دي په كتابونو كنبې داسي شته چې يو كال مخكنبي شي وركولے كۀ دا جائز وے نو پكار داوه چې دا خبره مونږ ته محمدرسول اللهﷺ ښودلي وے او صحابو ښودلي وے نو بهتر دا ده چې صدقة الفطر زيات نه زيات ورځ دوه مخكنبې يا ښه داده چې د اختر په ورځ صدقة الفطر وركړے شي خو د مانځه نه به ئي مخكنبي وركوي ـ او كه د مانځه نه پس دي وركړه ـ رسول اللهﷺ فرمائي هسې يو خيرات شو دي صدقة الفطر چې كوم مقصد وو چې

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ستا په روژه کښې د خلې نه کومې غلطیانې پکښې شوې وې چې هغه درته الله معاف کړي.

او ډير نقصان دادے چې خلق دا صدقة الفطر خپلو امامانو لره ورکوي او دا قرآن په نص په حديث سره د ځلورو واړو امامانو په نيز دانۀ ده جائز چې صدقة الفطر دې مولوي صاحب واخلي.که هغه داسې وائي چې زۀ غريب يم نو په دې کلي کښې دا غريبان په دې يو مولوي صاحب بند دې.

قرآن کښې الله يو ناشنا خبره کوي الله فرمائي اے ايمان والو ډير مولايان،ډير پيران لَيَأْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ د خلقو مالونه ئې په ناروا اوخوړل. کوم عالم چې صدقة الفطر اخلي يو خو د هغه خلقو صدقة الفطر ونه شولۀ. ولې دا به اجرت کښې چې کوم شئ ورکړے شي په هغې باندې د الله ثواب نه ميلاويږي.

او دويمه داسې ده چې د هغه امام د پاره دا صدقة الفطراخستل حرامه ده ځکه چې دا د مسکين حق دے.

الله په قرآن کښې وائي فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ دا فديه ده خو دا د مسکين خوراک دے هغه لره ورکول پکار دي. او بنه خبره داسې ده چې د خپلې علاقې د خپل کلي چې کوم مسکين وي چې هر يو مسکين له دې ورکړه او بهتر داده چې ستا خپلوانو کښې غريبانانو لره ورکړي دا به د ټولونه بهتره وي. الله دې مونږ لره د عمل کولو توفيق راکړي- اقول قولي هذا استغفر الله

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د احاديثو او علماء احناف نه د آته ركعته تراويحو ثبوت

مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ.

د تراويحو متعلق خلقو دا مشهور كړي ده چې اتهه ركعته تراويح نشته او صرف شل ركعت تراويح دي. زمونږ نظر دادے چې شل ركعته تراويح هم ثابت دي سره د كلام نه په روايت كنبې او اته ركعات تراويح بهتر دي د شلو ركعتونو نه. خو كۀ څوک شل ركعته تراويح وكړي هغې ته مونږ ناروا نه وايو. مونږ صرف يو څو حوالے د خلقو د اشتبهاه او د شک زائيله كيدو د پاره وايو چې رسول الله د آتو ركعتونه چرته زياتې نه دي كړي. او بيا د احاديثو نه روسته د هغه خلقو حوالے پيش كوم چې ځان ته احناف وائي. د هغوي د كتابونو نه حوالي پيش كوم چې آيا دا آته ركعته تراويح شته او كنه؟

د عائشي رضى الله عنها روايت:

مسئله داسي ده چې بعضې خلق وائي چې اته ركعته تراويح نشته. صحيح بخاري او مسلم كنبې د عائشي رضى الله عنها نه نقل دي كَانَ النَّبِيُّ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ اِحْدٰى عَشَرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ ثِنْتَيْنِ وَيُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ. نو صحيح مسلم د هغه صفحه اولني جز دا صحيح حديث دے او دا دلالت كوي په دي خبره باندې چې رسول الله د آتوو نه زياتې نه دي كړي.

صحيح د ابن خزيمه ۱۳۸ صفحه په هغې كنبې حديث راځي.

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د جابر بن عبدالله رضی الله عنه روایت:

جابر بن عبدالله وائي رضی الله عنه صَلّٰی رَسُوْلَ اللهِ فِیْ رَمَضَانَ ثُمَانَ رَکْعَاتٍ وَ اَوْتَرَ او اکثر خلق نور خلق داسي دهوکه کوي چې اهل الحدیث سُنت عمری نه مني او د عمر رضی الله عنه د سنتو خلاف کوي. مونږ داسي وایو چې د عُمر نه هم اته رکعته ثابت دي او دا روایت صحیح دے. دا د آتوو رکعتو د هغه روایت نه چې کوم کښې شل رکعته دي.

د عمر رضی الله عنه نه د اته رکعتو ثبوت:

بلکې د عمر رضی الله عنها نه د آتوو رکعتو روایت کښې امر راغلے اَمَرَ عُمَرُ بْنُ الْخِطَّابِ اُبَیَّ بْنَ کَعْبٍ وَتَمِیْمًا الدَّارِیَّ اَنْ یَّقُوْمَا لِلنَّاسِ بِاِحْدٰی عَشَرَ رَکْعَةً دا حدیث موطا دامام مالک اول جز صفحه ۱۱۴ کښې راوړے. او دي روایت ته احناقو هم صحیح وئیلي دے. لکه محمدبن علي النیموي هغه خپل کتاب اثار السُنن په صفحه ۷۷۵ او په بعضو نسخو کښې ۷۷۶ صفحه کښې وئیلي دي چې دا حدیث صحیح دے نو د عُمر نه هم اته رکعت ثابت دي چې د عمر نه کوم د شلو روایت دے په هغې کلام دے یو راوي په هغه کښې ابن ابی زید دویم پکښې ابن الحام او د هغه او د عمر په مینځ کښې انقطاع ده.

مونږ دا وایو چې آته رکعته دا د رسول الله سُنت دي، دا د عمر سُنت دي، دا د ابي ابن کعب سُنت دي، دا د تمیم الداری سُنت دي-

د ابوسلمه بن عبدالرحمن فرمائي اَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ کَیْفَ کَانَتْ صَلَاةُ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رَسُوْلِ اللهِ فِيْ رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَاكَانَ يَزِيْدُ فِيْ رَمَضَانَ وَلَافِيْ غَيْرِهٖ عَلٰى إِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً (الحديث)

دي نه علاوه د احنافو علماؤو يو څو حوالي پيش كوم چې دا آته ركعته د رسول الله نه ثابت دي.

## د علماء احنافو حوالاجات:

مشهورعالم ابن الهمام حنفي ۸۶۱ هجري كښې وفات شوے دے. هغه په فتح القديركښې ليكي چې كومه د هدايه شرح ده اول جلد كښې ۳۳۴ صفحه. هغه وائي فتحصل من هذا كله ان قيام رمضان سنة احدٰى عشرة رَكْعَةً بِالْوِتْرِفى جماعة فعله رسول الله وائي ددې نه دا ثابتيږي چې قيام د رمضان يولس ركعته دي. سره د وترو نه ئې دغسې كړي دي.

يو بل حنفي عالم دے احمد طحطاوي ۱۲۳۳ هجري كښې وفات شوے دے. د هغه په حاشيه د الدرالمختار اول جلد صفحه ۲۹۵ باندي ليكي لِاَنَّ النَّبِيَّ لَمْ يُصَلِّهَا عِشْرِيْنَ بَلْ ثَمَانِيَةً. وائي رسول الله ﷺ شل ركعته نه دي كړي بلكې رسول الله ﷺ آته ركعته كړي.

يو بل عالم دے حنفي ابن نجيم مصري ۹۷۰ هجري وفات شوے دے د ابن الهمام نه نقل كوي او اقرار كوي فَاِذًا يَكُوْنُ الْمَسْنُوْنُ عَلٰى اُصُوْلِ مَشَائِخِنَا ثَمَانِيَةً وَالْمُسْتَحَبُّ مِنْهَا اِثْنَا عَشَرَ وائي سُنت د رسول الله نه اته ثابت دي. او وائي دا دولس ركعت مستحب دي. د كتاب نوم بحرالرائق دويم جلد صفحه ۶۷.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو بل عالم د ے مُلاعلی قاری فرمائي فتحصل من هذاكله ان قيام رمضان سنة احدى عشرة ركعة بالوتر في جماعة فعله رسول الله وائي دي نه دا ثابته شوه چې قيام د رمضان دا سُنت دے د وترو سره يولس ركعته.او وائي داسي كار رسول الله كړے وو۔ د هغه كتاب نوم مرقاة دريم جلد صفحه ۳۸۲۔

يو بل عالم د ے منظور نظر محمد احسن هغه فرمائي:

لِاَنَّ النَّبِيَّ لَمْ يُصَلِّهَا عِشْرِيْنَ بَلْ ثَمَانِيَةً

وائي رسول الله څرته شل ركعته نه دي كړي بلكې رسول الله ﷺ آته ركعته كړي۔ د هغه كتاب د ے كنز الدقائق صفحه ۳۶ حاشيه ۴ د كنز الدقائق شرح ده۔

ابوالسعود الحنفي هغه داسي وائي چې نبی ﷺ شل ركعته نه دي كړي بلكې تراويح هغه اته كړي۔

يو بل عالم د ے حنفي عبد الشكور لكهنوي ديوبندي هغه وائي:

اگرچہ نبی ﷺ سے اٹھ- تراویح مسنون ہیں اور ایک ضعیف روایت میں ابن عباس سے بیس رکعت۔ د هغه كتاب د ے علم الفقهه صفحه ۱۹۸۔

يو بل لوے عالم علامه عبد الحي لكهنوي هغه وائي:

آپ نے تراویح دو طرح ادا فرمائی ہیں۔ چې نبی ﷺ په دوه طريقو سره كړي دي ۔ بیس رکعت باجماعت لیکن اس روایت کی سند ضعیف ہیں۔ وائي شل ركعت ئې كړي دي ليكن ددې سند ضعيف د ے او بيا وائي دويمه طريقه د رسول الله ﷺ داده آٹھ رکعت اور تین وتر باجماعت او ددي سند صحيح

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے۔ مجموع الفتاوی اول جلد صفحه ۳۲۱۔

یو بل حنفي عالم دے خلیل احمد سهارنپوري دیوبندي هغه وائي دا آته سُنت دي او دا د رسول الله نه ثابت دي۔ اوبیاوائي البتہ علماء نے جے ابن الہمام آٹھ کو سنت اوزائد کو مستحب کہا ہے سو یہ قابل اعتراض کے نہیں ہیں۔ هغه وائي چې دا قول چې څوک کوي چې اته رکعت تراویح سُنت دي وائي دا قول قابل د اعتراض نه دے بلکې دا قول صحیح دے۔ د هغې حواله ده براهین قاطعه صفحه ۸۔

یو بل ځائ کښې دغه عالم لیکي براهین قاطعه ۱۹۵صفحه۔ هغه وائي اور سنت مواکد ہونا تراویح کا آٹھ رکعت تو باالاتفاق ہیں اگر خلاف ہیں تو بارہ میں ہیں۔ وائي په اتؤو رکعتو کښې اتفاق دے۔

یو بل لوے عالم شاه انورشاه کشمیري دیوبندي د هغه کتاب دے العرف الشذي اول جلد صفحه ۱۶۶۔ هغه وائي وَلَامَنَاصَ مِنْ تَسْلِيْمِ اَنَّ تَرَاوِيْحَهُ عَلَيْهِ السَّلَامِ كَانَتْ ثَمَانِيَةَ رَكْعَاتٍ.وائي د دينه د تيختي ځائ نشته چې مونږ دوایو چې تراویح د نبی علیه السلام اته رکعت دي او پخپله داسي وائي وَلَمْ يَثْبُتْ فِيْ رِوَايَةٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ اَنَّهُ صَلَّى التَّرَاوِيْحَ وَالتَّهَجُّدَ عَلٰى حِدَةٍ فِيْ رَمَضَانَ وائي په یو صحیح روایت کښې نه دي ثابت چې رسول اللهﷺ تراویح ځانله کړي او تهجد ئې ځانله کړي په رمضان کښې۔ اوبیاوائی وَاَمَّا النَّبِيُّ فَصَحَّ عَنْهُ ثَمَانِيَةَ رَكْعَاتٍ وَاَمَّا عِشْرُوْنَ رَكْعَةٍ فَهُوَعَنْهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِسَنَدٍ ضَعِيْفٍ وَعَلٰى ضُعْفِهٖ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اِتِّفَاقٌ۔

په دي روستو احنافو کښې يو ديوبندي عالم دے محمديوسف بنوري هغه وائي فَلَا بُدَّ مِنْ تَسْلِيْمِ اَنَّهُ صَلّٰى صلى الله عليه وسلم تَرَاوِيْحَ اَيْضًا ثَمَانِيَةَ رَكَعَاتٍ وائي زهٔ به داخامخا منم چې رسول لله تراويح اته کړي دي۔ د هغه د کتاب حواله ده معارف السنن جلد۵ صفحه ۵۴۳۔

يو بل عالم طحاوي په شرح معاني الاثار کښې د سائب بن يزيد نه نقل کوي۔ د عمرفاروق رضى الله عنه هغه حديث ذکر شوے دے چې په هغې کښې هغه ابي ابن کعب اوتميم داري ته يولس رکعته کولو حکم ورکړے وو۔ او داروايت په موطاامام مالک کښې شته چې صحابو به د محمدرسول الله ﷺ دورکښې آته رکعته کول۔او دويم خليفه عمرفاروق رضى الله عنه هم د وترو سره صرف يولس رکعته کړي دي۔ شرح معاني الاثارطحاوي۔

يوبل حنفي مولانامحمدزکرياکاندهلوي صاحب د موطاامام مالک په شرح اوجزالمسالک کښې ليکي يقيناً دمحدثينو داصولو مطابق د شلو رکعتو تراويح شمار د رسول اللهﷺ نه ثابت نهٔ دي۔اوجز المسالک جلد ۱ صفحه ۳۹۰۔

يو بل عالم مولانامحمدقاسم نانوتوي په خپل کتاب لطائف قاسميه دريم جلد کښې ليکلي "يازده از فعل سرور عالم صلى الله الكداست ازبيت "نبى كريمﷺ نه چې يولس سره د وترو نه ثابت دي هغه د شلو نه زيات مضبوط دي۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



یوبل عالم شیخ عبدالحق دهلوي په کتاب ماثبت بالسنه کښې لیکلي صفحه ۲۹۲ کښې صحیح هم داده چې نبیﷺ یولس رکعته تراویح کړي دي،لکه څنګه چې به ئې قیام اللیل کول. د هغوي عادت مبارک وو۔

شاه ولي الله محدث دهلوي د موطا په فارسی شرح مصفي کښې لیکي د رسول اللهﷺ په عمل سره تراویح یولس رکعته ثابت شوے حقیقت دے۔مصفي شرح موطافارسي مع مسوي جلد۱ صفحه ۱۷۷۔

یو بل عالم د امام ابوحنیفه شاګرد امام محمد په خپل کتاب موطا کښې د عائشي رضی الله عنها نه د یولسو رکعتو والا حدیث نقل کولو نه پس لیکلي دي۔ بهذا ناخذ کله۔ مونږ هم دا قول اخلو موطا محمد ص ۹۳ او په بعضو نسخو کښې صفحه ۱۳۸۔

دا خو د احنافو د کتابونو حوالي وې خو مختصر په اخر کښې دا خبره چې امام ابوحنیفه او د امام طحاوي چې دا کلک احناف دي مونږ وایو چې د هغوي نه هم په صحیح روایت سره د شل رکعت تراویح سنت کیدل نه دي ثابت۔ او که څوک وائي چې د هغوي نه ثابت دي په صحیح سند سره حوالي سره دي پیش کړي۔مونږ به ئې ومنو۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# بيان الاخلاص

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ۝ {سورۃ الکهف}

اخلاص يو ضروري چيز دے په عمل کښې چې اخلاص نه وي نو الله تعالى ئې هيڅه عمل نه قبلوي . او چې د چاپه عمل کښې اخلاص وي که معمولي عمل وي نو مقام او مرتبه ئې ډيره زياته او چته وي.

د درې رونړو واقعه:

يو صحيح حديث دے د رسول اللهﷺ په زمانه کښې درے رونړه راغلل . يو د ټولونه مخکښې مسلمان شو بيا پسې بل ،بيا بل . درے واړه چې کله مسلمانان شول يو د ټولونه مخکښې شهيد شو يو کال . او دويم کس په خپل مرګ باندې وفات شو . هغه صحابي وائي ما چې کله درے واړه رونړه په خوب کښې وليدل نو کوم رور چې په خپل مرګ مړ وو او د ټولونه روستو مړ وو نو هغه په جنت کښې د ټولونه مخکښې روان دے . او دا دواړه رونړه پسې روستو روان دي دا کوم چې شهيدان شوي دي . په دې خوب کښې مې داسې يو سوچ پيدا شو چې زما ذهن کښې خو داسې وه چې کوم چې شهيد شوے دے نو پکار داوه چې په جنت کښې د ټولونه مخکښې روان وي خو سحر چې کله راغلم او رسول اللهﷺ ته مې دا خوب بيان کړه او زما حيرانتيا ئې وليده . ماته رسول اللهﷺ اوئيلې دا په خپل مرګ چې مړ دے دده تسبيح او تحميد ته نه ګورې . دا دواړه خبرې اتفاقي دي

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو دا ده چې د ايمان نه روستو جهاد ته يو عمل نشي رسيدلے دا په قرآن کښې الله فرمائي لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَ الْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ[340] نه دي برابر هغه ناست د مؤمنانو نه او نهٔ وي عذر والا او جهاد کونکي د الله پهٔ لار کښې بيا الله فرمائي فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ {سورة النساء} او فضيلت ورکړے الله تعالي مجاهدينو ته په مالونو او په نفسونو په هغه ناستو خلقو باندي په يوه درجه سره وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ او د هر يو سره الله وعده کړي خائسته وَ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ او فضلت ورکړے الله مجاهدينو لره په ناستو باندي اجر لوي. دا قاعده ده چې دي باندي د ټول اُمت اتفاق دے چې جهاد او شهادت ته يو عمل ايمان نه روستو نه رسيږي. او بل طرف ته دا اتفاقي خبره ده چې کله کله د اخلاص د وجې نه الله د رضا د سوچ کولو د وجې نه يو معمولي عمل په لوي عمل باندي په درجه کښې اوچت شي.

د شيخ الاسلام نکته.

علامه ابن تيميه رحمه الله چې کله ددي دوارو حديثونو حال ذکر کوي هغه ئې وجه داسي ذکر کوي وائي دا يو چې په سبحان الله باندي مقام اوچت شو. دده په زړه کښې الله د رضا سوچ زيات وو په نسبت سره دي بل ته چې کوم د الله په لاره کښې شهيد شو او ددي

[340] {سورة النساء ٩٥}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ډېر مثالونه په حديثو کښې دي.

د بدکارې زنانه د مغفرت سبب:

په حديث د بخاري کښې راځي هغه بدکاره ښځه وه او په هغه سپي باندې ئې اوبه وڅکلې او سوچ ئې داسي وو چې الله رانه رضاء شي. الله ورله دا عمل قبول کړو او هغه ټول ګناهونه ئې ورته معاف کړه. الله تعالى ورته اوئيل زه جنت ته.

زما مقصد دا دے چې نن سړے سوچ وکړي داسي يو عمل چې زما او ستا د دنيا او د آخرت د مشکلاتو د حل ذريعه وګرځي. او ما او تا ئې الله ته وسيله کړو. والله اعلم. او داسي به څوک وي چې هغه به الله ته داسي اووائي چې ما دا عمل صرف ستا د پاره کړے دے. دا مصيبت او تکليف مې لرې کړې.

حديث الغار:

بخاري کښې حديث راځي هغه درے کسان چې د لوي مصيبت او مشکل سره مخامخ شو. يو بل ته ئې داسي اوئيل، وئيل ددي مصيبت نه د خلاصيدلو بله هيڅه لار نشته. سيوا ددينه چې مونږ داسي اعمال اوګورو چې هغه عملونه مونږ صرف د الله د پاره کړي وي او الله ته ئې وسيله کړو. نو مونږ به خلاص شو. او هر يو به چې کوم عمل وسيله کولو نو په اخر کښې به ئې داسي وئيل يا الله ما که دا عمل ستا د پاره کړے وي نو مونږ ددي مشکل نه خلاص کړه.[341]

نن چې مونږ او تاسو سوچ وکړو د ځان سره په خپلو اعمالو کښې چې کوم يو عمل داسي دے چې ما او تا د الله د پاره کړے دے. چې الله

[341] صحيح البخاري رقم ۲۱۵۲

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



ته ئې وسيله کړو، چې الله تعالي زمونږ يو معمولي حاجت نن په دنيا کښې پوره کړي.

ډيرې وسيلې پيش کړو. دا به ډير کم خلق وي چې داسي عمل به ئې کړے وي چې الله به ئې په دنيا کښې حاجت پوره کړي. حال دا دے چې الله يوه ناشنا خبره کوي فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا۝ الله وائي که دا عقيده دي وي چې زه به د الله سره يو ځل مخامخ کيږم نيک عمل وکړه په دي نيک عمل کښې شرک مه کوه اخلاص پکښې وکړه.

فضيل بن عياض رحمه الله قول:

د فضيل بن عياض هغه مشهور قول دے هر عمل چې قبليږي يو شرط پکښې دا دے چې عمل به خالص د الله د پاره وي[342]. که مونږ قرآن وګورو او که مونږ حديث وګورو نبی ﷺ چې کله د ايمان بحث کوي د کلمې د وئيلو نو په کلمه کښې اول شرط داسي لګوي چې الله به درباندي کله جهنم حرامه وي داسي إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يَبْتَغِيْ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللهِ[343] چا چې لا اله الا الله اوئيله چې اولټوي په هغې سره رضاء د الله نو حرام به کړي الله په هغه أور. او که د الله ذ رضاء سوچ پکښې نه وي نو داسي کلمه خو منافقانو هم وئيله نو بيا هيڅه فائده نه ورکوي چې روژه نيسو په هغه کښې داسي وائي

[342] مدارج السالکين ص ۹۲ ج ۲

[343] اخرجه البخاري رقم ۱۱۲۰ واخرجه مسلم ۳۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا[344] روژه ونيسه خوداسي سوچ پکښې وکړه چي زمانه به زمارب ښه خوشحاله شي. مالره به په دي الله ثواب راکړي اوکنه؟ نوکه ته تهجد کوي نو داسوچ وکړه چې زمانه به زمارب خوشحاله شي اوکنه؟نو د الله د رضا سوچ وکړه.

جهاد کښې اخلاص:

د جهاد لوي مقام دے د نبي عليه السلام حديث دے. نبيﷺ لره يو سړے راغلے وئيل يو سړے جهاد کوي او خپله بهادري ښکاره کوي.بل يو سړے جنګ کوي چې صفت ئې وشي نو په دي کښې کوم يو جهاد في سبيل الله دے؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ[345] څوک چې جهاد وکړي خالص په دي نيت چې د الله دين غالب شي نو دا جهاد في سبيل الله دے.

بخاري کښې حديث راځي چې يو سړے وو.دومره جهاد ئې وکړو چې دا پخپله ډير زخمي شو خو چې نبيﷺ ترې خبر شو نبيﷺ وئيل فلانکے به په اُور کښې دے. هرعمل کښې رسول اللهﷺ دا شرط ګرځولے دے چې ستا په دي عمل کښې دا سوچ شته چې الله زمانه رضاء شي هرعمل به خاص د الله د پاره کوي.

حديث کښې راځي رسول الله د جومات د جوړولو په باره کښې فرمائي چاچې جومات جوړ کړو الله د پاره نو الله به دده د پاره په

---

[344] صحيح البخاري رقم ۱۸۰۲

[345] صحيح البخاري باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا رقم الحديث ۲۶۵۵

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



جنت کښې کور جوړ کړي .خو د الله د رضاء سوچ به کوي که دا پکښې نه وي الله ورله آجر نه ورکوي.

## د اعمالو دارومدار په نیت باندې دے:

حدیث کښې راځي د عمربن الخطاب رضی الله عنه نه چې اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ یقینًا دارومدار د عملونو په نیتونو باندې دے. وَاِنَّمَا لِامْرِئٍ مَّانَوٰی فَمَنْ کَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ او یقینًا هر یو سړي د پاره هغه څه دي چې دهٔ نیت کړے وي. پس د کوم سړي چې هجرت الله ته وي او د هغه رسول طرف ته وي نو د هغه هجرت الله او رسول طرفته دے. وَمَنْ کَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلٰی دُنْیَا یُصِیْبُهَا اَوِامْرَاَةٍ یَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهٗ اِلٰی مَا هَاجَرَ اِلَیْهِ[346] او د کوم سړي هجرت چې د دنیا د پاره وي چې هغه حاصله کړي یا د ښځې طرف ته چې د هغې سره نکاح وکړي نو د هغه هجرت هم هغه طرف ته دے کوم طرف ته چې هغه هجرت کړے وي. دا هجرت بیا الله نه قبلوي. او داسې یو شرط نه دے چې که زما او ستا په عمل کښې د الله رضاء رانغله او زما او ستا که نیت خراب شو نو عمل صرف برباد شو. داسې نه ده که زما او ستا په عمل کښې د الله د رضاء سوچ نه وو نو بیا الله داسې نه کوي چې عمل دي برباد شو او خبره ختمه شوه. الله به ما او تاله بیا عذاب هم راکوي.

## عالم، شهید او سخي جهنم ته تلل:

---

[346] اخرجه البخاري رقم الحديث ١ واخرجه مسلم رقم ١٩٠٤

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه صحیح حدیث د مسلم دے چې کله به ابو هریره رضی الله عنه دا حدیث ونیلو ونیل چې داسي به ئې اونیل قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ایسته به بے هوشه شو۔ درے ځل به بے هوشه شو ځکه ډیر ناشنا حدیث دے چې رسول اللهﷺ داسي ونیلي دي۔ درے کسان داسي دي چې الله به پرې د جهنم اور تیزه وي چې د چا په عمل کښې اخلاص نه وي۔

یو هغه سړے چې جهاد ئې کړے وي ظاهرًا د الله د رضاء د پاره او چې الله ئې د قیامت په ورځ خپلې مخې ته ودراوي خپل نعمتونه پرې شمار کړي چې ما په تا ډیر احسانات کړي وو تا پکښې څه کړي وو؟ نو دا مجاهد به ورته وائي چې یاالله ځوانی دي راکړي وه ستا په لاره کښې مې جنګ کولو چې شهید شوم۔ نو الله تعالی به ورته وائي کَذَبْتَ تاخو دا جهاد ددې د پاره کولو او دا شهید شوے ددې د پاره۔ یُقَالُ هُوَ جَرِئٌ چې خلق اووائي چې فلانکے ډیر جرات مند دے۔ هغه درته ونیلي شوي دي او ملائکو ته به الله اووائي چې نسکور ئې جهنم ته وارته وي۔

او دویم نمبر پسې هغه مولوي صاحب او هغه قاري صاحب دے چې الله به خپل نعمتونه دهٔ باندې یاد کړي چې دا نعمتونه مې چې درباندې کړي وو۔ تاڅه کړي وو؟ دا به ورته اووائي چې زه ستا د رضاء د پاره وتلے وُمه او علم مې حاصل کړے وو۔ نو الله تعالي به ورته اووئي چې تاعلم زما د رضاء د پاره نه وو کړے لِیُقَالَ هُوَقَارِئٌ چې دادرته اوئیلے شي چې دا قاري صاحب او مولوي صاحب دے۔ هغه درته ونیلے شوي او دے به هم جهنم ته نسکور او غورځولے شي۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او دریم نمبر هغه سخي دے چې مالونه ئې لګولي دي او دا ئې په دنیا کښې خلقو ته ښکاره کول چې دا د الله د پاره دا کار کوي. نو الله به ملائیکو ته اووائي چې دا هم نسکور جهنم ته اوغورځوئ. که په یو عمل کښې د الله رضاء نه وي او هسې وائي چې زه ئې د الله رضاء د پاره کوم نو په دې باندې به الله د جهنم اور تیزه وي[347].

د امام غزالي رحمه الله قول:

امام غزالي یوه ناشناخېره کوي وائي ددې وجې زه چې دې حدیثوته اوګورم او دې تولو خبرو ته اوګورم نو زه وایمه چې په ټول ژوند کښې د انسان یو سکینډ دا اخلاص موجود شي نو کیدے شي چې دا به خلاص شي. په هر عمل کښې به اخلاص پیدا کول غواړي. که اخلاص پکښې نه وي نو هیڅه اجر پرې نه میلاویږي. که مونځ کوو او هسې په دې ذهن کښې دومره راغله چې دا فلانکے راته ګوري او دا مونځ به سم وکړم چې د قیامت په ورځ د الله مخې ته ودریږي نو الله تعالي به ورته د قیامت په ورځ اووائي چې اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاۤءِ عَنِ الشِّرْكِ. ستا په خیال کښې چې زماکوم ملګرے وو په هغوي کښې زه ډیر غني یم نو چې تا زما سره پکښې څوک شریک کړے دے هغه ته دا عمل پریږدم چې زه د هغه نه ئې غواړه. ولې؟ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا. عمل دې اوکړي عمل نیک او شریک نه جوړوي په عبادت د رب خپل کښې هیڅوک.

[347] صحیح مسلم باب من قاتل للریاء والسمعه رقم الحدیث ۵۰۳۲ صفحه نمبر ۲۹۹

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله په بل ځای کښې فرمائي وَ لَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَ اِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿﴾ [348] او يقينا وحى کړے شوي ده تاته او هغه کسانو ته چې ستا نه مخکښې دي که چرې شرک دې اوکړو خامخابرباد به شي عمل ستاخامخا شې به ته د تاوان والو نه. دليل دے په قباحت د شرک باندي چې پيغمبر عمل ورته تينګيدلے نشي نو د نورو خلقو عمل به شرک ته څرنګې تينګ شي. او د پيغمبر نه خو ګناه نه کيږي.

لَئِنْ اَشْرَكْتَ خطاب په طريقه د فرض د قدير دے يعني بالفرض والتقدير که پيغمر شرک اوکړو نو عمل به ئي برباد شي دا يو داسي خبره ده چې که داسي اووائي چې دا په ټولو کښې اهمه فريضه ده. اود خلقو دا فکردے چې صرف عمل کوه د هر چا يو سوچ وي او د هر چا د خلې نه يو لفظ اوځي اِو د هغه نه معلوميږي چې ددي سړي مقصد بدل دے. مثال په طور يو سړے داسي دے چې بيان وکړي او بيا پسي روستو داسي اووائي چې خلق اووائي چې فلانکي داسي ښائسته تقرير وکړو او ددي خلقو په دي صفتونو باندي خوشحاليږي. دا خو معلوميږي چې دده بل مقصد دے. که دده د الله د رضاء مقصد وے نو دا د خلقو په صفت ولې خوشحاليږي په هر يو کار کښي د الله رضاء سوچ کول پکار دي. ځني خلق داسي وائي زه دا کار د الله د رضاء د پاره کوم .نو ولې الله نه پوهيږي نعوذبالله. الله په هر کار او هره خبره پوهيږي. خو دا ته خلقو ته وائي

[348] سورة الزمر :

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چي زه ئې د الله د رضاء د پاره کوم. که د الله د پاره وې نو داسې بيا ولې وائي؟ بهرحال مونږ او تاسو به هله کامیابیږو چې زما او ستا په عمل کښې اخلاص پیدا شي.

د نیت اثر:

حدیث کښې نبی علیه السلام فرمائي چې که داسې نیت د چا موجود شي نو که عمل ونه کړي نو الله ورله اجر ورکوي. کله د شپې ځان د پاره اوبه کیږدي او دادي نیت وي چې زهٔ تهجد ته پاځیږم که پانه څیدلي نو محمدرسول اللهﷺ داسې وئیلي دي چې الله تعالي درله ثواب درکړو. جهاد ته دي نیت شته دے او دا دي په زړه کښې وي چې زما رب زما نه خوشحاله شي او داسې سوال دي وکړو چې یاالله مالره شهادت راکړه که تاته د شهادت میلاو نشي. نبی فرمائي بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَآءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ[349] الله به ئې ورسوي هغه مرتبو د شهداؤ ته اګر که دا مړ شي په خپله بستره باندي. خو اخلاص به ورسره خامخا وي که اخلاص پکښې نه وي الله اجرورله نه ورکوي.

نبیﷺ ته الله داسې وائي قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝ ماته ددې حکم شوے چې هره بندګي کوم هغه به خالص د الله د رضاء د پاره.[350]

[349] صحیح مسلم باب استحباب طلب الشهادة في سبیل الله رقم الحدیث ۵۰۲۹

[350] {سورة الزمر}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او بل ځایٔ کښې فرمائي وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۞ {سورة البينه} او نه دے حکم کړے شوے دوئ ته مگر د پاره ددې چې بندګي دي کوي د الله تعالي خالص کونکي هغه لره بندګي ـ او داخبره یادساتئ چې د چا په عمل کښې اخلاص نه وي نو د هغوي یوه نښه داده چې ددې دا نه اخلاص دي لره د يوې ورې ګناه نه نشئ منع کولے۔ د بعضې خلقو اخلاص دومره کمزورے وي چې د خپلوسترګو خیال نشئ ساتلے ځکه دده په عمل کښې اخلاص نشته۔

د یوسف علیه السلام دي واقعه ته سوچ وکړئ ـ د یوسف ځواني وه،دعوت ورته د ښځې د طرف نه وو،ظاهري هیڅ مانع نه وو۔ خو الله وائي دا مې په څه خلاص کړو الله داسي فرمائي كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ۭ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ۞ {سورة يوسف}

دغه رنګے ددې د پاره چې لرے کړو دده نه بدکاري او بے حیائي یقینا وو دے د مخلصینو بندګانو زمونږ نه وو۔

اوس زما او ستا په اخلاص کښې دومره کمے دے چې زما او ستا د سترګو د سمیدلو د پاره ذریعه جوړه شي او د داسي فحشاء د بچ کیدلو نه خو دا ډیر مشکل خبره ده۔

حدیث کښې راځي یو سړے د تره په لور باندې عاشق وو، او ښائسته ښځه وه،اووائي داسي مینه مې ورسره وه لکه چې ځنګه چې سخته مینه کوي سړے د هغه چا سره چې ورته ګران وي۔ هغه په څۀ باندې ددې بدی نه خلاص شو په اخلاص باندې خلاص شو ولې؟ هغه ښځې ورته اوئیل يَاعَبْدَاللّٰهِ اِتَّقِ اللّٰهَ د الله نه ویریږه او

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه بیا او وئیل یا الله که زه ستا د ویرې د وجې ددې ګناه نه منع شوے یم نو یا الله زمونږ سره مدد وکړي، اخلاص ئې وو په عمل کښې په اخلاص ددغه ګناه نه بچ شوے وو.

اخر کښې به یو خبره کوم رسول الله ﷺ مونږ ته یوه خبره کړي ده چې دا نه اخلاص والے زمانه دې اُمت کښې هغې ته ئې شرک وئیلے دے.

او فرمائیلي یې دي چې اَلشِّرْكُ فِيْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَخْفٰى مِنْ دَبِيْبِ النَّمْلِ[351] نبی ﷺ فرمائي چې زما په دې اُمت کښې شرک د میږي د رفتار نه پټ پټ چلیږي هغه ځائې کښې شرک نه مراد عدم اخلاص. خو بیا نبی ﷺ فرمائي یوه خبره درته ښایم چې دا دعا وائي نو انشاء الله چې ددې شرک نه به خلاص شي اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ وَاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَنْ اَسْتَغْفِرُكَ لِمَالَا اَعْلَمُ بِهٖ[352] یا الله که سره د علم نه شرک درسره وکړم نو ما معاف کړه او که زما نه په ناپوهی کښې شرک کیږي نو هم یا الله ما معاف کړه.

[351] مسند احمد رقم الحدیث ۱۹۶۰۶

[352] صحیح الادب المفرد للالباني رقم الحدیث ۵۵۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# تبليغ دين الله يا دعوت الى الله

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ [سورة ال عمران]

د قرآن كريم د سورة ال عمران يو آيت ما اولوستلو د خطبى حاصل دادے ددين په كارونو كښې يو اهم كار دعوت الى الله. او تبليغ دين الله. دا ددين په كارونو كښې يوه اهمه شعبه او يوه اهمه فريضه ده. هر يو كار چې د دين كوي د هغې د پاره به خپل اصول وي، خپل آداب، اوخپل شرائط وي، اوخپل احكام او طريقې به وي، چې د هغه طريقو موافق وشي بيا دغه كار د ثواب اود خير وګرځي. او هر يو كار د دين چې د شرائط او د احكامو د لحاظ موافق ونشي بيا هغه د ثواب ذريعه نه وي، بلكې د سزاذريعه ګرځي. مونږ په هر مسلمان باندې فرض دے او چاته چې داسې اووائي چې مونږ كوه نو ددې مطلب به دا نۀ وي چې بې اودسه اودريږه.

د مونځ د پرېښودلو ګناه:

علماء يوخبره كوي يوڅوک مونځ د سره ونه كړي پرې ئې ږدي. نو ځنې علماء وائي چې دا كافر شو. او ځنې علماء وائي نا كافر شوے نه دے او لويه ګناه ئې كړے ده. اوس يوكس بې اودسه مانځه ته ودريږي نو بيا د ټولو علماؤو په نيز دا اتفاقي كافر شو. ولې؟ ده د هغه شرائط او د آدابو چې د مانځه د پاره كوم دي د هغه خيال ئې ونه ساتو بلكې ده د الله د دين سره بې عزتي وكړه. دغه رنګې دعوت الى الله يا تبليغ دين الله، دا هم ياد ساتل غواړي كه دادخپلو شرائطو اود احكام د لاندې اوشو دادعوت الى الله د الله د رضاء د حاصلولو يو

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لويه ذريعه جوړيږي ـ خو که دي دعوت کښې د شرائطو او د آدابو لحاظ ونشي.

د ارتداد سزا:

يو صحيح حديث دبخاري کښې راځي يو سړے اول مسلمان وو بيا مرتد شو درے خلي زمکې بيرته راګوزار کړه ـ هغه سړي په رسول اللهﷺ باندي دروغ وئيلي وو چې دا څه خبرې چې دا کوي دا ورته ما ښودلي وي ـ رسول اللهﷺ صحابو ته وئيلي زمکه ددينه بدترين سړے قبلوي خو دۀ د الله په رسول دروغ وئيلي ځکه زمکه دا نه قبلوي ـ ددي وجې نه چې څوک د دعوت او تبليغ کار کوي هغوي لره پکار دادي هغوي دا دعوت او تبليغ احکام او شرائط د قرآن او د حديثو په لحاظ سره وپيژني ـ

د دعوت شرائط:

ځو خبرې دي چې دا به پيژندل غواړي د دعوت په موضوع کښې ـ

يو: دعوت د چا کار دے؟

دويم: رابلل به د چا کوو؟

دريم: د دعوت منشور به څه وي؟

څلورم: د دعوت د پاره طريقې او شرائط او آداب څه دي؟

پنځم: په دعوت باندې به مونږ ته څه حاصليږي؟

زۀ د ټولو نه اول دعوت د چا کار دے ددې بيان کوم او بيا دوبمه خبره د دعوت د پاره چې کوم شرائط دي او آداب دي ـ د هغې بيان کوم ځکه دا ډير اهم او ډير لازمي دي ـ د دعوت اوله خبره داده چې دا د ټولو انبياؤو عليهم السلام کار دے ـ الله چې هر نبی راليږلے

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے نو هغوي خپل قوم ته دعوت الی الله ورکړے دے۔

الله قرآن کښې داسي وائي ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ﴾[353] الله فرمائي ما په هر أمت کښې رسول راليږلے دے چې عبادت د الله وکړئ او ځان وساتئ د عبادت د بوتانو نه. هر يو نبی الله ددې د پاره راليږلے وو چې ته به دعوت الی الله کوي خامخا او سيدالدعاة محمدرسول الله ﷺ ته داسي وائي ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ ۚ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ [سورة المائدة] اے رسوله ورسوه ټول هغه چې نازل کړے شويدي تاته د طرفه د رب ستانه او که تا داسي ونه کړل نو نه دے رسولے تاهيڅ پيغام دالله تعالی. يعني تا د الله پيغمبري سر ته اُونه رسوله او د چا نه خطره مه کوه ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ او الله تعالي بچ کوي تا د خلقو نه.

عائشه رضی الله عنها فرمائي که چا درته داسي اووئيلي چې محمد رسول اللهﷺ يوه خبره هم خلقو ته نه ده رسولي نو دا کس د ټولونه لوي ګناهګار انسان دادے[354]. ولې؟ الله ورته داسي ونيلي چې پيغمبره ټول دين به رسوې. او د چا خيال به پکښې نه کوي، د چا سوچ او فکر به پکښې نه کوي چې دا خبره به وکړم فلانکے به

[353] [سورة النحل]

[354] سنن الترمذي كتاب التفسير تفسير سورة الانعام رقم ٣٠٦٩

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خوشحاله شي، فلانکے به خفه شي. دا به نه کوي که دادي وکړه نو فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ته بیا د الله پیغمبر نه ئې۔

سورة البقرة کښې داسې وائي وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا دغه رنګے ګرځولي ئې تاسو يو اُمت غوره ددې د پاره چې ګواهي وکړئ په خلقو او تاسو ته داعي به رسول الله وي تاسو ته به مکمل دين ښائي او تاسو به ئې بيا خلقو ته رسوئ۔

بلکې الله خپل نبی ته د تبليغ په باره کښې داسې کلمات وئيلي کله ورته داسې وائي يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۙ قُمْ فَاَنْذِرْ ۙ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ ۙ وَ ثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۙ اے ځان په کمبل کښې انغښتونکيه قُمْ فَاَنْذِرْ اودريږه او د تبليغ او د انذار کار وکړه. وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ او د خپل رب لوئي بيان کړه. کله ورته وائي يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۙ اے کمبل کښې ځان انغښتونکيه، يا اے ذمه واره د قرآن او د نبوت قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ۙ اودريږه د شپې مګر لږ يعني د دعوت د پاره پاځه ستا ذمه واري دا ده۔

کله ورته داسې فرمائي اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّ نَذِيْرًا ۙ وَّ لَا تُسْئَلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿سورة البقره﴾ يقيناً ليږلے ئې مونږ ته د پاره د حق بيان کولو زيرے ورکونکے په جنت سره او ويره ورکونکے د جهنم نه. داخو تولونه اوچت داعي محمد رسول الله ﷺ دے. يواځې په دنيا کښې نه بلکې که د قيامت ورځ چې راشي د ټولو خلقو خبره به څوک الله ته نشي رسولے، يو سړے به وي چې هغه محمد رسول الله دے چې د

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ټولو خبره به الله ته رسوي. بل څوک به دا تبليغ او دا رسول نشي کولے.

د قيامت په ورځ د نبی عليه السلام مقام او مرتبه:

رسول اللهﷺ فرمائي کله چې داسي د قيامت ورځ راشي نو آدَمُ وَمَنْ دُوْنَهٗ تَحْتَ لِوَائِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ[355] د آدم نه واخله تر څو مره خلق دي دا به د قيامت په ورځ دا زما د جهنډي د لاندې وي.

او نبی عليه السلام فرمائي اَنَا خَطِيْبُهُمْ اِذَا اَنْصَتُوْا"[356] چې ما خبره نه وي کړي نو څوک به خبره نشي کولے. او ما چې څو پوري خپل رب ته سفارش نه وي کړے نو بل هيڅوک ئې نشي کولے.

اول خبره دا ده لوي داعي په دنيا کښې محمد رسول اللهﷺ دے او څکه قرآن کريم کښې الله داسي وائي يو به الله پيژني او يو به محمد رسول الله پيژني. څو د الله پيژندل به څنګه طريقه وي الله وائي ماپه دي صفت اوپيژنه اَللّٰهُ لَآاِلٰهَ اِلَّاهُوَالْحَيُّ الْقَيُّوْمُ. ماپه دي صفت وپيژنه چې زما نه بل څوک حقدار د عبادت نشته.

کله داسي وائي الٓمّٓ اَللّٰهُ لَآاِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا څو به الله په دي صفت پيژني او محمد رسول الله به په کوم صفت پيژني؟ الله وائي محمد رسول الله چې پيژني نو په دي صفت ئې وپيژني مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۚ وَ الَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا ۫ {سورة الفتح ٢٩} محمد رسول اللهﷺ به په دي صفت پيژني چې

[355] سنن الترمذي ٣٥٠٢

[356] دلائل النبوه للبيهقي ٣٢٢٢

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله پيغامات خلقو ته رسوي او دده سره چې کوم کسان دي دا سخت په مقابله د کافرو کښې او نرم دي په خپل مینځ کښې.

کله داسې وائي چې محمد رسول اللهﷺ په دي صفت مه پيژني چې دا د چا پلار دے که محمد رسول اللهﷺ پيژني نو په دي عنوان ئې وپيژنه مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ [357] محمدﷺ د چا پلار نهٔ وو د سړو ستاسو خو په دي عنوان ئې وپيژنه ليکن رسول الله دے او دا آخري دے د پيغمبرانو نه. چې ده درته يو دين نه وي بيان کړے نو ياد ساته بل څوک ئې درته نشي بيانولے او که وائي چې څه دليل دے وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ دا الله په هر شئ پوهه دے.

امام الدعاة:

د ټولو نه لوي داعي چې په دنيا کښې تير شوے دے او ټولې دنيا منلے دے ترديي چې کافرو دا منلے دے چې د ټولو نه لوي داعي په دنيا کښې محمد رسول اللهﷺ تير شوے دے. هغه چې په کومه موقعه دعوت الي الله کړے هغه داسې خطرناکه موقعه وه، الله د هغه په باره کښې داسې فرمائي لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝ {سورة يسين} دي د پاره چې ويره ورکړے هغه قوم ته چې ويره نه وه ورکړې شوي مشرانو د دوي ته نو دوي بے پرواه دي.

[357] {سورة الاحزاب}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او دغه شان سورة الم سجده کښې فرمائي د ټولونه سخت تبليغ او دعوت الیٰ الله د محمدرسول الله وو. بیا روسته الله فرمائي یواځې محمدرسول الله نه بلکې دعوت الی الله د چا کار دے. قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۚ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ [358] دي خلقو ته اووايه زما کار دادے چې زه به الله ته دا خلق رابلم بياروستووانې وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ جلالين وائي وَمَنْ اٰمَنَ بِيْ چاچې په ما ايمان راوړے وي نو د ټولوخلقو به دا کار وي چې د الله طرف ته به رابلل کوي. بلکې الله د ټول اُمت په باره کښې فرمائي وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ دغه رنګې ګرځولے ئې مونږ تاسو اُمت غوره ددي د پاره چې شئ تاسو حق بيانونکي خلقو ته او وي به رسول تاسو ته د حق بيان کونکے.

کله الله داسې فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۭ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّھُمْ ۭ مِنْھُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُھُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ [359] يې تاسو غوره اُمت چې راويستلے شوے يې د پاره د خلقو حکم به کوئ تاسو په نيکۍ سره او منعه به کوئ د بدۍ نه.

کله داسې وائي وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ ھُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ {سورة العمران} او وي دې ستاسو

[358] {سورة يوسف}

[359] {سورة آل عمران}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نه یو ډله چې بلنه کوي خیر طرف ته او بیان کوي په نیکۍ سره او منعه کوي د بدۍ نه دغه کسان کامیاب دي.

مؤمنانو حالت:

نو داعي یواځې رسول اللهﷺ نه دے داعي دا ټول اُمت دے. او په ټول اُمت کښې بیا الله تعالی داسي وائي د سړو او ښځو تذکیره کوي کله داسي وائي وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ ۘ یَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ یَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ یُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ یُطِیْعُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَیَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ۝[163] او مومنان سړي او مؤمناني ښځې بعض د دوي نه دوستان د بعضو دي یَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ یَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ حکم کوي په نیکۍ سره او منع کوي د بدۍ نه دا به د هر چا کار وي.

منافقانو حالت:

او ددي په مقابل کښې د منافقانو په باره کښې داسي وائي اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَ الْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۘ منافقان سړي او منافقاني ښځې د دوي نه بعضې د بعضو نه دي یَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَ یَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَ یَقْبِضُوْنَ اَیْدِیَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِیَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ حکم کوي په ناروا او منع کوي د نیکۍ نه. د رسول الله کار دعوت الي الله وو او د اُمت کار ئې دعوت الي الله دے. بلکې دا اُمت څه کوي

[163] [سورة التوبه]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دعوت الي الله د ټولو اُمتونو فريضه وه چې هغوي به دعوت الي الله ته ورکولو.

الله داسي فرمائي لَيْسُوْا سَوَآءً ۭ مِنْ اَھْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَاۗىِٕمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ وَھُمْ يَسْجُدُوْنَ ۝ [سورة العمران] نه دي دوي برابر بعضي د اهل کتابونه يو ډله ده چې ولاړ ده مضبوطه په دين لولي آياتونه د الله تعالي په وختونو د شپې کښې او دوي سجدي کوي يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ [361] ايمان لري په الله تعالي او په ورځ د آخرت او حکم کوي په نيکۍ سره او منعه کوي د بدۍ نه او جلتي کوي په نيکو کارونو کښې او دغه کسان د نيکانو د ډلې نه دي.

بعضې خلق داسي وائي دا دعوت الى الله دا ددې اُمت خصوصيت دے دا د قرآن نه خلاف خبره ده. دعوت الي الله د ټولو اُمتونو فريضه وه. هر يو اُمت باندې دا فرض وه چې دعوت به الله ته ورکوي مخکښې اُمتونه چې وو هغوي به په دعوت کښې يو کار کولو صرف نيکۍ طرف ته به ئې دعوت کولو. الله د هغوې په باره کښې داسي وائي اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ [سورة البقرة] الله يهوديانو او نصارا او بني اسرائيلو ته وائي آيا تاسو حکم کوئ خلقو ته په نيکۍ کولو سره او هيروئ خانونه خپل او حال دا چې لولئ تاسو کتاب نو آيا عقل نه لرئ تاسو حال دا دے چې دعوت خو دوه اجزاء وو دواړه به مو کولے نيکي طرف به دي دابلل

[361] [سورة العمران]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کولے او د بدئ نه به دي منع کولے.

کله داسي واني دي بني اسرائیلو کښېې دا یو کار پکښېې وو او د هغه بل کار نه ني خان نه ساتلو كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿﴾[362] دوي وو چې منع به ئې نه کوله د بدو کارونو نه کول به ئې خامخا بد دے هغه کار چې دوي ئې کوی.

او بل ځائې الله فرماني اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّ يَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿﴾[363] په مخکښې اُمتونو کښې داسې خلق پکښې وو هغه خلق به ئې وژل چې عامو خلقو کښې چا دعوت الي الله ورکول هغه به ئې وژل. الله واني هغوي لره خبر ورکړه په دردناک سزا باندي.

تفسير قرطبي ددغه آيت د لاندې چې دعوت الي الله په مخکنو اُمتونو فرض ځکه وو که دا مستحب کار وے نو هغوي په مستحباتو ولې خان وژلو. بلکې که مونږ قرآن وګورو دعوت الي الله دا د حاکمانو کار هم دے چې الله درله لږ څه په واک کښې درکړے وي په تا باندې دا لازم کړي ده چې ته به خامخا نيکئ ته دعوت ورکوي.

الله تعالى داسي واني اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَ اَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَ لِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿﴾[364] الله واني که

---

[362] [سورة المائدة]
[363] [سورة العمران]
[364] [سورة الحج]

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



طاقت ورکړم او په يو ځای ورله حکومت ورکړم الله فرمائي د دوي کار به څه وي مونځ به کوي زکواة به ورکوي حاکمه ستا کار دا دے چې نيکۍ طرف ته به رابلل کوي او د بدو نه به منع کوي ـ او چې صرف دي په خپل کور حکومت راشي نو الله داسي فرمائي يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَ يَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ○[365] اے مؤمنانو بچ کړئ خپل ځانونه او اهل خپل د أور نه ـ نوامر بالمعروف په کور کښې وکړه تالره که مي نور واک نه دے درکړے نو خپل ځان ته امر بالمعروف وکړو خپل ځان د منکر نه منع کړه او که ستا بچي وي او که ستا اهل وعيال وي هغوي د أور نه بچ کړه ـ ډير خطرناک أور راروان دے دوي ته د نيکۍ دعوت ورکړه او دوي د بدۍ نه منع کړه او دا طريقه د محمد رسول الله وه ـ

په حديث د بخاري کښې راځي يو ځل د شپې رسول الله ﷺ راويخ شو او ونيلي مَاذَآ اُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْفِتَنِ اَيْقِظُوْا صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ[366] نبی عليه السلام فرمائي زما په أمت ډيرې فتنې راروانې دي داسي يوڅوک پکار دے چې زما د کور دا ښځې راويخې کړې او تهجدو ته ئې پاڅوي ـ نيکۍ طرف ته ئې راوبلې ـ صحابي رضی الله عنه فرمائي مقصد په سواه بل حجرات کښې خپلې بيبيانې وې ـ

[365] [سورة التحريم]

[366] صحيح البخاري ص ٢٢ ج ١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



## هر انسان ذمه وار دے:

عرض دادے چې د چا کوم ځائ تسلط وي حديث کښې راځي "كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ"[367] هر يو په تاسو کښې واكدار دے،مشر دے او د هر يو نه به د خپلو کشرانو په باره کښې تپوس کيږي. ځکه الله خپل نبی ته داسي فرمائيلي دي که نور څوک نشي يراولے نو الله فرمائي وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿۲۱۴﴾ [سورة الشعراء]
ستا چې کوم نيزدي خپلوان دي دا کم از کم ويراول غواړي.
نبي ﷺ خپلي لور ته فرمائي
يَافَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَلِيْنِيْ مَاشِئْتِ مِنْ مَالِيْ څۀ چې رانه غواړې زما لوري زمانه وغواړه خو يادساته دقيامت په ورځ داسي خطرناکه ورځ راروانه ده چې لَآاُغْنِيْ عَنْكِ مِنَ اللهِ شَيْئًا[368]. که ايمان درپکښې نه وو نو زه دي الله د عذاب نه نشم خلاصولے ا ے صفيي د نبی تروري ياد ساته نن خان بچ کړه د جهنم نه زه دي بيا د قيامت په ورځ نشم خلاصولے. چې د چا څومره حکومت وي نو په هغه باندي دعوت اوتبليغ فرض وي. بلکې الله تعالي داسي وائي يواځي عوام خلق نه يواځي موليان نه.بلکي داسې وائي که څه لرډ ډاکټري دي کړي وي نو هم ستا په ذمه دا فرض ده چې دعوت الي الله به ورکوي.

[367] صحيح البخاري رقم ٨٩٣
[368] صحيح مسلم رقم الحديث ٢٠٤

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



لقمان حکیم نصیحت:

يو لوي طبيب او لوي ډاکټر په دنيا کښې لقمان حکيم تير شوے. دي ته الله تعالی يو ناشنا خبره کوي الله فرمائي لقمان حکيم لره ما علم ورکړے وو نو لقمان حکيم خپل ځوي ته داسي وائي يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ ۗ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝[369] اے زما ځويه پابندي د مانځه کوه او حکم کوه د نيکۍ او منع کوه د بدۍ نه او صبر کوه په هغه مصيبتونو باندي چې تاته د رسيږي. نو لقمان حکيم چې لوي طبيب وو نو دعوت ئې چې کولو نو وئيل اول دعوت د خپل ځوي نه شروع کړو. مونږ چې قرآن داسي وګورو نو داسي مستثنی ترينه نشته سړے دے که ښځه. پيريان دي او که انسانان دي که د هغې سره واک شته دے او کنه. نو په هغې باندي دعوت الي الله دا يو فرض او لازمي کار دے.

يو خو انسانان دي او يو پيريان دي پيريانو ته چې کله محمد رسول الله ﷺ لږ ساعت بيان وکړو نو هغوي دعوت کړے وو الله فرمائي وَ اِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ۝ {سورة الاحقاف} الله فرمائي کله مي چې يو ټولګے د پيريانو مي ستا خواته راواړولو قرآن دي بيانولو چې کله راغله نو يو بل ته ئې اوئيل چپ شئ خو الله فرمائي چې کله يې بيان د حق واوريدو نو سيده قوم ته لاړه ويره ونکي قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا

[369] {سورة لقمان}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَ اِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝.او په بل آيت کښې فرمائي يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَ اٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَ يُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ اے زمونږ قومه قبول کړئ دعوت د الله اوايمان راوړئ په هغه باندې نو معاف به کړي . تاسو ته ګناهونه ستاسو او بچ به کړي تاسو لره د عذاب درد ناک نه. عرض مې دا دې خبرې کولو چې دعوت الى الله د هر چا کار دے۔دلته يو اهمه خبره يادول پکار دي هغه دا ده چې چا درته اونيل چې مونږ کوه نو ددې دا معني نۀ ده چې بې اودسه ورته ودريږه خرنګې چې د دنيايو معمولي کارمثلًا څوک خپل ديوال جوړوي او يو نابلده سړے ئي او هغه ورته وائي چې زه درله دا ديوال جوړ کړم او هسې به ئې درله جوړکړم نوهيڅوک ديته غاړه نه ږدي - وائي زما سيمټوته نقصان مه رسوه.نه ئې ورته پرېږدي۔

دا خبره به يادساتل غواړي دعوت الى الله د هر چا فريضه ده خو دعوت الى الله د پاره قرآن اوحديث څه شرائط اوآداب ذکر کړي دي چې هغه پکښې نه وي هغه دعوت الى الله نه وي هغه دعوت بل طرف ته وي . بيا د ګمراهي سبب ګرځي دغه دعوت کله کله خلق وائي فلانکے تبليغ نه مني.زه وايم څوک چې تبليغ نه مني زه وايم هغه خو کافر وي - چې د قرآن او حديث تبليغ څوک نه مني هغه قطعي کافر دے.د هغه په کفر کښې هيڅ شک نشته.يو سړے دے چې مانځه لره راغلے او په صحيح طريقه باندې مونځ نه کوي او تا ورته اونيل چې فلانکي دا مونځ خو دې په صحيح طريقه ونکړو ددې به دا معني نه وي چې زۀ به د مانځه خلاف يم که داسې وے نو

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



محمدرسول اللهﷺ درے کرتې يو سړي ته وائي چې تا مونځ نه دے کړے. بيرته مونځ وکړه د هغې دا معنٰى نه وه چې رسول الله ﷺ د مانځه خلاف وو. بلکې د هغې مقصد دا وو چې مونځ وکړه او د خپلو شرائطو او آدابو د لاندې ئې وکړه.

انشاءالله آئنده جمعه کښې به ددې بيان کومه چې د قرآن او حديث دلاندې دعوت دپاره څه آداب شته اوکه نشته يوحديث صرف اوس بيانومه.

علي رضي الله عنه يو واعظ د جومات نه وشړلو:

علی ابن ابی طالب رضي الله عنه د کوفې جمات کښې يو سړے وليدو بيان ئې خلقو ته کولو. علی ابن ابی طالب رضي الله عنه د خلقو نه تپوس وکړو چې څوک دے دا سړے؟ وئيل دا رَجُلٌ يُذَكِّرُ النَّاسَ دا يو سړے دے چې خلقو ته نصيحت کوي د الله دين ورته بيانوي تبليغ ورته کوي، علی ابن ابی طالب رضي الله عنه راوغښتلو تپوس ئې ترې وکړو اَتَعْرِفُ النَّاسِخَ وَالْمَنْسُوْخَ؟ ناسخ او منسوخ پيژنې هغه وئيل نه ئې پيژنم. وئيل هَلَكْتَ وَاَهْلَكْتَ [١٦٠] خان دې تباه کړو او نور خلق دې هم تباه کړه. ووځه ددې جمات نه چې بله ورځ دې جمات له رانشې. بيانې اوئيلې دا سړے خلقو ته تبليغ نه کوي بلکې دا خلقو ته خان ښکاره کوي چې فلانکے د فلانکې خوي يم چې خلق مې په دې صفت وپيژنې.

[١٦٠] تفسير القرطبي ص ٣ ج ٢ تحت ايت سورة البقرة ١٠٦ مصنف عبدالرزاق الصفهاني في ذكر القصاص رقم الحديث ٥٣٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



زما د خبرې مقصد دا دے علی ابن ابی طالب د تبلیغ خلاف نه وو هغه سړي ته ئې داسي وئيل چې تبليغ كول غواړي د خپلو أصولو او د شرائطو د لاندي كول غواړي لكه څرنګي چې يے اودسه مانځه ته ودريدلي مونځ دي نه كيږي نو دغه شان كه تبليغ په خپلو شرائطو او أصولو باندي ونه شو .نو دا تبليغ نۀ دے.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د دعوت د پاره شرائط او آداب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ۝ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝ [371]

د دعوت الي الله دي موضوع باندې مونږ بحث کولو تيره هفته کښې ما دا اوئيل چې دعوت الى الله دا د ټولو مسلمانانو شريکه فريضه ده.د الله دين ته رابلل دا د نارينو د پاره هم يوه فريضه ده.د زنانو د پاره هم يوه فريضه ده.دا د پيريانو کار هم دے او دا د انسانوکار هم دے.دا د حاکمانو کار هم دے او دا د محکومينو کار هم دے.
مجموعي طور باندې په دې اُمت دا فرض دي.

د مانځه دپاره څه آداب او شرائط دي.څه طريقې دي که د هغه آداب او شرائطو دې لحاظ وشي نو مونځ کيږي.اوکه د هغه آدابو او شرائطو لحاظ ونکړي نو اُولټه به ګناهګاريږي.د دعوت الى الله آيا ددې د پاره څه آداب اوشرائط شته اوکنه؟

## آداب دعوت:

د ټولو نه اولنے ادب اولنے شرط هغه دا دے چې د چا د الله د رضاء سوچ وي دا به ئې فکر وي چې د الله دا بنديګان د الله عذاب نه به څرنګ بچ شي هغه فکر به ئې وي چې کوم فکر د محمدرسول الله

[371] [سورة حم السجده]

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ﷺ وو چې ستا په عمل کښې صرف دا مقصد وي چې یاالله دا کار ددې د پاره کوم چې یاالله صرف ته پرې رانه خوشحاله شې۔ دا شرط يواځې د دعوت الي الله د پاره نهٔ دے خوعلماء تولو دا ذکر کړي دي چې په دعوت کښې يوشرط دا هم دے د دعوت د پاره دا شرط ځکه دے۔

دعوت کښې اخلاص ضروري دے:

پهٔ صحیح حدیث کښې راغلي دي د مسلم حدیث دے : ابوهریره رضی الله عنه روایت دے هغه فرمائي چې محمدرسول اللهﷺ به فرمائیلي درے کسان دي الله به پدې درے کسانو باندې اُور تیزوي د ټولو نه اول هغه کس چې علم ئې کولو چې لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ چې دعوت ئې ددې د پاره کولو چې خلق ورته قاري او مولوي صاحب اووائي ددې د وجې نه چې که د چا په دعوت کښې دا سوچ وي چې خلق ماته ښهٔ سړے اووائي،یا یې دا سوچ وي چې خلق مالره څه شے راکړي،یا یې دا فکر وي چې خلق زما عزت وکړي په داسې قاري او مولوي صاحب اوداسې داعي باندې الله د جهنم اُور تیزوي [372]۔ او ددې وجې نه زمونږ ددې اُمت چې څومره نیکان علماء تیر شوي دي هغوي به ددې خبرې په هر عمل کښې سوچ کولو چې آیا دې کار کښې زما د الله د رضاء سوچ دے اوکه زما پکښې بل څه مقصد دے۔

یو عالم تیر شوے دے د علی ابن ابی طالب رضي الله عنه په

---

[372] مرتخریجه

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نواسو کښي راځي زين العابدين نوم ئې دے لس کاله به ئې د شپې فقیرانو او مسکینانو لره روټۍ لېږله. خو هره شپه به ئې روټۍ په داسې طریقه لېږله چې مسکین به سحر د خپل کور مخې ته روټۍ ولیدله او دا پته به ورته نه لګیدله چې دا روټۍ چا راوړي ده. وائي لس کاله روستو چې هغه زين العابدين رحمه الله وفات شو د هغه په صبا له د فقیرانو د کورونو مخې ته روټۍ نۀ وه پراته. فقیران په دې پوهه شو چې دا لس کاله روټۍ چې مونږ لره راوړله دا دې سړي راوړله. وائي کله ئې چې ورله غسل ورکول د غسلو په دوران کښې چې دده ملا وکتله دده په ملا باندې تورې تورې نخې جوړې شوې وې نو خلقو اوئیلي چې دا لس کاله دا روټۍ ده په خپله ملا راوړله. او د فقیرانو او د مسکینانو د کور مخې ته ایخودله.

ځکه نبی علیه السلام داسې فرمائي سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَاظِلَّ اِلَّاظِلُّهُ یو دادے چې سړے په ښي لاس خرچه ورکړي او ګس لاس ته پته ونۀ لګي چې ښي لاس څه خرچه کړه.

عرض مې دې خبرې کولو که د چا په عمل کښې دا فکر وي چې زمانه فلانکے خوشحاله شي او فلانکے راته ښۀ سړے اووائي په داسې داعي باندې الله د جهنم اُور تیزوي.

بِشر رحمه الله واقعه:

بِشر رحمه الله یو عالم تیر شوے دے یو ځل ئې مونځ کولو نو د مونځ په دوران کښې څوک شاته دده مانځه ته حیرانه شو. چې څومره مزیدار مونځ کوي او ده چې کله سلام وګرځولو او دیته دا پته ولیګیدله چې دې سړي ته زما د مانځه حال معلوم شو. نو مخ ئې

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



ورته راوارولو وئيل اے فلانکي زما په حال مهٔ دهوکه کيږه. پته نهٔ لګي داسي مخکښي يو کس تير شوے وو شيطان چې هغه په کلونو باندي بندګي کړي وه خو پته ئې نهٔ لګيدله خو د هغه انجام څهٔ راوتلو. دا خبره ئې ورته څکه کوله چې دا زما په عمل ولې پوهه شو او زما خو دا سوچ نهٔ وو چې زما عمل دا ويني.

حسان رحمه الله واقعه:

حسان رحمه الله يو عالم تير شوے دے ښځه ئې واني تهجد به ئې د شپې کول په داسي طريقه به ئې تهجد کول يَخْدِعُوْنَنِيْ زما سره به ئې چل کولو چې په ما باندي مې دا ښځه پوهه نشي. وئيل يو ځل ورته دا ښځه وائي خاونده دا څنګه عجيبه کار کوي په خپل ځان لږ رحم وکړه چې زهٔ اوده شم ايسته پاځيږي او په تهجدو باندي ودريږي. خاوند ورته وائي زهٔ څکه داسي پاځيږم لَعَلِّيْ اَرْقَدُ رُقْدًا لَا اَقُوْمُ مِنْهَا اَبَدًا[371]. ماته دا څهٔ پته ده کيدے شي چې يو خوب راباندي راشي چې بيا به ترقيامته پوري پانهٔ څيږم. او زهٔ چې دا کار د چا د پاره کوم هغه ته ئې ښکاره کوم او ستاسو ئې پټوم ښځې.

عرض مې دې خبرې کولو په هر يو عمل کښې دا سوچ وکړه چې ستا په دې عمل کښې آيا د الله مقصد دے او که؟ دا کار د بل څه د پاره کوي.

علماء فرمائي چې د چا په دعوت کښې د الله رضاء مقصد نهٔ وي د هغه يو څو نښې دي.

[371] جامع العلوم والحکم ص ۳۷

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو دا عالم د خلقو نظر ته كوري چې د خلقو نظركوم طرف ته دے.دا د حق او د باطل سوچ نۀ كوي چې مولوي صاحب وائي چې خلق په دي خبره خوشحاليږي نوري خبرې وائي مۀ كوه ـ څكه دا د الله د رضاء سوچ نۀ كوي كۀ دالله د رضاء سوچ ئې كړے وے نو الله د عالمانو نه يو لوظ اغستې وو.علماؤو ته الله تعالي وئيلي وو وَ إِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ۝[374] الله وائي ما د ټولو موليانو نه دا لوظ اغستے وو تا لره مې چې كوم كتاب دركړے دے دا به پټے نۀ.او دائې وئيلي وو چې كوم يو عالم د خلقو د لحاظ د وجې نه يوه خبره پټه كړي اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ۝[375] چې مولوي صاحب د خلقو د لحاظ په وجه باندي يوه خبره پټه كړه الله وائي دا مولوي صاحب د الله په نيز لعنتي دے،څكه دده مقصد په دي دعوت كښې د الله رضاء نۀ ده.

ددې وجې نه د چا د دعوت يوه نښه دا يادساته چې كله يو عالم د خلقو لحاظ كوي او د الله د رضاء سوچ نۀ كوي او دا سوچ كوي چې په دي دعوت زمانه خلق خفه كيږي څكه ئې نۀ كومه نو تۀ پوهه شه ددي عالم دعوت مقصد ندے د دي د الله د رضاء سوچ نۀ وي بلكه دا سوچ ئې وي چې خلق زمانه راضي شي صرف دغه لره دعوت كوي.

[374] {سورة العمران}

[375] {سورة البقره}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام


دویمه نښه د عدم الاخلاص داده چې کوم داعي چې هغه پټ بدعمله وي او د خلقو په مخکښې تقریرونه او بیانونه کوي او خلقو ته وائي چې دا حکم د الله داسي دے او د هغې خلاف چلیږي ددې عالم او داعي د الله د رضاء مقصد نهٔ دے.

دریمه نښه د هغه عالم او د هغه داعي چې د الله رضاء مقصد ئې نهٔ وي هغه داده چې دده د خلقو نه څهٔ بدل غوختل مقصد وي چې څوک ورله څهٔ ورکړي نو بیا دعوت کوي او چې څوک ورله څهٔ ورنهٔ کړي نو بیا دعوت نهٔ کوي ددې داعي مقصد د الله رضاء نهٔ دہ۔

څلورمه ښه د هغه عالم او د هغه داعي چې د الله رضاء مقصد ئې نهٔ وي چې خلق ډیر وي نو دعوت ښهٔ کوي او چې خلق کم وي نو دعوت ښهٔ نه کوي۔ ددې عالم مقصد د الله رضاء نهٔ وي۔

شاه اسماعیل شهید رحمه الله واقعه:

شاه اسماعیل شهید رحمه الله چې هغه یو ځل تقریر کولو درے ګهنټې خطبه ئې ورکړه او چې کله درے ګهنټې خطبه ورکړه نو یو سړے راغلے او ډیر په خفګان باندې ئې شاه اسماعیل ته اوئیلي زما نه نن ستا خطبه لاړه او وې ژړل په دې خبره باندې شاه اسماعیل صاحب ورته ونیلي کینه هغه سړے چې کیناستو درے ګهنټې تقریر ئې ورته وکړو یواخې. نو چا ورته اوئیل چې ستا په تقریر کښې خو فرق رانغلے تا مخکښې چې ډیر خلقو ته کړے وو هغه دې دلته هغه شان بیا وکړو. شاه صاحب ورته وئیلي ماچې مخکښې د کوم چا د پاره کولو هغه یو وو. مخکښې مې هم د الله د پاره کولو او روستو مې هم د الله د پاره کولو هغه یو وو. نو ځکه مې په تقریر کښې فرق نهٔ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے راغلے۔

محترمو رونړو ددې وجې نه اهمه خبره داسې ده چې خپلو ټولو اعمالو ته وګورئ چې تۀ درس کوې او که تبلیغ کوې.نو تۀ سوچ وکړه چې زما په دیکښې څۀ سوچ دے؟

سفیان ابن عیینه رحمه الله وائي په ټولو کښې مشکل کار ماته دا ښکاره کیږي چې هر وخت زما په دې عمل کښې څۀ مقصد دے؟وائي دا د نیت سمول دا ماته ډیر مشکل کار ښکاري ولې؟ لِأَنَّهُ يَنْقَلِبُ عَلَيَّ دا نیت ډیر جلد ګرزي راګرزي زۀ کوشش دا کوم چې یالله ستا د رضاء د پاره بیان کوم خو بیا شیطان کوشش کوي چې زما نیت بیا خراب کړي۔

سهل بن عبدالله رحمه الله قول:

ځکه سهل بن عبدالله تستری وائي په ټولو عملونو کښې انسان ته مشکل عمل انسان ته خپل نیت سمول دي وائي ځکه نیت یو داسې شے دے په دیکښې د انسان د نفس حصه نشته ځکه ته به دا سوچ کوې چې زما رب زمانه خوشحاله شي۔ د خلقو د رضاء سوچ به نۀ کوې وائي ددې د وجې نه په ټولو اعمالو کښې مشکل عمل نیت سمول دي۔

د یو عالم واقعه:

د یو عالم په باره کښې راځي چې تهجد به ئې د خپلو ملګرو نه په پټه ټوله شپه وکړه چې کله به سحر شو او مانځه ته به پاڅیدو نو په زور باندې به ئې دعا وئیله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



النُّشُوْرُ[376] او په ډيکښې به ئې خپلو ملګرو ته دا ښکاره کوله چې زهٔ
ګڼې مانځه ته اوس راپاڅيدم.

محترمو رونړو چې کوم څوک د دعوت الي الله کوي او دا ئې سوچ
وي چې زما نه رب خوشحاله شي دا دعوت الله قبلوي.

الله په قرآن کښې فرمائي فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّ لَا
يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا۠[377] هغه څوک چې اُميد ساتي د ملاقات د
رب خپل عمل دې وکړي عمل نيک او شريک مهٔ جوړوئ په عبادت
د رب خپل کښې هيڅوک.

محترمو د ټولونه اولنی خبره د داعي د پاره داده چې د خپل نيت
اصلاح وکړي.

دويم شرط مسلمان چې دعوت کوي نو د دعوت د پاره علم ضروري
دے، نه چې د کومې خبرې دعوت ورکوي او د هغې خبرې علم ستا
سره نهٔ وي د هغې تاته د قرآن او د حديث نه پته نهٔ وي چې دا مسئله
داسې ده. يادساته دادعوت ستاد پاره د جهنم د پاره ذريعه جوړيږي.
ددې د وجې نه په اُمت کښې چې څومره علماء تير شوي دي د محمد
رسول الله نه واخله تر نن ورځې پورې هر مسلمان عالم دا وائي چې
څوک دعوت ورکوي د کومې خبرې د هغې خبرې به علم د قرآن او
حديث د لاندې به ورسره وي. د ټولو نه خائسته خبره دا قرآن کړې ده

[376] صحيح البخاري باب مايقول اذا اصبح رقم الحديث ٥٩٦٥
[377] {سورة الكهف}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



دا داسې شرط ذکر کوي الله خپل رسول الله ته وائي قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۣ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ۝ [378] الله خپل نبی ته وائي خلق د الله دين ته راوبله او وے دا زما لار ده خو شرط دادے عَلٰى بَصِيْرَةٍ چې د علم د لاندې به د الله دين ته رابلل کوم۔

امام رازي رحمه الله قول:

امام رازی يو لوي مفسر تير شوے دے تفسير کښې هغه وائي لِاَنَّ كُلُّ مَنْ ذَكَرَ الْحُجَّةَ وَاَجَابَ عَنِ الشُّبْهَةِ فَقَدْ دَعَا بِمِقْدَارِ وُسْعِهٖ اِلَى اللّٰهِ يو خبره دي د محمدرسول الله چاته ورسوله او د يو شبهې جواب دي چې چاته وکړو ته په دعوت کښې راغلي خو بيا يوه خبره کوي وَهٰذَا يَدُلُّ عَلٰى اَنَّ الدُّعَاءَ اِلَى اللّٰهِ د الله دين ته رابلل دا وائي انمايحسن وَيَجُوْزُ مع هذ الشرط دا وائي جائز دي خو د چانه جائز دي مِمَّنْ يَكُوْنُ عَلٰى هٰذَا الشَّرْطِ په دي شرط باندې وي نو هله به دعوت الي الله جائز وي هغه دادے وَهُوَ اَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى بَصِيْرَةٍ مِمَّا يَقُوْلُ وَعَلٰى هُدًى وَيَقِيْنٍ چې دعوت الي الله ورکوي نو د علم د لاندې به ئې دا دعوت ورکوي۔ بيا وائي وَمَنْ لَمْ يَكُنْ كَذٰلِكَ فَهُوَ مَحْضُ الْغُرُوْرِ [379] چې دا علم دي نۀ وي او په قرآن اوحديث نۀ پوهيږي او ته وائي چې زۀ د دعوت کار کوم نو هسې دي ځان په دهوکه کښې آرتلے دے۔

---

[378] {سورة يوسف}

[379] تفسير رازي ص۷، ج۱۲، تحت ايت سوره يوسف ۱۰۸

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو حديث صحيح ياد کړۀ يو آيت ياد کړه او هغه خلقو ته ورسوه نو تۀ هم داعي ئې. تا هم د دعوت کار وکړو خو دروغ په الله او رسول مۀ وايه چې الله او رسول يوه خبره نۀ وي کړي او تۀ ئې هغې ته نسبت کوې دا د نجات ذريعه نۀ کرزي.

نبی علیه السلام داسې وائي بَلِّغُوْعَنِّيْ وَلَوْاٰيَةً[380] او په يو روايت کښې داسې راغلي بَلِّغُوْعَنِّيْ وَلَوْحَدِيْثًا خو مثلاً تا يو خبره بے علمه وکړه صرف د خلقو نه دې آوريدلې ده او تاته ددې مسئلې پته نشته چې دا په قرآن کښې په کوم ځائ کښې ده تاته ددې مسئلې پته نشته چې دا په احاديثو کښې په کوم ځائ کښې ده. او تا خلقو ته بيان کړه نو رسول الله يوه ناشنا خبره کوې مَنْ کَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ[381] رسول الله وائي چاچې په مابانديې دروغ اوئيلې په قصداً باندې رسول الله وائي د ځان د پاره دې دا په جهنم کښې ځائ جوړ کړې.

عبرتناکه واقعه:

بخاري کښې يو روايت راځي د رسول اللهﷺ په زمانه کښې يو سړے مړ شو په رسول الله باندې يو ځل دروغ وئيلي وو دا خبره ئې کړې وه وئيل دا محمد چې څه وائي وئيل دا ورته ما ښودلي دي. چې کله وفات شو ملګرو خخ کړو، سحر بيرته زمکې راغورځولے وو. يهوديانو وئيل دا محمدرسول اللهﷺ او ددۀ ملګرو زمونږ د مړي

[380] صحيح البخاري باب ماذكر عن بني اسرائيل رقم ۳۲۷۴

[381] صحيح البخاري رقم الحديث ۱۱۰

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



بےعزتي کړي ده. صباله ئې چې کله خخ کړو بيرته بيازمکې راوارتلو.
دريم ورځ باندي بيا زمکې راوارتلواو بيا رسول الله ﷺ يوه خبره وکړه زمکه ددينه بدترين انسان قبلوي خو دي انسان په ما باندي دروغ وئيلي وو .ځکه زمکه دي لره ځائ نۀ ورکوي.

الله په قرآن کښې يو ځائ کښې داسي فرمائي وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا [382]

الله فرمائي هغه خبره مۀ بيانوه چې تاته ئې معلومات نۀ وي چې يقيناً دغوا ګونو اود سترګي او زړۀ نه ددي ټولونه به تپوسونه کيږي.
او نن چې زمونږ په دي اُمت کښې دا ځومره دروغ چې جوړ شوي دي دا ددې د وجې نه چې ډير خلق دروغ جوړه وي او رسول الله ته ئې نسبت کوي.

ددي وجې نه يو لوي عالم تير شوے دے حسن بصرى رحمه الله دا وائي اَلْعَامِلُ عَلٰى غَيْرِ عِلْمٍ كَسَالِكٍ عَلٰى غَيْرِ طَرِيْقٍ [383] چې علم دي نۀ وي او د دين کار کوي د هغه خبرې معلومات دي نۀ وي او تۀ هغه خلقو ته بيانوي ددي داسي مثال دے لکه ځوک چې رفتار کوي په لاره نۀ وي او هسې روان وي بغير د لارې نه رفتار نشي کولے. دغه د دين کار بيا نۀ جوړيږي.

يو بل ځائ کښې حسن بصرى رحمه الله فرمائي علم هم کوه او د علم سره عمل هم کوه چې علم ئې نۀ وي نو بيا قرآن وائي سپے ترې نه بيا جوړ شي. علم وکړه او عمل پرې وکړه که داسي نۀ وي هغه خوارج

---

[382] (سورة بني اسرائيل)
[383] موارد الظمآن

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



چې اصحاب د رسول الله ﷺ قتل کړي وو، عثمان رضی الله عنه ئې دلاسه قتل شوے وو. دا ولې د قرآن يو آيت ئې راواخستلو په مقصد باندې ئې نۀ پوهيدل ددې دوجې نه ئې په هغوي باندې د کفر فتویٰ ولګوله نو هغه ئې شهيد کړو.

ددې د وجې نه علماء يوه خبره کوي کوم يو عالم کوم يو څوک چې هغه د دعوت الي الله کار کوي او هغه د دغې خبرې علم نۀ لري او دا بغير د علم نه دعوت کوي. دا د دين شوکه کوي. او دا خبره ياد ساتې په دعوت کښې د ټولو خبرو علم ضرور نۀ دے چې د کومې خبرې دعوت ته ورکوي په هغې باندې به دې خامخا علم وي.

څکه الله نبی علیه السلام ته وائي اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَ الۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ وَ جَادِلۡهُمۡ بِالَّتِىۡ هِىَ اَحۡسَنُ‌ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ ضَلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ وَ هُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ۝[384] اے زما نبی خلقو ته چې دعوت ورکوي نو په پوهې د دين باندې خلقو ته دعوت ورکړه. رسول الله به د هغه پورې پوې خبرې ته دعوت نۀ ورکولو ترڅو پورې به ورته جبرائيل علیه السلام نۀ وو راغلے.

**بهترينه او بد ترينه زمکه:**

يو ځل ورله سړے راغلے وئيل د الله رسوله په زمکو کښې بدترينه زمکه کومه يوه ده؟ او په زمکو کښې د ټولو خائسته زمکه کومه يوه ده غوره زمکه؟ رسول الله ورته اوفرمائيل زۀ به د جبرائيل نه معلومات وکړم چې هغه ماته کوم څه اوئيل نو جبرائيل راغلے رسول الله ترې

---

[384] {سورة النحل}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تپوس وکړو نو جبرائیل وئیل ماته ئې هم پته نشته زهٔ به د الله نه تپوس وکړم نو چې د الله نه ئې تپوس وکړو نو وئیل په زمکو کښې د تولونه بهترینه زمکه د جماتونو ده. او پهٔ زمکو کښې د تولونه بدترینه زمکه د بازار زمکه ده[385].

رسول اللهﷺ ته به چې د یوې خبرې علم وو او وحی نهٔ وه راغلي نو دعوت د هغې خبرې به ئې نهٔ کولو.

نو خبره مې په دې پورې کوله د دعوت الي الله د تبلیغ کار کول دا ددې اُمت صفت دے خو شرط دادے چې څوک د کومې خبرې دعوت ورکوي او هر یو عالم ئې چې بیانوي نو مولوي صاحب دا مسئله دې وکړه دا په قرآن او حدیث کښې په کوم ځائ کښې ده ؟

علامه ابن قیم رحمه الله وائي کوم یو عالم چې دعوت کوي او بیان کوي او هغه په خپله مسئله باندې قرآن اوحدیث دلیل نهٔ پیش کوي دا عالم په الله او رسول الله باندې دروغ جوړوي دا د دعوت کار نهٔ کوي دا د خلقو د آوریدلو خبرې کوي چې فلانکي داسې وئیل.

علماء یوه خبره کوي چې څوک دعوت الي الله کوي دوه خبرې به خامخا یادوي هغې ته حکمت وائي. هغه دادې دعوت چې څوک د الله د پاره ورکوي هغه شرط به یادوي چې کوم الله خپل نبی ته وائي يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الله خپل نبی ته وائي زما رسوله ماچې تاته کوم څهٔ نازل کړې دي دا خلقو ته اورسوه یعني ددې تبلیغ خلقو ته وکړه. نبي ته د دؤو خبرو وحي شوې ده یو قرآن وو، دویم سنت د رسول الله وو. روستو ورته یوه خبره کوي که ته په

---

[385] مستدرک للحاکم کتاب العلم رقم الحدیث ۳۰۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دعوت کښې دا دوه خبرې نۀ کوي مَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ مِنۡ رَّبِّكَ دا دعوت نۀ کوي او د نورو خبرو دعوت کوي نو ددې دعوت به څۀ حکم وي۔ وَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسٰلَتَهٗ الله نبی ته وائي که د قرآن تبليغ دې ونکړو او د حديث تبليغ دې ونکړو نو يادساته فَمَا بَلَّغۡتَ رِسٰلَتَهٗ تا بيا د دعوت او د تبليغ کار ونکړو.

اوس چې قرآن او حديث چې خلقو ته رسوي نو خامخا به خلق ددې بدي وائي وَاللّٰهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ النَّاسِ الله به دې بچ کوي د خلقو نه خو قرآن او حديث خلقو ته ورسوه۔ د رسول الله هميشه د پاره دعوت د قرآن او د حديث ورکړے وو۔ د رسول الله ټول تبليغ په دې طريقه وو۔

د عتبه واقعه:

چې قرآن او حديث علم درسره نۀ وي حديث کښې راځي عتبه راغلے رسول الله ته وائي ته ښې او کۀ پلار نيکه دې ښې دے؟ نبی عليه السلام ورته څۀ نۀ وئيل،وئيل دويمه خبره داده که پېسو ته دې ضرورت وي چانده به درله وکړو رسول ورته څۀ نۀ وئيل۔ کۀ ښځه کول غواړې لس ښځې به درله پيغلې وکړو۔ رسول الله ورته څۀ نۀ وائي آخر ورته عتبه وائي زما د خبرې جواب راکړه نو رسول الله ﷺ ورته اوئيل که دا نمر مې دې ښې لاس لره راوړئ او دا سپوږمې دې ګس لاس لره راوړئ هم زۀ خپله خبره نۀ پرېږدم۔نو عتبه ورته اوئيل ستا څۀ خبره ده؟ رسول الله ورته وائي بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ حٰمٓ تَنۡزِيۡلٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ كِتٰبٌ فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ دا سورة چې کله شروع کړو او دې ځائ ته راورسيدلو فَاِنۡ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اَعْرَضُوْ فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ دا دين اومنئ او که اعراض تاسو وکړو نو داسي تندر به درباندي رااوعوزيږي لکه چې په عاديانو او ثموديانو چې څنګه راغورزيدلے وو. عتبه د محمد رسول الله په خُله لاس کيخودلو ونيل بس بس کافران ورله ټول راغله ونيل مَاتَظُنُّ عُتْبَةُ اِلَّا اَنَّهُ قَدْ صَبَا ونيل زمونږ خيال دادے عتبه ئې هم وارولو. د نبي دعوت څنګه وو. اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ په قرآن باندي خلقوته دعوت ورکړه. يو آيت ياد کړه او خلقو ته ئې اورسوه چې خلق ورته راجمع شو ونيل عتبه ددي سړي سره دي خو خبرې وکړي. څنګه خبرې ئې کولې. عتبه ورته وائي زما دي په الله قسم وي زما پشان پوهه په تاسو کښې هيڅوک نشته خو ددي سړي نه په قلار شئ، تباه به شئ[386].

محترمو رونړو د دعوت د پاره د حکمت نه کار واخلئ. او حکمت قرآن دے دا خلقو ته بيان کړئ.

دويم حکمت:

او دويم حکمت د محمد رسول الله ﷺ سنت دي.

ضماد رضي الله عنه واقعه:

د مسلم په يو حديث کښې راځي ضماد مکې ته راغلے او په مکه کښې خلقو ونيل دا سړے يعني محمدرسول الله ﷺ باندي هوا لګيدلي ده، ليونے شوے دے. رسول الله خواله دا ضماد راغلے او خلقو ته ئې اونيلې زۀ ئې دمومه. ضمّاد رسول الله ته وائي: اے

---

[386] تفسير القرطبي تحت هذه الايه

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



محمد رسول الله زۀ دې دمومه كيدے شي زما په لاس الله تالره شفاء دركړي. زۀ چې څوک دم كړم الله ئې جوړوي. د هغه سوچ دا وو چې رسول الله ﷺ نعوذبالله رشتيا ليونے شوے دے. رسول الله ورته يوه ناشنا خبره كوي ضماد زۀ درته دعوت دركومه، زۀ درته د حكمت خبره كومه، زۀ كه ليونے وُمه ما به بيا دَم كړي. هغه وائي ډيره ښۀ خبره دې وكړه. وايه زما د خبرې مقصد دادے د ټولو د عوتونو مقصد قرآن او حديث دې رسول اللهﷺ چې خطبه شروع كړه ان الحمدلله نحمده... الخ چې آخر سر ته ئې اورسوله نو ضماد ورته وائي اِعْدِعَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هٰؤُلَآءِ. بيا دا خبرې وكړه رسول الله په دويم ځل خطبه اوئيله. هغه وائي يو ځل ئې بيا وكړه چې دريم ځل ئې ورته اوئيل نو ضماد ورته وائي وَاللّٰهُ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ زما دې وائي په الله قسم وي ما د ساحرانو او د كاهينانو خبرې اوريدلي دي خو مَاسَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هٰؤُلَآءِ. داسې خبرې خو ما د نن ورځې پورې نۀ دي اوريدلي وَاللّٰهِ لَقَدْ بَلَغْتَ نَاعُوْسَ الْبَحْرِ. دا خو دې د فصاحت او د بلاغت ډكې خبرې وكړي هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعُكَ عَلَى الْإِسْلَامِ[387] لاس دې راوړه چې اسلام او كوم دين دې راوړے دے چې دا درسره اومنم. د دعوت د پاره طريقه أُدْعُ إِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ

[387] صحيح مسلم رقم الحديث ٢٠٠٥ مشكواة المصابيح فضائل سيد المرسلين رقم الحديث ٥١٢٦٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



عرض مي ددي خبرې كولو چې څوک د دعوت كار كوي دعوت د هر يو مسلمان فريضه ده . خو د دعوت د پاره شرط دے چې قرآن او احاديث به يادوي. او خلقوته ئې ښايي.

يو لوي مفسر تير شوے دے نيشاپوری ددي آيت د لاندي وائي وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَ عَمِلَ صَالِحًا وَّ قَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ الله وائي د هغه نه د هيچا وېنا خائسته نۀ ده چې څوک د الله دين ته رابلل كوي. بيا وائي په دي خبره ځان پوهه كړه چا چې آذان وكړو دا هم په داعيانو كښې دے . يو آيت دي چاته اولوستلو نو ته هم په احسن كښې راغلے . ولې داسي الله نۀ دي وئيلي چې په دي طريقه كار كوي نو هله به په داعيانو كښې راغلے ئې بلكې عامه خبره ده الله دي مونږ په صحيح دعوت كونكو كښې راولي. آمين.

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# د مصیبت په وخت کښې صبر او رجوع الی الله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

وَ لَنَبۡلُوَنَّکُمۡ بِشَیۡءٍ مِّنَ الۡخَوۡفِ وَ الۡجُوۡعِ وَ نَقۡصٍ مِّنَ الۡاَمۡوَالِ وَ الۡاَنۡفُسِ وَ الثَّمَرٰتِ ؕ وَ بَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۵۵﴾ {سورة البقره}

محترمو رونړو واقعي چې دا مرګ زمونږ د پاره د خفګان یو سبب دے د هغې والد صاحب زړۀ به درمند وي د هغې په کور کښې چې کومې زنانه دي هغه به درمند وي د هغې نور رشته دار به درمند وي لیکن دا څه یو ناشنا خبره نۀ ده دا څۀ یو نوے کار نۀ دے چې مخې ته راغلے۔

د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه حدیث دے دا د مور په رحم کښې دا نیته لیکلے شي او د هغې نه یو سیکنډ نۀ مخکښې کیدلے شي او نۀ روستو کیدلے شي خو محترمو رونړو په داسې موقعه کښې زمونږ سره بل شئ نشته سیوا د صبر نه۔

د انسان مختلف حالات:

محترمو رونړو انسان دنیا کښې د مختلفو حالاتو سره مخامخ کیږي انسان همیشه په یو حال نۀ وي کله امن او راحت کښې وي.او کله تکلیف او مصیبت کښې وي،دین اسلام د انسان په دواړو حالاتو کښې رهنمائي کړي۔ او انسان ته ئې حکم کړے دے چې کله درته امن،راحت او نعمتونه حاصل شي نو د الله شکر اداکړه۔ الله فرمائي وَ اِذۡ تَاَذَّنَ رَبُّکُمۡ لَئِنۡ شَکَرۡتُمۡ لَاَزِیۡدَنَّکُمۡ [388] الله فرمائي که تاسو زما د

---

[388] {سورة الابراهیم ۷}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نعمتونو شکر ادا کړو نو زهٔ به نې درله زیات کړم وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ۝ او که تاسو زما د نعمتونو ناشکري وکړه نو یقینا زما عذاب ډیرسخت دے۔ دغه شان که په انسان تکلیف او مصیبت راشي نو اسلام د هغې رهنمائي هم کړې۔ الله فرمائي وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ۗ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ۝ الله وائي ازمائش کوو مونږ په تاسو په یو شئ سره د یرې نه او لوږې نه او په کم والي د مالونو او نفسونو او د میوو سره زیرې ورکړئ صبر کونکو ته الَّذِيْنَ إِذَآ أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ۝ دا هغه کسان دي چې کله ورته ورسیږي دوي ته څهٔ مصیبت نو دوي وائي مونږ د الله یو او مونږ به دي الله ته واپس کیږو۔ دا قسم صبر چې مونږ وکړو نوبیا ګوره چې الله څنګه بدلي دي انسان لره ورکوي۔

د مصیبت پهٔ وخت کښې دعاء:

صحیح حدیث کښې راځي ام سلمة رضي الله عنها فرمائي چې مونږ دا حدیث د نبی علیه السلام نه وارېدو چې کله یو مؤمن بنده ته مصیبت ورسیږي او دا کلمه اووائي إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ سره دا الفاظ ملګري کړي اَللّٰهُمَّ أْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيْبَتِيْ وَاخْلُفْ لِيْ خَيْرًا مِّنْهَا یاالله په دې مصیبت راله اجر راکړه او ددې په عوض کښې راله خیر راکړه۔ وائي هرکله چې زما خاوند ابوسلمه عظیم صحابی دے هغه چې کله وفات شو ما دا کلمه اونیله او دا اذکار یې هم اوئیل۔ عرب هغه خو په دې نهٔ پوهیدل چې یاالله مالره په دې مصیبت اجر راکړه او ددې په عوض کښې راله خه راکړه ماپه دې زړهٔ کښې سوچ وکړو چې د

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ابوسلمه د هغې نه به ماته ښوک غوره میلاو شي. خو د محمدرسول الله حکم وو بس ما په هغه کلمه باندې عمل وکړو. کله چې زما عدت تیر شو، څلور میاشتې او لس ورځې نو ګورې د الله فیصلې ته چې بیا زما تپوس محمدرسول الله وکړو[389]. د ابوسلمه نه په ۱۰۰۰ چنده ښه بنده واخستم. زما رونړو کله چې مونږ صبر وکړو انشاءالله بیا مونږ ته ډیر خیر نصیب کیږي.

محترمو رونړو مونږ د مرګ نه ډیر بےبسه یو چې ښوک مړ شي مونږ د هغې تپوس کوو چې دا په کوم حالات کښې مړ دے. دا بیمار وو که ایکسیډنټ ئې کړے.

محترمو رونړو دا خو ددې اسباب دي ورنه د مرګ د پاره نیټه مقرر ده.

محترمو رونړو دامرګ یو عجیب شئ دے که لږ فکر پرې مونږ وکړو دا ډیر حالات بدلونکے شے دے. د چا ځوانۍ ته نۀ ګورې یو سړے به سورسپین وي اچانک به ئې راوغورځوي. دا د ماشوم دې تنکي والي ته نۀ ګورې، دا د چا د زړۀ خفګان ته نۀ ګورې، د مور سره به بچے په غیږ کښې ورسره وي وابه خستلے ترې شي. ښځه به ئې نوې واده شوې لیکن د هغې نه به دا خپل خاوند لاړ شي. هغه کور چې په هغې کښې خوشحالي وي د مرګ په وجه اچانک په هغې کښې ژړاګاني راوخیژي.

محترمو رونړو دا عجیب شے دے، بل د چا خیال نۀ ساتي که داسې وې نو محمدرسول اللهﷺ د زړۀ خیال به ئې ساتلے وے چې کله د

[389] صحیح مسلم باب مایقال عندالمصیبه رقم الحدیث ۹۱۸

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه خوي ابراهيم د هغه ملاقات لره نبی لاړے.

د نبی علیه السلام د ابراهیم په فراق عمژن کیدل:

عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه فرمائي مونږ ته رسول الله ﷺ اوئیل راځي چي لاړ شو د ابراهیم ملاقات ته په یو ځائ چا لره ئې ورکړے وو او د هغه تربیت ئې کولو. وائي کله چې مونږ لاړو او ابراهیم نبی علیه السلام لره راوړلے شو او د هغه په غیږ کښې کیخودو. مونږ وکتل نو د هغه نه ساه ختو واله وه نو نبی د سترګو نه اوښکې رواني شولې او بیا ئې اوئیل ابراهیم مونږ ستا په مرګ ډیر خفه یو[390]. خو مونږ به هغه خبره کوو چې په کومه الله خوشحالیږي نو که چرته مرګ د چا خیال ساتلے نو د رسول الله خیال به ئې ساتلے وے. د چا خیال ئې ساتلے نو د صحابه کرامو خیال به ئې ساتلے چې محمدرسول الله ﷺ ئې ترې واخستو ددې وجې نه محمدرسول الله ﷺ فرمائي که چاته مرګ ورسیدو نو هغه دي تسلي په ما باندې وکړي. زما مرګ دي راپه یاد کړي ځکه زۀ ټول اُمت د پاره یو نمونه یم چې نبی تلے دے نو بل خو څوک پاتې کیدو والا نشته.

درې خبرې د ژړا او درې خبرې د خندا:

محترمو رونړو مونږ د مرګ نه غافله شوي یو او حال دادے چې هغه مونږ طلب کوي. کتاب التذکره کښې امام قرطبي هغه نقل کوي ابودرداء رضی الله عنه فرمائي اَضْحَكَنِیْ ثَلَاثٌ وَاَبْكَانِیْ ثَلَاثٌ درې خبرې مې خنداوي،

[390] صحیح البخاري باب قول النبي انا بک لمحزونون رقم الحدیث ۱۳۲۱

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او درې خبرې مې ژړاوي- وائي کومې درې خبرې چې ماخندوي هغه دادي -

اول مُؤَمِّلُ الدُّنْيَا وَالْمَوْتُ يَطْلُبُهُ.

يو هغه کس چې دنيا طلب کوي او مرګ په ده پسې ورپسې دے مال په دنيا کښې وکتې او هغه ترې پاتې شي بل څوک پرې بيامزې کوي-

او دويم هغه کس دے وَغَافِلٌ وَلَيْسَ بِمَغْفُوْلٍ عَنْهُ

بل مې هغه کس خندوي چې دا غافله دے او د دېنه څوک غافل نۀ دي . دا د خپل رب نه غافل دے خو ليکن دده رب د دېنه غافل نۀ دے بلکې هغه پۀ دۀ باندې څوکيداران مقرر کړي دي مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ۝ (سورة ق) دا که هر لفظ د خُلې نه راوباسي په خوا کښې څوکيداران ولاړ دي هغه ورله ليکي دا مې خندوي-

او دريم هغه کس دے چې ډير په کولاؤ خُله باندې وخاندي او دېته پته نشته چې ما الله راضي کړے او که ما خپل الله خفه کړے دے- حسن بصرى رحمه الله به نۀ خند . ډير خاموش به ناست وو . چا ورته اوئيل ته ولې نۀ خاندې؟ ده وبيل څنګه وخاندم زما خو لا الله فيصله کوي وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝ [391] جدا شئ نن ورځې اے مجرمانو. پته نۀ لګي چې زۀ به مجرمانو کښې يم او که غير مجرمانو کښې يم-

او وائي چې کومې درې خبرې مې چې ژړاوي- . .

اول فِرَاقُ الْأَحِبَّةِ خپل ملګري دوستان ياران محمد رسول الله ﷺ

[391] (سورة يسين)

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



هغه ملګري رانه لاړه زهٔ يواځي پاتې شوم. يو مې دا ډير سخت خفه کوي.

دويم چې مې ژړاوي وهول المطلع عند غَمَرات الموتِ کله چې قبر ته مونږ ورځو د هغې حالات مې خفه کوي او مونږ خپل حيثيت نهٔ دے پيژندلې چې زما څهٔ حيثيت دے. په بدن کښې مې ساه شته دے ډير خلق مې قدر کوي په کور کښې راباندې خلق خفه کيږي. ليکن کله چې زما نه دا ساه وځي بيا مې حيثيت وګورئ چې د فلانکي جنازه به نن درې بجے باندې کيږي. کله چې جنازه راوړي بيا خلق انتظار کوي تيم ته ګوري پنځه مينټه ئې پرې واړول زما دغه حيثيت دے چې يوه شپه ته مې څوک په کور کښې نهٔ پريږدي. وائي اوس به بوئي راته وکړي دا زما حيثيت دے.

محترمو رونړو چې مونږ خپل حيثيت د رب سره جوړکړو لکه څرنګه چې محمدرسول الله خپل يو صحابي طلحه رضي الله عنه هغه ئې دفن کولو بيا ئې اوئيل ياالله وئيل ته د طلحه سره داسي ميلاؤ شه چې طلحه تاته خاندي او ته طلحه ته خاندي، خپل حالات داسي جوړ کړئ.

او دريم: مې دا ژړاوي وَالْوُقُوْفُ بين يدى الْرَبِّ بل د خپل رب مخې ته ودريدل دا مې ژړاوي فلانکے د فلانکي څوي دي راشي او عمل نامه به ورکولے شي نو دا مې ژړاوي[392].

محترمو رونړو دا مختلف حالات زمونږ مخې ته راروان دي الله

[392] کتاب الزهد لابن المبارک ص ۵۰ رقم الحديث ۲۲۹ وفي تذکره للقرطبي ص ۰۷ باب ماجاء في هول المطلع وهذا قول ابودرداء

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



تعالى دي دا حالات مونږ ته آسان کړي. او دا ياد لرئ په دي مجلس کښې سپين ګيرې ناست دي ياد لرئ ددي تولو حالات په حالات د مرګ کښې يو شان دي مرګ ددي خيال نۀ ساتي چې دا مشر دے او که دا کشر دے، بلکې علماؤ ددي مثال ذکر کړے دے د کشرانو او مشرانو وائي د مشر مثال دا خو د پوخ شوي فصل دے چې فصل پوخ شي خلق ئې بيا ريبي. او د خوانو مثال د شين فصل دے کله کله دا شين فصل خلق حيواناتو لره هم ريبي. او کله ورته خلق حيوانات هم ورآړوي. هر انسان لره په خپله نيټه مرګ راځي چې کله هغه پوره شي نو بيا نه يو ساعت مخکښې کيدلے شي او نۀ يو ساعت روستو کيدلے شي.

محترمو رونړو ازمائش به راځي کله به د بدآمنۍ او د ويرې ازمائش وي او کله به د بے روزګارۍ او د لوږې ازمائش وي کله به د بيمارۍ او د مرګ ازمائش وي کله به د مالي نقصان او د غربت ازمائش وي.

ليکن کامياب انسان هغه دے چې په ازمائش صبر وکړي او الله طرف ته رجوع وکړي او إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ اووائي الله پرې انسان لره اجر ورکوي الله د غم او مصيبت په وخت کښې د صبر او مونځ حکم کړے دے.

الله فرمائي يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ امداد غواړي د الله نه په صبر سره او په مونځ سره.

په مصيبت باندې اجر عظيم

ددې وجې نه حديث کښې راځي رسول الله فرمائي چې د الله په خوا کښې د يو انسان د پاره د نزدې والي يو منزل ليکلے شوے وي چې

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



کله دغه انسان دغه قرب الهی ته د عمل په وجه نه شي رسيدلے نو اِبْتَلَاهُ اللهُ فِیْ جَسَدِهٖ الله ئې د بدن په ازمائش کښې مبتلا کړي. بيماري پرې راشي اَوْفِیْ مَالِهٖ اَوْفِیْ وَلَدِهٖ ثُمَّ صَبَرَعَلٰی ذَالِكَ[393] يا پرې مالي ازمائش راولي يا د اولاد په ازمائش کښې مبتلاء کړي.اولاد يې بيمار يا مړه شي او بيا دغه انسان صبر وکړي ددې صبر او رجوع الی الله په وجه الله دده ته هغه مقام قرابت ورکړي کوم چې دۀ عمل سره نۀ شو حاصلولے.

ددې وجې نه حديث کښې راځي د عائشه رضی الله عنها نه روايت دے رسول الله فرمائيلي دي .مَايُصِيْبُ الْمُؤْمِنُ مِنْ شَوْكَةٍ فَمَا فَوْقَهَا اِلَّارَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً اَوْحُطَّ عَنْهُ بِهَاخَطِيْئَةً[394] مسلمان ته چې هر قسمه تکليف ورسي تردې چې ازغے يې خپه کښې هم مات شي او دا پرې صبر وکړي مګر الله ددغه تکليف په وجه دې ته اُوچته درجه ورکړي يائې ګناه معاف کړي.

او بل حديث کښې رسول الله فرمائي مَامِنْ مُصِيْبَةٍ يُصَابُ بِهَا الْمُسْلِمُ اِلَّا كَفَّرَبِهَاعَنْهُ حَتّٰى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا[395] مسلمان ته چې هرقسمه مصيبت ورسي الله دغه مصيبت دده د ګناه کفاره جوړوي تردې چې ازغے ئې خپه کښې هم مات شي په هغه هم ورته ګناه معاف کيږي.

د مؤمن هر کار د فائدي دے:

---

[393] سنن ابي داود باب الامراض المكفره للذنوب رقم الحديث ۳۰۹۲

[394] صحيح مسلم باب ثواب المؤمن فيما يصيبه من مرض .....رقم الحديث ۴۵۰۲

[395] صحيح مسلم رقم الحديث ۴۵۰۲

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



يو حديث كښې راځي صهيب رضي الله عنه د رسول الله نه ئې يو جامع حديث نقل كړے دے رسول الله فرمائي عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ اِنَّ اَمْرَهٗ كُلَّهٗ لَهٗ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذٰلِكَ لِاَحَدٍ اِلَّا لِلْمُؤْمِنِ اِنْ اَصَابَتْهُ سَرَّآءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَّهٗ وَاِنْ اَصَابَتْهُ ضَرَّآءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَّهٗ[396] د مؤمن په حال تعجب دے چې دده په هر كار كښې خير دے او دا شان صرف د مؤمن دے كه چرته دې ته راحت او خوشحالي ميلاؤ شي او دا د الله شكر ادا كړي نو ديكښې ددې د پاره خير دے او كه ورته تكليف ورسي بيماري او مصيبت باندې صبر وكړي نو ديكښې هم دده د پاره خير دے۔ كه په راحت او نعمت باندې شكر ادا كړي نو راحتونه او نعمتونه به ئې ډير شي۔ او كه په مصيبت باندې صبر وكړو او الله ته رجوع وكړي نو درجې به ئې اوچتې شي، او د ګناه كفاره به ئې جوړه شي۔ او دا صرف ددې اُمت خاصيت دے۔

## د ملك الموت بار بار راتلل:

دې وجې نه حسن بصري رحمه الله فرمائي چې كله څوك مړ شي او كور واله ئې ژړا شروع كړي نو ملك الموت ددغه كور په دروازه اودريږي اووائي چې ما ئې رزق نۀ دے خوړلے دۀ پخپله خپل رزق ختم كړه ما ورله عمر نۀ دے كم كړے۔ زما خو دے كور ته بيا هم راتله دي ترڅو چې تول ختم نه شئ۔

حسن بصري فرمائي په الله قسم كه د كور واله دغه وخت دغه ملائكه اووينې، او خبرې ئې واورې نو مړے به ئې هير شي او په

---

[396] صحيح مسلم باب المؤمن امره كله خيره رقم الحديث ٢٩٩٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



خپل فکر کښې به شي . داسې مختلف حالات د انسان مخې ته راروان دي۔

## لوح محفوظ کښې ليکل شوي خبره:

ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چې الله په لوح محفوظ کښې اولنۍ خبره دا ليکلي چې زۀ الله يم زمانه سيوا بل څوک د عبادت لائق نشته او محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم زما رسول دے. کوم انسان چې زما په قضا رضا شو، زما د طرف نه په مصيبت ئې صبر وکړو،زما په نعمتونو ئې شکر ادا کړو،زۀ به هغه صديق ليکم .او د قيامت په ورځ به ئې په صديقينو کښې پاڅوم ۔او څوک چې زما په قضا راضي نۀ وي، زما په نعمتونو شکر نۀ ادا کوي هغه دې زما نه علاوه بل معبود تلاش کړي۔

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمائي چې مصيبت په انسان يو وي ليکن چې کله انسان جزع فزع فرياد او ژړا شروع کړي نو بيا دوه مصيبتونه شي ۔ يو اصل مصيبت وي،او بل اجر او ثواب د فرياد شکايت سره ختم شي۔او دا اصل نقصان دے۔

محترمو رونړو په انسان که تکليف يا مصيبت راځي هغه د انسان د خپل عمل د وجې نه وي د بدۍ لړې کولو د پاره ئې الله په هغه انسان تکليف راولي چې د گناه نه ئې پاک کړي،او درجې ئې اوچتې کړي۔ الله قرآن کريم کښې فرمائي وَمَآ اَصَابَكُمْ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ {سورة الشعراء٣٠} او هغه چې اورسيږي تاسو ته څه مصيبت نو په وجه د هغه عمل سره دے چې کړي دي لاسونو ستاسو او معافي کوي د ډيرونه۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



او دغه شان الله تعالی سورة الروم کښي فرمائي

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ [397]

ښکاره شوي دي عذابونه په اُوچه او په درياب کښي په سبب د هغه ګناهونو چي کړي دي لاسونو د خلقو د پاره ددې چي وڅکي دوي بعض سزا د هغه عملونو چي دوي کړي دي د پاره ددې چي دوي اوګرځي طاقت د الله ته - دنيا کښي فساد او په انسان مصيبت د انسان د خپل عمل نتيجه ده - او چي کله په انسان مصيبت راشي نو فرياد او ناشکري پکار نۀ ده، بلکي خپله اصلاح پکار ده، توبه استغفار پکار دے، رجوع الله ته پکار ده، صبر او مونځ پکار دے - او دغه اعمال دي چي په پکښي د مصيبت نه نجات دے -

د سليمان عليه السلام واقعه:

ابو درداء رضی الله عنه روايت دے چي د سليمان عليه السلام خوے وفات شو، سليمان عليه السلام ته د خوي په وفات سخته صدمه ورسيده، او هر وخت به خفه وو. الله هغه ته دوه ملائکان انساني شکل کښي راوليږلي چي د دواړه ملائکو جګړه سليمان عليه السلام ته داسي بيان کړه - يوې اووے چي ما فصل کرلے وو لاپوخ شوے نۀ وو، ما کټ کړے نۀ وو، او دا سړے راغے او زما ټول فصل ئې برباد کړو - سليمان عليه السلام د هغۀ دويم نه تپوس وکړو هغه په جواب کښي اووے چي زۀ خپله لاره باندې روان ووم، دده فصل لاره کښي وو، ما هغه فصل يو خواه بل خواه کړو، او لار مې تري صفا کړه -

[397] {سورة الروم}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



سليمان عليه السلام هغه اول کس ته اووّے چې تا لاره کښې فصل کرلے وو تاته علم نۀ وو چې خلق به په دي لاره ځي - ملائکې سليمان عليه السلام ته اووې بيا تۀ ولې د خپل خوي په مرګ خفه ئې تاته علم نۀ وو چې مرګ د آخرت لاره ده - چې آخرت ته ځي نو د مرګ په لار به تيريږي او آخرت ته تګ يقيني دے - وائي چې بيا سليمان عليه السلام توبه اويسته او بيا ئې د دغه غم اظهار نۀ دے کړے.

د علي رضي الله عنه پنځه قيمتي خبرې

علی رضی الله عنه ارشاد دے چې زما نه پنځه خبرې يادې کړه.

۱: د خپلو ګناهونو نه علاوه د بل چانه مۀ يريږئ.

۲: د خپل رب نه علاوه بل چانه اُميد مۀ لرئ.

۳: کوم سړے چې نۀ پوهيږي نو په زده کولو کښې دے حيا نۀ کوي.

۴: چې چا ته د څۀ علم نۀ وي نو غلط جواب دي نۀ ورکوي.

۵: د صبر درجه تمامو کارونو کښې داسې ده لکه چې په انساني بدن کښې د سر درجه ده.

عيسی ابن مسيب نه روايت دے چې صبر په تمامو اعمالو کښې اصل دے، ځکه چې الله فرمائي قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ؕ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ○ [398] الله پوره ورکوي صابرانو ته اجر د دوي بے حسابه.

محترمو رونړو خلاصه داده چې که په انسان د راحت او خوشحالئ حالت راځي نو شکر دې وباسي په شکر سره به راحت او نعمتونه

[398] {سورة الزمر}

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



نور هم زياتيږي . او الله دي مونږ د مصيبتونو نه اوساتي . او كه مصيبت راشي نو الله دي زمونږ ته په سُنت د رسول الله د عمل توفيق رانصيب كړي. آمين

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# وفات النبی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَاۡىِٕنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَ مَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَ سَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ۝ [سورة ال عمران]

زمونږ دعوت اسلام طرف ته دے او د اسلام پنځه ارکان دي۔ اولنے رکن شهادة ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله ددې خبرې اقرار کول چې د الله نه سوا بل د عبادت لائق نشته او د محمد رسول الله ﷺ نه علاوه بل رسول په دې اُمت کښې نشته۔

د دویم جز تشریح کومه چې محمد ﷺ د الله رسول دے۔ او حاصل ئې دا دے چې د محمد ﷺ نه سوا بل متبوع نشته۔

او په دې اُمت کښې د تابعدارۍ لائق سوا د رسول الله نه بل څوک نشته۔ ځکه د تابعدارۍ چې کوم صفتونه دي دا صرف په نبی ﷺ کښې شته۔ په دې میاشت د ربیع الاول کښې ۱۲ ربیع الاول یوه ورځ راروانه ده۔ محمد رسول الله په دې میاشت کښې پیدا شوے هم دے او په دې میاشت کښې وفات شوے هم دے۔ په کومه ورځ چې پیدا شوے وو نو په هغه ورځ وفات شوے هم وو۔ د رسول الله هره یوه تذکره کول خوند کوي او په دې باندې الله بنده له اجر هم ورکوي۔ انسانان لاځه کوي ځناور هم د رسول الله په تذکره خوشحالیږي۔ د رسول الله تذکره ترې چې جدا کیږي نو هغوي خفه کیږي۔

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



د نبي عليه السلام په فراق د كهجوري ژړا:

په حديث د بخاري كښې راځي چې رسول الله د كجهورې يوې تنې ته خطبه وئيله. چې كله يو وخت ته ورسيدو. يوې ښځې ته ئې اوئيل مُرِيْ غُلَامَكِ خپل غلام ته دي اووايه اَنْ يَّبْنِيَ لِيْٓ اَعْوَادًا اَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ داسې لرګے مالره جوړ كړي چې زهٔ پرې كينم او خلقو ته خطبه وركوم .نو هغې ښځې خپل غلام ته اوئيلې .او هغه ممبر جوړ كړو. او محمد رسول الله ﷺ خطبه په ممبر شروع كړه [399].

حديث كښې راځي كله چې نبي ممبر ته اوختلو نو د كجهورې تنې داسې وژړل لكه د لسو مياشتو بلاربه اُوښه چې فرياد كوي. رسول الله راكوز شو. د هغې تنې نه ئې لاس راتاؤ كړو، او د ځان سره ئې يو ځائ كړه داسې غلې كيده لكه ماشوم چې څنګه غلے كيږي. او رسول الله صحابؤ ته وئيل دا په دې خفه ده چې رسول الله زمانه ولې جدا شو [400].

عرض مې ددې خبرې كولو چې د رسول په يو ځائ كيدلو .تذكره او بحث كولو باندې الله خوشحاليږي . د هغه په بحث كولو باندې د انسان دنيا او آخرت دواړه ښائسته كيږي. د هغه يو بحث د دنيا نه د تللو هم دے چې رسول الله ﷺ په دې مياشت كښې د دنيا نه تلے هم دے. د مرګ نه مخكښې داسې اشارې شروع شوې .رسول الله ﷺ داسې نښې خلقو ته وركولې .او الله په قرآن كښې داسې آياتونه نازل ول چې د هغې نه داسې معلوميږي چې رسول الله د دنيا نه روان

---

[399] صحيح البخاري باب الخطبه عن المنبر رقم الحديث ٩١٨

[400] صحيح البخاري باب علامات النبوة في الاسلام رقم الحديث ٣٣٩١

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دے . د عرفې په ورځ باندې دا آیت راغلے د جمعې ورځ وه او د مازیګر نه روسته وخت وو. اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا[401] دا جمله چې راغله نو دومره پته ولګیده چې محمدرسول الله به اوس د دنیا نه ځي. ځکه محمدرسول الله الله دنیا ته د دین د پارهٔ رالیږلے وو نو چې دین پوره شو نوعاقل سړي ته ترې پته ولګیده چې ددېنه روسته به رسول الله زمونږ نه ځي. کله چې د ایام التشریق یعني د لسمي او د یارلسمي ورځ په مېنځ کښې دا سورة راغلے اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۙ وَ رَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۙ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۧ {سورة النصر}

دا د لوے اختر او د ایام التشریق په مېنځ کښې دا سورة راغلے. نو صحابه پوهه شو چې محمدرسول الله ﷺ د دنیا نه روان دے.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه علمي مقام:

په حدیث د بخاري کښې راځي عمر بن الخطاب رضی الله عنه به عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د ځان سره کېنولو. او د هغهٔ به ئې ډېر خیال ساتلو، ځنې صحابؤو به دې باندې لږ شکایت وکړو وئېل زمونږ خو هم بچي شته او دومره کشر عمر والا هلک زمونږ سره ولې کېنوي؟ عمر دې خلقو ته د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما مقام عملی ښودلو. نو صحابه ئې راجمع کړل او وئیل ددې سورة څهٔ مقصد دے؟ نو چا یو شان تفسیر وکړو او چا بل شان تفسیر وکړو. عمر رضی الله عنه عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته وئیل ستا هم

[401] {سورة المائدة}

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



دا رائے ده؟. هغهٔ ونيل نا. هغه ونيل، هٰذَا أَجَلُ رَسُوْلِ اللهِ، په دي سورة کښې الله د نبی ﷺ د مرګ خبر ورکوي چې محمدرسول الله ﷺ ته ددنيا نه روان ئي. عمر رضی الله عنه اونيل ستا چې کومه رائے ده هغهٔ زما هم ده[402].

او ددي سورة نه روستو سعيد بن جبير رحمه الله نه روايت دے چې نبی ﷺ يو آتيا ورځې ژوندے وو. چې کله دا سورة راغلے نو حج ئې کولو د حج په دوران کښې د خلې نه داسې اشارات وتل چې محمد رسول الله د دنيا نه روان دے. يو کرتې حجة الوداع کښې داسې اونيل يَاأَيُّهَا النَّاسُ لَعَلِّيْ لَا أَلْقَاكُمْ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا فِيْ هٰذَا الْمَوْقِفِ أَبَدًا[403]. کيدے شي چې ستاسو سره زما بيا د پاره په دې ځائ کښې هيڅرې ملاقات ونشي. اوکله چې د جمرة العقبه خوا ته ولاړ وو نو محمد رسول الله ﷺ خلقو ته ونيل خُذُوْعَنِّيْ مَنَاسِكَكُمْ زما نه د حج طريقه ايزده کړئ. ولې؟ لَعَلِّيْ لَا أَحُجُّ بَعْدَ عَامِيْ هٰذَا[404] کيدے شي د دې کال نه روستو زهٔ حج له رانشم. په دې خبرو باندې صحابه پوهيدل چې محمدرسول الله ﷺ د دنيا نه تلونکے دے. ددې مخکنې مياشتې چې صفره ورته وائي ددې آخري ورځې وي. نو نبی ﷺ د شهيدانو د احد له لاړو او په هغوي ئې داسې جنازه وکړه صحابی فرمائي

[402] صحيح البخاري تفسير سورة النصر رقم الحديث ٤٩٦٩

[403] دلائل النبوة باب ماجاء في نعي النبي رقم الحديث ٣١٨٣

[404] دلائل النبوة للبيهقي رقم الحديث ٣١٧٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



كَالْمُوَدِّعِ لِلْاَحْيَآءِ وَالْاَمْوَاتِ"[405] لکه محمدرسول الله ﷺ چې د ژوندو او مړو تولونه اجازت غواړي.

ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي مُوَدِّعٍ لِلْاَحْيَآءِ فَبِانْقَطَاعِهٖ عَنْهُمْ ځکه د ژوندونه خو روان دے او د مړو نه څنګ روان دے فَبِانْقِطَاعِ دُعَاءِهٖ لَهُمْ"[406]. محمدرسول الله به تراوُسه پورې دعاګانې خلقو لره کولې خو داسې آخري دعاء ئې وکړه تابه وئيلې چې ګنې ددې تولو نه رخصت اخلي. بيا به نورې دعاګانې زۀ تاسو لره نشم کولے. علماء وائي دا جنازه د محمدرسول الله خصوصيت وو. او يا صحيح قول دا دے چې اوس ئې هم شې کولے. او کله چې بيرته کور ته راغلے نو ممبر ته اوختلو، خلقوته ئې اوئېل اِنِّيْ فَرْطُكُمْ اے خلقو زۀ ستاسونه مخکښې تلونکے يم وَاِنِّيْ شَهِيْدٌ عَلَيْكُمْ او په تاسو باندې زۀ دقيامت په ورځ ګواهي کومه وَاِنِّيْ اَرَى الْحَوْضَ فِيْ مَقَامِيْ هٰذَا. او ماله چې د قيامت په ورځ الله کوم کوثر راکوي هغۀ زۀ ددې ځائ نه وينم وَاِنِّيْ لَاۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ اَنْ تُشْرِكُوْا بَعْدِيْ"[407] صحابؤ ته ئې اوئېلې زۀ په دې نۀ ويرېږم چې تاسو به زما نه روسته شرک وکړئ. وَاِنِّيْ اَخَافُ عَلَيْكُمْ اَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا زما ويره ده په دې چې دنيا به درباندې فراخه شي. او تاسو به د دنيا سره مينه وکړئ او تباه به شئ. لکه څنګه چې

[405] صحيح البخاري باب غزوه احد رقم ۳۸۱۶

[406] مرقاة المصابيح باب في بيان هجره اصحابه من مكه وبيان وفاته ص۲۳۶

[407] صحيح البخاري رقم حديث ۶۰۳۳ باب مايحذر من زهره الدنيا

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله مخکني قومونه هلاک کړي وو.

په يو روايت کښې راځي رسول الله فرمائي لَا الْفَقْرَ اَخْشٰى عَلَيْكُمْ[408] د غريبۍ نه نۀ ويريږم چې زما اُمت به د غريبۍ د وجې نه دين پريږدي ليکن ددې نه ويريږم چې دنيا به درباندې فراخه شي او تاسو به ورسره مينه وکړئ لکه چې مخکنو قومونو ورسره مينه کړي وه. د تقرير نه بعد د ممبر نه راکوز شو. د صفري آخري ورځې وې رسول الله جنت البقيع له ورغلے دا په مدينه کښې مقبره ده او ورته وائي اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَآ اَهْلَ الدِّيَارِ لِيُهْنِكُمْ مَآ اَصْبَحْتُمْ فِيْهِ مِمَّا اَصْبَحَ فِيْهِ النَّاسُ. اے قبرونو والا دا کوم وخت چې تاسو تيراوئ دا وخت مو مبارک شه د هغۀ خلقو نه چې کوم ژوندي دي تاسو له دا مرګ ښۀ وو. او دي ژوندو لره دا ژوند ښۀ نۀ دے. ولې؟ اَصْبَحَ الْفِتَنُ كَقِطَعِ الَّيْلِ الْمُظْلِمِ. داسې فتنې راروانې دي لکه د تورو شپو د ټکړو پشان فتنې راروانې دي پته نۀ لګي دا ژوندي به څۀ کوي روستو. تاسو خو بيا هم په ايمان باندې د دنيا نه تلي ئې. او د زيرې په طور ئې ورته دا آخري جمله اوئيله وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ[409] نزدې ده چې زۀ هم ستاسو خواله درشم. د صفري مياشت آخري ۲۸ يا ۲۹ ورځ وه چې محمد رسول الله ﷺ يوې جنازې له تلے وو. د جنازې نه چې بيرته واپس راغلے په سر ئې تيز درد شروع شو. چې کور ته کله راغلے نو سر ئې په يوه ټوټه تړلے وو او د سر ګرمي ئې د کپړې د پاسه تود

---

[408] صحيح البخاري رقم الحديث ٦٠٦١

[409] صحيح البخاري رقم الحديث ٦٩٠٤

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



والے محسوس کولو۔
خکه حدیث کښې راځي رسول الله به فرمائېلي په ماباندې چې کومه تبه او تکلیف راځي ستاسو دوؤ سړو په مقدار په ما تکلیف وي۔ صحابو ورته اوئیل چې الله تالره ثواب ډیر درکوي؟ وئیل آو۔ دا وجه وه چې په کور کښې په دغه وخت کښې د عائشې رضی الله عنها په سر هم درد وو۔ عائشی رضی الله عنها وئیل وا رأساه وائي زماسره سر مې مات شو۔ رسول الله ورته د مزاح په طور اوئېل اے عائشې کۀ مړه شوې نو زۀ درله غسل درکړم،زۀ به درله کفن درکړم،زۀ به درباندې جنازه وکړم. زۀ به دې خخه کړم،ولې خفه ئې؟ نو عائشې رضی الله عنها ورته اوئیل لکه چې تۀ زما په مرګ خوشحاله ئې۔ وئیل زۀ به مړه شم او بیا به د خپلو بیبیانو سره ګف لګوې۔نو رسول الله ورته اوئیل عائشې رضی الله عنها د خپل سر سوچ مکوه زما د سر سوچ وکړه زۀ د دنیا نه تلونکے یم۔ د صفري میاشت آخري ورځ چې کله شوله د مرګ نه یو هفته مخکښې نبی ﷺ باندې څوارلس ورځې یا دیارلس ورځې بیماري وه۔او رسول الله ﷺ په دې ورځو کښې یولس ورځې به د جمعې سره مونځ کولو۔ آخري ورځې داسې شولې چې محمدرسول الله ﷺ د جماعت د تللو نه أووتلو۔ د مرګ نه یوه هفته مخکښې په رسول الله باندې تکلیف ډېر زیات شولو۔ د خُلې نه ئې بار بار دا کلمات وتل اَیْنَ اَنَاغَدًا.اَیْنَ اَنَاغَدًا [410] صبا به شپه زما کوم ځائ وي فَفَهِمْنَ اَزْوَاجُ رَسُوْلِ اللهِ مُرَادَهُ بیبیانې ئې د

[410] صحيح البخاري باب مرض النبي رقم الحديث ۴۱۷۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رسول الله ﷺ په مقصد باندي پوهه شولې چې ما ته دا ښځې اجازت وکړي چې د ژوند آخري لمحې د عائشي رضی الله عنها په کور کښې تيرې کړم ۔ رسول الله ﷺ ته الله وئيلي وو چې ستا خوابنه دهٔ کهٔ د ښځو په مېنځ کښې نمبر صحيح کوي او کهٔ نه تا ته اجازت دے ۔ خو ددې سره به رسول الله خپل ژوند کښې چرته داسي نهٔ کول ۔ د ښځو په مېنځ کښې انصاف چرته نهٔ پريښودو. کله به ئي د خلې نه داسي خبره اوختله وئيل اَللّٰهُمَّ هٰذَا قسمي فِيْ مَا آمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِيْ فِيْ مَا تَمْلِكُ وَلَآ آمْلِكُ [411] يا الله زهٔ د خپل وس مطابق تقسيم کومه خو کهٔ خبره زما د وس نه بار وي يا الله په هغې باندې ما مهٔ نيسه. د مرګ آخري لمحې وې خو داسي ئې نهٔ کوله چې دې وخت کښې هم بے انصافي وشي نو بيبيانو د رسول الله اوئيلې د الله رسوله زمونږ اجازت دے ۔ حَيْثُ كَانَ چې په کوم ځائ کښې دا شپې تهٔ تيراوې ۔ په علي او فضل بن عباس رضی الله عنهم باندې ئې خپل لاسونه واړول او خپې ئې په زمکه باندې راښکلې او کرښې ئې جوړولې [412] او د عائشي رضی الله عنها کور له ورغلے ۔ د مرګ نه پنځه ورځې مخکښې رسول الله د بُده يا جمعرات په ورځ خپلو بيبيانو ته اوئيلې چې ما لره د اوؤه کوډو اوبه راوړئ او په ما باندې ئې راواړوئ کيدے شي چې لږ ښهٔ شم او دې خلقو ته آخري خبرې وکړم ازواج د رسول الله ورله اوبه راوړې او د حفصي رضی الله عنها ښانک وو په هغه کښې ئي کينولو او اوبه ئي پرې راواړولې ۔

---

[411] سنن ابي داود رقم الحديث ٢١٣٤ وضعفه الالباني

[412] صحيح البخاري رقم ٢١٤٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



آخر رسول الله اوئیلې حَسْبُكُمْ حَسْبُكُمْ بس پوره دي دا او به چې کله لړ بنهٔ شو جماعت ته راوتلو او ممبر ته خلق راجمع شول ځکه صحابه به د رسول الله په بیان ډیر خوشحالیدل. په دغې دوران کښې ئې د خُلې نه یو کلمه اوتله لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَآءِهِمْ وَصَالِحِيْهِمْ مَسْجِدًا [413]. یاالله یهود او نصاریٰ تباه کړې د خپلو انبیاؤ او د نیکانو د قبرونو نه ئې عبادت خانې جوړې کړې. د هغې په خوا کښې مونځونه کوي. دا خبرې ولې رسول الله کولې؟ يُحَذِّرُ مَاصَنَعُوْا. هسې نه چې زما اُمت زما قبر نه عبادت خانه جوړه نکړي. دا خبره ئې چې کله وکړه روسته ناشنا خبره کوي يَآاَيُّهَاالنَّاسُ مَنْ جَلَدْتُّ لَهُ ظَهَرًا فَهٰذَا ظَهْرِىْ فَلْيَسْتَقِدْ مِنْهُ [414] اے خلقو که ما د چا ملا په ناحقه باندي وهلي وي او د چا سره مې زیاتے کړے وي رسول الله وائي چې زما ملا داده زمانه دي خپله بدله نن واخلي. او که ما د چا عزت ته نقصان رسولے وي نو نن زهٔ حاظر یم. هسې نه چې د قیامت په ورځ بیا دا نهٔ وائي چې زما پیغمبر زما سره زیاتے کړے وو. د ممبر نه راکوز شو او د ماسپیخین مونځ ئې وکړو. بیرته ئې دغه خبره وکړه چې خپله بدله زما نه شي اخستلے. یو سړے پاڅیدو وئیل اِنَّ لِيْ عِنْدِكَ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ وئیل زما پتا باندي د الله رسوله درې روپۍ دي. نو رسول الله ﷺ فضل بن عباس رضی الله عنهما ته اوئیلې دي لره د

---

[413] صحيح البخاري باب مرض النبي رقم الحديث ۴۱۱۴

[414] المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۱۶

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام-



دهٔ روپۍ ورکړه[415]-دا فضل ئې د تره خوي وو.

د انصارو شان:

بيا ئې خلقو ته اوئيلي إِنَّ النَّاسَ يَكْثُرُوْنَ وَيَقِلُّ الْاَنْصَارُ. خلق به ساعت په ساعت زياتيږي خو انصار ساعت په ساعت کميږي-او اے خلقو انصار زما خاص رازدار خلق دي په دوي باندې چې کوم حق وو هغهٔ دوي ادا کړے دے او دوي چې زما سره کوم حق پاتي وو د هغه ورله ما بدل نهٔ دے ورکړے.اے خلقو په تاسو کښې چې څوک مشر شي زمانه روستو او داسي واک ورته ميلاؤ شي چاته خير رسوي چا ته نقصان،دا يادساتي فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَلْيَتَجَاوَزْمِنْ مُسِيْئِهِمْ[416] کهٔ دي انصارو کښې څوک سم کار کوي هغه ورله قبلوی او کهٔ غلطي ترې وشي نو چرته ورته تکليف ورنکړئ-

د ابوبکر رضي الله عنه علمي مقام:

او بيا ئې اوئيلي إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَه مَنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَاشَآءَوَبَيْنَ مَاعِنْدَهٗ فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهٗ. نبي ﷺ اوفرمائيل يو بنده دے الله ورله اختيار ورکړو چې اے بنده دنيا کښې چې کومه تازګي اوکومه خوشحالي غواړې دا درله درکړم او کهٔ زما خواله راځي نو فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهٗ دې بنده اوئيل ياالله ستا خواله درتلل مې خوښ دي-دا خبرې ئې چې د خلې نه اوختلي نو فَبَكٰى اَبُوْبَكْرٍ نو ابوبکر رضى

---

[415] المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٤١٩١

[416] صحيح البخاري رقم ٣٥٩٠

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



الله عنه اوژړل وئېل فَدَيْنٰكَ بِاٰبَآئِنَا وَاُمَّهَاتِنَا اے د الله پیغمبره زمونږ پلاران او میاندې دې ستانه قربان شي تهٔ زمونږ نه ځې ـ ابوسعید رضی الله عنه وائي مونږ حیران شو چې ابوبکر رضی الله عنه خو عجیبه سړے دے د یو سړي په باره کښې ئي خبره وکړه خو چې کله روستو مونږه پوهه شو چې دا بنده محمدرسول الله ﷺ دے نو مونږ ته پته ولګیده چې وَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ هُوَاَعْلَمَنَا [417] ابوبکررضی الله عنه په مونږ ټولو کښې ډیر پوهه سړے وو.بیا نبی ﷺ په دغه ورځ باندې دا اونیل چې ډیر احسان ئې په ما باندې کړے دے هغه ابوبکر رضی الله عنه دے ـ او بیا ئې اوئیل لَوْكُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ اُمَّتِيْ خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ اَبَابَكْرٍ خَلِيْلًا وَلٰكِنْ اَخُوَّةُ الْاِسْلَامِ ـ کهٔ ما د ځان د پاره خاص راز دار دوست نیولے نو ما به ابوبکر نه خپل دوست جوړ کړے وے، دې چې ما سره کوم ښهٔ کړي ما د هر چا د ښو بدله ورکړې خو ددې بدله په ما باندې پاتې ده ـ او ددې ښو بدله به الله ورکوي او دا ئې آخر کښې اوئیل اَنْ يُسَدَّكُلُّ بَابٍ اِلَّا بَابَ اَبِيْ بَكْرٍ ټولې دروازې چې جماعت ته راوتې وې دا به ټولې بندې کړئ سوا د ابوبکر د دروازې نه چې دا به پاتې وي ـ د ممبر نه راکوز شو د مرګ نه څلور ورځې مخکښې د جمعرات په ورځ باندې نبی ﷺ خلقو ته اوئیلي اِيْتُوْنِيْ اَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهٗ اَبَدًا [418] داسې لیکل درله کومه چې بیا به چرته نهٔ

[417] صحيح البخاري باب هجره النبي صلي الله عليه وسلم الي المدينه رقم ٣٦٩٣
[418] صحيح البخاري باب كتابه العلم رقم الحديث ١١٣

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خطا کیږئ. او ددې نه پس خلور ورځې بعد نبي ﷺ د دنیا نه لاړے.
دا خبره چې ئې وکړه عمر رضی الله عنه اوئیل په نبي ﷺ تکلیف زیات دے پریږدو ئې په لیکلو باندي څۀ کوئ. قرآن شته د محمد رسول الله ﷺ سنت شته دے. نبي ﷺ ته تکلیف مه رسوئ. لږ صبر وکړئ چې تکلیف ورته زیات نشي نو شور جوړ شو. نو رسول الله ﷺ اوئیلي د نبي په خوا کښې شور مناسب نۀ وي. پاڅې زمانه که لیکل کوئ او کۀ نه کوئ. دا درے وصیتونه ئې په دغه وخت کښې وکړل.

دا درے خبرې یاد ساتئ

یوۀ خبره داده: اَخْرِجُوا الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ دا مشرکان به د عربو په ټاپو کښې نور نۀ پریږدئ.

دویمه خبره: وَاَجِيْزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ اَجِيْزُهُمْ[419] د یو قام د بوډاګان چې راشي د هغوي سره به ښۀ اخلاق ساتئ لکه ما چې درسره ساتلو.
او دریمه خبره راوي وائي زمانه هیر شوله چې هغه څۀ خبره وه خو کیدے شي چې هغۀ داوي په نورو حدیثو کښې معلومات ترې کیږي چې لَا تَتَّخِذُوْا قَبْرِيْ وَثَنًا[420]، چې زما د قبر نه به د عبادت ځائ نه جوړاوي.

او یا دریمه خبره د رسول الله داوه چې اَلصَّلٰوةَ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ[421] اے خلقو د مانځه به ډیر خیال ساتئ. د خپلو غلامانو به ډېر خیال

---

[419] صحيح البخاري رقم ٢٩٩٧

[420] سنن ابي داود رقم ٢٠٤٢

[421] سنن ابن ماجه رقم ٢٦٩٧

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



ساتئ. ددي سره به ظلم نه کوئ.

دا دري خبرې رسول الله آخري وصيت وکړو او ددي نه روستو د مابنام مانځه ته محمد رسول الله را اوتلو.

أم الفضل وائي يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا چې د مابنام په مانځه کښې سورة المرسلات ولوستلو. او نبی ﷺ د مرض په دوران کښې د مابنام مونځ کښې په داسې اوکله سورة مونځ وکړو خو دا ئي آخري مونځ وو چې جهرى ئي وکړو. ثُمَّ مَاصَلَّى لَنَا بَعْدَهَا حَتَّى قَبَضَهُ اللهُ[422] ددغه نه روسته نبی ﷺ په جهر مونځ چرته نه ووکړے کله چې د ماښام مونځ وکړو د ماسخوتن مونځ ته نبی خپلو بيبيانو ته اوئيلي ماله لږ غسل راکړئ چې مونځ ته اوزم. يو ځل ئي پرې اوبه ورواچولې او چې لږ صحيح شو اراده ئي وکړه چې مانځه ته پاڅيږي فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ نو بيهوشي پرې راغله. چې کله په هوش کښې راغلے نو بيا ئي اوئيل أَصَلَّى النَّاسَ خلقو به مونځ کړے وي او که نه؟ نو ازواج د رسول الله ورته اوئيل لَا وَهُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ يَارَسُوْلَ اللهِ خلق ستا په انتظار باندې دي يارسول الله. درے کرتې رسول الله غسل وکړل خو په صحت کښې رانغلے. ددې زمانې مسلمان ته سوچ وکړه چې رسول الله د بيهوشی په حالت کښې د جمعې څومره اهتمام او خيال ساتي. او د مانځه څومرهٔ خيال ساتي چې کله صحت ئي نه سميدلو نو وئيل مُرُوْا اَبَابَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ ابوبکر ته اووائي چې خلقو له جمعه وکړه. عائشې

[422] صحيح البخاري باب مرض النبي رقم الحديث ٤٤٢٩

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



رضی الله عنهاورته اوئیل دالله رسوله اَبُوْبَکْرٍ رَجُلٌ بَکَّاءٌ ابوبکر له ژړا ډیره ورځي خلق به د هغهٔ په قرات پوهیږي نه. عمر رضی الله عنه ته اوواېه چې خلقو لره جمعه وکړي. نبی ﷺ اوفرمائېل وئیل نا، ابوبکر به ئې کوي. حفصه رضی الله عنها ورته اوئېل چې عمر ته اوواېه اے د الله رسوله ابوبکر رضی الله عنه له ژړا ډیره ورځي. نبی ﷺ اوئیل یَاْبَی اللّٰهُ وَیَاْبَی الْمُؤْمِنُوْنَ اِلَّا اَبَابَکْرٍ[423]. الله او مؤمنان سیوادابوبکر د امامتی نه د بل چا امامتی په دي وخت جائز نه ګڼړي. او دوي ته ئې اوئیل تاسو د یوسف رونړه ئې ظاهراً یو شان وائي او په زړهٔ کښې بل شان ده. ابوبکر رضی الله عنه ددغې ورځې نه د بُده یا جمعرات د ماسخوتن نه تر پیر یا دوشنبې د ورځې پورې ټول مونځونه ابوبکر رضی الله عنه وکړه. واولس مونځونه وو چې د محمدرسول الله ﷺ په ژوند کښې ئې وکړه.

کله چې د مرګ نه دوهٔ ورځې مخکښې رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو ته اوئیل ماله لږ غسل راکړئ چې خلقو سره مونځ وکړم د دوو صحابو چې علی او عباس رضی الله عنهما په اوګو لاس واړول او خپې ئې د زمکې نه لګیدي او راغلے. ابوبکر چې کله رسول الله اولیدو په مانځه کښې شاته کیدو رسول الله ورته اشاره وکړه چې ودریږه په خپل ځای. او رسول الله راغلے او د ابوبکر دي کس طرف ته ودریدو. دغه مونځ کولو ابوبکر یو قول دا دے، او دویم قول دا دے چې دا مونځ رسول الله کولو او دا قول بهتره دے ځکه د امام په مرتبه کښې محمدرسول

[423] صحیح البخاري رقم الحدیث ٦٨٧

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃالاشاعت ڈاٹ کام



الله ولاړ وو، ځکه رسول الله ښې طرف ته راځي - بهرحال دا مونځ به پټه باندي وو. د مرګ نه یوه ورځ مخکښې رسول الله اول داسې کار وکړو چې نبی ﷺ ټول غلامان آزاد کړل. او دویم کار رسول الله دا وکړو چې ټولې روپۍ ئي صدقه کړي. شپږ یا اوَوه دیناره دا د رسول الله سره وي او چې کومه اسلحه د رسول الله سره وه ځلور توري ئې جوړي کړې وې. هغهٔ ئې خلقو له ورکړي او دا ئي وئيلي وو چې ما چې د خپلو بچو او د اهل نه علاوه چې کوم څهٔ پرېښودي دي دا به ټول صدقه وي- زما به میراث څوک نهٔ وړي. دا زمونږ د انبياؤ طريقه ده. هغوي ميراث ټولو ته په شریکه پاتې کیږي.

عائشه رضی الله عنها فرمائي د محمدرسول الله آخري شپه زما سره وه. او تیل راکه نهٔ وو نو ما یوې ښځې ته اوئیل دا ډیوه یوسه او په دي کښې تیل راوړه. نبی د دنیا د پاره نهٔ وو راغلے چې خلقو ته د دنیا د جمع کولو چل ور وښائي . او خلقوته ئي چې د دنیا مذمت بیانولو نو داسې ئي کوله په کور کښې د هغه د ډیوې د بلیدو تیل نشته. دا آخري ژوند دے د محمدرسول الله ﷺ. هم دې وخت کښې د رسول الله ﷺ خپله زغره د کور د خرچې د پاره په درویشتو صاعو وربشو کښې د یو یهودي سره خپله زغره ګانړه کړه. کهٔ ما درله ددي قرض درنکړو ته به خپل قرض ددي نه وصول کړي چې کله آخري ورځ شوه د دنیا نه د تللو.

انس رضی الله عنه فرمائي سحر مونږ په مانځه ولاړ وو ابوبکر رضی الله عنه خلقو له امامتي ورکوله. محمدرسول الله ﷺ کور د محراب سره نژدې وو، رسول الله ﷺ د خپل کړکۍ نه ئې پرده لرې کړه چې

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



خلقو ورته وکتل محمدرسول الله ﷺ دا مخ داسې ښکلېدلو. نو صحابه د ډېرې خوشحالۍ د وجې نه کېدے شي چې د هغوي نه مونځ کله وړه شوے وي. په زړونو کښې ئي خوشحالي راغله. چې څه رسول الله ﷺ خو روغ دے. نو نبی ﷺ مسکے شو ابوبکر رضی الله عنه دا اراده وکړه چې صف ته شاته شي. رسول الله ﷺ ورته اشاره وکړه په خپل ځائ باندې ودرېږه او پرده ئي بيا راخکله[424].

انس رضی الله عنه فرمائي مونږ بيا د رسول الله ﷺ مخ مبارک ونه ليدلو. کله چې د ثابت تيم شو او د پير ورځ وه نو رسول الله ﷺ باندې تکليف زيات شو ابوبکررضی الله عنه چې نبی ﷺ لره لږ مخکښې راغلے نبی ﷺ بنۀ وو. وئيل د الله رسوله کۀ اجازت وي زه به باندې ته لاړ شمه او تۀ خو ښۀ ئې. او دا طريقه وي چې کله يو مسلمان سړے مري د هغۀ په آخري ژوند کښې داسې يو حال جوړ شي چې د هغۀ صحت ته لږ غوندې روغوالے نصيب کېږي.

د فاطمې ژړا او خندا:

نبی ﷺ فاطمه رضی الله عنها راوغوښتله يوه خبره ئې ورته وکړه هغې وژړل. او چې کله ئي ورته دويمه خبره وکړه نو فاطمه رضی الله عنها اوخندل نو عائشه رضی الله عنهاورته اوئيل لورې زما د موروالی په تاحق دے روسته ئي ورته اوئيل چې لورې دا راته اووايه چې محمدرسول الله ﷺ درته څۀ اوئيل چې ودې ژړل او بيا دې روسته ولې وخاندل؟ فاطمه رضی الله عنهافرمائي ماته ئي اول

---

[424] صحيح البخاري باب مرض النبي رقم الحديث ۴۱۹۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



اونيلي چې زۀ په دي بيمارۍ کښې روان يم مالره په دي باندي ژړا راغله، خو ماته ئي بيرته دا اوئيل چې ما پسې زما په کور کښې ته به ما پسې راځې-نوزه په دي خوشحاله شوم چې زه به د رسول الله ﷺ سره ملګري يم او بيا ئي ورته زيرے ورکړو اے فاطمي د جنت د ټولو ښځو مشره به ته ئې[425].

حديث کښې راځي چې نبی ﷺ په دغه وخت کښې حسن او حسين رضى الله عنهما راوغو ښتل او فَقَبَّلَهُمَا اودواړه ئي ښکول کړه.رسول الله ﷺ باندي تکليف ډير زيات شو نو رسول الله عائشي رضى الله عنها ته اوئيل هغۀ وخت راغلے چې زما د سر رګ شليږي[426].

حديث کښې راځي د نبی ﷺ آخري وخت وو په دغه دوران کښې عبدالرحمن بن ابی بکر رضى الله عنهما د نبی ﷺ خواله راغلے او مسواک ورسره وو .نبی ﷺ ورته اوکتل عائشه وائي زۀ پوهه شوم چې د نبی ﷺ د مسواک سره ډيره مينه ده نو ما ورته اوئيل د الله رسوله مسواک درله درکړم. تري واخلم. نو اشاره ئي وکړه چې آو. عائشه رضى الله عنها فرمائي د الله احسان په ما باندي دادے چې رسول الله ﷺ تُوَفِّيَ فِي بَيْتِي وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِيْ وَنَحْرِيْ وَاِنَّ اللهَ جَمَعَ بَيْنَ رِيْقِيْ وَرِيْقِهِ[427] محمدرسول الله ﷺ زما په کور وفات شوے دے محمد رسول الله ﷺ زما په نمبر کښې وفات شوے دے او زما په سينه

---

[425] صحيح البخاري رقم الحديث ۲۱۰۰
[426] صحيح البخاري باب مرض النبي رقم ۲۱۶۵
[427] صحيح البخاري رقم ۲۱۶۵

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مكتبة الاشاعت ڈاٹ کام



پروت وو او الله زما او د هغه لاړې شريکې کړې او د دنيا نه لاړو.

عائشه رضى الله عنها فرمائي چې ما ترې مسواک واخستو مسواک لږ کلک وو نه ئې شو وهلے ما ورله په خُله کښې پوست کړو او بيا مې محمدرسول الله ﷺ له ورکړو فَاسْتَنَّ بِهَا كَاَحْسَنِ مَاكَانَ مُسْتَنًّا په خائسته طريقه باندې ئې محمدرسول الله ﷺ مسواک اووهلو کله چې ئې مسواک وهلو تکليف پرې زيات شو د خُلې نه ئې دا کلمات وتل لَاإِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٌ [428] يا الله ستانه سيوا د عبادت بل حقدار نشته د مرګ ډيرې سختې دي. او مقصد ئې دا وو چې عَلَیٰ سَكَرَاتٌ په ما باندې هم د مرګ ډير تکليف دے.

عائشه رضى الله عنهافرمائي مابه مخکښې وئيل چې د چا مرګ سخت وي دا ښه سړے نۀ وي خو چې د محمدرسول الله ﷺ تکليف مې وليدلو نو زۀ اوس دا نۀ وايم چې د چا مرګ سخت وي چې دا ښۀ سړے نۀ دے.

فاطمې رضي الله عنهاته تسلي:

فاطمه رضى الله عنها فرمائي د رسول الله ﷺ ساه ختله نزدې آخري تيم وو، نو زما د خُلې نه وختل وَاكَرْبَ اَبَاهُ زما د پلار مصيبته څومره تکليف دے زما په پلار باندې. محمدرسول الله ﷺ فاطمى رضى الله عنها ته اوئيل لورې لَيْسَ عَلٰى اَبِيْكَ كَرْبٌ بَعْدَالْيَوْمِ [429] ستا د پلار

---

[428] صحيح البخ ، باب مرض النبي رقم الحديث ۴۱۸۱

[429] صحيح البخاري رقم الحديث ۴۱۹۳ باب مرض النبي

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM -مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام-



مصيبتونه د نن ورځې سره ختم شو دا د مصيبتونو ځائ دا د غمونو ځائ دا دنيا وه زۀ چې ددې ځائ نه لاړم بس مصيبتونه ختم شو. کله چې آخري مسواک ئې اووهلو نو ما ورته غوږ ورنزدې کړو. ګوته ئې داسې پورته کړه نو خُلې نه ئې داکلمات وتل چې وَ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَ الشُّهَدَآءِ وَ الصّٰلِحِيْنَ ۚ وَ حَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ؕ[430]

ياالله د انبياؤ ملګرتيا غوارم، ياالله د رشتونو خلقو ملګرتيا غوارم او د خُلې نه ئې آخري تکے دا اووتلو اَللّٰهُمَّ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰی[431] ياالله ستا ملګرتيا غوارم. درے کرتې چې دا کلمه ووئيله وَمَالَتْ يَدَهٗ ګوته ئې راخکته شوله زۀ پوهه شوم اِذًا لَايَخْتَارُنَا مونږ نور نۀ غوره کوي. د محمد رسول الله ﷺ آخري کلمه د خُلې نه دا ختلې وه.

اَللّٰهُمَّ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰی.

ختم شد بفضل الله

[۴۳۰] {سورة النسآء}

[۴۳۱] صحيح البخاري باب مرض النبي صلي الله عليه وسلم رقم الحديث ۴۱۸۳

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام



# مصادر و مراجع

تفسیر ابن کثیر
تفسیر قرطبی
التفسیر القیم لابن القیم
تفسیر الکبیر لامام الرازی
تفسیر البغوی
مدارک التنزیل
صحاح ستہ
معجم الکبیر للطبرانی
سنن الکبریٰ للبیہقی
مستدرک للحاکم
الادب المفرد للبخاری
صحیح ابن حبان
مصنف ابن ابی شیبہ
مسند احمد بن حنبل
المعجم الاوسط للطبرانی
مجمع الزوائد
شعب الایمان للبیہقی
سنن الدارمی
صحیح ابن خزیمہ
ریاض الصالحین
مشکوٰۃ المصابیح
موطاء للامام مالک
اتحاف الخیرۃ المہرۃ لزوائد المسانید العشرۃ

Scanned by CamScanner

MAKTABA TUL ISHAAT.COM - مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

تول حقونه د مصنف په حق کښې محفوظ دي



الناشر: ترابي پرنټنګ پريس خار باجوړ
0304-9075268, 0315-9142207

Scanned by CamScanner